# لومړۍ برخه

## افغانستان له اریایانو تر هوتکیانو

Download from:aghalibrary.com

لیکوال: عبدالله ګل ریان

دوهمه برخه :

# د افغاني پاچاهانو لنډ ژوندليک

## له میرویس نیکه تر اشرف غني احمدزي

بشیراحمد ریان

Download from:aghalibrary.com

# میرویس نیکه

۱۱۱۹- ۱۱۲۷هـ ق



Download from:aghalibrary.com

شاه محمود هوتک

۱۱۲۹- ۱۱۳۷هـ ق



Download from:aghalibrary.com

# شاه اشرف هوتک

## ۱۱۳۷- ۱۱٤۱ هـ ق




Download from:aghalibrary.com

## شاه حسین هوتک

## ۱۱۳۵- ۱۱۵۰هـ ق



شاه حسین هوتک

Download from:aghalibrary.com

د افغانستان موسیس

# غازي احمدشاه بابا د پاني پت په ډګر کي



Download from:aghalibrary.com

# تیمورشاه

## ۱۱۸۶- ۱۲۰۷هـ ق



اعلیحضرت تیمورشاه غازی شهنشاه افغان (۱۱۸۷ هـ ق)

S. M. Timour Chah Empereur Afghan (1773)

Download from:aghalibrary.com

# شاه زمان

## ۱۲۰۷- ۱۲۱٦هـ ق



اعلیحضرت شاه زمان (۱۲۰۷هـ ق)
S. M. Chah Zaman (1739)

**شاه محمود سدوزی**

**۱۲۱۶هـ ق - ۱۲۱۹هـ ق**

**۱۲۲٤هـ ق - ۱۲٤٤هـ ق**



## شاه شجاع

## ۱۲۱۹- ۱۲۲٤هـ ق

## ۱۲۵۵- ۱۲۵۸هـ ق



امیردوست محمدخان

۱۲۵۲-۱۲۵۵هـ ق

۱۲۵۹ - ۱۲۷۹هـ ق



امير شېرعلي خان

له خلکو سره د ليدني په حال کي

۱۲۷۸- ۱۲۸۳هـ ق

۱۲۸۵- ۱۲۹۶هـ ق



## محمدافضل خان

## ۱۲۸۳- ۱۲۸٤هـ ق



اعلیحضرت امیر محمد افضل خان ۱۲۸۲ هـ ق

S. M. Amir Mohammad Afzal Khan (1865)

## محمداعظم خان

## ۱۲۸٤- ۱۲۸۵هـ ق



اعلیحضرت امیر محمد اعظم خان (۱۲۸۳ هـ ق)
S. M. Mohammed Aazam Khan (1867)

## محمدیعقوب خان

## د ګندمک د تړون پر مهال

## ۱۲۹۶- ۱۲۹۷هـ ق



# امیرعبدالرحمن خان

## د ډیورنډ د تړون دشرایطو کتني پر مهال

## ۱۲۹۷- ۱۲۱۹هـ ق



امیرحبیب الله خان

پوځي قومندانانو ته د ترفیع د ورکړې پر مهال

۱۳۱۹- ۱۳۳۷هـ ق



## امان الله خان

## ۱۲۹۸- ۱۳۰۸هـ ش





## عنایت الله خان

## ۱۳۰۸- ۱۳۰۸ هـ ش



## حبیب الله کلکانی

## ۱۳۰۸- ۱۳۰۸هـ ش



## محمدنادر خان

## د انګرېزانو په وړاندي د ټل جبهه کي

## ۱۳۰۸- ۱۳۱۲هـ ش



**محمدظاهر شاه**

**۱۳۱۲- ۱۳۵۲هـ ش**



## محمد داود خان

## ۱۳۵۲- ۱۳۵۷هـ ش





## نورمحمد تره کی

## ۱۳۵۷- ۱۳۵۸هـ ش



## حفیظ الله امین

## د تره کي تر وژلو څو ورځي وړاندي لاس ور مچوي

۱۳۵۸- ۱۳۵۸هـ ش



# ببرک کارمل

## ۱۳۵۸- ۱۳٦۷هـ ش



## ډاکټر نجیب

## په ببرک کارمل پسې

## ۱۳۶۷- ۱۳۷۱هـ ش



## صبغت الله مجددی

## ۱۳۷۱- ۱۳۷۱ هـ ش



# برهان الدین ربانی

# ۱۳۷۱- ۱۳۷۵هـ ش



ملامحمدعمر مجاهد

۱۳۷۵- ۱۳۸۰هـ ش



# حامد کرزی

## د طالبانو په وړاندې د مسعود تر شا

## ۱۳۸۰-۱۳۹۳هـ ش



## محمد اشرف غنی

## د جانکیري په منځګړیتوب د عبدالله سره د ګډ حکومت تر موافقې وروسته

## ۱۳۹۳هـ ش - تر اوسه



افغانستان له ارابانو تر هوتکيانو

او

# د افغاني پاچاهانو لنډ ژوند ليک

ميرويس نيکه – اشرف غني احمدزي

ليکوال :عبدالله گل ريان

بشيراحمد ريان

د چاپ او ژباړي حق خوندي دی!

**کتاب پېژندنه :**

نوم : افغانستان له اریایانو تر هوتکیانو او
د افغاني پاچاهانو لنډ ژوندلیک

لیکوال : عبدالله گل ریان او بشیراحمد ریان

کمپوز: ریان علمي مرکز

چاپ : صدیقي خپرندویه ټولنه

لومړی چاپ : ۱۳۸۷هـ ل

دوهم چاپ: ۱۳۸۹هـ ل

درېیم چاپ: ۱۳۹۳ هـ ل

بسم الله الرحمن الرحیم

# سریزه

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم!

د الله تبارک و تعالی فضل او د لوستونکو مینه وه چې د (افغاني پاچاهانو لنډ ژوندلیک) يې د شته کمزوریو برسیره ډېر منلی وګرځاوو او تر اتیا زره په زیات تېراژ چاپ شو.

د کتاب په اړه ملګرو او لوستونکو بیلا - بیل نظرونه او مشورې درلودې، خو یوه مشوره چې له ټولو مې اورېدله، هغه د کتاب بشپړول و، یعني په دې معنی چې د افغانستان لرغونی تاریخ د اریایانو له مهاله د کتاب برخه شي، ما هم تر دې دمه په پښتو کې داسې کوم کتاب لیدلی نه و چې په یوه ټوک کې د اریایانو له دورې بیا تر نن پورې ټول تاریخ په لنډه او عام فهمه ژبه لیکل شوی وي.

نو د ملګرو او لوستونکو مشورې ته په پام او ددې لپاره چې د افغانستان د تاریخ نوي مینوال له ډېرې سرګردانۍ خلاص او کتاب بشپړ شوی وي، د خپل محترم پلار (عبدالله ګل ریان) له ناچاپ کتاب (افغانستان له اریایانو تر طالبانو) څخه مې د اریایانو تر هوتکیانو برخه د هغه په اجازه را واخستله.

باید یادونه وکړم چې د محترم پلار همدا کتاب (افغانستان له اریایانو تر طالبانو) هم په بشپړه توګه په لنډ وخت کې چاپېدونکی دی او ډېر ژر به د مینوالو تر لاسونو ورسیږي.

نور مو د کتاب د لوستلو وخت نه نیسم، هیله من یم د ګټې اخستلو وړ مو وي.


بشیراحمد ریان

basherrayan@yahoo.com

# لومړۍ برخه

## افغانستان له اریایانو تر هوتکیانو

لیکوال: عبدالله ګل ریان

# لړلیک


لومړی څپرکی ........................ ۸
دافغانستان غرونه اوسیندونه ........................ ۱۰
دافـــغانستان څلور خواوي ........................ ۱۱
کرهڼه ،مالداري اوصنعت ........................ ۱۴
دوهم څپرکی ........................ ۱۷
افغانستان په تېر تاریخ کښي ........................ ۱۷
افغانستان دهخامنشیانو په دوره کي ........................ ۲۰
افغانستان د یونانیانو په دوره کښي ........................ ۲۲
افغانستان دکوشانیانو په دوره کښي ........................ ۲۶
داسلام ظهور ........................ ۳۰
راشده خلـــفاء ........................ ۳۴
افغانستان دراشده خلفاوو په دوره کښې ........................ ۳۷
افغانستان دعباسیانو په دوره کښي ........................ ۴۲
په افغانستان کي خپلواك حکومتونه ........................ ۴۸
افغانستان دطاهریانو په دوره کي ........................ ۴۸
(۲۰۵-۲۵۹هـ) ........................ ۴۸
افغانستان دصفاریانو په دوره کښي ........................ ۵۲
افغانستان د سامانیانو په دوره کښي ........................ ۵۷
د لویکان کورنی ........................ ۶۲
افغانستان دغزنویانو په دوره کښي ........................ ۶۳
غـــوریان ........................ ۶۹

خوارزمشاهان ........................................ ۷۱
داسلام له راتلو بیا د چنگیز تر بریده دافغانستان ټولنیز حالات........ ۷۲
افغانستان دچنگیزي فاجعي په وخت کښي ........................ ۷۸
په مغلي دوره کښي،دافغانستان محلي دولتونه ........................ ۸۳
افغانستان دهرات دتیموریانو په وخت کښي ........................ ۸۴
د افغانستان تجزیه........................................ ۸۷
شیبـــانیان ........................................ ۸۸
ایراني صفویان........................................ ۸۹
هندي بابریان........................................ ۸۹
روښاني تحریک ........................................ ۹۱

# لومړی څپرکی

## دافغانستان لنډه پیژندنه

**نومونه، موقعیت او جوړښت:**

زموږ ټاټوبی، د تاریخ په اوږدو کي په مختلفو نومونو یاد شوی دی.

لومړنی نوم چي یې تاریخ ساتلی دی، هغه اریانا دی چي، د اریایانو ټاټوبی بلل کیده. کومه خاوره چي داریاویجه (اریانا) په نوم یاده شوې ده. هغه، له سیردریا(سیحون) څخه د هند تر سمندره پوري غزیدلې او له ګلګت څخه د کسپین تر بحیرې پوري پرته ده.

کله چي مسلمانانو دا خاوره ونیوله، د خراسان (ختیز، د لمرختلو ځای) په نوم یې ونوموله. دا نوم تر اتلسمي میلادي پېړۍ پوري و. خو، دسدوزوپه دوره کي ددې خاوري نوم افغانستان شو.

د افغانستان کلمه نژدې اوه پیړۍ وړاندي په لیکنوکي لیدله کیږي چي، د هیواد د ختیز لوري سیمه وړباندي یادیدله. په شپاړسمه میلادي پیړۍ کي د کابل جنوبي سیمي، د مُلک افغان په نوم یاده شوه. وروسته له سند څخه تر کابلستان او له کشمیر څخه تر ملتان او کندهار پوري خاوره، د افغانانو ټاټوبی وبلله شوه. د احمدشاه ابدالي په وخت کي، زموږ د هیواد رسمي نوم افغانستان شو او هر څوک چي په دې خاوره کي یې هستوګنه درلوده، د افغان په نوم وپیژندل شو.

افغانستان د آسیا د لویې وچي په منځ کي پروت دی. په تاریخ کي کله د منځنۍ او کله د جنوبي اسیا په هیوادونوکي ګڼل شوی دی.

کیدلای شي دادوه گوني تعبیر له دې کبله وي چي، ددې خاوري پراختیا په سیاسي لحاظ کله زیاته کله کمه، کله یوه او کله بل لوري ته اوړده شوې ده.

افغانستان د طول البلد په ختیزه او د عرض البلد په شمالي نیمه کره کي پروت دی. دافغانستان جوړښت غرنی دی. دغرونو لړه یې له شمال ختیز لوري د پامیر له لوړي څخه را پیل شوې ده. یوه لړه په منځني افغانستان کي د لویدیز لورته غزیدلې ده او بله لړه په جنوب ختیزه برخه کي پرته ده. د غرونو موجودیت د افغانستان خاوري ته مایله بڼه ورکړې ده. داسي چي له شمال ختیز څخه د جنوب لویدیز په لور ځمکه ټیټوالی مومي.

د افغانستان د خاوري مساحت (۶۵۰ زره) کیلومتره دی چي، په څلوروکي، دري برخي یې غرونو نیولې ده.

په اقلیمي لحاظ، افغانستان د لوړ فشار په ساحه او له سمندر څخه په لوړه سطحه پروت دی. هوایي عموماً وچه ده. اوړی یې تود او ژمی یې سوړ دی. له دې سره هم په ځینوبرخو کي دمدیترانه اي او مونسوني اقلیم اثار لیدل کیږي.

## د افغانستان غرونه اوسیندونه

دافغانستان مشهورغرونه: دهندوکش، بابا، فیروز، سپین او تورغرونو (سفیدکوه اوسیاکوه) لړی چې، له پامیر څخه را پیل او د لویدیځ په لوري تر هرات پوري رسیږي.

بله د سلیمان غر، سپین غر او تورغر لړی ده چې، د هیواد په ختیز او جنوبي برخو کې پرتې دي.

پامیر چې، د نړۍ د بام په نوم یادېږي د هندوکش، قراقرم، تیانشان او همالیا دغرونو لړۍ ورڅخه پیل شوې دي. پامیر د لوي او کوچني پامیر په نوم دوې برخې لري چې، کوچنی پامیرپه افغانستان کې پروت دی.

د هیواد سیندونه له غرنیو سیمو څخه را پیل کیږي، دا سیندونه ابشارونه (ځروبي) جوړ وي او دا چې په چټکتیا سره بهېږي، د بېړۍ چلولو جوګه نه دي. یوازي د امو سیند دبېړۍ چلولو قابلیت لري.

دافغانستان سیندونه په دریو حوزوکې بهیږي:

۱_ داکسوس حوزه: چې د امو، کوکچې، کندوز، بلخاب سمنګانو، هریرود او د مرغاب سیندونه پکښې بهېږي .

۲_ داندوس حوزه: د کابل، لوګر، پنجشیر، الیشنګ، الینګار، سرخرود اوکنړ سیندونه پکښي بهېږي.

۳_ دسیستان حوزه: د هلمند، ارغنداب، ترنک، ارغستان، خاشرود او فراه رود سیندونه پکښي بهېږي .

## دافــــغانستان څلور خواوي

دا چي په دې کتاب کي، هدف دافغانستان معرفي نه، بلکي دیوې زماني مقطعي تاریخ دی. نو، ددي تاټوبي سرحدونو ته به داریانا، خراسان، او نني افغانستان په دورو کي د نورو موضوعاتو په څېر، یوازي یو ځغلند نظر وکړو.

ترمیلاد وړاندي چي، دا خاوره داریانا په نوم یادیدله. بلخ (بخدي) مرکزي حیثیت درلود او داریایانو مرکزي خاوره سیردریا ،اموسیند ،هلمند ،هریرود اودارغنداب د رود زراعتي حوزه وه.

هغه مهال داریایانو اړونده خاوره په شپاړسوولایتونو، حوزو یابرخوویشله شوې وه:

۱- ایانم ویجه: داسیمه دسیحون اوجیهون (سیردریا اوامو) د رودونو په منځ کي پرته وه.

۲- دسغدحوزه: په سغدیانه اوسغدیان هم یاده شوي ده. دماوراالنهرسیمه ده.

۳ -دموروحوزه: دمروي اومرغاب سیمي.

۴- دبخدي حوزه: دپالخ بامي سیمه.

۵- دنسایا حوزه: دمیمني سیمه.

۶- دهرویه حوزه: دهرات سیمه.

۷- د ویکترویه حوزه:دکابل خواوشا.

۸- د اوراواحوزه :دکندهاراوسیندترمنځ غزنی سیمه.

۹ – د ختنا حوزه :دایران دګرګان سیمه.

۱۰ د هره وتي حوزه: دارغنداب سیمه.

۱۱ د راغا حوزه: د رایي یعني دبدخشان د راغ سیمه.

۱۲_ د کخري حوزه: د غزني خواوشا سیمه .

۱۳_ د هیتومنت حوزه: د هلمند سیمه .

۱۴_ د رانګا حوزه: ځیني مورخین د سیردریا سیمه په دي نوم پیژني.

۱۵_د وارنا حوزه: دبامیانو او دبندامیر سیمه .

۱۶_د هپتاهندو حوزه: د پاکستان دسیندله سیمي ځخه هدف دی.

داریانایا پخوانی کتاب، اوستا همدا محدوه سیمه په اریانا یاده کړې او خلک یي اریا بلل شوي دي . د دې خاوري د هغه وخت حدود داسي اټکل کیدلاي شي:

شمال لورته؛ دارال جهیل کوم ځای چي، دسیر دریا اوامو روداوبه پکښي تویېږي . جنوب لورته دسیند رود اودعربو سمندرګی. ختیز لورته؛ له ګلګت ځخه دهندترسمندرګي پوري . په لویدیز لوري؛دبلوچستان، سیستان اواوسني ایران دخراسان سیمي له فارس سره نښتي وي.

کله چي د اسلام دین، دې سیمي ته راورسید. داسیمه د خراسان په نوم ونومول شوه. خراسان په پیل کي دیوي وړې سیمي نوم ؤ. خو، وروسته همداسیمه پراخه شوه. ترڅو، دایران خاوره ټوله په همدي نوم یاده شوه. خودخراسان په نوم همداسیمه په ثابتوحدودو پاته شوې نه ده. کله پراخه اوکله تنګه شوې ده .د ډېر وخت لپاره داسیمي دخراسان په نوم یادي شوې دي:

۱- د نیشاپور او شاریاخ څلورمه (ربع): دنیشاپور، طوس او مشهد، بیهق او سبزوار، جوین، جاجرم او اسفراین، استوا او کوچان، رادکان، نسا ، ابیورد ،د خابرانو کلات اوسرخس سیمي پکښي شاملي دي .

۲_ دمرو څلورمه (ربع): د مرغاب، خوارزم او مرو رود سیمي پکښي راځي.

۳- دهرات ربع: دهریرود، دهراتومالن شګار، دهریرود دپورتنی غاړي ښارونه،پوشنج،اسفزار، بادغیس اودهغه ښارونه لکه؛ ګنج، استاق؛ دغرجستان ولایت ،غوراوبامیانو سیمي پکښي راتلې.

۴- دبلخ ربع(څلورمه): دفاریاب اوشبرغان، انبار او اندخـــوي، دتخارستان ولایت،خلم، سمنګان، اندراب، تالقان دسیمو نوم ؤ.

له پورتنیو څلورو ربعو سره دهندوکش سهیلي سیمي، د باباغر فیروزکوه د هند تر سمندره د خراسان خاوره بلله کیدله.

همدا پولي هم محدودي پاته شوې نه دي، کله ترهند اوکله تر کاشغره رسیدلي دي، کله بیاکمي شوې اودسیمي دنورو هیوادونوله لوري بیلي شوې دي.

دغزنویانوپه دوره کي، داسیمه خوراپراخه شوه. د هند تر ګنګا سیند، لویدیز ته تراصفهان اوهمدان پوري ورسیدله.

هغه مهال چي احمد شاه بابا، دنوي افغانستان بنسټ کښېښود ،د هیواد پولي بیا هم دپخوانیواریایانوله پولوسره برابري شوې.له مروي او امو سیند څخه دعربو ترسمندرګي، بیا تر ډهلي اوکشمیر پوري غزیدلې وې.خودتیمورشاه دزامنواوبیادامیردوست محمدخان دورونو او زامنوداختلافونواوکورنیو جګړو په نتیجه کي؛ ایران، روسیي، انګریزاوسکانو په مختلفو وختونوکي دافغانستان ځیني برخي ونیولې او اوسنۍ خاوره پاته شوه.

له ازادي را په دې خوا د امیرشیرعلي خان، ریجوي، فخري، ډیورنډ، مکمهان او په شمال ختیز سرحدي کرښوکي محدوده ده. دشمال لورته یې تاجکستان، ازبکستان اوترکمنستان لویدیز لور ته یې ایران، جنوب اوختیزلورته یې دپاکستان هیواد پروت دی. په شمال ختیزه سیمه کي دچین له خاوري سره هم سرحد لري.

په همدې محدوده کې،د۱۹۹۸م کال دبهرنۍ احصایې د شمېرنې په اساس: ۲۴۷۹۲۳۷۵ (نژدې ۲۵ میلونه) تنه نفوس ژوندکوي.

دواک فونډیشن (۱۹۹۸م -۱۳۷۷ هـ ش ) دشمېرنې په بنسټ په دې نفوس کښې۶۲،۷۳ % پښتانه- ۱۲.۳۸% تاجک- ۹ % هزاره-۶.۱% ازبک-۲.۶۹ % ترکمن-۲،۶۸% ایماق- ۱% عرب- ۱% بلوچ- ۰،۷۴قزلباش- ۰،۴۹% نورستاني- ۰،۳۳%پشه اي (شاړي)- ۰،۵%قرغز-۰،۱۷%هندوان اوسکان- ۰،۱۵ مغل- ۰،۳۰% کوجراو ۰،۲۰%متفرقه قومونه دي .

## کرهڼه ،مالداري اوصنعت

افغانستان یو زراعتي هیواد دی چې، نژدې ۸۰% وګړي یې په کرهڼه اومالداري بوخت دي.کرهڼه اومالداري زموږ په هیوادکي زیات اقتصادي ارزښت لري. زموږ دبهرني تجارت ۲۷ % برخه جوړوي چې دوهمه درجه لري.

کرهڼه اومالداري ده چې، په هیوادکي خواړه،دنخي اوړینو توکرانولپاره اومه مواد، د ترکاني لپاره لرګي،د بورې د تولید لپاره جغندر او د تجارت لپاره وړې،پوستکي اووچې میوې برابروي.

کرهڼه په اوبولرونکوځمکواو په للمي توګه کېږي. نژدې ۲۵میلونه جریبه ځمکه کرله کېږي. ټوله ۴۲،۵ % میلونه جریبه دکر او کروندې لپاره مساعده ده. خو، داوبو دکمي له امله دا ځمکه بې ګټې ده. د ځمکود خړوبولولپاره د کاریزونو، چینواو سیندونو له اوبو څخه استفاده کیږي. خو د هلمند د وادي؛ د دهلي (ډالې) او کجکي، د ننګرهار د وادي؛ د درونټې، د غزني د سردې او په

پروان کی د پنجشیر په سیند، بندونه هم په زراعت کي داستفادې ور گرځیدلي دي چي، په سلهاووزره جریبه ځمکه وربانديي خړوبه ده.
په همدې ځمکوغلې دانې، صنعتي نباتات، طبي بوټي او سبزیجات کرل کیږي. میوه اولرگي هم زموږ تجارتي مواد دي. د ځارو دساتلولپاره هم ښې ورشوگاني شته چي نږدې، ۲۷۴ زره جریبه ځمکه دځاروو دځر لپاره جوړي دي .
په افغانستان کي دتیلو،طبعي گاز، ډبروسکاره،اوسپنه، مس دخوړو مالگه، زمرد، یاقوت، لاجورد او د سروزرو کانونه شته دي چي، له ځینو څخه گټه اخستل پیل شوي ؤ.
دافغانستان برېښنا چي ډېره برخه یې له اوبوڅخه ترلاسه کیږي. د سیندونودپاسه،بندونه ورته جوړ شوي دي. د جبل سراج، چک، پلخمري، سروبي، ماهیپر، درونټې اوکجکي دبرق فابریکې د یادولو وړ دي.په افغانستان کي دحرارتي برېښنا مرکزونه هم شته چي،لویه دستگاه یې په مزارشریف کي ده اودجوزجان په گاز چلیږي.
افغانستان دوه ډوله صنعتي محصولات لري:
یو لاسي صنایع محصولات دي چي، په هیواد کي اوږد تاریخ لري. د غالي، ټغر، لمڅي، سترنجي، پوستینونه، پوستینچې خامتا، لونگي او پټوگانواوبدل اوجوړول وو. له دې سره، سره کلالي، زرگري، مسکري،اهنگري اوخامک اوبدل هم رواج لري.
بل ماشیني صنایع دي چي، دومره پرمخ تللي نه دي، ځکه له یوه لوري افغانستان زراعتي هیواد دی او له بلي خوا صنعتي کړه وړه په افغانستان کي وروسته پیل شول. بیا هم دبغلان دقند، د پلخمري،جبل سراج، افغان، گلبهار، بلخ، بگرامي،امید، هرات او کندهاردنساجي فابریکې او د آهو، عقاب او ملي په نوم دبوټ جوړولو فابریکې دیادولو وړ دي .

په جبل سراج اوپلخمري کي دسمنتو فابريکې جوړي او كار ترې واخستل شو. خو، د هرات دسمنتو فابريکه جوړه شوه، امافعاله نه شوه. دکابل دکور جوړولو، حجاري اونجاري اودجنګلک دفلزاتو فابريکې يادولای شو. دخپرولو په صنعت او چاپ کي دولتي مطبعه، دپوهني مطبعه، دصکوکومطبعه، د ملي دفاع مطبعه، اريانا مطبعه، دلوړو او مسلکي تحصيلاتومطبعه فعالي وې. ددرملو په جوړولوکي، دهوخست اوفارمسي فابريکي ورسره په کابل اوجلال اباد کي څوشخصي فابريکې اولابراتوارونه جوړ شول.

دافغانستان محصولاتود نړۍ په ډېرو هيوادونو کي بازارونه درلودل. د تجارت لپاره داسلام قلعه، اقينه،اي خانم، تورخم، تورغونډۍ، حيرتان ، شيرخان اود ويش(سپين بولدک) بندرونه او لاري داستفادې وړ دي . د هيواد په دننه کي، دکابل- کندهار، هرات-کابل، دهيواد د شمال ولايتونولار- کابل- جلاباداوکابل- ګرديز لاري جوړي شوې وي، چي دتجارت په کارونوکي يي رول درلود. د افغانستان زراعت، صنعت اوتجارت د څو کلونو په جګړو کي زيانمن شول چي پورتني يادشوي شيان نشت ته نژدې شوي دي.

# دوهم څپرکی

## افغانستان په تېر تاریخ کښې

تاریخ او تاریخي پېښې سني لري او په وخت پوري تړلې دي. دافغانستان تاریخ دعیسی (علیه السلام) له پیدایښت څخه وړاندي را پیل شوی دی. را وروسته هم پېښې په میلادي او هجري سنو دواړو را نقل شوې دي . زه کوشش کوم چي د اسلام تر راتلو وروسته د هري پېښې سنه هجري ته راواړوم، خو تر هغه وړاندي به میلادي او قبل المیلادي سنه یادېږي .

قبل المیلاد سنه دعیسی(علیه السلام) تر پیدایښت وړاندي راپیل شوې او د عیسي(علیه السلام) له پیدایښت سره سم پای ته رسیدلې ده.

میلادي سنه بیا دعیسی(علیه السلام) له پیدایښت څخه را پیل کېږي او سږکال (۲۰۱۴) ده .

هجري سنه په دوه ډوله ده، یوه په هغه حساب چي د سپوږمۍ له حرکت څخه را پیدا کېږي او میاشتي یې محرم الحرام، صفرالمظفر، ربیع الاول، ربیع الثاني، جمادي الاول، جمادي الآخر، رجب المرجب، شعبان المعظم، رمضان المبارك، شوال المکرم، ذوالقعده او ذوالحجه دي. داسنه اوس **۱۴۳۵** ده .

بله هجري سنه، هجري شمسي ده چي د لمر په حساب ده او میاشتي یې :

حمل، ثور، جوزا، سرطان، اسد، سنبله، مېزان، عقرب، قوس، جدي، دلو او حوت یا په پښتو: وری، غوئی، غبرګولی، چنګاښ، زمری، وږی، تله، لړم، لیندی، مرغومی، سلواغه او کب دي. داسنه سږکال **۱۳۹۳** ده.

دهجري قمري اوهجري شمسي سنوترمنځ ۴۲ کاله توپیر شته، د دې توپیر علت دادی چي قمري کال لس ورځي کم دی اوکال يې ژر بشپړېږي . دا کال ثابت نه دی په دې معنی چي یوه میاشت هرکال په یوه وخت نه راځي، وینو چي مبارکه روژه کله په اوړي،کله په پسرلي او کله ژمي ته راشي. له همدې کبله په عربي اسلامي نړۍ کي د قمري حساب ترڅنګ په معاملاتو کي له میلادي سني څخه استفاده کېږي او د منځنۍ آسیا، ایران او افغانستان په هیوادونو کي د قمري سني تر څنګ له هجري شمسي سني څخه په معاملاتو کي ګټه اخستله کېږي، تر څو تاریخ په ثابت وخت پاته شي. هجري شمسي او میلادي دواړه سنې ثابتي دي. هغه داسي چي یوه میاشت هرکال په هغه وخت راځي.

ددې سنو کلونه ۳۶۵ ورځي او ۶ ساعته دي او په هرو څلورو کلونو کي دا شپږ ساعته یوځای کېږي او کبیسه کال جوړوي، چي هغه کال بیا ۳۶۶ ورځي وي .

دهجري شمسي اومیلادي کلونو تر منځ توپیر هم ثابت او هغه ۶۲۱ کاله دی .په هرحال ...

تاریخ پوهان وايي، دخط تر پیدایښت وړاندي د انسانانو د ژوند دوره، تر تاریخ وړاندي دوره بلله کيږي، خوکله چي خط اوکتابت پیدا شول نو هغه دوره تاریخي دوره بلله شوې ده. تر تاریخي دورې وړاندي دانسانانو ژوند دهغوی له اثارو ښکاره کېږي. په هغې دوره کي د افغانستان د خلکو ژوند د ګاونډیو هیوادونو سره یوګډ ژوند دی. په تاریخي عصر کي هم افغانستان له خپلو ګاونډیو سیمو سره ګډ فرهنګ او تاریخ لري . دا له هغو آثارو ښکاره ده چي په مرو، پنجاب، سند، د بلوچستان په کانال او جاله وان ، د پخواني سیستان په اوسني نادعلي او زرنج، دارغنداو پنجوایي په وادي دبدوان او دیمراسۍ غونډیو، د کندهار په ۶۶ کیلومترۍ کي شمال

لویدیز لورته، د موندیګک غونډۍ اود هندوکش په شمالي لمنوکي، د هزارسم دښته چي تاریخي اثار او سمڅي لري، موندل شوي دي.

دا اثار یوه اوبل ته ورته دي او ددې سیمي د ۶۰۰۰ کلن تمدن شاهدي وايي.

په تاریخي لحاظ د افغانستان په شمال کي، د امو د سیند په څنډو خلکو ویدي تمدن درلود. د ویدي مذهبي سرودونه چي کوم پاته وو هغه ،سینه په سینه نورو نسلونو ته رانقل شوي دي.

تر هغه وروسته نژدې یونیم زرکاله تر میلاد وړاندي د اویستا کتاب دی چي د زردشت له لوري رامنځته شوی دی. دا کتاب په اوستایي ژبه لیکل شوي ؤ، هغه ژبه پخوا بیرته له منځه تللې او ددې کتاب ځیني مذهبي برخي،په شفاهي ډول پاته وي، څو په لومړۍ میلادي پېړۍ کي بیا ولیکل شو.

په درېیمه میلادي پېړۍ کي، ایراني ساسانیانو د اوستا کتاب بیا را ټول کړ او یو ځای یي ولیك. په هغه کتاب یې یوه شرح د زند په نوم او په شرح یې بله شرح د پازند په نوم ولیکله .د اوستا له کتاب څخه معلومېږي چي زردشتي دیانت په وحدانیت باندي ولاړ ؤ. په جنت، دوزخ او بل ژوند یې باور درلود. له شر، دروغو، غلا او نورو ناوړو اعمالو یې خلك منع کول.کښت او کروندې، مالداري او ښاري ژوند ته یې خلك هڅول. د زردشت د افکارو لنډیز ښه فکر، ښه کارکول او ښه وینا کول ؤ.

دافغانستان په تاریخ کي، داوستا کتاب ځکه مهم دی چي له ډېر پخوا څخه معلومات پکښي لیکل شوي دي، په اوستا کي د هندوکش دواړو خواوو ته دنني افغانستان خاوره په ۱۶ سیمو وېشله شوې وه چي حدود یي له ماوراءالنهر او مروي څخه تر سیند او له بدخشان څخه تر هرات او هلمند پوري وو.

اوستايي مدنيت، د کرهني مدنيت ؤ. په داسي حال کي چي ويدي عصر د مالداری او کوچيتوب دوره وه.په اوستا کي د فلز نوم هم راغلی دی، ګواکي هغه وخت له ژېړو څخه لوښي او لوازم جوړېدل . تر پیشدادیانو وروسته اریایي مشران د کاوه کورنۍ (کاویان) وو. په هغوي کي کواټ (کي قباد) کوي،اوس (کي کاوس) او کي خسرو نوموتي مشران وو. تر دوی وروسته د اسپه کورنۍ واکمنه شوه، په هغوی کي د لهراسپ او زوی يې ګشتاسپ واکمنان تېر شوي دي. په همدې دوره کي زردشت پيدا شو او د زردشتي دين تبليغ يې پيل کړ.

د زردشتي دين پيروان اوس هم په ایران او هند کي موجود دي...

## افغانستان دهخامنشیانو په دوره کي

تر ميلاد زرکاله وړاندي چي دافغانستان په شمال، د بخدي يعني اوسني بلخ په سیمه کي، اریایي مدنیت رامنځته شوی ؤ، هلته کرکيله کيدله او لاسي صنعت پيل شوی، د حيواناتو اهلي کول او دجامو ګنډل رواج شوي وو.

په همدې وخت کي ، د امو دسيند شمال لورته، په هموارو دښتو کي، د تورانو په نامه کوچي او پوونده خلك وو چي ،په بلخ به يي بريدونه کول. همدې بريدونو اوکورنۍ شخړو مرکزيت له منځه يوړ او دا خلك کمزوري شول.

له بلي خوا د ایران په شمالي سیموکي د ماد کورنۍ واکمنه وه، په دې دوره کي يوه اريايي کورنۍ چي پارسوا (پارثوا) نوميدله، دايران جنوب ته لاړه اوهغه سيمه پارس وبلله شوه.

د پارسوا دکورنۍ د یوې څانګې مشر هخامنش نومېده. ددې سرې اولادې د ماد کورنۍ د حکومت په سیمه کي محلي امريت درلود. خو ددې کورنۍ يوه آمر،چي کوروش نوميده په **۵۵۹** ق م

سنه کې د ماد د کورنۍ وروستنی پاچا له منځه یوور او په خپله یې دیوې پراخې امپراطورۍ بنسټ کېښېښود. دده په امپراطورۍ کې د مدیترانې سیمې، د سندوادې، بلخ او د ماوراءالنهر ځمکې شاملې وې. کوروش په ۵۲۹ ق م کال په یوه جګړه کې مړ شو او دربیم کمبوجیه یې په ځای کېښیناست . د نوموړي په وخت کې هم دافغانستان خاوره دهخامنشي دولت جز وه.

تر کمبوجیه وروسته، داریوش پاچا شو چې پاچهې یې له یونان څخه بیا تر هند پورې پراخه او افغانستان هم پکښې ؤ.

په هخامنشي دوره کې، په ایران او افغانستان کې، نوې مدنیت او فرهنګ رامنځته شو. په مصر، شوش، پارس او د الوند په غره کې د هخامنشي داریوش د وخت لیکنې په ډبرو پاته دي چې، په فارسي، ایلامي، اسوري، مصري او بابلي ژبو په میخي خط چې ۴۲ نښې یې درلودې، لیکلې دي.

په دې لیکنو کې د هخامنشیانو امپراطورۍ په ۳۱ ولایتونو وېشله شوې وه، چې د هرې یوې نوم او د مالیې اندازه پکښې لیکله شوې وه.

د افغانستان او د افغانستان د ګاونډیو سیمو نومونه، د هغه وخت په ژبه یاد شوي دي چې،مهمې سیمې یې دا وې:

خراسان، ګورګان، بخدي یابلخ، سغد یعني اوسنی سمرقند، کرمان، ګذري یا د افغانستان جنوبي سیمه تر سند پورې، زرنج، هریوا یعني هرات، خوارزم، ګداره (دکابل او پېښور وادي)، تنه ګوش (دکوهاټ،بنو اوختکو سیمه)، مکران او اراکوزیا (ارغنداب).

له ۵۵۹ ق م کال څخه بیا تر ۳۳۱ ق م کال پورې یعني تر هغه چې:

دیوناني سکندر له خوا، د هخامنشیانو پاچهۍ له منځه یوړل شوه، هخامنشیان زموږ په هیواد مسلط وو. ددې پاچهې سیمه له

یونان څخه تر هند پوري وه. له همدې امله د هخامنشیانو مدنیت او کلتور له هندي مدنیت سره ګډ شو او د هغوی ارامي، رسمي لیك، په خروشتي لیك واوښت . هندیانوهم د هخامنشیانو له معمارۍ او صنعت څخه پیروي وکړه.

خروشتي لیك په افغانستان کي تر پنځمي میلادي پېړۍ رواج درلود. دا لیك له ښي لوري چپ لور ته لیکل کیده. دا خط په دفترونو کي او هم په ډبرو او فلزاتو لیکل شوی دی، ددې خط بیلګي د وردګو په خوات، د جلال آباد په درونټه او هډه او بګرام کي موندلي شوي دي. دا ډبرلیکونه په لومړۍ او دوهمي میلادي پېړیو پوري اړه لري، چي دلویوکوشانیانو دوخت یادګارونه دي.

ایراني هخامنشیانو تر ۳۳۳ ق م سني پوري په افغانستان هم پاچهي کوله،خو په همدې کال دهخامنشیانو وروستنی پاچا ، دریم داریوش له یونانیانو څخه ماتي وخوړه، افغانستان ته راغی. په افغانستان کي خلکو د بسوس نومي شخص په مشري ورسره جګړه وکړه، دریم داریوش ووژل شو او په دې توګه هخامنشي پاچهي په افغانستان کي هم پای ته ورسیدله .

## افغانستان د یونانیانو په دوره کښي

یونان یو اروپایي هیواد دی، چي زر، یونیم زر کاله تر میلاد وړاندي یې یونیم ملیون نفوس درلود. ژوند یې بدوي او مالدار وو، په لیك او لوست نه پوهیدل، تاریخ او فرهنګ یې ټول شفاهي ؤ خو وروسته یوناني ټولني ارتقاء او تکامل وکړ. له مصري،کلداني او فنیقي تمدونونو څخه په ګټه اخستلو سره یې، د یوه ستر بشري تمدن بنسټ کښیښود.

تر میلاد ۷۰۰ کاله وړاندي یوناني تالس، مادي موجودات یوشی وبلل او اوبوته یې دمادة المواد نوم ورکړ.

تر میلاد ۶۰۰ کاله وړاندي سولون،خپل مهشور قانون ،دیونان دمرکز،اتن لپاره جوړ کړ. تر میلاد ۵۰۰ کاله وړاندي دمکریت ، د اتوم نظریه را وړاندي کړه او موجودات یې د خلا او اتوم ټولګه وبلله. سقراط هم په دې وخت کي د اخلاقو تدریس پیل کړ.

تر میلاد ۴۰۰ کاله وړاندي مشهور فیلسوف، افلاطون د مُثُل له عالم څخه وینا وکړه او د جمهوریت په نوم کتاب یې تالیف کړ. تر افلاطون وروسته یې شاګرد ارسطو پیداشو چي هغه مهال نو د یوناني فرهنګ دبشپړتیا دوره وه. د ارسطو د فکر او فلسفې مرکز لیسه نومیده چي داتن په ښارکي یو ستر فرهنګي او فلسفي مرکز ؤ.

تردې وروسته، هم ډېر فلاسفه په یونان کي پیدا شول چي په بشري افکارو یې تر ډیر وخت پوري حاکمیت درلود.

د یونان هیواد، تر میلاد پنځه پېړۍ وړاندي، له اسپارت او ایران سره په جګړو اخته ؤ. خو په ۳۳۸ ق م کال، د فلیپ له خوا ټول یونان ونیول شو. یوکال وروسته فلیپ مقدوني مړ شو او په ځای یې ځوان زوی ،سکندر پاچهي ته ورسید.

سکندر، د پلار له لوري خپل ځان، د قدرت او ځواک رب النوع هرکولیس او دمور له لوري یي ځان اشیل یوناني افسانوي پهلوان ته منسوب باله.

سکندر په ۳۳۴ ق م کال، له ایران سره د جګړې په عزم له یونان څخه راوخوځید او په کوچنۍ آسیا یعني نننۍ ترکیه کي یې ایرانیانو ته ماتي ورکړه او په څلوروکلونو کي یې وکړای شوای ، خو ایران، ترکیه او مصر ونیسي. سکندر په مصر کي ځان ته د فرعون لقب غوره کړ.

ددې ځایونو تر نیولو وروسته، سکندر، د هندوستان د نیولو په فکر کي شو، خو د هندوستان په لاره کي ورته افغانستان پروت ؤ.

مقدوني سکندر، له خپل ځواکمن لښکر سره، څلور کاله په افغانستان کې وجنګید.

په طوس، هرات، غزنی، بلخ او ماوراءالنهر کې، خلــکو مقابلې ورسره وکړې او په ختیز افغانستان کې، سکندر او بطلیموس دواړه ټپیان شول. بیاهم یوناني لښکر په ۳۲۷ ق م کال، د هند په لوري وخوځېد. د جیلم په سیمه یې دپنجاب پاچا ته ماتې ورکړه، خو ستړي لښکر یې د پر مخ تللو ځواک بایللی ؤ.

سکندر، د بلوچستان او ایران په لاره بیرته راغبرګ او بابل ته لاړ. په بابل کې د ۳۲ کلونو په عمر مړ شو. د سکندر تر مړیني وروسته له هغه څخه پاته هیوادونه په دریو لویو سیمو، یعني مقدونیه او یونان، مصر، شام او ایران ووېشل شول . افغانستان د یوناني والیانو په اختیارکې ؤ چې، د شام د یوناني دولت تر اغیز لاندې ؤ.

په ۳۰۵ ق م کال د شام یوناني واکمن، سیلوکوس په خپله افغانستان ته راغی او هند ته لاړ، خو په دې وخت کې د هند په نیمه وچه کې دپرسیاسي تحولات راغلي وو چې، د موریا خاندان یوه غښتلې پاچهي پکې جوړه کړې وه.

د موریا د کورنۍ د هغه وخت پاچا، چندراګپتا، یوناني واکمن دې ته اړایست، څو له سندڅخه بیرته راستون شي. هندي واکمن د افغانستان ختیزې برخې هم ونیولې او ورسره بودایي دین هم افغانستان ته راغی.

په شام او ایران کې، د یوناني واکمنانو له اختلاف څخه، په افغانستان کې یوناني والي ګټه واخستله او ددې سیمې ازادي یې په ۲۵۰ ق م کال اعلان کړه.

دا سلسله، چې یوناني واکمنانو،په افغانستان کې واکمني درلوده، په تاریخ کې ، د یونانو – باختری په نوم یادیږي. چې له ۲۵۰ ق م څخه تر ۱۳۵ ق م کال پورې، په افغانستان کې واکمنان

وو. په دې واکمنی کې، له ایران څخه د هند تر ګنګا سیند پورې او د امو له سنده د هند تر بحره سیمې شاملې وې . دې واکمنانو د سرو او سپینو زرو سکې ووهلې او له چین سره یې تجارت درلود، خو په ۱۷۵ ق م کال، یوناني والیانو په هندکې ځان ته او بیله پاچهي اعلان کړه. په دې ډول یوناني واکمني، دننه په اختلاف اخته وه او د غرب له لورې اشکاني دولت ځواکمن شو چې، دافغانستان لویدیزې سیمې یې ونیولې.

په دې وخت کې دافغانستان له شمال ختیز څخه سیتي قبایل ماوراءالنهر او سغدیاني ته راغلل. د باختر سیمې یې ونیولې، د غرب په لور، د ایران او اشکاني دولت له ځواك سره مخامخ شول او مخ په جنوب کندهار اوسیستان ته راغلل. د سیستان پخوانی نوم د رانګیانایي خپلې یوې قبیلې، اسکایي ته وراړاوو او ساکستانا یې وباله .

په هر حال، د سیتي او اسکایي (سهاکانو) قبایلو بریدونه، له یوه لورې او د ایراني اشکاني دولت مقابله له بلې خوا ، ددې سبب شوه چې، د یونانیانو باختري پاچا ، هیلوکلس په ۱۳۵ ق م کال، له بلخ څخه را کډه او کاپیسا یې خپله پلازمېنه وټاکله، د هند په لورې یې، تر سند پورې هم واکمني درلوده، ځو د ق م په لومړۍ پېړۍ کې، دیونانو- باختري سلسلې پاچهي پای ته ورسیدله.

ددې لړۍ دواکمني په وخت کې، په افغانستان کې ښارونه ودان شول، لاري جوړې شوې، آن دا چې باختر یعنې دننني افغانستان شمالي سیمې، د (زروښارونو) په سیمه یادیدله .

په دې دوره کې، یوناني ژبه او فرهنګ هم افغانستان ته راغلل او د شرق له لورې بودایي دین هم راورسید. دې پاچهانو یې څکه مخالفت نه کاوو چې له هغوی سره د اړیکو په لرلو، شتمن هند ته لاره ومومي.

بودايي دين، د اخلاقو اصلاح، د رياضت او د دنيا د ترك په لاره غوښتل او ويل به يې : پاکه عقيده، پاکه اراده، سپيڅلې وينا، ښه رفتار، پاکه روزي، غوره کار او زيار او سپيڅلې توجه او پاملرنه ولرئ تر څو :

د حقيقت او رښتيا پېژندني په لار کي ځيرنې، دحقايقو په پوهيدلو تفکر، دژور نظر او ارامتيا، بشپړ سکون او نروانا يعني فنا ته ورسيږئ .

فرانسوي محقق، فوشه وايي چي، د افغانستان د ختيزو سيمو خلکو، د بودا دين ځکه ژر ومانه چي، په دې دين کي، له جنګ او ويني تويولو څخه کرکه ښودله شوي وه. دا خلك، هخامنشيانو، يونانيانو او هندي موريانااوو ډېر ځپلی وو.

## افغانستان دکوشانيانو په دوره کښي

دافغانستان شمالي سيمي، چي په تاريخ کي، د باختر او بخدي په نوم يادي شوي دي، له دې چي وداني او ښاري سيمي وي، تل د پرديو له لوري ورباندي بريدونه شوي دي. دا بريدونه کله داسي ووچي يوازي دغلا او چور لپاره راغلي او هرڅه يي وړي او تر شا يې ويرانې او مخروبې پري ايښي دي. لکه ډېر پخوا د کوچي او سوارکاره تورانيانو يرغلونه، او په را وروسته کي لکه دچنګېز بريد، او يا لکه د روسانو وروستني بريدونه او مداخله . خو ځيني بريدونه داسي وو چي، متجاوزين راغلي او دلته پاته شوي دي. ددې سيمي له خلکو سره ګډ شوي او ددې ځای اوسيدونکي ګرځيدلي دي. لکه تخاريان او زاوليان چي دشمال له لوري راغلي، هستوګنه يې غوره کړې او ځيني سيمي يې اوس هم په نومونو پاته دي.

تر میلاد ۷۰ کاله وړاندي، دیوچي قبیله، تر امو را واوښته او له تخاري قبایلوسره په ګډه یې یوه ستره ټولنه دکوشي په نوم جوړه کړه.

راغلیو قبایلو به، هر یوې خان ته مشر درلود، خو د کوشي یا کوشاني قبیلي مشر،چي کیو،سیو،کیو نومیده. د څلورو نورو قبیلو مشران چي یوه پکښې دساکواریا کورنۍ وه، د خان تابع کړې او په خپله یې خان د"کوي شانګ پاچا"په نوم ونوماوه. د همدې سړي دپاچهي لړۍ، په تاریخ کي د کوشاني پاچهانو یا کوشانیانو په نوم یادیږي. غالباً دکوشي له ریښې څخه دپښتو او دري د کوچي توري راپاته دی .

د کوشانیانو دلړۍ یو پاچا، کدفزس، تر میلاد څلویښت کاله وړاندي ،دهندوکش غره څخه راواوښت ،دکاپیسا اوکابل سیمي یې، د سند تر دریاب پوري ونیولې او د لویدیز په لوري هم تر پارسیا، یا د ایران شرقي سیمو ته ورسید. په دې توګه یې، دنني افغانستان په خاوره کي، یو سراسري دولت جوړ کړ. ددې لړۍ بل پاچا، دوهم کدفزس، له رومیانوسره د تجارت لړۍ پیل کړه، خو له چین سره یې جګړه وکړه، ماتي یې وخوړه او د کاشغر له سیمو څخه بیرته را شاته شو.

د کوشانیانو د لړۍ ځواکمن پاچا،کانیشکاؤ چي، د ۱۲۰ او ۱۶۰ میلادي کلونوتر منځ یې پاچهي کړې ده. نوموړي خپله پلازمینه، له شمال څخه د هندوکش جنوب ته رانقل کړه چي ژمی به یې پېښور او اوړی به یې، د کاپیسا بګرام پایتخت ؤ.

کانیشکا په شمال لویدیز کي، د اشکاني پاچا ځواکونو ته ماتي ورکړه او په شمال ختیز لوري یې چیني ترکستان یعني کاشغر، یارکند اوختن فتح کړل. ترکانیشکا وروسته پاچهانو، د هند په

لوري مخه کړه، هغه سیمي یې ونیولي تر څو یې وروستنی پاچا، په ۲۲۰ م کال په هند کي له منځه لاړ.

په افغانستان کي، د کوشانیانو ځای، محلي امیرانو ونیو. مهم یې د کابلستان، امیریت ؤچي له کاپیسا څخه بیا تر سند پوري یې حکمراني درلوده. په دې وخت کي د هیواد شمالي سیمي، د ماوراءالنهر د کوچیانو تر بریدونو لاندي وي، چي د دریمي میلادي پېړۍ په پای کي، یفتلیانو داسیمه ونیوله.

دهیواد په لویدیز کي، دایران ساساني حکومت جوړ شو او په هند کي د ګپتا کورنۍ واکمنه وه.

د کابلستان کوشانیان چي، د مقتدرو او لویو کوشانیانو له پاتي شونو څخه وو، د کاپیسا اوکابل سیمه یې وساتله . له ساسانیانو سره یې څو ځلې مقابله او جګړه وکړه او د هند له حکومت سره هم، په روغه کي واوسیدل. په دې توګه یې، تر پنځمي میلادي پېړۍ دوام وکړ. د وړوکوشانیانو، دا لړۍ په تاریخ کي دکیداریانو په نوم یادېږي.

یفتلیان چي په عربي تاریخ کي، د هیاطله په نوم یادېږي هم یوه له هغوقبیلو څخه ده چي د افغانستان له شمال ختیز لوري راغلي ده. دې قبیلي په ۴۲۵ میلادي کال، په تخارستان کي دولت جوړ کړ. د یفتلیانو مشهوره کورنۍ زاولیان ؤ چي په لوي غزني کي هستوګن شول، زابل او زابلستان د هغوی د نوم نښه ده.

یفتلیانو، له ایراني ساسانیانو سره څو، څو ځلي جګړې وکړي، تر څو یفتلي پاچا، چي اخشنور نومیده، له ساسانیانو سره جګړه وکړه او ساساني پاچا یې چي فیروز نومیده اوپه ۴۵۱ م کال کي پاچا شوي ؤ، په جنګ کي ونیو.

فیروز وروسته دباج دورکړي وعده وکړه، خپل زوی قبادیې ګرو پرېښود او خوشي شو.

فیروز دوهم ځلي بیا برید وکړ خو لښکر یې ماتي وخوړه او په خپله هم دجنګ په میدان کي ووژل شو.

تر فیروز وورسته یې ورور، پلاش په ایران کي پاچا شو، خو د قباد له لاسه چي یفتلي پاچا ورسره مرسته وکړه، ماتي وخوړه. قباد هم یفتلي پاچا ته د باج ورکولو وعده وکړه، خو وروسته ایران د یفتلیانو لاس ته ورغی.

یفتلي پاچا، اخشنور د ایران تر نیولو وروسته، د هندوکش جنوبي سیمي هم ونیولې. د کیداري پاچهانو لړۍ یې ختمه او یو ځل بیا یې په همدې خاوره یو مرکزي حاکم دولت جوړکړ.

تر اخشنور وروسته، ددې لړۍ پاچهان هم، د هند د نیولو په تمه شول. تر څو جګړو وروسته یې، د ګپتا کورنۍ، څواکمن دولت ته ماتي ورکړه . خو د هند خلکو د یفتلیانو په وړاندي هم مقابلي وکړي تر څو یې یفتلي پاچا ته هم په جنګونو کي ماتي ورکړه.

وروسته یفتلي پاچهان کمزوري شول، یوازي محلي حکومتونه یې تر ۵۶۶ میلادي کاله پوري ورته پاته وو.

د کوشانیانو اویفتلیانو په وخت کي، په افغانستان کي زردشتي، بودایي او برهني دینونه موجود وو. خوکوشانیانو بودایي دین منلی ؤ اویفتلیانو بیا برهمني دین درلود. د هر دین عبادت ازاد ؤ، آن چي د کنیشکا په مسکوکاتوخو ددریو واړو دینونو دارباب الانواعو درنښت ښودل شوی دی.

دکوشانیانو ژبه ختني بلله کیدله، خوخط یې خروشتي ؤ چي له ښي لوري چپ لورته لیکل کیده .د هندوکش په جنوبي برخو کي، د برهمني خط نښي هم لیدل شوي دي. چي هغه له چپ لوري ښي لوري ته لیکل کیده.

د یونانو – باختري، صنعت په ځای، د یونانو– بودایي صنعت رواج وموند. معماري او مجسمي جوړول ډېر رواج وو چي د بامیانو

مجسمې دهغه وخت یادګارونه دي.د ګردېز د میرزکي مسکوکات، د کابل د مرنجان د غونډۍ خزانې او د بګرام له معبدونو څخه، له عاج څخه جوړې شوې ګینې، ټول د کوشانیانو د دورې یادګارونه دي.

## داسلام ظهور

په داسې وخت کې چې، نړۍ د بتانو او باطلو معبودانو په سیوري کې، د ظلم او زور، بداخلاقۍ او فساد په ګرداب کې لاهو وه. انسانانو په غلامې او کړاوونو کې ورځې تیرولې، نجونې ژوندۍ خښیدلې او ښځې په قمارکې بایلل کیدلې.

په داسې وخت کې چې، په هندکې انسانان، د دره دېرش میلیونو بتانو په عبادت کې بې ارادې شوي، د مذهب او اخلاقو په نوم تباهې ته لویدلي وو، اوهام او دیبان یې مذهب ؤ، هر څه ته به یې سجده کوله، د خدای لورته لاړې یې یوازې په غرونو اوځنګلونوکې پلټلې. بدنې ارامتیا او له نعمتونو څخه خوند اخستل یې ناروا بلل. کونډې خو له هرڅه بې برخې وې. غوره یې هغه وه چې د میړه تر مړینې وروسته به یې ځان وواژه .په قمارکې د ښځو بایلل کیدل، خو یو رواجي کار ؤ. د شرابو په مستۍ کې، د مور، خور او لور فرق ورك ؤ. د مندرانو او معبودانو ساتونکې، د بداخلاقیو مجسمې ګرځیدلي وو.

په داسې وخت کې چې، اوسنی ایران، د فارس په نوم، د زردشت په پیروي، د دوه خُواکونو(یزدان اواهریمن) په کشمکش کې انسانان د ماني او مزدك انحرافي لارو ته رسولي وو. ماني به ویل : دنیا باید ترك شي، واده ونشي او انساني نسل ختم شي. خو مزدك، د نننې کمونیزم په څېر مال او ښځه شریك وګڼل.

ایران هغه وخت، د اتش پرستو او عیسایي څواکونو ترمنځ د جنګ ډګر هم ؤ.

په داسي وخت کي چي متمدن روم،د عیسویت د فرقو، د اختلاف او جګړو په اور کي سوځیده چي یوې ډلي به، عیسی(علیه السلام) خدای ګڼه او بلي به یې زوی، یوې ډلي به، هغه بشر باله خو بلي به په خدایي کي شریك ګڼه .خواصل عیسویت د یونانیانو د افسانو، مصري، رهبانیت او رومي بت پرستي، یو معجون ګرځیدلی ؤ.

په داسي وخت کي چي؛ یهود، دا د انبیاوو وژونکي، له عیسایانو سره په کینه، کرکه او دښمنۍ اخته وو، مشرانو یې ژوند،په ریا او حرص کي تېراوو. ځانونه یې د خدای دوستان او غیر مسئول ګڼل. د تورات حکمونه یې بدلول، د روا او ناروا فرق پکښې کم شوی ؤ.

په داسي وخت کي چي، عربي نړۍ، د مجوسیت، نصرانیت او یهودیت تر اغیزه لاندي، دړي وړي وه او په مکه کي ۳۶۰ بتانو، د خلکو په ژوند حاکمیت درلود. د خدای په وجود عقیده تاریکه وه، ملایکي یې د خدای لوڼې ګڼلي. د پیریانو، دیبانو او شیطانانو په ویره کي یې ژوند کاوو. بتانوته خو یې لومړی د څارویو او وروسته دسرونو قرباني کوله.

د ژوندکړه وړه یې، د بتانو په وړاندي د فال په غشو وو، هر کار ته به یې فال اچاوو او قرباني به یې ورکوله.

د بتانو ترڅنګ، لمر، سپوږمۍ او شعری، دبران، مشتري، سهیل او د عطارد ستوریو هم عبادت کوونکي درلودل .

کاهنان، د خلکو د ژوند لارښوونکي وو، هره یوه ، د یوه پیري د ملګرتیا دعوه کوله .اوهام دومره زیات وو چي، مار به یې نه واژه ځکه ویل به یې، هرمار ملګری لري اوبیا ورڅخه خلاصیدلای نشي. که به عربان په سفر تلل او له کیڼ اړخ څخه به یې مارغه والوت، هغه به یې بدفالي ګڼله او سفر به یې پرېښود.

د باران د كيدلو لپاره به يې، ژوندي حيوان ته اور واچاوو.

په عربانوكي جنګ او جګړه، غلا او شوكه عادي كارونه وو. په وړه خبره به په كلونو.كلونو جګړه روانه او د سل ګونو انسانانو وينه به وبهيدله. لاري به يې نيولې، مال، ښځې او نجونې به يې تښتولې او خرڅولې. د شراب څښل عام او په نشه كي به ئې قمار اوفحشاء عادي خبره وه. په نكاح كي د ميړه يووالي شرط نه ؤ او نه په نكاح كي دښځو محدوديت ؤ، بې حيايي دې حدته رسيدلې وه چي لوڅ طوافونه به كيدل .

د هر ځناور او خزندي غوښه ورته د خوړلو وړ وه، د حيوان حلالول يا مرداريدل بې فرقه ؤ، د خره د غوښې خوراك عادي كار ؤ.

لنډه دا ، په داسي وخت كي چي، انساني نړۍ، په سياسي، مذهبي او اخلاقي لحاظ په خورا ټيټه وضع كښې وه، انسانانو، د ظلم او زور، وحشت او اوهامو، جهل اوناپوهۍ، په ګردابونوكي، ژوند كاوو، دلوى خداى جل جلاله د مشيت غوښتنه دا شوه څو يې خپل وروستنى استازي دعالم لپاره رحمت ، د ټولو خلكو لپاره بشير او نذير، له ټولو بدبختيو ژغونكى، د بشري نړۍ ناجي، حضرت محمد صلى الله عليه وسلم ،په پيغمبري مبعوث كړ او ورسره د بطحا له وادي، د اسلام لمر څرك وواهه.

محمدصلى الله عليه وسلم، دعبدالله زوى دعبدالمطلب لمسى هاشمي،قريشي عرب دى .دفيل په كال، چي د عيسى(عليه السلام) له پيدايښت څخه ،۵۷۰ يا **۵۷۱** كلونه تير شوي وو، په مكه مكرمه كي وزيږيد. پلار يې دده تر پيدايښت وړاندي، وفات شوى او نيكه يې ورباندي محمدصلى الله عليه وسلم نوم كښيښود. د مور نوم يې، آمنه ؤ. رضاعي موريې حليمه سعديه نوميدله، چي محمد صلى الله عليه وسلم ته يې شيدي وركړي دي .

دعمر په شپږ کلنۍ کي یې مور وفات شوه او بیا یې پالنه، نیکه عبدالمطلب کوله.

دعمرپه اته کلنۍ یې، نیکه هم وفات شو. روزنه او پالنه یې تره ابوطالب په غاړه واخستله . د عمر په ۱۲ کلنۍ کي، له خپل تره ابوطالب سره دشام په سفر لاړ. هلته له عیسوي راهب، بُحیرا سره مخامخ شو. بحیرا، ابوطالب ته وویل :

"په دې ماشوم کي د اخري پیغمبر نښي معلومیږي، هغه نه چي وراندي لاړ شي او یهود ورته زیان ورسوي".

ابوطالب خپل مال هلته خرڅ کړاوبیرته راستون شو.

دعمر په ۲۵ کلنۍ کي محمد صلی الله علیه وسلم له خدیجي بي بي سره نکاح وکړه . دعمر په ۳۵ کلنۍ کي یې د قریشوهغه لانجه حل کړه کومه چي، د حجرالاسود د ایښودلو په سر راغلي وه.

دعمر په ۴۰ کلنۍ کي دحِرا په غار کي لومړنۍ وحي ورباندي راغله .

د بعثت په دریم کال یې علني دعوت پیل کړ، د بعثت په شپږم کال یې یو شمیر اصحاب حبشي ته مهاجر شول. د بعثت په لسم، یوولسم او دوولسم کلونوکي یې د مدیني منوري خلك دین ته دعوت کړل او د بعثت په د یارلسم کال یې مدیني منوري ته هجرت وکړ.

د هجرت په لومړي کال په مدینه منوره کي نبوي مسجد ودان شو، د مهاجرو او انصارو تر منځ دمواخات یعني وروړګلوۍ تړون او له یهودو سره، د مدیني منوري په دفاع کي قرار داد وشو.

دهجرت په دوهم کال قبله بدله او د بدر جګړه وشوه.

د هجرت په دریم کال دأحُد او په پنځم کال دخندق یا احزابو جګړه ونښته. د هجرت په شپږم کال دحدیبیې روغه اود هجرت په اووم کال خیبر فتح شو. د هجرت په اتم کال مکه مکرمه فتح او د حنین جګړه

وشوه. د هجرت په نهم کال د اسلام حج دابوبکر (رضی الله عنه) په امیریت اداء شو. د هجرت په لسم کال د وداع حج وشو او د هجرت په یوولسم کال رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شو.

وصلی الله علیه واله وصحبه وسلم .

********

********

## راشده خلـــفاء

د محمد صلی الله علیه وسلم تر وفات وروسته، حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه، د عثمان (په ابوقحافه مشهور ؤ) زوی خلیفه شو.

نوموړي، له هغوکسانو سره چي، داسلام له یوه امر(زکات) منکر و، جګړه وکړه او دا دیني امر یې ژوندی وساته.

له مسلمهٔ کذاب سره چي د نبوت دعوه یې کړې وه هم، جګړه وکړه او د هغه فتنه یې ختمه کړه.

ابوبکر رضی الله عنه قرآني آیاتونه او سورتونه را ټول او په یوه ځای کي یې ولیکل چي بیا د عثمان رضی الله عنه په وخت کي، له همدې لیکل شوي قرآنکریم څخه، نور تکثیرشول. ابوبکر رضی الله عنه هغه مجاهدپوځ چي پیغمبرصلی الله علیه وسلم د اسامه بن زید رضی الله عنهما په مشرۍ، د رومیانو د مقابلي لپاره چمتو کړی ؤ، هم واستاوو.

صدیق رضی الله عنه تر دوه کاله خلافت وروسته ،په دیارلسم هجري کال وفات شو.

تر ابوبکر صدیق رضی الله عنه وروسته، عمر رضی الله عنه خلیفه شو. د نوموړي په دوره کي ډېر فتوحات وشول . د لویدیز په لور مصر او د افریقا د لوېې وچي شمالي سیمي، اوسنی فلسطین او

بیت المقدس فتح شول او په ایران کي د قادسيې، جلولا او نهاوند تر جګړو وروسته،اسلامي لښکر تر مشهد اوهرات پوري راورسید.

عمر رضی الله عنه دهجرت په څلور ویشتم کال شهید کړای شو.

تر عمر رضی الله عنه وروسته، عثمان رضی الله عنه خلیفه شوچي د فتوحاتو لړۍ همدغسي روانه وه. عثمان رضی الله عنه، هغه قرآنکریم چي دابوبکر صدیق رضی الله عنه دخلافت په دوره کي، ټول شوی ؤ، ترتیب او تکثیر کړ او د اسلامي نړۍ مهمو مرکزونو ته یې واستاوو، تر څو په قرانکریم کي د قرائت په هکله، د اختلاف مخنیوی وشو. عثمان رضی الله عنه تر ۱۲ کاله خلافت وروسته، په ۳۵ هـ سنه کي شهید شو. تر ده وروسته،حضرت علي رضی الله عنه خلیفه شو.

دعلي رضی الله عنه دخلافت په دوره کي ،دمسلمانانو ترمنځ جګړې وشوي، یوه دجمل جګړه وه چي دعلي رضی الله عنه او عایشي رضی الله عنها تر منځ پېښه شوه او بله د صفین جګړه وه چي د حضرت علي رضی الله عنه او حضرت معاویه رضی الله عنه تر منځ واقع شوه.

حضرت علي رضی الله عنه تر ۶ کاله خلافت وروسته، په ۴۰ هـ ق کال شهید شو. زوی حسن رضی الله عنه د خلافت له منلو ډډه وکړه او حضرت معاویه رضی الله عنه چي دشام دسیمي والي ؤ،د مسلمانانو امیر شو. په دې توګه امویانو ته خلافت ورسید.

په اموي کورنۍ کي ۱۴ تنه واکمنان تیر شول . د امویانو دوره د جهاد او فتوحاتودوره وه چي،د افغانستان شمال،کرمان، سیستان، مکران، سند، بخارا او ماوراء النهرته د اسلام دین ورسیداو د غرب او شمال په لوري، د اتلانتیک تر سمندره، د اروپا جنوبي سیمو، د فرانسي جنوب، سسلي او ساردینا جزیرو، روم او قسطنطنیې ته مسلمانان ورسیدل.

په اموي دوره کي دړومي سکي پر ځای، چي د صليب علامه به يې درلوده او د ايراني سکي پر ځای چي د اورتون (اتشکدې) نښه يې درلوده ،اسلامي سکه ووهل شوه. په دې سکو به لااله الاالله محمدرسول الله ، الله اکبر او يا هم قل هوالله احد ، ليکل شوي وو.

په اموي دوره کي،چي پراخي سيمي ونيول شوي، د اموي امراوو، راشه درشه د مفتوحه سيمو له خلکو سره متکبرانه وه، له همدې کبله يي په خلاف کي بغاوتونه وشول. مهم پکښې د افغانستان د خلکو وو، چي خلافت يې له دې خاندان څخه عباسيانوته بدل کړ.

په ۱۳۲ هـ کال، د عباسي خاندان د خلافت دوره پيل شوه . د عباسي خاندان ،۳۷ تنه، د خلافت په مسندکښيناستل او پنځه پېړۍ يې خلافت دوام وکړ.

د عباسيانو په دوره کي، د خلافت په دربار کي، د مفتوحه سيمو خلك هم باقدرته وو او ددوی کړه ،وړه هم دتعصب او تبعيض په ډول نه وو، عباسيانو خپل پايتخت له دمشق څخه بغداد ته نقل کړ.

د عباسيانودوره، د فتوحاتودوره نه وه، خو د علم او فرهنګ دوره وه. په همدې دوره کي،په ديني اودنيايي علوموکي،تاليفات وشول. نور علوم، چي نن يې موږ دخيل علوم بولو، له نورو ژبوڅخه را وژباړل شول . د مدرسو او کتابتونونو اساس کښيښودل شو.

دعباسيانو خلافت ،په ۶۵۶ هـ کال دچنګيز دلمسي، هلاکو دلښکرو په واسطه پای ته ورسيد ...

کله چي اسلام ظهور کاوه، په هغه وخت کي، په افغانستان کي يو سراسری مقتدرحکومت نه و، بلکي، د افغانستان او خواوشا سيمه يې، دمختلفو واکمنانو له لوري اداره کيدله .

په هغه وخت کي، ځيني واکمني کورنۍ داوي :

يوه کورنۍ دکابلشاهانو وه چي د کوچني کوشانيانو پاته خلك وو او افغانستان ته د اسلام د رارسيدلو په وخت کي يې، له کابله تر

پنجابه پاچهي درلوده. کله چي، مسلمانانوکابل فتح کړ، دا کورنۍ دپېښور، ټکسیلا او پنجاب خوا ته په شا شوه. خو د سلطان محمود په وخت کي له هغي سیمي هم وشړل شول .

بله مشهوره کورنۍ، د زابلي رتبیلانو وه، له کابلشاهانو سره یې خپلوي درلوده او له غزنی تر سیستانه یې حکومت کاوو.

دهندکش په شمالي سیموکي، دتګین شاهانو په نامه، محلي حکومت ؤ چي له تخاره تر بادغیس پوري یې واکمني درلوده .

په غزنی کي د لویکان (لوی خان) کورنۍ او په بامیانوکي د بامیان دشیرانو واکمني وه.

په غورکي سوري خاندان واکمن ؤ، د هیواد لویدیزه سیمه، د ایراني ساسانیانو تر سیاسي، ادبي او دیني اغیز لاندي وه.

په همدې مهال،په هیوادکي،بودایي،زردشتي، لمرپرستي شیوایي او مسیحي دینونه رواج وو.

په هغه وخت کي،خروشتي، پهلوي، سانسکریت او یوناني لیکونه دود وو. تخاري (دري)، پښتو او پهلوي ژبي ویل کیدلي . د بودایي دین مرکزونه هم، د افغانستان په ختیز او شمالي سیموکي وو چي، له چین او هندڅخه به، بودایي زایران راتلل او زموږ د هیواد د هغه وخت تاریخ هم، د چیني زایرینو، په سفرنامو کي قید دی. په تېره بیا د هیون سنګ لیکنه خو یو غوره تاریخي اثر دی .

تر هغوی وروسته مسلمان تاریخ پوهان دي چي، زموږ د هیواد دهغه وخت حال، احوال یې لیکلی او موږ ته را رسیدلی دی.

## افغانستان دراشده خلفاوو په دوره کښې

دپیغمبر( صلی الله علیه وسلم) اوابوبکر(رضی الله عنه) ،په زمانه کي د اسلام دین له عربي نړۍ څخه بهر رسیدلی نه و، خو د عمر(رضی الله عنه) په وخت کي، چي مسلمانانو له ایراني واکمنانو

سره څو، څو خلې جګړې وکړې او مشهورې پکښې د قادسیې، جلولا او نهاوند جګړې وې. په دې جګړو کې، ساساني پـاچا، دریم یزدګرد، ماتې وخوړه او په ۲۰ هـ کال افغانستان ته راغی. د افغانستان له یوه محلي امیر څخه یې مرسته وغوښتله، خو د یوه ژرنده ګرې په لاس ووژل شو.

حضرت عمر (رضی الله عنه)،د یزدګرد په تعقیب،داحنف بن قیس په مشرې یو لښکر را واستاوو،احنف افغانستان ته راغی او لویدیز خراسان یې په روغه ونیو.

په دې وخت کې، د خراسان د ډېروسیمو واکمن، د غور د ثوري کورنۍ، ماهوی نومې شخص ؤ چې، حکومت یې د بلخ، بخارا او هرات په سیمو ؤ. احنف بن قیس هغه، د امو له رود څخه پورې غاړې ته وشاړه او په خپله یې، د نني مرغاب په سیمه کې، مرکز جوړ او د خراسان ولایت ورته د خلافت د مرکز له خوا وسپارل شو.

د افغانستان له جنوبي لوري څخه، هم د عبدالله ابن بدیل خزاعی په مشرې، یولښکر د نننې افغانستان، دزرنګ چې معرب یې زرنج دی، سیموته را ورسید. په ۲۳ هـ ق کال یو بل اسلامي لښکر د عبدالله ابن عامر په مشرې، د کرمان تر نیولو وروسته، سیستان ته راغی. دا سیمې یې ونیولې او د کندهار د ارغنداب په ناوه کې، د رتبیل له لښکر سره مخامخ شو او هغه یې هم وواژه. دا وخت سنه ۲۴هـ وه.

د عثمان (رضی الله عنه) په وخت کښې هم، هغه عربي سردار، عبدالله ابن عامر له لښکر سره کابل ته ورسید. کابل یې کلابند او تر سختې جګړې وروسته یې فتح کړ. خو ددې لښکر تر بیرته تللو وروسته، د کابل خلکو یغاوت وکړ او د اسلامي خلافت په ځای یې، خپلې محلي حکمرانۍ ته اختیار او واك وسپاره.

کله چې،په افغانستان کې داسلامي حاکمانو په خلاف بغاوتونه وشول،دسیستان امیر(عمیر)مخالفین وځپل اوترکابل پورې ورسید. احنف بن قیس، د هرات او مروې امیر هم، په ۲۹ هـ کال د هیوادپه شمال کې جګړې پیل کړې،تر۳۲ هـ کال پورې یې، بلخ، تخارستان، سمنګان، تالقان او د اوسني سرپل سیمې ونیولې. په همدې کال یې دننني مرغاب یا د هغه وخت د مرو رود له امیر، بازان سره جګړه وشوه او هغه یې له منځه یووړ.

هرات، بادغیس، غور او د مشهد سیمې هم، په همدې کلونو کې بیا فتح شوې. د عثمان (رضی الله عنه) له لورې په ۳۰ هـ کال ربیعه ابن زیاد سیستان ته راغی، تر هملند پورې ووت. د زرنج په درې میلې کې یې سخته جګړه وکړه خو د زرنج حاکم، ایران د رستم زوی، زرنج مسلمانانوته وسپاره.

ربیعه د زیاد زوی، تر خاشرود او بست پورې ورسید. خو د ربیعه تر تللووروسته،د سیستان خلکو بیابغاوت وکړ.دربیعه ځای ناستی امیر یې، له سیستان څخه وشاړه.

داخل،د خلافت له درباره، یو نامتو صحابي عبدالرحمن ابن سمره (رضی الله عنه) له حسن بصري او نورو فقهاوو سره سیستان ته را واستول شو.

عبدالرحمن په ۳۳ هـ کال زرنج بیا ونیو او د فقهاوو په واسطه یې د اسلام تبلیغ پیل کړ. خو دا وخت، د عثمان (رضی الله عنه) د شهادت خبر راورسید. عبدالرحمن بصري ته لاړ او په ځای یې د احمد زوی په زرنج کې حاکم پرېښود. د سیستان خلکو بیا بغاوت وکړ، مسلمان عرب امیر یې وشاړه او محلي حکومت یې جوړ کړ.

حضرت علي (رضی الله عنه) چې په ۳۵ هـ کال خلیفه شو، د جروالطاي زوی یې د سیستان امیر وټاکه، خو هغه په یوه جګړه کې شهید شو.

تر ده وروسته د بصري والي، عبدالله دعباس (رضی الله عنه) زوی سیستان ته راغی، هغه یې فتح کړ او تر ۳۸ هـ کال پوري د بلوڅو تر اوسني کلات پوري په مخ لاړ.

له بلي خوا په ۳۶ هـ کال عبدالرحمن ابن سمره د یوه لښکر په مشري بیا افغانستان ته راغی، د سیستان او ارغنداب له لاري تر کابل پوري په مخ لاړ. له کابل شاهانوسره یې جګړه وکړه، تر څو هغوی تسلیم شول.

د علي (رضی الله عنه)په دوره کي، د مروي واکمن ،سوری ماهوي کوفي ته لاړ او بیعت یې وکړ.علي (رضی الله عنه) ورته فرمان ورکړ چي د خراسان خلك دي، همدي سوري ماهوي ته جزیه ورکوي .

خو خراسانیانو بغاوت وکړ. دا ځل جعده د هبیره مخزومي زوی، چي مور یې هاني، د ابوطالب لور وه، افغانستان ته راغی، هغه هم د خراسان په بشپړنیولو بریالي نه شو.

په ۴۰ هجري کال چي علي (رضی الله عنه) شهیدکړای شو اود اسلامي خلافت واك، امویانو ته ورسید. د امویانو په واکمنۍ کي د اموي کورنۍ لومړي واکمن،معاویه (رضی الله عنه)هم په افغانستان کي،د دین د خپرولواودبغاوتونود ماتولولپاره مجاهدین را واستول. مشهور پکښي : قیس بن الهیثم ،عبدالله ابن حازم، نافع دخالد زوی، حکم دعمرالفغاري زوی، ربیع دزیاد زوی، سعید د عثمان (رضی الله عنه) زوی، عبدالرحمن دزیاد زوی، وکیع د عمیره زوی، مهلب او بیا د هغه زوی، یزیدافغانستان ته راغلل. ددې امیرانو، د راتلو او واکمنۍ لړۍ تر ۶۸ هـ کال پوري اوږده شوه خوپرمختګ یې څکه ونکړ چي د خراسان خلکو به بیا- بیا مخالفتونه کول. دا خبره باید وشي چي د افغانستان خلکو، په تدریج سره د اسلام دین ومانه او مخالفت یې یوازي،له عربي سردارانو سره ؤ، نه داسلام له دین سره.

په هرحال په ۶۸ هـ کال د اموي دربارله لوري، نامتو فاتح قتیبه دمسلم زوی، د خراسان په واکمنۍ وټاکل شو. هغه د ۵۳ زره کسیز لښکر په ملګرتیا وکړای شوای څو، بلخ، تالقان، تخارستان او مرو فتح کړي. په دې توګه یې، مخالفتونه او بغاوتونه ټول مات کړل، خو په خپله قتیبه په ۹۱ هـ کال له اموي دربارسره ، چې دا وخت ولید بن عبدالمالك خلیفه ؤ، مخالف شو. څو د خلافت د مرکز په امر په ۹۶هـ کال دخپل لښکر دیوه قوماندان وکیع ،په لاس ووژل شو.

په اموي دوره کې، د افغانستان په جنوبي سیمو، سیستان او بلوچستان کې هم جګړې وشوې چې ډېر عربي قوماندانان راغلل. مشهورپکښې، عبدالرحمن ابن سمره ؤ چې دوهم ځل ددې ځای په واکمنۍ وټاکل شو.نوموړی په ۴۴ هـ کال په سیستان کې ټولې ناارامي،ارامي کړې اوتر بست، کشك نخود، زمینداور او ارغنداب پورې چې هغه وخت، د رخج او اراکوزیا په نوم یادیده وړاندې راغی. بیا د ترنك د دریاب په وادي کې، تر غزني او کابل پورې په مخ لاړ. په همدې کال، یو فاضل صحابي، ابورفاعه عبدالله تمیم داسید زوی، په کابل کې شهید شو او اوس یې هم قبر مشهور او د خلکو زیارتګاه ده.

عربي مسلمان حکمرانان به تل، راتلل . خو ټول وخت یې په جګړو تیر شو.تل یې د نورو محلي واکمنانو ترڅنګ، دزابل رتبیل شاهانو او کابل شاهانو مقابله کوله.کله چې به همدامخالفین مات شول، ګردیز، پېښوراو ویهندته به شاته شول. لښکربه یې ترتیب او مجهز کړ او بیا به یې په اسلامي لښکرو بریدونه کول.

سره له دې چې مسلمان مجاهدین، هغه وخت دسیستان اوخراسان په سیمو کې،د مخالفتونو په له منځه وړلو مصروف وو،خو د جبهې شاته یې د هند په لوري فتوحات وکړل.

تر ۹۶ هـ کال پوري يي، د سند د سيمي، ارمابيل، دبيل، نيرون، سيوستان، ايشهار، برهمن اباد، ارور، بابيه، ملتان او نورځايونه د لوی مسلمان فاتح محمدبن قاسم په مشرۍ ونيول.

## افغانستان دعباسيانو په دوره کښي

په راشده دوره او د امويانو په واکمني کي، چي تر سلوکلونو زيات وخت ؤ، د اسلام دين افغانستان ته راورسيد. له اموتر هلمنده او د ارغنداب له وادي، بيا تر سند پوري، مسجدونه جوړ او مدرسې وداني شوي، مسلمان مبلغين راتلل او ددين تبليغ روان ؤ.

خوله بده مرغه، له يوه لوري د بنوهاشم (عباسيانواو علويانو) او د امويانوترمنځ اختلاف ؤ، له بلي خوا، د بنواميه، د اميرانو رويه او سلوك د مفتوحه ممالکوله خلکو سره، په تبعيض ولاړ وو. په افغانستان کي، له همدې امله ناخوښي زياته وه او بغاوتونه به د عربي امراوو په وړاندي کيدل.

د افغانستان خلك له يوه لوري د داسي تعصب په مقابل کي را پاڅيدل او له بلي خوا يې، د عباسيانولوري ته، تر امويانوترجيح او غوراوی ورکاوو. له همدې امله به يې کله، د عباسي خاندان د مبلغينو مرسته کوله او کله به يې د نورو فرقو کومي چي د اموي کورنۍ مخالفي وي، حمايه کوله .

په افغانستان کي چي کوم عرب اميران وو، د هغوی ترمنځ هم د يماني او مضري يا يمني اوقيسي قبايلو په نوم ،اختلاف ؤ چي د مسلمانانو حاکميت به يې کمزوری کاوو. ورسره د وليعهدي په سر هم د خلافت په دربارکي اختلاف روان ؤ.

په هرحال د افغانستان خلکو تل د خلافت له مرکز سره په مبارزه کي وو. دا جګړه لومړۍ د دين په مقابل کي وه، وروسته چي اسلام

یې ومانه، بیا د عربي امراوو په ضد او په پای کې، د عباسیانو چې د نبوت له خاندان څخه وو، په مرسته کې وه.

ددې پاڅونونو او جګړو په یوه مرحله کې، یو تن راپیداشو چې عبدالرحمن نومیده، په ابومسلم مشهور ؤ او د انبار د ښارچې ننني سرپل دی، په یوه کلي کې په ۱۰۰ هـ کال زیږیدلی ؤ.

نوموړی، په ۱۹ کلنی، په دولتي او سیاسي کارونو بوخت شو. د خلکو ستونزې ورته معلومې وې،کوفې ته یې سفرونه وکړل، د عباسیانو له مشرانو سره به یې لیدل،کتل.

د امویانو او عباسیانواختلاف، اوج ته رسیدلی ؤ. علي، د عباس (رضی الله عنه) لمسی په اموي دربارکې، په دُرو ووهل شو. یو بل تن چې محمدنومیده او د همدې علي زوی ؤ، افغانستان ته راغی، د امویانوپه ضد یې تبلیغ کاوو، د هغه تر مړینې وروسته یې زوی، ابراهیم همدا تبلیغ وچلاوو، تر څو دامویانو له خوا ووژل شو.

ورسره یحیی چې دحضرت علي (رضی الله عنه) له اولادې څخه ؤ، هم په ۱۲۵ هـ کال، د اوسني سرپل په سیمه کې، د اموي دربار، د نمایندګانو له لوري ووژل شو.

دهمدې اختلافونو په وخت کې، په ۱۲۹ هـ کال، ابومسلم (عبدالرحمن) خراساني، د افغانستان په شمال کې، له تخارستانه تر مروې پورې، خلك په ځان راټول کړل. د ځان پاچهي او د عباسي خاندان خلافت یې اعلان کړ.

د اموي امراوو له لوري ورسره جګړې وشوې، خوابومسلم له خپل لښکر سره تر کوفې پورې ورسید. په ۱۳۲ هـ کال یې د کوفې په لوی مسجدکې دوژل شوي ابراهیم دورور عباسي عبدالله سفاح په نوم خطبه وویله او د اموي خاندان ددولت پای یې اعلان کړ.

ابومسلم بیرته، افغانستان یا د هغه وخت خراسان ته راغی، دا ملك یې منظم کړ او په ۱۳۶ هـ کال مکې معظمې ته لاړ، خو د سفاح

وروروو خلیفه منصورعباسي يې، له قدرت څخه وویریده. هغه يې په ۱۳۷ هـ کال وواژه او خراسان يعني ننني افغانستان يې دعباسي خلافت تر مستقیمي واکمنۍ لاندې کړ.

تر ابومسلم وروسته، زردشتي فیروز د خراسان استقلال اعلان کړ او ظاهراً يې دابومسلم دکسات داخستلوپه نوم،له عباسيانوسره جګړه پیل کړه خوپه جګړه کې له خپلو شپیتو زرو پیروانوسره ووژل شو.

تر زردشتي فیروز وروسته، په ۱۴۱ هـ کال، دبرازبنده له لوري، د عباسیانو دخلافت په مقابل کې، د بغاوت هڅه وشوه. خو خلیفه منصور خپل زوی المهدي، جګړې ته راواستاوو. په ۱۴۲ هـ کال يې د برازینده لښکر ته ماتې ورکړه او هغه يې هم په جګړه کې وواژه.

په ۱۴۴ هـ کال، د بست او کندهار خلکو، د عباسیانو په خلاف پاڅون وکړ او په ۱۵۰ هـ کال د سیس هروي په نامه هم پاڅون وشو. خو د خلافت د دربار، د لښکرو له خوا يې پاڅون غلی اوسیس هروي يې بندي بغدادته بوت، هلته ووژل شو.

په ۱۵۱ هـ کال دزرنج او په ۱۶۱ هـ کال دهرات اوبادغیس خلکو پاڅون وکړ، دا بغاوتونه روان وو، تر څو، هارون الرشیدعباسي، په ۱۷۷هـ کال فضل،دیحیی برمکي بلخي زوی، د خراسان حاکم مقرر کړ. نوموړي د خراسان په نوم یوغښتلي لښکرجوړکړاوبغاوتونه يې غلي کړل.

دبرمکیانوکورنۍ ډېر ځواك او زیات رسوخ درلود، تر څو هارون الرشید وربانديبدګومانه شو اودا کورنۍ يې قتل عام کړه.

دا پاڅونونه بیا هم په افغانستان کې روان وو، څو د پهلوان حمزه سیستاني پاڅون،په ۱۸۲هـ کال پیل شو. نوموړي زرنج، هرات او فوشنګ ونیول . د عباسي خلافت لپاره ورڅخه دلوي خطراحساس کیده . هارون الرشید يې په خپله مقابلې ته راغي، خو عباسي

خلیفه هارون ،په ۱۹۳ هـ کال په طوس کي وفات شو اوپهلوان حمزه هم پرته له جګړې بیرته راوګرځید، سیستان ته راغي. د سند اوبلوچستان لورته یې ،ډیرخایونه ونیول اوپه ۲۱۳ هـ کال ووژل شو.

تر دې وروسته هم، د هغه وخت خراسان اوسیستان، یاننني افغانستان ارام نه ؤ، څوهمدلته محلي حکومتونه جوړ او مستقل شول.

دلته به دومره عرض وکړم چي، د افغانستان د خلکو ژوند نژدي دوه سوه کاله، په همدې جګړوکي تیر شو،کله به یې داسلام دین نه مانه کله به یي دعربي قبایلود یوې د رد او د بلي دتائید په هکله جګړه کوله. خو ورسته یې، همدا پاڅونونه، د استقلال اوخپلو حکومتونو د جوړولوپاره پیل کړل . سره له دې هم، په ټول افغانستان کي د اسلام دین خپور شو او د پخواني : بودایي، زردشتي او برهمني دینونو ځای یې ونیو. عربي ژبه اوعربي لیک دود( رسم الخط) په افغانستان کي عام شول.

په همدې دوره کي،په افغانستان کي خورانامتو پوهان پیداشول . لکه امام اعظم ابوحنیفه (رحمه الله)چي اصلاًدکابل دشمال دسیمو ؤ. نیکه یي اسلام منلی اوکورنۍ یې کوفي ته تللې وه .ابن مبارك مروزي، د کرامي مذهب مؤسیس محمد د کرام سیستاني زوی، محدث ابراهیم بن طهمان هراتي، محدث ابواسحاق ابراهیم جوزجاني، صوفي ابراهیم ادهم بلخي، د حنفي مذهب نامتوفقه ابوسلیمان موسی جوزجاني، د ابوداود د مشهورسنن محدث ابوداود سجستاني، محدث ابوحاتم سهل بن محمدسیستاني او نور ډیرپوهان او د عربي ژبي شاعران په همدې دوره کي پیداشول.

په همدې دوره کي، د خراسان یعني نني افغانستان په سیمه کي صنعت او تجارت هم ښه رونق درلود. د هغه وخت د هند ډېر شیان عربي نړۍ، او د عربي خاوري، ډېر تجارتي مالونه، د خراسان له

لاري هند ته تلل. هغه وخت د خراسان وربښمين ټوكران، خورا مشهور وو. نور صادراتي څيزونه هم هغه وخت، نني افغانستان درلودل. لكه د سرو اوسپينو زروغمي، خمتا او نور د سپنسو اوبدل شوي جامې، آسان، پسونه، پنبه، لوبني، وڅكي او كشميش، زغره، ډال، فرشونه، زعفران اولاجورد. د شبرغان د سيمي توري، د ټول اسلامي خلافت په سيمه كي مشهوري او وتلې وي .

د اسلامي خلافت د مركز لپاره ،خراسان د خپلې شتمني له امله يوه عايداتي منبع وه، دعشر او زكات، خمس او غنيمت اوله دولتي ځمكو څخه عايدات يې، ميليونونو درهمونوته رسيدل.

په هغه وخت كي، چي د اسلامي خلافت په لويو ښارونوكي سكي وهل كيدلې، د خراسان په نيشاپوركي، واليانو خپلي سكي وهلې وي . ابومسلم خراساني هم دمروپه ښاركي، د ابومسلم عبدالرحمن مسلم په نوم سكه وهلې وه.

د عباسيانوپه وخت كي، د خراسان يعني نني افغانستان، محلي واكمنانو، لكه : طاهريانو، صفاريانو، سامانيانو او غزنويانوپه نيشاپور، هرات، زرنج، بست، غزني، بخارا، سمرقند، مرو او بلخ كي دارالضرب يعني د سكي د وهلو مركزونه درلودل چي په كوفي خط به يې سكي وهلې.

په دې سكوبه ،د بغداد د عباسي خليفه او د محلي پاچا دواړو نومونه ليكل كيدل.

د امويانوپه وخت كي،د خراسان او ماوراءالنهر، ټولومفتوحه ځمكو تر كابل، پنجاب اوسند، په عراق عجم پوري اړه درلوده. خو د عباسيانوپه وخت كي، بيا دا سيمه په څو برخو ووېشله شوه.

لومړى د خراسان ولايت : چي، له مروى او هرات څخه تر بلخ او تخارستان پوري پروت ؤ.

دوهم دسجستان ولايت چي تركابل پوري رسيده.

دریم :دتوران ولایت چي تر مکران اوسیند پوري رسیده.

په هر ولایت کي، د خراج یعني مالیې، د بَرید یعني پوستي او مخابراتو، د جیوش یعني لښکرو،د رسایلو یعني صادري او واردي، د رواتب یعني تنخواګانو، د شرطه یعني پولیسو، قضا صدقاتو،مصادراتو او اوقافو مرکزونه او دفترونه موجود وو.

********

*****

***

# په افغانستان کي خپلواک حکومتونه

## افغانستان دطاهریانو په دوره کي

(۲۰۵-۲۵۹هـ)

په هجري دوهمه اودریمه پېړۍ کي، د هرات یوه ولسوالۍ چي زنده جان نومیږي د پوشنګ په نوم یادېدله. د پوشنګ ښار، ودان ښار ؤ، مدرسېي او مسجدونه پکښي وو. په دې ښار کي د طاهریانو کورنۍ، یوه علمي او دینداره کورنۍ وه، د عباسي خلافت له دربار سره یې ښې اړیکي درلودي.

طاهریان، د افغانستان یا د هغه وخت د خراسان، د خپلواکه دولتونو په سر کي راځي. طاهر د حسین زوی او مصعب لمسی ؤ.

مصعب ، د بلاغت او ادب یو نامتو پوه ؤ او د عباسیانو له لوري دپوشنګ حاکم ټاکل شوی ؤ. تر معصب وروسته یې زوی، حسین په ۱۸۰ هـ کال دهمدې سیمي واکمن شو. حسین په ۱۹۹ هـ کال وفات شو.

طاهرپه همدې حکمرانه کورنۍ کي لوی شوی ؤ.کله چي هارون الرشید وفات شو یو زوی یې چي امین الرشید نومیده، په بغداد کي ؤ، ځان یې خلیفه وباله .بل زوی یې چي مامون الرشیدنومیده د خراسان والي او په مرو کي اوسیده. امین ۶۰ زره کسیز لښکر د علي ابن هامان په مشرۍ، افغانستان ته ددې لپاره راواستاوو، څو له مامون سره جګړه وکړي. مامون ،دهغه مقابلي ته څلور خراساني لښکري، د همدې طاهرپوشنجي په مشرۍ واستولي.

طاهر، د امین لښکرو ته ماتي ورکړه او د هغه لښکر مشرعلي ابن هامان یې وواژه. وروسته طاهر په بغداد برید وکړ، امین یې وواژه او مامون یې د بغداد دخلافت په تخت کښیناوو.

مامون،طاهر ته لومړی دشام حکومت او د بغداد د امنیت مسئولیت ورکړ او بیا یې د خراسان حکمرانی او د ذوالیمینین لقب ورکړ.

په ۱۹۹ هـ کال طاهر خراسان ته راغی. د خراسان اداره یې تر ۲۰۵ هـ کال پوري منظمه کړه، وروسته ددې سیمي د خپلواکۍ په فکر شو او په ۲۰۷ هـ کال، د څلورمي خور په ۲۴ نیټه یې، د خراسان خپلواکي اعلان او د جمعي په خطبه کي یې دمامون نوم یاد نکړ. په همدې شپه طاهر وفات شو.

زوی یې طلحه، دده په ځای کښیناست . طلحه یوړوه شخص او د پلار په ژوند ورته دسیستان امارت سپارل شوی ؤ. شپږکاله، یې ښه په عدالت سره حکومت وکړ او د بغداد د عباسي خلافت له لوري یې هم، حکومت په رسمیت وپیژندل شو.

طلحه په ۲۱۳ هـ کال، د سیستان له خارجي حمزه سره،څوك چي د خوارجو وسله وال مشر او دعباسي خلافت مخالف ؤ،په جګړه ونښت اوپه همدې کال طلحه وفات شو.

تر طلحه وروسته یې ورور،عبدالله دطاهر زوی، دخراسان امیر شو. عبدالله، څه موده د عباسي دربارله لوري ،په شام او مصرکي حکمران ؤ او بیا یې دعباسي دربار په امر په ایران کي له بابك خرمي سره جګړي وکړې .کله چي امیر شو، د عباسي خلافت د دربارله لوري یې امریت رسمي او قانوني وپیژندل شو. د عبدالله رویه، د خلافت له مرکزسره په اخلاص وه او څو ځلي د خلافت له مخالفینوسره وجنګید. عبدالله اوولس کاله په خراسان کي واکمني درلوده او په ۲۳۰ هـ کال وفات شو. عبدالله، یو عالم او ادیب شخص ؤ. د هیوادپه ودانولوکي یې زیار یوست.

تر عبدالله وروسته یې زوی، دوهم طاهر واکمن شو چي، ۱۸ کاله یې حکومت وکړ. دده د پاچهۍ په موده کي، د سیستان په سیمه

کې پاڅونونه وشول . د طاهري کورنۍ امیران یې له سیستان او د بُست له ښار څخه وشړل او د صفاریانو د کهاله واکمنۍ تېنګه شوه.

دوهم طاهر په ۲۴۶ هـ کال وفات شو، تر ده وروسته یې زوی، محمد د قدرت په ګدۍ کښیناست . بې کفایته شخص ؤ، صفاري یعقوب لیث له سیستان څخه وربانديې برید وکړ. نوموړی یې په ۲۵۹ م کال بندي کړ.

د طاهریانو د کورنۍ، پاتې کسانوتر ۲۷۸ هـ کال پورې په مرو، تر ۲۶۷ هـ کال پورې په خوارزم اوتر ۲۸۲ هـ کال پورې یې په نیشاپور کې حکومت درلود.

ددې کورنۍ پنځو کسانو: طاهر، طلحه، عبدالله، دوهم طاهر او محمد په ټول خراسان واکمنی درلوده چې مرو او د ماوراءالنهر ځینې سیمې، د ایران شرقي برخې او د افغانستان شمالي او لویدیزې سیمې پکښې شاملې وې، خو د افغانستان په ختیزو سیمو کې رتبیلانواو کابلشاهانو حکومت کاوو.

طاهر، طلحه، عبدالله او دوهم طاهر په خپلونومونو سکې هم وهلې وې.

د طاهریانوکورنۍ، د علم او ادب کورنۍ وه. طاهر فوشنجي په خپله په عربي ژبه ادیب او شاعر ؤ. زامن یې طلحه په نحو او عبدالله په عربي شعرکې لاس درلود. منصور، د طلحه زوی چې د مرو حاکم ؤ، په فلسفه اوحکمت کې لیکنې کړې دي.

له همدې کبله یې، دعلم او اسلامي معارفوپه خپرولوکې هڅې درلودې .

طاهریانو، سره له دې چې د خراسان ازادي غوښته، خو د اسلامي خلافت او د عربي ژبې مرسته یې کوله. د اسلامي خلافت له مخالفینو سره یې په مصر، شام، ایران او د سیستان له خوارجوسره جګړې وکړې او د خلافت په ګټه یې ټول بغاوتونه وټکول.

د طاهر زوی عبدالله، د زردشتي دين له پاته شونوسره هم مبارزه وکړه او په ۲۱۳ هـ کال يي د زردشتيانوکتابونه هم وسوځول.
طاهريانو د خلافت دربار ته، د نغدي او جنس ماليه ورکوله . د عبدالله، د طاهر د زوی د وخت ماليه، ۳۸ مليونه درهمه ټاکل شوي وه او تر هغه وړاندي دا ماليه د پيسو، رخت، پسونو، آسونو او غلامانو په بڼه ورکول کيدله.
طاهري کورنۍ ،د علم ترڅنګ نظامي اوسياسي تجربه او بصيرت هم زيات درلود.
طبري، نامتو مؤرخ ،په الامم والملوك، نومي تاريخ کي، د طاهر يو ليك، چي خپل زوی عبدالله ته يي ليکلی، داسي رانقلوي :
لښکر غښتلی ولره، امنيت وساته، له خلکو سره په ارامي او عدالت رفتار وکړه، ضرورتونه اواړتياوي يې پوره کړه، خپله پاکي او سپېڅلتيا ورته ثابته کړه، ناروغانو ته روغتونونه جوړکړه...
عبدالله دطاهر زوی، خپلو مامورينو ته داتوصيه وليکله :
په تاسو مي حجت پوره کړ چي : له خوبه بيدار شئ! له غفلته راووزئ! خپله صلاح او اهليت وغواړئ ! له بزګرانو سره نرمي کوئ! که بزګرکمزوری کېږي، هغه غښتلی کړئ! لوی خدای جل جلاله ددوی له لاسونوڅخه موږ ته روزي او په ژبو يې سلام راکوي،په دوی باندي تېری ناروا دی .
دا ليك عبدالحی ګرديزي، په خپل تاريخ "زين الاخبار" کي رانقل کړی دی . دا مکتوب که څه هم د توصيې بڼه لري او د رعيت په حال د ترحم غوښتنه کوي، خو د نظر ژورتيا يې ځکه ترې ښکاره ده چي : ويل يي، همدا خلك موږ ته ډوډۍ راکوي اوهم سلام .
نو موږ ته يي هم داحسان ځواب په احسان لازم دی.

****************

***********

## افغانستان دصفاريانو په دوره کښي
## (۲۴۷-۲۹۳هـ)

دسريزي په توګه بايدعرض وکړم چي د ۲۰۰ هـ سني په خواوشا کي په اسلامي هيوادونوکي، ځيني ډلي پيدا شوې چي له ننني سياسي ګوندونو سره يې ورته والى درلود. په دې ډلوکي به دبيوزلانو، صوفيانو او د تودو احساساتو څښتنان خوانان شامل وو. مشرتابه يي داستاذ، پير، نقيب اوسرهنګ په نوم يادېده. دا کسان به د خپلو مشرانو بې قيده او شرطه اطاعت ته حاضر وو، دې ډلو ځانته شعارونه او ادا ب درلودل.

هر غړى چي به، په دې ډلو کي د شمول غوښتنه وکړه، نو د شمول خطبه به ويل کېدله، ملابه يې ورتړله، مالګه به يي تبرکاً غړپ کوله او بيا به يې د سخا، صفا او وفا وعده کوله . ځانته جامې به يې درلودي . دا کسان به د فتوت اهل يا ځوانمردان او مېړني بلل کيدل.

په عربوکي به دا خلك دفتى، په ترکيه کي د اخى، په ماوراءالنهر کي دغازي، په ايران کي د جوانمرد، په افغانستان کي دعيار، وروسته،په کابل کي دکاکه او په کندهار کي دځوان په نوم يادېدل .

دې خلکو به له بې وزلوسره مرسته کوله، د ظلم مخه به يې نيوله او خپل ژوند به يې په پاکۍ کي تيراوو.

په افغانستان کي، دې تحريکونو سياسي بڼه اختيار کړه او د پرديو په مقابل کي،که د چنګېز وخت ؤ اوکه د تيمور، ښه جنګونه يې وکړل خو وروسته همدا تشکيلات، ځکه فاسد شول چي، فاسد خلك پکښي ننوتل، نه يې دلته حيثيت پاته شواو نه نور ځاى.

په کندهارکي خو يې، نوم هم پايلوچ شو، چي لوی کمال يې يا هديرو ته تلل او يا په ځان کي چاقو وهل ؤ.

په هرحال، د افغانستان د پخواني سيستان خلك، د مسلمانانو په مقابل کي ځکه وجنګيدل چي، يو خو هغوی زردشتي دين درلود، نو لومړی يې د اسلام دين نه مانه، له بلي خوا کله چي يې اسلام ومانه، نو د عربي حاکمانو مخالفت به يې کاوو. تل به يې بغاوتونه کول او سيستان د مسلمانانو په لاز کي، د کابل او نور افغانستان د نيولولپاره خورا مهم ؤ.

مسلمانانوددې ځای، د نيولواو ايلولو لپاره، له پوخ سره ،سره ددين مبلغين اوکډوال مسلمانان هم واستول او د سيستان له خلکو څخه يې دمطوعه په نوم، چي ننني ملیشوته ورته تشکيل به يې درلود ،لښکرې جوړي کړي. ددې په مقابل کي د عيارانو ډلي جوړې شوې، تر څو د حکومتي عسکرو او مطوعه لښکرو مقابله وکړي.

خوارج چي د اسلامي خلافت د دربارپه خلاف وو، هم يې سيستان خپله مرکز وګرځاوو.

کله چي طاهريان په افغانستان کي واکمن وو،ويې نکړای شوای چي په سيستان کي خوارجو، عيارانواو مطوعه لښکري او جوړښتونه مات کړي. نومجبوراً يې د خوارجو ملګرتيا غوره کړه، خو مطوعه او عياران سره يو ځای شول او طاهريان يې له سيستان څخه په شا کړل.

دعيارانو په سرکي ،دليث صفاري زوی ،يعقوب ؤچي دصفاري خاندان واکمني يې، لومړی په سيستان او بيا په ټول خراسان کي ټينګه کړه.

يعقوب بن ليث بن معدل، د سيستان د قرنين د کلي اوسيدونکی ؤ. لومړی يې مسګري کوله، بيا د عيارانو په ډله کي شامل شو. کله چي په **۲۴۵** هـ کال، د مطوعه يو مشر، درهم د نصر زوی، د

سیستان امیر وټاکل شو، نو یعقوب ورسره د پوځ مشر شو، خو په ۲۴۷ هـ کال یعقوب صفاري هغه خلع اوپه خپله د سیستان امیر شو.

یعقوب، یو پوځي او سیاسي شخص ؤ، د خلکو افکار او غوښتني ورته معلومي وي، ساده ژوند یې درلود. خورا ژر یې د خلکو اعتماد ترلاسه او له هغوی څخه یې بیعت واخیست. تر ۲۵۳ هـ کال پوري یعقوب وکړای شوای، څو بست، تګین آباد، زمینداور او هرات ونیسي. په ۲۵۴ هـ کال یې کرمان هم ونیو.

په ۲۵۸ هـ کال یې زابل، غزنی اوکابل ونیول. د ګردیز امیر ورسره روغه وکړه، مالیه ورکول یې ومنل. یعقوب بامیان، تخارستان او بلخ ته لاړ او هغه ځایونه یې فتح کړل.

د ابن خلکان په وینا یعقوب د ملتان، سند، زابلستان او مکران محلي واکداران ټول د ځان تابع کړل او بیا یې په ایران کي جګړه پیل کړه څو یې د ګرګان په نیولو ایران د خپلي واکمنی تابع کړ.

یعقوب لیث په ۲۶۵ هـ کال تر ۱۷ کاله پاچهی وروسته وفات شو.

یعقوب لیث صفاري، لومړنی پاچا دی چي، په اسلامي دوره کي یې، په ټول افغانستان واکمنی درلوده او د افغانستان ختیزي سیمي یې هم،د کابلشاهانوله لاسه وایستي . د یعقوب لیث د پاچهی حدود له امو سیندڅخه ترسیستان او مکران او له مروی او بادغیس څخه تر زابلستان او ګردیزپوري وو.

عسکر یې منظم او د خزانو په ډکولوکي یې زیاریوست. مسعودي د هغه د غوره سیاست او اداري په هکله،یوفصل لیکلی اوهغه یې د تاریخ له لویوپاچهانوڅخه شمیرلی دی.

د یعقوب لیث صفاري په وخت کي دري ژبي ډېره وده وکړه او هغه یې رسمي او درباري ژبه وګرځوله . صفاري د اسلام له مخالفینو

سره هم ډېري جګړي وکړي. لیث صفاري لومړنی پاچا دی چي، د خلافت په مرکز کي به یې د خلیفه دنوم ترڅنګ نوم په خطبوکي ذکرکیده.

تر یعقوب لیث وروسته یي ورور عمرولیث پاچا شو. د خلافت له مرکز سره یې په نرمی ګذاره کوله. د عباسي خلافت له لوري ورته د خراسان، سیستان، فارس، کرمان، هند، سند او ماوراء النهر د واکمنۍ فرمان ورکړ شو. عمرلیث هم ومنله چي، په کال کي به ۲۰ ملیونه درهمه د خلافت مرکزي خزاني ته، مالیه تحویلوي.

په ۲۶۶ هـ کال د عمرولیث په مقابل کي، د طاهریانو د کورنۍ پاته محلي امیرانوپاڅون وکړ، خوعمرو لیث هغه مات کړل.

وروسته دعمرولیث مناسبات ، د بغداد دعباسي خلافت له مرکز سره خراب شول او کومه مالیه چي یې په ځان منلي وه هغه یي هم وځنډوله.

عمرلیث ،په ۲۸۷ هـ کال دبلخ په سیمه کي،د۷۰ زره کسیز لښکر په ملګرتیا، د سامانیانوله واکمن، اسمعیل بن احمدسره، جګړه وکړه خو لښکر یې مات او دی هم داسمعیل په لاس بندي شو. اسمعیل هغه لاس تړلی بغداد ته واستاوو، څو هلته په ۲۸۹ هـ کال ووژل شو.

عمرولیث عدالت غوښتونکي اوعمراني خوښی پاچا ؤ. زر رباطه یا دمسافرولپاره د شپي تېر ځایونه، پنځه سوه لوي مسجدونه، زیات شمیر پلونه او لاري یې جوړي کړي.

د ابن خلکان په وینا ، عمرو لیث په تدبیراوسیاست کي بي جوړی واکمن ؤ. د ابن اثیر په وینا ، عمرولیث د خپل پوځ اورعیت په حال ښه خبر ؤ،هیڅا نشوای کولای چي دده له اجازې پرته څوك،چاته جزا ورکړي.

د عمرو لیث تر مړینې وروسته د صفاري خاندان واکمنۍ کمزوري شوه ، سامانیانو د افغانستان شمالي برخې اوهرات تري ونیول .

د صفاریانو کورنۍ، تر ډېره وخته په سیستان کې محلي واکمنان وو، د سامانیانو په دوره کې یې وخت، په جګړو تیر شو او د غزنویانو په وخت کې، چې محمود غزنوي سیستان ونیو، همدا کورنۍ د غزنویانو ددولت، د جز په ډول محلي واکمنان پاته شول. دامحلي حکومت تر اتو پېړیو ورسره پاته ؤ، ۳۷ تنه پکښې حاکمان تیر شوي دي.

د صفاریانو د واکمنۍ په دوره کې،په افغانستان کې،تجارت او صنعت وده وکړه .د اوبو او باد ژرندې جوړې شوې. د هریرود او هلمند په حوزوکې، ویالې او کانالونه وکښل شول، باغونه کښېښودل شول او د هلمند په سیندکې له بیړیو څخه ګټه واخستله شوه. په لویو لارو کې رباطونه او د لارښوونو منارونه جوړ کړای شول. تاریخ، ادب او د ریاضي پوهې وده وکړه، دري ژبه دلیکنې او دربار ژبه شوه.

په دري ژبه لومړنی دري شعر ، دصفاري پاچا په ستاینه کې وویل شو. دري ژبه، د امود سیند په دواړو خواوو کې، رامنځته شوې ده او تخاري، سغدي،اسکایي او پارتي ژبو یې په جوړښت کې اغیزه درلوده.

دري ژبې د سامانیانواوغزنویانو په دوره کې،پرمختګ وکړ داچې ځیني کسان، د دري ژبې منشاء ایراني ،ساساني پهلوي ژبه ګڼي، یوه تاریخي اشتباه اوادبي تیروتنه ده.

## افغانستان د سامانیانو په دوره کښې

دسامانیانوکورنۍ،دبلخ هستوګنه وه او زردشتي دین یې درلود. سامان خدا،ددې کورنۍ لومړنی مشردی چې،دمامون الرشید په زمانه کي، دخراسان دمسلمان والي اسد په شناخت مسلمان شو او خپل نوم یي هم اسدکښیښود.اسد څلور باکفایته زامن درلودل چې دعباسي خلافت د دربارله لوري هر یو، د یوي ستري سیمي واکمن ؤ. له هغي ډلي، نوح دسمرقند، احمد دفرغانې او الیاس د هرات حکمران ؤ. د الیاس زوی ابراهیم، وروسته د طاهري دولت سپه سالار یا پوځي مشر شو.

دفرغانې واکمن احمد،په ۲۶۱ هـ کال وفات شو او زوی یې نصر په ځای کښیناست چې عباسي خلیفه معتمد بالله،نوموړی ته دماوراء النهر د واکمنی فرمان ورکړ.

نصر خپل ورور،اسمعیل په بخاراکي حاکم وټاکه. خو وروسته د همدې ورونو ترمنځ جګړه وشوه. نصر د اسمعیل لاس ته ورغی او سمرقند ته واستول شو. اسمعیل ساماني د سامانیانو د کورنۍ د پاچهي بنسټ کښیښود. دا پاچهي په ۲۷۹ هـ کال ، د معتضد او بیا مکتفي عباسي، خلیفه ګانو له خوا په رسمیت وپیژندل شوه. طاهریانو، له سامانیانوسره، سمه رویه او ښې اړیکې درلودي او له هغوی څخه په مالیه اخستلو یې بسوالي کاوو، خو صفاریانو دهغوی ازادي نه زغمله.

دعباسي خلافت ،ددربارله لوري به هم ،کله صفاریانو اوکله هم سامانیانوته د ماوراء النهر د پاچهۍ فرمان ورکول کیده.

په ۲۸۷ کال ، عمرولیث صفاري، د خوارزم او ماوراء النهر د نیولو لپاره ، د هیواد په شمال کي، جګړې پیل کړې وي. په بلخ کي

اسمعیل ساماني ورسره مقابل شوچي عمرولیث بندي او لبنکریې ماتي وخوړه. اسمعیل ساماني تر دې برې وروسته، د افغانستان شمالي سیمي، له تخارستانه تر مروی اوهراته پوري ونیولي، د ایران شمال او دماوراء النهر ټولي سیمي یې، په خپله واکمنی کي شاملي کړي.

داسمعیل وزیر، د هیوادنومیالي پوه، محمد دمحمد زوی د عبدالله بلعمي لمسی ؤ، چا چي دطبري تاریخ، له عربي څخه دري ژبي ته را ژباړلی دی. اسمعیل ساماني په ۲۹۵ هـ کال وفات شو.

تر اسمعیل ساماني وروسته یې زوی، احمد پاچا شو. نوموړي په ۲۹۷ هـ کال سیستان هم ونیو او په ۳۰۱ هـ کال، د خپلو مریانو په لاس ووژل شو. درباریانو یي اته کلن زوی، نصر ابن احمد په تخت کښیناوو، خو د هیوادچاري یې، نومیالي وزیر عبدالله محمد داحمدالجیهاني زوی اداره کولي.

نصر په ۳۳۱ هـ کال، تر دېرشو کلونو پاچهي وروسته وفات شو او زوی یې نوح، دساماني خاندان دځواك په ګدۍ کښیناست .

دنوح په وخت کي : د بلخ، سرپل، سمنګان او تخارخلکو د بوعلي چغتای په مشري پاڅون وکړ، خو د نوح له لوري په ۳۴۱ هـ کال، دا پاڅون مات شو. نوح، په ۳۴۲ هـ کال ، وفات شو. تر ده وروسته یې زوی، عبدالمالك په تخت کښیناست. دا وخت د ساماني خاندان ځواك کم شو.مرکزي دولت کمزوری اوهیواد د دریوکسانو ترمنځ وویشل شو.

نیشاپوردابوالعباس تاش، بلخ د فایق او هرات دبوعلي سیمجور په لاس کي ؤ.

دپوځ مشري، په خراسان کي لومړی ابوالحسن سیمجور، د بوعلي سیمجور پلار ته وسپارل شوه، وروسته ابومنصور عبدالرزاق او بیا الپتګین ته ورسیدله.

الپتگین په ۳۵۰ هـ کال غزني ته راغی. کله چې دساماني کورنۍ په مقابل کې بوعلي سیمجور اوفایق لاسونه سره یوکړل، هغه وخت الپتگین وفات شوی ؤ او په ځای یې سبکتګین په غزني کې واکمن ؤ. دبوعلي او فایق په مقابل کې، دوهم نوح ساماني پاچا، له سبکتګین څخه مرسته وغوښتله. سبکتګین او زوی یې محمود، په ۳۸۴ هـ کال هرات ته نژدې، بوعلي مات کړ. نوح، سبکتګین ته د ناصرالدین لقب ورکړ او زوی یې محمود، د سیف الدوله له لقب سره، د نیشاپور حکمران وټاکه.

په ۳۸۷هـ کال امیرنوح او سبکتګین دواړه مړه شول اوپه ساماني دربارکې کمزوري زیاته شوه.

دسامانیانوپاچا ،دوهم منصور، چا ړوندکړ. سلطان محمود غزنوي یې، مرستې ته ورغی، خوله فایق سره یې داسې روغه وکړه چې هرات او بلخ دې ترکابله دمحمود وي، نیشاپور اومرو دې د فایق او ملګرو یې وي.

په ۳۸۹ هـ کال ایلك خان بخارا ونیوله اودبخاراساماني پاچا، دوهم عبدالملك یې بندي اوبیا وواژه .

دساماني کورنۍ، وروستنۍ شاهزاده، په میړانه وجنګید خو په ۳۹۵ هـ کال ووژل شو او په دې توګه د سامانیانود کورنۍ پاچهي پای ته ورسیدله.

په دې کورنۍ کې، ټولو ۱۱ تنو پاچهي وکړه چې د پاچهي موده یې یوسل او شپاړس کاله او د حاکمیت ساحه یې له بخارا وبلخ څخه بیا تر هرات او د ایران تر شمالي سیمو پورې وه.

د هجري سنې د ۳۰۰ او ۴۰۰ هـ کلونو په شاوخوا کې ځینې داسې کورنۍ هم وې چې هغوی یا مستقل حکومتونه درلودل او یا محلي واکمنان وو. د طاهریانو، صفاریانو او سامانیانو،ترسیاسي اغیز لاندې به یې حکومت کاوو.

یوه کورنۍ، دقیس عبدالرشید پښتون، داولادي وه چي ډېري افسانې اوقصې وربوري ویل شوي دي. خو تاریخ ښیي چي دعبدالرشید دري زامنو؛ غرغښت ، بیټني اوسړبن له ۲۵۰ هـ کال تر ۳۰۰ کال پوري په افغانستان کي، له غورڅخه، بیا د سلیمان تر غره پوري واکمني او روحاني نفوذ درلود.

د شیخ بیټني پښتو مناجات راپاته دي . د سړبن زوی، خرشبون، د سلیمان له غره، ترکلات پوري واکمنی درلوده. اسمعیل د بیټنی زوی هم، د سلیمان په غره کي واکمنی او روحاني نفوذ درلود. تر وازي خوا اوغزنی پوري یې واك اواختیار رارسیده. د دوی هم پښتو اشعار را پاته دي.

بله کورنۍ، د فریغونیانو وه چي، له ۲۵۰ څخه تر ۴۱۰ هـ کال پوري د نننې سرپل، یاپخواني ګوزګانان په سیموکي واکمنه وه. دې کورنۍ د سامانیانواو غزنویانو له پاچهي کورنیو سره دوستانه اړیکي درلودي. خو په ۴۱۰ هـ کال، غزنویانو د هغوی سیمه تر خپل تسلط لاندي راوستله . ددې خاندان د شپږوتنو نومونه په تاریخ کي معلوم دي . ددوی په دربارکي، پوهان اولیکوالان هم وو، نومونه یې بدیع الزمان همداني، ابوالفتح بستي او د مفاتیح العلوم خاوند خوارزمي دي.

بله کورنۍ، د ملتان دپښتنو لودیانوکورنۍ وه، له ۳۷۰ هـ څخه تر ۴۰۱ هـ کال پوري یې د ملتان په سیمه کي واکمنی درلوده او د غزنویانوله خوا یې واکمنی ختمه شوه. ددې کورنۍ، څلورو تنو هلته امیریت کړی دی، نومونه یې شیخ حمید لودي، شیخ رضي لودي، نصرلودي او ابوالفتوح داود لودي وو . په دوی کښي شیخ رضي او نصرلودي د پښتو ژبي شاعران هم وو.

د هند په خاوره، دا لومړنۍ کورنۍ وه چي د اسلامي او افغاني فرهنګ او کلتور تمثیل یې کړی دی . دا کورنۍ په افغانستان

پوري اړه لري. د لودیانو بلې کورنۍ، تر دوي ۵۰۰ کاله وروسته، د بهلول لودي په مشرۍ، د هند په خاوره کي، د پاچهۍ بنسټ کښیښود او سل کاله بیا همدا لودي پښتانه په هندکي حاکمان پاته شول.

د تخارستان ، د بانیجور کورنۍ هم، یوه نامتواو واکمنه کورنۍ وه چي له ۲۳۲ هـ کال څخه تر ۳۷۲ کال پوري واکمنه پاته شوي ده. د دوی د حکمراني سیمي د تخار، بلخ ، خلم ، اندراب، ترمذ ، پنجشیر ، بامیان او وخش ولایتونه وو. ددې کورنۍ د داود ، محمد داحمد زوی، ابوجعفراحمد او جعفر د احمد زوی په نومونو، سکې هم وهلي شوي دي.

بله کورنۍ، دغرستان یا غرجستان، دشازانوکورنۍ وه، چي له ۲۸۹ هـ کال څخه ،دبامیانو په لویدیزو غرونوکي واکمنه وه. شپږ کسه واکمنان پکښي تیر شوي دي . د پوهي اوعدل یې ښه شهرت درلود او واکمني یې، د غزنویانوله خوا ختمه شوه .خو محلي اداره بیا هم، د غزنویانواو غوریانو په وخت کي، د دوی په لاس کي وه. ددې کورنۍ د شپږم واکمن، شارشاه، لور دغوري پاچاسلطان حسین جهانسوز ماندینه وه. ددې کورنۍ محلي اداره هم .په ۵۵۰ هـ کال پای ته ورسیدله.

د چغانیان امیران ،چي په تاریخ کي د ال محتاج په نوم یادیږي، یوه له هغوکورنیو څخه وه چي، د غزنویانواو سامانیانو په دوره کي یې د افغانستان په شمالي سیمو او د امو په هاخوا واکمني درلوده.

په دې کورنۍ کي،اوه تنه امیران تیرشوي دي چي، دوه تنه ابوسعد مظفر او لمسی یې،ابوعلي احمد ،د ټول خراسان، سپه سالاران یا پوځي مشران وو، دقیق بلخي اوفرخي، ددې کورنۍ د ځینو مشرانو ستاینه هم کړې ده. ددې کورنۍ دا سیمه ایزه واکمني له ۲۵۰ هـ کال څخه ، بیا تر ۳۴۰ هـ کال پوري وه.

دسیمجوریانوکورنۍ، چي په سیمجور، سیم ګوراو دواتیانوهم شهرت لري،یوه مشهوره کورنۍ وه چي،دخراساني سردار،ابو عمران اولاده ده. څوك چي، دسامانیانوداسمعیل نومي پاچا، په درباركي سرمنشي او (دوات دار) ؤ، له همدې كبله یي د مشواني څښتن یا دواتي باله .

ابوعمران، په ۲۹۸ هـ كال د سیستان حكمران شو، بیا د ایران د ری واكمن شو. زوی یې، ابوعلي ابراهیم هم د مروي، هرات او نیشاپور واكمن ؤ. وروسته د ټول خراسان په حكمراني وټاكل شو. تر دوی وروسته یې زامنو او لمسیانو تر ۳۷۸ هـ كال پوري واكمني درلوده.

ددې كورنۍ واكمني به د غزنویانو اوسامانیانو تر اغیزه لاندي وه، خوكله ،كله یې حكومت مستقل اوازاد هم پاته شوی دی. ددوی دوو تنو، ابوالحسن محمد ناصرالدوله اوابوعلي محمد مظفر عمادالدوله ، خو په خپلو نومونو سكه هم وهلي او د خپل سر پاچهي یې درلوده.

## د لویكان كورنۍ

په پخواني زابل او غزني كي یوه واكمنه كورنۍ وه چي له زابلشاهانوسره یې خپلوي درلوده .د كورنۍ جوړښت یې دپښتو له (لوی) څخه جوړ شوی دی. دې خلكوپښتوژبه ویله .

لومړني شخص چي په دې كورنۍ كي پیژندل شوی دی، هغه لویك وجویر(هجویر) نومیده . په ۱۲۰ هـ شاوخواكلونوكي یي ژوند كاوو، د پښتوژبي د شعر یو بیت هم ورته منسوب دي...

د همدې كورنۍ له صفاریانواو غزنویانوسره جګړې شوي دي. تر څو په ۳۶۵ هـ كال د محمودغزنوي له خوا، همدا كورنۍ له قدرت څخه ګوښه شوه. په دې كورنۍ كي یو بل تن خانان لویك نومیده چي ژوندیي د۱۶۳ كال په خواوشا كي ښودل شوی دی او د پښتو ژبي یو پخواني نظم ده ویلی دی...

# افغانستان دغزنویانو په دوره کښي

(۵۸۳-۳۵۲هـ)

د سامانیانو له لوري الپتګین نومی شخص، د خراسان د سپه سالار یا پوځي مشر په توګه وټاکل شو، خو هغه یو کال وروسته د سامانیانوله حاکمیت څخه سر وغړاوو او غزني ته راغی. غزنی یې دهغه وخت له محلي واکمن څخه، چي دلویك دکورنۍ څخه ؤ؛ ونیو. یو کال یې حکومت وکړ او په ۳۵۲ هـ کال وفات شو.

تر الپتګین وروسته یې زوی، اسحاق د غزني واکمن شو، خو هغه هم په ۳۵۵ هـ کال وفات شو. تر اسحاق وروسته د الپتګین یو ملګری چي بلکاتګین نومیده، په غزنی واکمن شو. په خپل نوم یې سکه ووهله او تر لس کاله واکمنی وروسته، په ۳۶۵ هـ کال وفات شو. تر بلکاتګین وروسته، دالپتګین بل ملګری، پیر تګین، په غزنی مسلط شو. هغه یو عیاش او مفسد شخص ؤ، خلك ورڅخه په تنګ شول . د هغه په ځای یې دالپتګین زوم، سبکتګین په واکمنۍ ومانه. سبکتګین نوی مسلمان شوی ؤ او د غزنویانو د امپراطورۍ اصل موسس دی . سبکتګین وکړای شوای، تر څو بست، د بلوچستان قصدار یاننني خضدار، زمینداور، بامیان، تخارستان، غور، زابلستان،کابل، پیښور، نیشاپور او سیستان د غزني د مرکز تر واکمنی لاندي راولي. په سیستان کي صفاریانوپه ګوزګانان یا ننني سرپل کي فریغونیانواو د ملتان لودیانو د سبکتګین واکمني او مشرتوب منلی ؤ . امیرسبګتکین تر ۲۱ کاله پاچهی وروسته، په ۳۸۷ هـ کال وفات شو . قبر یې په غزني کي دی، سبکتګین په خپل نوم سکه هم وهلي وه .

مشهور ادیب اولیکوال، ابوالفتح البستي، د سبګتکین د دربار منشي ؤ.

د سبکتگين تر مړينې وروسته يې يوه زوی چې اسمعيل نوميده او په بلخ کې واکمن ؤ،د پاچهۍ اعلان وکړ، خو بل زوی يې محمود چې د نيشاپورحاکم ؤ، د هغه پاچهي ونه منله او غزني ته راغی. دخپلو ماماخيلو، چې د زابلستان پښتانه وو، په مرسته يې د اسمعيل لښکر مات او اسمعيل يې بندي کړ. اسمعيل تر اوه مياشتي پاچهي وروسته په بند کې مړ شو. محمود په غزني کې په تخت کښيناست، بيا يې بلخ ونيو او د سامانيانو مرکز، بخارا هغه له تخارستانه تر هراته د خراسان د واکمن په توګه وپيژاند.

په ۳۸۸ هـ کال، د بغداد د عباسي خلافت، د دربار له لوري هم ورته پيغام راورسيد چې نوموړی يې د يمين الدوله، امين الملة او ولي اميرالمؤمنين په لقبونو، د خراسان رسمي پاچا وباله.

سلطان محمودغزنوي، په تاريخ او مسکوکاتوکي : دنظام الدين، ملك الممالك، ملوك الملوك، شاه، سلطان اوامير په نومونو هم ياد شوی دی.

سلطان محمودغزنوي، د ختيز په لوري، د هند په خاوره، ۱۷ خلي بريدونه وکړل .د لغمان اوپېښور سيمي يې ايل کړي . د ملتان واکمنان يې د غزني د مرکز تابع کړل . د هند قنوج ، ګجرات، کالنجر او کشمير يې ونيول . د سومنات مشهور معبد يې وران کړ او زياته ولجه هم لاس ته ورغله .

دغرب په لوري يې سيستان، اصفهان، طبرستان او همدان ونيول. د شمال په لوري يې هم د ماوراء النهر يعني د اموتر سيند هاخوا سيمي ونيولي او يوه لويه امپراطواري يې جوړه کړه چې، حدود يې له خوارزمه تر بلوچستان، د هند د ګنګا له څنډو، د عراق د دجلي او فرات تر کوڅو پوري رسيدل.

سلطان محمود په غزني، پروان، نيشاپور، هرات ، جوزجان، بلخ او لاهورکي په خپل نوم سکي وهلي دي.

د محمود دربار، د پوهانو او شاعرانوځای ؤ. فردوسي، فرخي، منوچهر اوعنصري يې، د دربار شاعران وو او د هغه وخت نامتو پوهان : البیروني، ابن سینا، ثعالبي، خمار اوالعتبی هم دده په دربار کي اوسیدل.

محمود غزنوی، د ټولوقومونو یو ګډ ستر او منظم لښکر درلود. د اسلام ددین په خپرولوکي يې زیار ایست او دېري منحرفي ډلي يې یا غلي کړي او یا یي وشړلي.

محمود په ۴۲۱ هـ کال، د دویمي خور (ربیع الثاني) په ۱۳ نیټه، د ۶۰ کلونو په عمر، تر ۳۳ کاله پاچهی وروسته وفات شواو د غزني د فیروزه په مانۍ کي خښ شو. د هغه وخت د قبرلوحه يې پاته ده او ننني ورباندي ولاړه ګنبده، د امیرحبیب الله خان په امر په ۱۳۲۴ هـ ق کال جوړه شوي ده.

د سلطان محمود، تر مړیني وروسته يې، زوی محمد، چي د ګوزګانان یاسرپل اومیمني حاکم ؤ، غزني ته راغی، د پلارپه ځای کښیناست . خپل تره امیریوسف يې سپه سالار یا پوځي مشر او خواجه ابوسهل احمد يې وزیر وټاکه . وروسته ،د سلطان محمود مشر زوی، امیر مسعود چي د ایران په اصفهان او ری یعني نني تهران کي حاکم ؤ، د غزني د خلکو له خوا، په پټه راوغوښتل شو. مسعود هرات او بیا بست ته راغی. محمد له لښکرسره کندهار ته نژدې تګین اباد ته ورغی. خو امیر یوسف هغه ونیو، ړوند يې کړ او مسعود يې د هغه پر ځای په تخت کښیناوه.

تر دې جنګ وراندي، د بغداد د دربار له لوري، د خلیفه القادربالله په لاسلیك، امیر مسعود ته د امارت لوا اوعهد، له ناصرالدین الله، حافظ عبادالله اوظهیر خلیفة الله، لقبونو سره راورسید.

مسعود، د ۴۲۱ هـ کال د کوچنی اختر په میاشت کې، د خراسان پاچهي ته ورسید. خواجه احمد، د حسن میمندي زوی یې له بند څخه راخلاص او خپل وزیر یې وټاکه. خواجه احمد، هغه څوک دی چي اوس یې قبر، د کندهار د میوند په کلي کښي دی.

د مسعود په دوره کي، د غزنوي امپراطوري په ځینو برخو لکه کرمان، کشمیر اوطبرستان کي بغاوتونه وشول، خو امیر مسعود هغه غلي کړل. سلجوقي ترکمنانو چي، کوچي او پونده خلك وو، تل به یې فتنې جوړولي. مسعود د هغوی د مخنیوي لپاره، د بلخ په لوري هم لښکر ویوست. هغوی یې غلي کړل. خو کله چي مسعود، د هرات او غور له لارې بیرته غزني ته راغي، همدا سلجوقي ترکمنانو، بیا پاڅون وکړ او د خراسان ډېري برخي یې له نیشاپوره تر هرات، بلخ او سیستانه ونیولي او د مسعود پوځ ته یې، د مروي او سرخس تر منځ ماتې ورکړه.

امیر مسعود چي، د هیواد وضع نارامه ولیدله، خپل زوی مودود یې، په غزني کي پرېښود او په خپله په، ۴۳۱ هـ کال له ړانده ورور محمد او محمودي خزانو سره، د هندپه لور وخوځید.

په لاره کي پوځ بغاوت وکړ او دننني حسن ابدال چي په پاکستان کي دی، په ختیزه سیمه کي یې، مسعود بندي اوبیا ووژه او د هغه روند ورور محمد یې خپل پاچا وټاکه.

امیر مودود، د مسعود زوی، په غزني کي د پاچهي اعلان وکړ او د پلار د کسات اخستلو په نیت، د هندپه لور روان شو. دننني جلال آباد په شاوخواکي، د بابر په ادینه پورکي د خپل تره، محمد له لښکر سره مخامخ شو. د هغه لښکر یې مات، محمد او زوی یې طاهربن محمد او د خپل پلار قاتلان یې ووژل.

په همدې کال( ۴۳۲ هـ) یې هلته د فتح آباد په نوم یو ښارګوټی هم ودان کړ. مودود تر ۹ کاله پاچهی وروسته، په ۴۴۱ هـ کال، د

۳۹ کلونو په عمر وفات شو. بیا د پاچهی چارې د مودود زوی، دوهم مسعود او تره یې، علي په غاړه درلودې. خو ژر عبدالرشید د سلطان محمود زوی ورباندې برلاسې شو اوپاچهي یې ترې ونیوله.

دعبدالرشید غزنوي په وخت کې، سلجوقي ترکمن داود په بست او زمینداور او زوی یې الپ ارسلان په غزنی برید وکړ، خو د عبدالرشید د لښکرسالار، طغرل د محمود مریي هغه مات کړل او په ۳۴۳ هـ کال یې عبدالرشید او نور غزنوي شاهزادګان هم ووژل. د غزني خلکو په طغرل بلوا وکړه، هغه یې وواژه او د مسعود زوی د محمود لمسی فرخزاد یې د غزني په پاچهۍ ومانه .

فرخزاد د مسعود زوی له سلجوقي ترکمنانوسره، بریالۍ جګړې وکړې او تر ۷ کاله پاچهۍ وروسته، په ۴۵۱ هـ کال وفات شو. ورور یې ابراهیم پاچهي ته ورسید. ابراهیم له سلجوقي داود سره روغه وکړه او د افغانستان ختیزې سیمې، تر لاهوره دده په لاس کې وې، څو ځلې یې دهند په لورې بریدونه وکړل. د خیراباد او ایمن آباد ښارونه، ډېر مسجدونه، مدرسې او مانۍ یې جوړې کړې. ۴۲ کاله یې په ارامه پاچهي وکړه. په ۴۹۲ هـ کال د ۶۰ کلونوپه عمر وفات شو.

د ابراهیم تر مړینې وروسته یې زوی، دریم مسعود په تخت کښیناست. له سلجوقي ترکمنانو سره یې په روغه کې وخت تیرکړ. هند ته یې توجه درلوده او لښکر یې په هندکې د ګنګا تر دریاب پورې ووت . په ۵۰۹ هـ کال مړ شو .

زوی یې ارسلان پاچا شو. یو ورور شیرزاد یې وواژه، بل ورور یې بهرام نومیده او د سلجوقیانو خورېي ؤ، هغه د سلجوقیانو دربارته پناه یوړله. سلجوقي سنجر ورسره مرسته وکړه اوغزنی یې له ارسلان شاه څخه ورته ونیو. ارسلان هند ته وتښتید او هلته په ۵۱۱ هـ کال وفات شو. بهرام شاه هم د هند په لور لښکر ویوست، خو د بیرته

راتګ په وخت کې، له غوري علاؤالدین جهانسوزسره مخامخ شو، زوی یې په جنګ کې ووژل شو. بهرام شاه هند ته لاړ اوغزنی د غوریانو لاس ته ورغی. غوري علاؤالدین د غزني ښکلي ښاراو د هغه وخت عروس البلاد یعني دښارونو ناوي، وسوزاوو او د غزنویانو ابادی یې له غزني تربسته وراني کړي. علاؤالدین هم د دوست او ددښمن په خوله، جهان سوز ویلل شو.

غوریان بیرته لاړل، بهرامشاه بیا غزني ته راغی، هلته ؤ تر څو په ۵۵۲ هـ کال وفات شو. تر ده وروسته یې زوی خسروشاه، په غزني او لمسی یې خسرو ملك په لاهورکي په پاچهی کښیناستل.

خسروشاه د غزانو له لاسه مات شو او لاهور ته لاړ. معزالدین غوري په لاهورکي خسر ملك بندي کړ اوپه ۵۸۷ کال یې وواژه. د نوموړي په وژل کیدلود غزنویانو دوه سوه کلنه پاچهی ختمه شوه. ټولو ۱۹ تنو پاچهي وکړه اوپه ماوراء النهر، افغانستان، هند او ایران یې واکمنی درلوده.

سلجوقیان

د ترکانو د غز قبایل، د امو سیند او ارال سمندرګي تر منځ سیمو کي هستوګن وو، دا خلك بت پرست پوونده وو، دا ترکمن توکمه خلك، د مالو د څرځایونو په لټه خراسان ته راتلل .سامانیانو ورته اجازه ورکړه ترڅو، د بخارا په خواوشا کي واړوي. ددې قبایلو مشر دقاق نومیده او د زوی نوم یې سلجوق ؤ.

سلجوق په اسلام مشرف شو. غزنوي محمود هم سلجوقي کورنی ته اجازه ورکړه څو، د افغانستان په شمال لویدیزه سیمه کي خپلي رمي څروي. وروسته وربانديي پښیمانه شو. د سلجوق زوی اسرائیل یې بندي کړ، د سلجوق کورنی د ایران شمال ته لاړه.

مسعودغزنوي، همدا سلجوقیان بیرته راوستل او یو لښکر یې تري جوړ کړ، خو هغوی بغاوت وکړ . د سلجوق د لمسیانو، طغرل

او چغربیګ په مشري یې چې، دمیکائیل زامن وو، د افغانستان د شمالي سیمو ښارونه لوټ کړل. په ۴۲۹ هـ کال یې د طغرل سلجوقي په نوم په نیشاپورکي خطبه وویله.

طغرل ایران متحدکړ، شام او سوریه یې ونیول . بلخ او خوارزم یې تر واك لاندي راغلل . طغرل په ۴۵۴ هـ کال وفات شو.

تر طغرل وروسته یې وراره الپ ارسلان پاچا شو، وزیر یې نامتو عالم، خواجه نظام الملك طوسي ؤ. الپ ارسلان په ۴۶۳ هـ کال ووژل شو. زوی یې ملکشاه پاچا شو. وزیر یې نظام الملك، د نظامیې په نامه ډېري مدرسي جوړي کړي .

نظام الملك یوکتاب د"سیاست نامه" په نامه ولیك.

د ملکشاه دربار، تل د پوهانو مرکز ؤ. عمرخیام د ملکشاه په امر تاریخ جلالي ولیك. ملکشاه په ۴۸۳ کال وفات او نظام الملك ووژل شو. سلـــجوقیان کمزوري شول، شهزادګان یې هر یو بیل، بیل ځای واکمنان شول .

سنجرسلجوقي د خراسان په مروکي پاچهي اعلان کړه. غزنی، سمرقند، غور او خوارزم یې ونیول. په ۵۴۳ کال پوونده غزانو بندي کړ. غزانو ډېر وحشت وکړ، غزنی یې ونیو، سنجر له بندځخه وتښتید، مروي ته لاړ، هلته پاچا او په ۵۴۸ هـ کال وفات شو.

دا وخت افغانستان مرکزیت نه درلود، سلجوقیان، غزنویان او غوریان په مختلفو سیمو واکمنان وو.

## غـــــوریان

دغور سوري کورنۍ چې د پښتنو یوه کورنۍ ده او اوس هم د بادغیس د زوراباد په خواوشا کي د زوري په نامه هستوګنه لري، تر اسلام وړاندي هم واکمنه وه . هغه مهال یې واکمنان د غرشا په نوم یادیدل. په دې کورنۍ کي؛ دبسطام، امیرسول اوسپه سالار سام

په نومونو شخصیتونه تیر شوي دي. د هند وروستنی مشهور پښتون پاچا ،سوري شېرشاه هم له همدي ټبرڅخه راپیدا شوی دی.

د علي (رضی الله عنه) د خلافت په دوره کي، شنسب نومي سوري واکمن د علي کرم الله وجهه حضور ته لاړ، بیعت یې وکړ، عهد او لواء یې راوړل او واکمني ورته پاته شوه.

ددې کورنۍ امیر پولاد سوري، عباسي خاندان ته د خلافت دمنصب په لیږدکي له ،ابومسلم خراساني سره مرسته وکړه.

ددې کورنۍ بل نومیالی امیر کروړ په مندیش کي امیر ؤ اوجهان پهلوان بلل کیده .کروړ له ۱۳۹ هـ څخه تر ۱۵۴ هـ کال پوري واکمني درلوده. ددې کورنۍ واکمني په ۴۹۳ هـ کال، ملك عزالدین حسین ته ورسیدله. نوموړي اوه زامن درلودل. د هغوی واکمني ترهند پوري اوږده شوه اود علاءوالدین جهانسوز په دوره (۵۴۵هـ) کي یې د غزني ښار ونیو او هغه یې وسوزاوو.

د غوري کورنۍ حکومت د معزالدین تر وژل کیدلو (۶۰۲هـ) وروسته ټوټې، ټوټې شو.

د غوریانو د معماري نمونې، د هرات جامع مسجد، د غور د جام منار او د دهلي د قطب منار دي . غوریانو ددین په خپرولوکي زیاتي هڅي وکړي .دري ژبه یې هند ته ورسوله اوپښتو هم په غوري دربار کي پالل کیدله. ډېرنامتو پوهان او شاعران، د غوریانو په دوره کي تیر شوي دي. د غوریانو په دوره کي پښتانه، د سلیمان له غره اوغور څخه دترنك وادي، هلمند او کابل ته لاړل. پښتني کورنۍ هند ته ورسیدلي چي؛ لودیانو، سوریانو، مومندو، شیرانیانو اوبړیڅو تر ډېره وخته هلته محلي واکمنۍ درلودي .

په هند کي تر اوسه ددې کورنیو پاته کسان د پټان، روهیله اوخان په نومونو یادیږي.

# خوارزمشاهان

خوارزم د افغانستان په شمال لویدیز کي یو مشهور او ودان هیواد ؤ، څمکه یې د امو سیند په اوبو خړوبیدله، د ګرګانج یا جرجانیه ښار یې مرکز ؤ.

د خوارزم نوم د اویستا په کتاب کي راغلی دی، داسي ښکاري چي تر بلخ اوباختر وړاندي، همداسیمه د اریایانو ټاټوبی ؤ. د خوارزم د خلکو ژبه له اریایي ژبو سره ورته ده .

په ۸۶۵ هـ کال قتیبه د مسلم باهلي زوی چي، یونامتو مسلمان فاتح ؤ، همدا سیمه ونیوله.

د اسلام په راتلوکي، په دې سیمه کي، د ال عراق او بیا د ال مامون لړۍ واکمنه وه. غزنویانودا سیمه ونیوله. خو په ۴۳۴ هـ کال، طغرل بیك سلجوقي وربانديلاس بری شو.

انوش ګین غرجه یا غرشاه د سلجوقیانوله لوري، ددې سیمي حاکم ؤ. تر هغه وروسته یې زوی قطب الدین محمد واکمن او د خوارزمشاه لقب ورته ورکړل شو.

د چنګېز تر بریدونو همدا کورنۍ له همدې لقب سره، دلته واکمنه وه . د قطب الدین محمد زوی، اتسز په ۵۲۱ هـ کال ددې سیمي استقلال اعلان کړ. ایل ارسلان (۵۶۸- ۵۸۹)، سلطان شاه محمود، ابوالمظفر(سلطان تکش) واکمنان تېر شول. تکش د پاچهي پولي پراخي کړي .په ۵۹۶ هـ ش کال وفات شو .

زوی یې علاؤالدین محمد پاچا شو. هوشیار شخص ؤ. د غوریانو دولت یې په افغانستان، د ترکانودولت یې په سمرقند او د قراختاي مقتدر دولت یې په کاشغر کي ختم کړل. د امپراطوري پولي یې له کاشغره ترعراقه او له اورال څخه د عربو تر سمندرګي پوري اوږدې وي. د خراسان سیمه یې خپل مشر زوی، جلال الدین

ته وسپارله. محمدغوښتل څو، بین النهرین او بغداد هم تر واک لاندي راولي. په ۶۱۴ هـ کال یې د عباسي خلیفه نوم له خطبي څخه لري کړ. د عراق د نیولوپه هیله روان شو. خو، په لاره د یخ او واوري له امله یې ډېر پوځیان مړه شول او بیرته راوګرځید. محمد له ځان سره د چین د نیولونقشه هم درلوده، خو چنګېز چي نوی په چین کي قدرت ته رسیدلی ؤ، ورته خنډ ښکاره کیده.

*********

## داسلام له راتلو بیا د چنګېز تر بریده دافغانستان ټولنیز حالات

وړاندي وردي چي، د چنګېز او د هغه له لوري په افغانستان کي په عامه وژنه او وراني څه وویل شي. غوره ګڼم څو د افغانستان د هغه وخت د ښارونو، فرهنګ، زده کړي او نور ټولنیزو حالاتو په هکله څه ولیکم.

هغه وخت چي په اروپا کي نوي ښارونه ودان شوي او په هر ښارګوټي کي له ۵۰۰۰ تر ۲۰۰۰۰ کسانو ژوند کاوه. په افغانستان کي؛ ستر – ستر ښارونه له لوړو ماڼیو سره ودان وو. د بلخ، مرو، هرات، نیشاپور، زرنج، غزني او بامیانو ښارونه د یادولو وړ دي. هر ښار د تجارت او صنعت مرکز ؤ او نظامي کلاوي یې درلودي . په هر ښار کي مسجدونه، مدرسیې، حمامونه، کاروان سرایونه او د سیل ځایونه موجود وو. په همدې ښارونوکي تر ۴۰۰ زیاتوکسب ګرو او تر ۲۰۰ تنو زیاتو سوداګرانو ژوند کاوو. په دې ښارونو کي د غالیو اوبدل، فلزکاري او د څرمني، مسي لوښو، وسلې او صابون جوړول مروج صنعتي کارونه وو. مسګري، زرګري، مهرونه جوړول، تذهیب کاري اونقاشي ښه وده کړې وه. د سرو او سپینو زروسیکې هم وهل کیدلي. په هیواد کي ډول،ډول

ځاروي روزل کېدل. د بلخ او تخارستان آسونه او اوښان او د سیستان غواوي مشهوري وې. غنم،اوربشي، وريځي، پمبه، انګور او بادام زيات ترلاسه کيدل. له معدنونو څخه سره اوسپين زر، اوسپنه، مس او سروب استخراجيدل.
د هیواد اداره د ملکي،پوځي اوقضايي دفترونو په واك کي وه او د ټولو په راس کي به پاچا او دربار ؤ. دربارونه خورا مجلل او په اسراف کي وو. عايدات يې ټول، له رعيت څخه د ماليواخستل وو.
په ديني لحاظ خو، د اسلام په راتلو سره بيا تر پنځو پېړيو، په تدريج سره پخواني؛ زردشتي، بودايي او برهمني دينونه ختم شول. کله چي د اسلام دين د افغانستان ټولو خلکو ومانه نو،د افغانستان په ملي وحدت کي يې هم اغيزه وکړه. خو داچي په اسلام کي فقهي او کلامي ډېري فرقي او مذهبونه پيداشول، افغانستان ته هم دا انشعابونه راورسيدل . د مسلمانانوتر منځ لومړنی فکري اختلاف، د خلافت او امامت په هکله ؤ چي ؛ سني، شيعه اوخوارج سره بيل شول. د افغانستان سيستان د خوارجو عمده مرکز ؤ. سني اوشيعه تر اوسه هم په افغانستان کي د اکثريت او اقليت مذهبونه دي. د فقهي او کلامي ډېرو مذهبونو لکه؛ حنفي، شافعي، حنبلي، اشعري،کرامي، قدريه، جبريه، معتزلي او د هغه ځانګو؛ قرطبي، اسمعيلي او نورو هر يوه په افغانستان کي پيروان درلودل. د وخت په تېريدلو او تدريج سره، د هغو مذهبونوځای حنفي مذهب ونيو.
په علمي اوفرهنګي لحاظ هم چي، اسلامي فرهنګ له يوناني ژباړوسره، پر مخ روان ؤ ،افغانستان غښتلي علمي مرکزونه درلودل. هغه وخت چي بغداد او دمشق، حلب اوفسطاط، قاهري او قرطبي؛ د پخواني اتن،روم، اسکندريې، ګندشاپور، انطاکيې او نصيبين علمي ځای ونيو.په پخواني افغانستان يعني خراسان کي،د ری

ښار، بلخ او بخارا ښارونه له لویوعلمي مرکزونوڅخه وو. وروسته خو، غزنی او هرات د نړۍ له سترو علمي مرکزونو څخه وګرځېدل.
په اسلامي نوره نړۍ سربیره، په افغانستان کي علمي تحریك ډېر غښتلي ؤ.په هغو دوروکي، ډېر نومیالي د خراسان له خاوري څخه راپورته شوي دي چي، په سر کي یې حضرت امام اعظم،ابوحنیفه نعمان رحمه الله دی. څوك چي په کوفه کي زیږېدلی دی. خو، پلاریې ثابت، د افغانستان دانبارپه ښارکي او نیکه یې زوطي په کابل کي زیږېدلی دی. ابوعبدالرحمن،عبدالله مشهورپه ابن مبارك مروزي چي، په حدیثو کي یې "کتاب الزهد والرقایق "لیکلی دی .
امام احمد بن هلال مروزي، حافظ ابي عبدالله محمد بن نصر مروزي چي، د حدیثو مسندیې لیکلی دی او تر صحابو را په دې خوا، د حدیثو په علم کي، د محدثینو په وینا، اجمع او اضبط شخص دی. نوموړي ټول د افغانستان اوسیدونکې وو. د حدیثونو د شپږو صحاصو(صحاح سته) د محدثینوله جملې څخه دري تنه : ابوالحسن مسلم، ابوعبدالرحمن احمد نسائي او ابوداود سیستاني د افغانستان اهل وو.
په فلسفه، حکمت، منطق، هیئت او ریاضي کي هم په افغانستان کي ډېر نومیالي تیر شوي دي لکه : موسی جابر بن حیان خراساني، ابومعشر بلخي، ابن قتیبه مروزي، احمد بن الطیب سرخسي، ابوزیداحمد بن سهل بلخي، ابوالحسن بلخي، ابوسلیمان سجستاني، ابوریحان البیروني، ابن سینا اوناصر خسرو بلخي.
دا ټول د وخت ستر، ستر پوهان وو. هر یوه لیکني کړې او ډېر تالیفات یې پاته دي. د محمد بن موسی د"جبر او مقابلې" کتاب خو، د الجبر د علم چي د ریاضي یوه څانګه ده او حروف پکښي استعمالیږي اساس ګڼل کیږي. د ابوریحان البیروني د تالیفاتو شمیره تر سلو کتابونو اوړي. د ابن سینا "کتاب الشفا" او"قانون"

خورا مشهور دي. ابن سینا په دري ژبه شعر هم ویلی دی، نمونه یې داده :

کفر چو مني گزاف واسان نبود
محکمتر از ایمان من ایمان نبود
در دهر چومن یکي و انهم کافر
پس درهمه دهر یك مسلمان نبود

ناصروخسرو هم په لسگونو تالیفات لري خو مشهور یې سفرنامه، زادالمسافرین او د شعر دیوان دی . د شعر نمونه یې داده :

اگر شـاعري راتوپیشه گرفتي یکي نیزبگرفت خنیاگري را
صفت چند گویي زشما دولاله رخ چــومه وزلفك عنبري را
به علم وبه گوهرکني مدحت انرا که مایه است مرجهل وبدگوهري را

تصوف که څه هم ډېر بحث غواړي، اساس اوریښه یې، له هندي او مسیحي رهبانیت سره یې بیلوالي، تاریخ، حالات، مقامات، فرقې او د اشخاصو څېړل او بیان یې، څه وخت او لیکنه غواړي خو، دومره به ولیکم چي :

په دوهمه هجري پېړۍ کي، زاهدان او عابدان د صوفیانو په نوم ونومول شول . په هغوی کي ځیني اتحادي، ځیني اشراقي، ځیني اصولیه او ځیني نورو هم په نورو لارو دتصوف سلوك سرته رسول. وروسته ټول د وحدت الوجود او وحدت الشهود په مفکوره سره نژدې شول. ټولو د شریعت د پیروي، توبي، ورع، زهد، فقر، صبر، توکل او رضا توصیه کوله او ټول د : مراقبي، قرب، محبت، خوف، رجا، شوق، انس او اطمینان په حالاتو قایل وو. ټولو د سیر او سلوکو نتیجه فنا في الله او بقا في الله بلله. له ټولوسره د ملکوت، جبروت، حریت، بصیرت، بي هوښي (سکر) ، جذبه، خلوت، ریاضت، وجد، قبض، بسط او کامل انسان کلمې مانوسي او اشنا وي...

په اسلامي نړۍ کې؛ ستر، ستر صوفیان پیداشول لکه : سفیان ثوري، ذوالنون مصري اوعبدالله حارث المحاسبي، ابوالحسن نوري، سري سقطي، شیخ شهاب الدین عمر سروردي، حسین بن منصور حلاج بیضاوي، چې ۴۶ جلده کتابونه یې تالیف کړي او وروسته دځینوخبرو په کولو، د عباسي خلیفه له لوري سنگسار شو.

شیخ شهاب الدین یحی چې، حکمت الاشراقیه کتاب یې له مولفاتو څخه دی، ابن العربي یعني محمدالدین، ابوبکر محمدابن علي ابن عربي.

حاتم طايي چې مشهور کتابونه یې فصوص الحکم او فتوحات مکیه دي. خو، اته لس جلده نور کتابونه یې هم له اثارو څخه را پاته دي.

شیخ عبدالقادر جیلاني هم ډېرکتابونه لیکلي دي چې، مشهور یې؛ فتوح الغیب دی .ابونجیب سروردي چې له تصوف سره فقیه او مدرس هم ؤ، اداب المریدین یې مشهور کتاب دی .

په همدې دوره کې، په خراسان یعني نني افغانستان کې ډېر صوفیان پیداشول، چې مشهور یې دادي :

ابراهیم ادهم بلخي، بایزید بسطامي، عبدالکریم ابوالقاسم قشیري خراساني چې، قشریه او الترتیب في طریق الله یې مشهور لیکلي کتابونه دي. خواجه عبدالله انصاري هروي چې، مشهور لیکلي کتابونه یې؛ منازل السایرین، صدمیدان، طبقات الصوفیه او الهي نامه دي. نوموړی نور هم ډېر تالفات لري.

امام ابوحامد محمدغزالي چې، ډېر تالیفات لري او ورور یې احمد غزالي، شقیق بلخي، فضل بن عیاض، معروف کرخي، شیخ ابراهیم مروي، عمر ابن مسلم حداد ، حمدون بن احمد نیشاپوري، یحیی سیستاني، شیخ نجم الدین کبرا، ابوالحسن خرقاني،ابي

سعیدابوالخیر، علي هجویري غزنوي، سنایي غزنوي، فریدالدین عطار او مولوي بلخي دي.

دا ټول د چنګېز تر وخت وړاندې تېر شوي او د علم او تصوف ډېوې یې رڼې ساتلي وې . (رحمت الله تعالی علیهیم)

په هغو دورو کې ښوونه او روزنه په مسجدونو، خانقاوو او دربارونوکې کېدله. په مساجدو کې د دري او عربي ژبو قواعد او کتابونه، د حلال او حرام شرحې، وروسته؛ منطق او حکمت او بیا فقه، حدیث، تفسیر او عقاید تدریس کېدل.

د خط ښه والی او دري ژبه څه حساب او هندسه، په دربارونو کې، د لیاقت معیار و. په بازارونو کې، به مسلکي زده کړې په خصوصي ډول کېدلې. خو، د چنګیز په حمله دا هرڅه ختم شول او بیا ډېر وخت د زده کړې لړۍ شکېدلې پاته شوه. تر چنګېز وړاندې د طاهریانو، صفاریانو، غزنویانو او سامانیانو په دورو کې ډېر لیکوالان او شارحان پیدا شول او ډېر تالیفات یې وکړل، ان دا چې په هند کې افغاني پاچاهانو، د دري ادب پوهان وروزل او هلته یې هم ډېرې لیکنې او ژباړې وکړې . خو دا لیکنه ددې ځای نلري چې لیکوالان او اثار یې معرفي شي.

په هغې دوره کې هنر په تېره بیا معماري، هم پرمخ تللی وه. که څه هم د چنګېز، علاوءالدین جهانسوز او تیمور تیریو هغه سره وځپل بیا یې هم نښې پاته دي، لکه د بست، چشت او لښکرګاه کلاګانې؛ د بامیانو د غلغلې د ښار ودانۍ او خرابې، د غزني او دولت آباد منارې، دجام مناره، د هرات جامع مسجد اوځای – ځای حکاکي شوې د مرمر ډبرې، د ودانیوګچکارې، د لرګیو کنده کارې او شبکې، کاشي لوښي او د کردورو د لوښونقاشي او رسامي او نورې هغه لیکنې چې په کوفي خط شوي دي، ټولې د هغو دورو د ښې معمارۍ او هنر بیلګې دي.

# افغانستان دچنگیزي فاجعي په وخت کښې

(۶۱۲- ۶۴۲ هـ ش)

دچنگیزي وحشت اوبریدونو په وخت کي،اسلامي نړۍ داسي ویشلې شوې وه چي: د افغانستان، ایران او ماوراءلنهر سیمي د خوارزمشاهیانو تر واکمني لاندي وي. په سیند او ملتان کي ناصرالدین غوري، په منځني هندکي سلطان شمس الدین التمش، په کوچنۍ اسیا (اوسنۍ ترکیه) کي پخوانیو سلجوقیانو، په مصر، فلسطین اوسوریه کي ایوبي شاهزاده ګانو واکمني درلوده.

په اسلامي نړۍ کي له کورنیواختلافونوسره،سره دصلیبي اروپایانو له لوري وربانديي بریدونه هم کیدل.

دهغه وخت اروپا لوړي ځپلې وه. مشرانو یي اسلامي خاوري ته دحرص اولوږي وازي سترګي نیولې وي. عیسوي کلیسا، د بیت المقدس د نجات په بهانه، په فرانسه کي دعیسوي روحاني مشر (پاپ) په فتوی په ۴۹۴ هـ کال په اسلامي خاوره بریدوکړ. بریدکوونکی پوځ له تش ګیډو بزګرانوڅخه جوړ شوی ؤ. انطاکیه یي ونیوله. دوی هم تلفات ولیدل. خو، د انطاکیې د ښار د مسلمانانو په عامه وژنه سره یي د ډیرو خلکو سرونه غوځ کړل. په ۴۹۶ کال یي یوریشلم (بیت المقدس) ونیو.عامه وژنه یي پکښې وکړه. په ۵۴۱ هـ کال ترکانوله صلیبیانو څخه څه سیمي ونیولې. صلیبیانودوهمه جګړه پیل کړه خوورته بي ګټي تمامه شوه.

صلاح الدین ایوبي د مصر، سوریي اوعراق خلک سره یوځای کړل. په ۵۸۴هـ کال یي صلیبیانوته سخته ماتې ورکړه.

صلیبیانو د دریم جنګ لپاره تیاري ونیوله. د فرانسې پاچا دوهم فـلیپ؛ د المان پاچا، لومړي فریدریک او د انګلستان پاچا لومړي ریچارد په ګډه له خپلولښکروسره په اسلامي نړۍ برید وکړ.

دالمان پاچا، په اوبوکي ډوب شو. د فرانسیې اوانګلستان پاچاهانو، تردوه کاله کلا بندي وروسته، دعکا ښار ونیو. خو بیت المقدس یي ونه نیولای شوای. صلیبیانو په څلورمه جګړه کي، په قسطنطنیه بریدوکړ، هغه ښارېي ونیو، وران یي کړ او د مسلمانانو عامه وژنه یي وکړه. عیسایي مشرانودا تبلیغ پیل کړ چي، د بیت المقدس نیول دګناه کارانوکارنه دي. ماشومان یي په بیړیوکي واستول. هغوی یا د سمندر څپو ډوب کړل اویا ونیول شول او په مصرکي دغلامانوپه څیر خرڅ شول.

په صلیبي جګړوکي بله مشهوره جګړه، اتمه صلیبي جګړه وه چي، په ۶۶۷ هـ کال پیل شوه. همدې صلیبي جګړو او کورنیو اختلافونو اسلامي نړۍ دومره کمزوري کړې وه چي، د چنګېز مخه یې نیولای نه شوای.

د افغانستان د شمال سیمي د خوارزمشاهانوپه اختیارکي وي او نوري برخي محلي واکمنانواداره کولې. مرکزیت موجودنه ؤ. په همدي وخت کي مغلي لښکرو د چنګېز په مشري، په اسلامي نړۍ بریدوکړ اوافغانستان یې هم له زیان څخه خوندي پاته نه شو.

مغلوپه مغلستان کي د کېړدیو ژوند درلود. مشهوري کورنۍ یې تاتاریان، قنقرات، اویرات ،ارلاد، جلایر،کرائیت اونایمن دي.

دچنګېز تر وختـه، دا کسان پووندە وو. مرکزي اداره یې نه درلوده. د قبایلو مشرانو وریاندي حکومت کاوو. دبورجیقین دطایفې مشر،یسوګاړ او په ۵۷۲ هـ کال مړ شو. ۱۳ کلن زوی یې چي تموچن نومیده، واکمن شو. تموچن په۵۹۹ هـ کال دیوې بلي مغلي کورنۍ مشر، اونګ خان اوټوله کورنۍ یي ووژل او په ۶۰۳ هـ کال

د چنګېزخان (لوی پاچا) په لقب واکمن شو. تر ۶۱۴ هـ کال پورې یې د نورو کورنیو مشران په خورا وحشت سره له منځه یووړل. شمالي چین، یارکند، کاشغر او ختن یې تر پامیر پورې ونیول.

چنګېز، نه غوښتل چې له خوارزمشاهانو سره جګړه وکړي. غوښتل یې څو ورسره تجارتي اړیکي ولري. له سلطان محمد خوارزمشاه سره، داړیکو دټینګولو لپاره یې هیئت او ورسره داوښ دغاړې په کچ سره زر را واستول. په پیغام کې یې خان د ختیز او سلطان محمد یې د لویدیز پاچا بللی و. خو، د سلطان محمد په امریې څلورسوه کسیزکاروان لوټ اوکسان یې ووژل شول. کوم قاصد چې چنګېز د کاروان د زیان د غوښتلولپاره راواستاوو، هغه یې هم اعدام کړ.

چنګېز، د خوارزمشاهانوپه امپراطورې برید وکړ. په لومړنۍ جګړه کې سلطان محمد ماتې وخوړه، وتښتید او زامنو ته یې هم د جګړې اجازه ورنکړه. د نوموړي تر تېښته وروسته، دا پراخه امپراطوري بې واکمنه پاته شوه. چنګېز هم چې کوم ښار ته ورسید، لوټ او عامه وژنه یې وکړه. په هر ښارکې د وژل شویوکسانو شمېره زرګونو ته ورسیدله. په افغانستان (پخواني خراسان) کې چنګېز لومړی دنخشب اوترمذ ښارونه تر یوې مقابلې وروسته ونیول اوتر وروستني انسان پورې یې ټول ښاریان ووژل.

دخوارزمشاهانودپایتخت، اورګنج یا ګرګانج په دفاع کې مشهور صوفي، نجم الدین کبری نورو مشایخوته دهجرت امر وکړ. خو، خپلومریدانوته یې داسې قومانده ورکړه:

" قوموا علی اسم الله فقاتلوا في سبیل الله- دخدای (ج) په نوم پاڅون وکړئ او د خدای (ج) په لار کې وجنګېږئ".

په خپله هم تر هغه مهاله وجنګید تر څو شهید شو. چنګېز دا ښار هم لوټ او خلک یې قتل عام کړل. د سلطان محمد کورنۍ یې

تعقيب کړه او په لاريجان کي يي دهغه خپلوان ونيول. نارينه يي ترتيغ تېر کړل، ښځينه يې مغلستان ته واستولې او هلته يې په خپلو پوځيانو وويشلې. د ايران ښارونه، ماسکو او د المان او لهستان ښارونه يي لوټ او دا سيمه يې ونيوله .

دچنګېزي فاجعې اومصيبتونو په لړ کي، د هغه لمسي، هلاکو په ۶۵۶ هـ کال بغداد ونيواو دا ،د اسلامي خلافت مرکز يې ختم کړ.

په بغداد کي عباسي خليفه ديارلس ورځي مقابله وکړه، تسليم شو. مغلي عسکر ښار ته ننوتل، هرڅه يي يوړل، اته سوه زره انسانان يي ترتېغ تېرکړل. تسليم شوی خليفه او ټول خپلوان يې ووژل. کتابونه يي وسوځول او ښار يې وران کړ.

د روم يا ننني ترکيې، سلجوقي حکومت په نفاق اخته ؤ، ځکه نو، مغلي پوځيانوترکيه هم ونيوله.

د مصر د هغه وخت پاچا ،سيف الدين ملقب په الملک المظفر، د مغلو سل زره کسيز پوځ ته په فلسطين کي، په۶۵۷ هـ کال ماتې ورکړه. شام ته يي نجات ورکړ او مصر ته د مغلو د رسيدلو لاره يې هم بنده کړه.

په هند کي هغه وخت غوري پاچاهان واکمن وو. په سيند او پنجاب کي يي څو ځلي مغلي پوځ ته ماتې ورکړه.

په همدې وخت کي په افغانستان کي، مرکزي اداره موجوده نه وه. د احنافو او شوافعوترمنځ اختلاف،خلک په دوو برخو وېشلي وو. داسي خو لا پيښه شوې ده چي، يوې ډلي به د بلي په خلاف او دښمني کي، مغل خپل ښار ته وغوښتل خو، مغلو به په يوه لوري هم رحم نه کاوو. خلک په دې هم دوه ډلي شول چي، چا په تسليمي کي ګټه بلله او چا په دفاع کي. سره له دې هم، دافغانستان خلکو په ډېرو ځايونوکي مقابله وکړه.

په ۶۱۸ هـ کال، چنګېز افغانستان ته متوجه شو او له دريو لورو يې په زرګونو پوځيان را واستول. د پروان په لوري دجلال الدين له خواورسره سخته جګړه وشوه.مغل يې مات کړل اود زروتنو جسدونه ورڅخه پاته شول. په نورو لوروکي مغلو مقاومتونه وځپل. ښارونه يې لوټ او انسانان يې په عامه وژنه ووژل. د باميانو په ښار کي د چنګېز يو لمسى، موتوجن ووژل شو. چنګېزيانو له عام قتل سره، سره د ښځو نسونه څېري کړل. په هر ښار کي مقاومت کيده خو، ژر يا وروسته ماتېده او مغلو په هيڅ ډول ظلم صرفه نه کوله.

جويني، دمروي د ښار د وژل شويو کسانو شمېره، يو ميليون او دري سوه زره تنه ګڼي .

چنګېز، په جلال الدين خوارزمشاه پسي ترسيند پوري لاړ. دبيرته راتګ په وخت کي يې هغه ښارونه وران اوعامه وژنه يې پکښې وکړه کوم چي، يا پاته وو او يا بيا خلک ورغلي وو. چنګېز دا د بشريت د تاريخ بې مثله ظالم او وحشي، په ۶۲۰ هـ کال بيرته مغلستان ته ستون شو. په ۶۲۳ هـ کال کي، په داسي حال کي مړ شو چي دنيمي ځمکي انساني تمدن يې وران کړی او په مليونونو انسانان يې وژلي وو.

په چنګېزي فتنه کي، دسيف رود د کلا کيسه ديادولو وړ ده او هغه داسي چي: د غور د سيف رودکلا،دومره اوبه درلودې چي، تر ځلويښتو ورځو کفايت وکړي. د اطراف اذوقه او حيوانات يې مغلو لوټ کړي وو. د سيف رود امير، ملک قطب الدين، امر وکړ چي، د ښارګوتي دننه ټول ځاروي د وښو د کمښت له امله ووژني او خلکو ته يې غوښي وچي کړي. غله او اوبه په داسي توګه ووېشي چي، هره ورځ هر چاته، نيم من غله او يومن اوبه ورکړي. يوه ورځ د اوبو ساتونکو وويل: يوازي د يوې ورځي اوبه شته.

خلکو مشوره او پریکړه وکړه چي، سبا به هر څوک خپلي ښځي او ماشومان وژني او بیا به له خپلو تورو سره په کلا کي پټیږي او دښمن ته به د کلا دروازې خلاصوي. خو له نیکه مرغه د شپې باران وشو. د اوبو ذخیري جوړي شوې او وحشي دښمن پوه شوچي، مسلمانانواوبه پیداکړې او ژمي را روان دی. په مایوسی سره یي په شاتګ وکړ. د ژمي په تېریدلو دښمن بیا دسیف رود ښارګوټی محاصره اوجګړه یې پیل کړه. خو، دا ځل خلکواذوقه پوره درلوده. دښمن دجوړي او تګ - راتګ غوښتنه وکړه. تجارتي راکړه ورکړه پیل شوه. یوه ورځ مغلو ۲۸۰ تنه بندیان کړل. د سیف رود خلکو د ښار دروازه خلاصه کړه او پخپله وسلوال پټ شول. د دښمن په راتلو یي ورباندي برید وکړ. زیات تلفات یي ورکړل اودښمن هم له سیف رود څخه په ماتي لاړ.

## په مغلي دوره کښي ،دافغانستان محلي دولتونه

دچنګیزترمړیني وروسته، دمغلوترواک لاندي امپراطوري، د هغه دخپلوانوترمنځ ووېشله شوه. خو، هره سیمه دمرکزتابع وه.

د افغانستان او ایران سیمي په دې ویش کي نه راتلې. بلکي، د مرکز له لوري ورته والي ټاکل کیده. دا والیان به هم مغلي شهزادګان وو. دا چي افغانستان د هند په لاره کي پروت ؤ، د هند په خاوره، د مغلو د بریدونوله امله، دافغانستان خلک کړول کیدل. زیات شمېر خلک ووژل شول. خو یو شمیر روم (نںني ترکیې) او هند ته مهاجر شول.

مغلي تاړاک زموږ په ژبه هم ؤ. تراوسه لا دمغلي ژبي ډېر لغاتونه په پښتو ژبه کي پاته دي. لکه : یورت یا اردو،ایلچي(قاصد) اولوس(ولس)، تومان،قول (دلښکرزړه)، چنداول (د لښکرساقه)

قراول (کشف)، هراول(مقدمه)، ایل،یاغي، اشر یاحشر، قشلاق داوړي او ایلاق دژمي د هستوګني ځایونه، تمغه (مهر) او...

په مغلي دوره کي چي، نژدې یوه نیمه پیړی، هر څه پکښي د وحشت په رنګ ورنګیدل، ځیني محلي حکومتونه هم وو. دهرات د کورت کورنۍ پکښي وتلې وه. د تیري حصار د افغانانو بل ازاد مرکز ؤ(داځاي کندها رته په څلوېښت کیلو متری کي پروت دی). یو مرکز د ترنک د رود په غاړه، د تولر د زوی، باباهوتک ؤ. نوموړی تر ۷۴۰ هـ کال پوري ژوندی ؤ. دې کورنۍ دچنګېزیانو مخه نیولې وه. ددې کورنۍ وروستنیوکسانو دکندهار د هوتکیانو حکومت جوړ کړ.

په دې ټولو مرکزونو کي، د کرت د خاندان د نفوذ ساحه پراخه وه. له چنګېزیانوسره یي هم په ښواړیکو درلودلو خپله سیمه ارامه ساتلې وه. ددې واکمنانو په اړوند سیمه کي، ډېرپوهان تېر شوي دي او لیکني یي کړېدي. د تفتازاني مطول،دربیعي پوشنجي کرت نامه، دهرات تاریخ، د امیرحسین غوري نزهت الارواح او زادالمسفرین دکورت دکورنۍ په دربارکي لیکل شوي دي. ملک فخرالدین کورت په خپله هم شاعر ؤ اوڅلوېښت تنه شاعران یې په دربارکي اوسېدل .

## افغانستان دهرات دتیموریانو په وخت کښي

ګوډتیمور یا ګورګاني تیمور د ترکانو د برلاس د قبیلې د ترغای زوی ؤ. تیمور، ځان چنګېز ته منسوب باله او د هغه ستاینه یې کوله. تیمور، ځان مسلمان باله، لمونځ یي کاوو. خو، شراب یې څښل او انسانان یي وژل .

تیموریه داسي وخت کي په بلخ کي، دپاچاهي اعلان وکړ چي، په افغانستان کي مرکزي حکومت نه ؤ. پایتخت یې سمرقند اولقب یي

صاحب قران ؤ. له ۷۷۱ کاله څخه تر۸۰۲ هـ کال پوري یې دخوارزم، کاشغر، دمشق او بغداد ټولي سیمي په خورا وحشت ونیولې. یوازي په بغدادکي یې ۹۰۰۰۰ کسه انسانان ووژل او ۱۲۰ د سرونوځلي(کله منار) یې جوړ کړل. له اسلامي نړۍ سره یې سترخیانت د ا وکړ چې، دعثماني خلافت مشهو ر خلیفه، بایزید یلدرم یې چې، له صلیبیانو سره په جګړه کي اخته ؤ، بندي کړ. تیمور ډهلي ته په رسیدلو سل زره اسیران ووژل .

تیمورپه ۷۸۲ هـ کال تر امو سیند را واوښت. ښارونه یې وران کړل، په زرنج کي یې د رستم بند ونړاوو او په زرګونو انسانان یې ووژل. په۸۰۷ هـ کال مړ او په سمرقندکي تر خښ کړای شو.

د تیمور تر مړیني وروسته یې زوی، شاه رخ په هرات کي چې پخوایې هم پکښي حکومت کاوو، ځان پاچا اعلان کړ. مخالف کسان یې په زور یا خوښه ایل کړل. د امو له رود د عربوتر سمندرګي او له سند رود څخه د ایران ترلویدیزو څنډو یې دواکمني لمنه پراخه کړه. په ۸۵۰ هـ کال په هرات کي د ۷۱ کلونو په عمر مړ او په سمرقندکي خښ کړای شو.

شاه رخ، نرم طبیعته پاچا ؤ. مسجدونه او مدرسي یې جوړي کړي. ماندینه یې هم په علمي کارونو کي ورسره مرستیاله وه.

د شاه رخ ترمړیني وروسته یې په ځای ناستوکي اختلاف پیدا شو او جګړې یې سره وکړې. خو تر ۹۱۴ هـ کال پوري په هرات کي ددې کورنۍ واکمني پاته شوه.

په دې کورنۍ کي سلطان حسین بایقرا هم یوعلم پالونکي شخص ؤ. نامتوعالم،ادیب او سیاس امیرعلي شیرنوایي ورسره وزیر ؤ.

د تیموریانو د اقتدار پیل په افغانستان کي په وژلو او ورانولو ؤ. خووروسته چې دتیموراولاده په هرات کي دقدرت په ګدۍ ناست وو، خصوصاً دشاه رخ میرزا اوسلطان حسین بایقرا په وخت کي، د

هیواد ابادي او علمي کارونه پیل شول. مسجدونه، خانقاوي، مدرسي او ښارونه ودان شول. په زراعت اوصنعت کي زیار وایستل شو. په علمي اوفرهنګي لحاظ هم دتوجه وړکارونه وشول. په شعر او ادب کي معین الدین حسین کاشفي، مولاناعبدلرحمن جامي او امیرعلي شیرنوایي دهغه وخت نامتوکسان دي.

مولاناجامي، دعلي شیرنوایي استاذ او پیر ؤ. جامي په دري ادب او تصوف کي ښي لیکني لري. هفت اورنګ، سبحت الابرار، یوسف- زلیخا، لیلامجنون، خردنامه، نفحات الانس، شرح ملا جامي،بهارستان او نورکتابونه یې د علم اوادب یادګارونه پاته دي.

امیرعلي شیرنوایي هم ۲۹جلدونه کتابونه په تُرکي او دري ژبو ولیکل. نوایي دسلطان حسین بایقرا وزیر ؤ. ډېري ځمکي یې درلودي چي، ۷۵زره دیناره یې دورځي عایدات وو. کور یې د علماوو او پوهانومرجع وه. ۱۵۰۰دیناره یې په ورځ کي د همدې میلمنو لګښت ؤ. نوري پیسي به یې په مسجدونو، مدرسو، پلونو، نهرونو او نورو خیریه بناوومصرفولې. ۳۷۰خیریه مرکزونه یې جوړکړي وو.

مولاناطیفي، مولانابینایي، خواجه اصفي او امیرسهیلي هم د هرات د هغه وخت له شاعرانوڅخه وو.

میراخوندد روضة الصفا په نوم او اخوندمیر د حبیب السیر په نوم تاریخونه ولیکل. خوش نویسي، تذهیب او دکتابونوتجلید، ښه پرمختګ کړي ؤ. ستري ، ستري کتابخاني جوړي شوي وي .

په هغه وخت کي نقاشي او رسامي هم ښه وده وکړه اونوي مکتب یي جوړ شوچي، بهزادهروي، سلطان محمد او سلطان احمد د هغه وخت تکړه نقاشان وو. د مزارشریف، علي(ک) ته منسوب روضه، دهغه وخت دمعماري نمونه ده چي، دسلطان حسین بایقرا په امر ودانه شوې ده.

د تیموریانو په وخت کي تصوف ته هم ډېره پاملرنه وشوه. مشهور صوفي خواجه بهاوالدین بن محمدبخارایي هم د تیموریانو په دوره کي ژوندکاوو.

دبهاوالدین (شاه نقشبند) دوره په تصوف کي، د وحدت الوجود او وحدت الشهود تر منځ یوه کړۍ وه. د همدې نقشبندیه طریقې مشهور پیروان په تیموري دربار کي مولاناعبدلرحمن جامي او امیرعلي شیرنوایي وو. یوه د فرهنګ او اخلاقوخپرول، د فقر او تقوی په لباس کي خپله دنده بللې وه. بل په وزارت اوسیاست کي، داسلامي علومو خپرولو ته ځان وقف کړی ؤ.

داطریقه په افغانستان کي جاري وه څو، شیخ احمدمجــدد الف ثاني په سرهندکي راپاڅید او د وحدت الشهود فکري طرز یې غښتلي کړ. که شاه نقشبند ویلي ؤچي،په سلوکوکي،خلوت په انجمن اوسفرپه وطن کي لاره ده، یعني ددنیا ترترک له خلکوسره ګډون او ترځاني ګټو له خلکوسره مرسته غوره ده، نو شیخ احمد مجددالف ثاني هم دتصوف سلوک، شرعي قالب ته راوستل. مجددالف ثاني د ښه علمي تحلیل او غوره قلم څښتن هم ؤ. دمکتوبات دري جلده کتاب یې خورا مشهور دی.

## د افغانستان تجزیه

په افغانستان کي د سلطان حسین بایقرا تر مړیني وروسته مرکزي حکومت کمزوری شو. څو، له افغانستان څخه بهر، دري ځواکمن حکومتونه جوړ شول.

یو په ماوراءلنهر کي د شیبانیانو دولت ؤ چي، په ۹۰۶ هـ کال جوړ شو. بل په ایران کي په ۹۰۸ هـ کال دصفویانوددولت جوړیدل ؤ. دریم هم د هند بابري دولت ؤ چي، په ۹۱۳ هـ کال تاسیس شو. همدې دریو حکومتونو زموږ د هیواد په یوه، یوه برخه حکومت

درلود. د هیواد شمالي سیمي د شیبانیانوپه قبضه کي وې. ختیزولایتونه د کابل په شمول دهندبابریانواداره کول. دهیواد لویدیزه سیمه ترکندهاره، دایراني صفویانوپه اختیارکي وه.

دا وېش او تجزیه نژدې **۲۵۰** کاله اوږده شوه. د افغانستان خلکو یوازي دې حکومتونو ته مالیه او د جنگونوخرڅ ورکاوو. نور د هیواد مرکزیت له منځه تللی ؤ. درس اوتعلیم نه ؤ. اداره، کار، صنعت او تجارت په ټپه ولاړ وو. ځکه د قدرت، علم او فرهنګ مرکزونه له هیواد څخه بهر په بخارا، سمرقند، اصفهان او ډهلي کي وو. افغانستان یوازي دیو ولایت حیثیت درلود.

دلته به دهمدې دریو ځواکونو، هغو کړو وړو ته لنډه کتنه وکړو، کوم چي په افغانستان کي یې ترسره کړي دي.

## شیبـــــانیان

ازبک اصلاً مغل دي. خو، کله چي یې دازبک خان په مشري اسلام ومانه، له نورو قبیلو څخه د بیلوالي لپاره یې خان ته ازبک وویل. نور قبایل یې له خان سره ملګري او په نهمه هجري پېړۍ کي، له ارال څخه دجنوب په لور راغلل. دا مهال محمدخان شیباني چي، د چنګېز زوی، جوجي ته یې نسبت کیده، د همدې ازبکانو مشر ؤ. د ماوراءلنهر د تیموري شهزادګانوله اختلاف څخه یې ګټه واخستله، د هغوی مرکز یې ونیو او په۹۰۶هـ کال یې ځان پاچا اعلان کړ. د افغانستان تیموري دولت هم کمزوری شوی ؤ او شیباني وکړای شوای څو، په۹۱۶هـ کال دهیواد د شمال سیمي او هرات ونیسي.

محمدخان شیباني یوادیب اوشاعر شخص ؤ. په دري او ترکي ژبو یې شعر وایه. ډېري جګړې یې وکړې او په ډېره سیمه یې شیباني حکومت جوړ کړ چي، له ۹۰۶ هـ کال څخه تر **۱۰۰۵** هـ کال پوري یې واکمني په کورنۍ کي پاته شوه. ۱۲کسانو یې پادشاهي وکړه.

پایتخت یې کله بخارا او کله هم سمرقند ؤ. د همدې کورنۍ یوې پښې، په خوارزم کې په ۹۱۲ هـ کال مستقل حکومت جوړ کړ چې، روسي زاریانویې په ۱۲۷۸هـ کال حکومت ختم کړ. تر هغوی وروسته یې دوستان،استراخاني جنیدیان په ځای کښېناستل او۱۸۶ کاله یې واکمني درلوده. ددې خلکو له هندي بابریانو او ایراني صفویانوسره دجګړې میدان دافغانستان خاوره وه.

## ایراني صفویان

په ۹۰۸ هـ کال په ایران کې اسمعیل صفوي، یونوی دولت جوړکړ. د تشیع د اثناعشره امامیه مذهب یې رسمي کړ. مخالفین یې وځپل. په ۹۱۶ هـ کال یې افغانستان ته رامخه کړه. مشهد، طوس اوسرخس یې ونیول. مروي ته نژدې شیبانیانوماتي ورکړه. په افغانستان کې تل ورسره جګړې کیدلې.

صفویانو مشهد ته سپیڅلې بڼه ورکړه او له ترکي عثماني خلافت سره هم په جګړه اخته وو. په ۱۰۲۶هـ کال یې کندهارونیو. لس کاله و رباندې مسلط وو. بابریانو او شیبانیانو ورسره جګړې وکړې. خو، تر هغه چې هوتکیان رامیدان ته کیدل، دکندهار واک له صفویانو سره ؤ.

## هندي بابریان

په هند کې د بابریانو د کورنۍحکومت، د بابر په لاس جوړ شو. بابر د عمر شیخ زوی او د تیمورکړوسی ؤ. بابر په ۸۸۷هـ کال، د یوولسو کلونو په عمر، په اندي جان کې پاچا شو. سمرقند او د ماوراءلنهر سیمي یې ونیولې. یو کال وروسته محمدشیباني ورڅخه سمرقند بیرته ونیو. بابر افغانستان ته راغی، د تخارستان له محلي امیر، خسروشاه سره یوځای شو. خسروشاه یې تیښتې ته اړیوست او په خپله له هندوکش څخه راتېر او کابل یې ونیو. په ۹۱۱ هـ کال

بابر، کندهار هم ونیواو خپل ورور، جهانگیر ته یي وسپاره. بابر په ۹۱۷ هـ کال بخارا او سمرقند ونیول خو، ژر یي د شیبانیانو له خوا ماتې وخوړه. وروسته د هند په لور وخوځید. په هند کي لودي پښتانه کمزوري شوي وو. بابر وکړای شوای په دریو کلونوکي هند ترې ونیسي. دا وخت په کندهارکي د بابر ورور، کامران حکمران ؤ او کابل لا د بابر پایتخت ؤ.

بابر، په۹۳۱ هـ کال د دهلي په نیولو خان د هند پاچا وباله او د ظهیرالدین محمدبابر په نوم خطبه وربانديي وویله شوه. بابر په ۹۳۵ هـ کال په ډهلي کي مړ او له وصیت سره یې سم په کابل کي خاورو ته وسپارل شو.

بابر زړور شخص، په دري او ترکي ژبو لیکوال او شاعر ؤ. تر هغه وروسته یې زوی، همایون پاچا، بیا د همایون زوی سلیم (جهانگیر) تر هغه وروسته په ۱۰۳۳ هـ کال، خرم (شاه جهان) پاچا شو.په ۱۰۷۱هـ کال دخرم زوی،اورنگ زیب (عالم گیر) پاچا شو.

دبابریانو په وخت کي، دافغانستان ختیزي سیمي دهغوی په واک کي وي. د کندهار د صفوي او د کابل د بابري حکومتونو ترمنځ، د غزني دمقرسیمه پوله وه. د همدي تجزیې په موده کي، په افغانستان کي د ازادي لپاره ډېري هلي ځلي وشوې. دا هلي ځلي کله، دملي پاځون بڼه درلوده اوکله هم د محلي حکومتونو په چوکاټ کي منظمي شوې دي. په دې مبارزوکي دروښانیانو، د هرات د ابدالیانو، د کلات دتوخو، د کندهار د هوتکو او بیا د سدوزو حکومت د یادولو وړ دی.

# روښاني تحریک

دروښانیانو تحریک دبایزیدانصاري چي، په پیر روښان مشهور ؤ، له خوا پیل شو. بایزیدروښان، د شیخ عبدالقادرانصاري زوی او د شیخ سراج الدین له اولادې څخه دی. بایزیدروښان د وزیرستان د کاني کورم له اوسیدونکوڅخه، یو پرهېزګاراو متصوف شخص ؤ. د پښتو، دري او عربي ژبولیکوال ؤ. حالنامه، خیرالبیان، صراط التوحید او مقصودالمؤمنین یې له تالیفاتو څخه دي. نوموړي په پښتو ژبه کي د مسجع نثر اساس کښېښود.

بایزیدروښان په یوه سفرکي، په کندهارکي ولیدل چي، دهند د بابري حکومت حاکم، بیرم خان، دیوې ښځي د سر وېښتان د ژرندي په ډبره پسي تړلي، د ډبري په ګرځېدلو ښځه ورسره څرخي او ناري وهي. په بایزیدروښان یي بده اغیزه وکړه او تل به یې دا پېښه یادوله. د هندي مغلو په مقابل کي یي مبارزه پیل کړه. بایزید په مخزن الاسلام نومي کتاب کي ولیکل" لښکر ټولوم تر څو هند ونیسم. هرڅوک چي آس لري رادي شي.داکبرپاچا شتمني زموږ ده".

بیا یي د هندي مغلو په مقابل کي جهاد اعلان او تر پېښوره وړاندي لاړ خو، د کابل بابري حاکم هغه بندي کړ، وروسته خوشي شو. داخل روښان، تیرا خپل مرکز وګرځاوو. څو زره سپاره او پیاده کسان یې منظم او په جلال آباد یي برید وکړ. خو، نوموړی د شینوارو د تور راغه په جګړه کي په ۹۸۸ هـ کال شهیدشو.

تر بایزید وروسته یي زوی، جلال الدین په ځای کښېناست. له بابریانو سره یي جګړې وکړې، څه سیمي یي ازادي کړي. تر هغه وروسته یي نور ځای ناستي هم ددوی په پله روان شول. ترڅو په۱۰۴۷ هـ کال د بابریانوله لوري دا تحریک چي یوه پیړۍ یې دوام وکړ (۹۴۹– ۱۰۴۷)، ختم شو.

دروښانیانو تحریک ۳۰ کاله غلی پاته شو. څوپه ۱۰۷۶ هـ کال اخندچالاک خټک او باکوخان یوسفزي بیا د مبارزې جنډه ورپوله او د دهلي مغلي پاچا، اورنگزیب په مقابل کي ودرېدل. خو، ماتي یې وخوړه. بیا ایمل خان افریدي دا مبارزه را ژوندۍ کړه. په ۱۰۷۸ هـ کال یي د کابل په بابري حاکم، محمدامین بری وموند خو، وروسته یي ماتې په برخه شوه.

دهیواد په ختیزو سیموکي دهندي مغلوپه خلاف وروستنی پاڅون، د مشهور شاعر، خوشحال خان خټک په مشری ؤ. له ۱۰۷۸ هـ کال څخه تر ۱۰۸۰ هـ کال پوري یې دهندله واکمنانو سره په تاتره، دوابه، نوشهره اوگنداب کي جگړې وکړې. سختي ماتي یې ورکړې او وروسته دا پاڅون هم غلي شو. خوشحال خان په ۱۱۰۱ هـ کال وفات شو.

زامن یي عبدالقادر او اشرف، لمسیان یي کاظم شیدا اوعلي خان هندته تبعیداو هلته وفات شول.

دخوشحال مبارزه او ژوندپه دې خبره پاي ته ورسیدچي وې ویل:

" ماهلته خښ کړئ چي، د دښمن سیوری مي، د قبر په خاوره ونه لویږي".

دا مهال د هیواد په لویدیزو سیموکښي هم مبارزې رواني وي چي، کله – کله د محلي حکومتونو په جوړولو سره ازادي ته هم ورسیدلي. په هغوي کي د توخو او ابدالیانو محلي حکومتونه، د هوتکیانو او سدوزیو پاچهي دیادولو وړ دي.

توخي په زابل کي دترنک په غاړه اوسیدل. د بابریانو او صفویانود حکومت په وخت کي یې په خپله سیمه کي خپل محلي حکومت درلود. له دې کورنۍ څخه شاه محمدکلاتی، په۹۶۲ هـ کال په کندهار کي حکمران ؤ. د اورنگزیب په وخت کي، ملک ملخي توخي په کلات کي حکمران ؤ. په محلي حکومت کي یي عادل خان، شاه

عالم، خوشحال، اشرف اوالله یار یادېږي. ددي کورنۍ واکمني د عبدالرحمن خان تر وخته پاته وه.

دهرات ابدالیانوهم، محلي حکومت درلود. دابدال کلمه اوږده تاریخي ریښه لري چي، د ۴۰۰م کلونو په خواو شاکي یې پاچهي درلوده. داخلک داپتل، هپتال، ابدال، هیطل، اودل اویفتل په نومونو یاد شوي دي. اروپایانو داخلک دسپینو هونانو یا سپینو خانانو په نوم یادول. په اسلامي دوره کي لومړی نامتو شخص چي، د ابدال یا اودل په نوم یاد شوی دی، هغه د هغو پښتني کورنیو نیکه دی چي دسلیمان په غره کي اوسیدل ...

دابدال په اولاده کي، ملک سلیمان (خیرک)، زامن یې بارک او پوپل، د پوپل زوی ملک حبیب، د حبیب زوی ملک بامي، ملک بهلول، ملک صالح اوملک سدوخان، دسدوزیونیکه، مشهورمشران تېر شوي دي.

سدوخان په ۹۶۵ هـ کال واکمن شواو ارغستان یې خپل مرکز وټاکه. محمد، دمحمدزیونیکه ورسره هم عصره ؤ. د سدوخان لمسی، خداداد سلطان له غلجو سره د جلدک دګرماو( ګرماب) ناوه او د ډبري پل سرحد وټاکه. سیمه یې پراخه کړه. د سدوزیو وروستنی مرکز، د شهرصفا سیمه وه. هلته دولت خان او زوی یې رستم خان حاکمان وو. د رستم خان ورور زمان خان، ګورګین بندي ایران ته بوت. دولت خان اوبل زوی یې نظرمحمدخان ګورګین ووژل.

ابدالیان هرات ته لاړل او په ۱۱۱۹ کال یې هلته دحکمراني اساس کښېښود. دا واکمني تر۱۱۴۴ هـ کال پوري اوږده شوه. په دې کورنۍ کي؛ عبدالله، اسدالله، زمان خان (د احمدشاه بابا پلار)، محمدخان او ذوالفقارخان واکمنان تېر شوي دي. د دوی واکمني د نادرشاه افشار په لاس ختمه شوه.

## دوهمه برخه :

# د افغاني پاچاهانو لنډ ژوندليک

### له میرویس نیکه تر اشرف غني احمدزي

بشیراحمد ریان

# لړليک


د لومړي چاپ سريزه ........................ ۹۷
ميرويس نيکه ........................ ۹۹
ميرعبدالعزيز ........................ ۱۰۵
شاه محمود هوتک ........................ ۱۰۷
شاه اشرف ........................ ۱۱۳
شاه حسين ........................ ۱۱۸
احمدشاه بابا ........................ ۱۲۲
تيمورشاه ........................ ۱۳۰
شاه زمان ........................ ۱۳۵
شاه محمود ........................ ۱۳۹
شاه شجاع ........................ ۱۴۵
سلطان علي شاه ........................ ۱۵۳
ايوب شاه ........................ ۱۵۵
اميردوست محمد خان ........................ ۱۵۶
فتح جنگ ........................ ۱۶۷
شېرعلي خان ........................ ۱۶۹
محمدافضل خان ........................ ۱۷۸
محمداعظم خان ........................ ۱۸۰
اميريعقوب خان ........................ ۱۸۳
عبدالرحمن خان ........................ ۱۸۹
حبيب الله خان ........................ ۱۹۵
امان الله خان ........................ ۱۹۹
عنايت الله خان ........................ ۲۰۴
حبيب الله کلکاني ........................ ۲۰۷
محمد نادرخان ........................ ۲۱۲

محمدظاهر شاه ........................................................ ۲۱۷
سردار محمدداود ........................................................ ۲۲۳
نورمحمد تره کی ........................................................ ۲۲۷
حفیظ الله امین........................................................ ۲۳۲
ببرک کارمل........................................................ ۲۳۵
ډاکټر نجیب الله ........................................................ ۲٤۰
صبغت الله مجددي........................................................ ۲٤۳
برهان الدین رباني........................................................ ۲٤٦
ملا محمدعمرمجاهد........................................................ ۲٤۹
حامد کرزی ........................................................ ۲۵۳
ډاکټر اشرف غني احمدزی........................................................ ۲۵٦

# د لومړي چاپ سریزه

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم !

ژوند د پېښو او لیدنو -کتنو یوه ټولګه ده.دا پېښې ستري او وړې، ګټوري او زیانمنې وې. ژوند له یوې پېښې څخه د بلې لپاره زده کړه کوي. د ژوند دا پېښې کله یوازې تر شخص پورې محدودې وي او کله هم په ټولنه پورې اړه لري. خو څومره چې شخصیت لوړېږي، هومره يې د ژوند د پېښو اهمیت ورسره زیاتېږي. د ژوند همدا پېښې او لیدنې - کتنې تاریخ جوړوي او د راتلونکو نسلونو لپاره سرمشق ګرځي.

تاریخ یا د ملتونو دملاتیر، د ملت د ژوندمسیر ټاکي، څومره چې یو ملت ژوندی تاریخ ولري، په همغه اندازه يې شان لوړ وي. رښتیني تاریخ یو بې پرې قاضي دی چې تېر تلي او د راتلونکو لارښونه پرې کوي. خو په تاریخ کې د شخص تاریخ (ژوند لیک Biography-) زیات اغېزمن دی. ځکه شخص، د بل شخصیت پر پله پل ږدي او د هغه په شان د لوړېدلو هڅه کوي. زموږ تاریخ که څه هم ملت جوړوي، خو د واکمنانو برخه په کې خورا څرګنده ده. واکمنان یا د ملت دبرخلیک جوړونکي.

همدا د واکمنانو د ژوند پېښې او لیدلوري دي چې هغوی تر نسلونو پورې تائید او یاهم ردېږي.د واکمنانو د ژوند مطالعه، موږ ته له دې امله هم اړینه ده چې موږ د هغوی د کړنو په راز او موخه ښه پوهیدلای شو. د هغوی تر سیاسي خبرو لاندې يې پټه څېره ښه لیدلای شو. خو هو! د تاریخ د پېښو ویل با انصافه سترګکیو ته ضرورت لري. داسې نه چې د خبرو ماهر لاس پوځي، اتل او کم خبری خو په خپلواکۍ مین ، غلام وګڼو .

خیر! خبره رانه اوږده شوه، اصل موضوع مو همدا کتاب (دافغاني پاچاهانو لنډ ژوندلیک) وه. دا کتاب هم د واکمنانو له ژوند اوپېښو څخه بحث کوي.

دا کتاب دوه کاله مخکې د لومړي ځل لپاره چاپ شو، چې د ځینو تېروتنو سره،سره بې د مینه والو له لوري ښه هرکلی وشو. نو ځکه له څو ځلي چاپ وروسته مې دا ځل پرېکړه وکړه تر څو يې تېروتنې اصلاح کړم.

د کتاب په لیکنه کې د مطالعې، عمر او وخت د کموالي له امله ځیني تاریخي او ادبي تېروتني تېري شوې وي، چي داخل مي تر خپله اوسه هڅه وکړه تر څو بې تاریخي او ادبي تېروتني اصلاح او بې پرې ولیکم، خو بیا هم انسان کم وسی دی که مو چېرته کومه تاریخي او یا ادبي غلطي ترسترګو شوه، نو هیله کوم خبر راکړئ تر څو بې په راتلونکي چاپ کې د اصلاح هڅه وکړم.

باید یادونه وکړم چي زما په یوه کتاب (دتاریخ له څېرکو څخه اړین معلومات) کې د یوې ناسمي جملې دتېریدلو له امله ځیني پاک زړي کندهاري ورونه خفه شوي و، له هغوی څخه بخښنه غواړم.

په پای کې له محمدالله "وفا" څخه مننه کوم چي د کتاب په بیا کتنه کې بې ځیني تاریخي کتابونه په وېړ تندي راکړل. والسلام علیکم .

بشیراحمد ریان

Basherrayan@yahoo.com

# میرویس نیکه

داسي اټکل کېږي چي میرویس خان په ۱۰۸٤ هـ ق / ۱٦٧۳م کال کي زېږېدلی دی.

پلار یې شالم خان نومیده[1] چي د هوتکو د قوم یو منلی مشر و. مور یې نازو انا د سلطان ملخي د غرځو (غلجو) د خپلواک مشر لور وه. هغې په ښه توګه د خپل زوی پالنه او روزنه کړې وه او تل به یې په اوداسه شیدې ورکولې.[2]

کله چي میرویس نیکه پیدا کیده، نو نازو انا خوب ولید: "بیبۍ نیکه ورته راغی او ورته ویې ویل: زما لورې! دا زوی ښه وروزه ،کله چي دا لوی شي ستر کارونه به وکړي او حج ته به لاړ شي.

زما لورې! دده په روزنه کې غفلت ونکړې، دده له نسله به نیک شاهان پیدا شي چي دین به روښانه کړي، دده په پالنه کي زیارباسه او پاملرنه کوه، دده په اوږو د لویو کارونو انجام پروت دی".[3]

میرویس خان په زلمیتوب کي د وخت زیاتره مروجه علوم لوستي و. پښتو، فارسي او عربي ژبې یې دادیبانو په درجه زده وې.[4]

له زده کړو وروسته په سوداګرې بوخت شو. له خراسانه به یې مالونه هندوستان او د هغه ځایه به یې هیواد ته راوړل، ګټه به یې هم کوله او د نورو خلکو له حاله به هم خبریده. میرویس نیکه ځواني ته له رسیدلو وروسته دجعفرخان سدوزي (کامران خان سدوزي)[5] لور خانزادۍ ځان ته وغوښته او واده یې ورسره وکړ.

کله چي صفوي شاه حسین په ۱۱۰٦ هـ ق / ۱٦۹٤ ز کال په ایران کي پاچا سو، نو ګورګین ګرجی او د ګرجستان اوسیدونکی یې په داسي حال

کې چې نوي مسلمان سوي و، کندهار ته د خپل حکومت د استازي په توګه را ولیږه. ګورګین ډېر ظالم او بې رحمه انسان و، پر افغانانو يې ظلمونه پیل کړل. څوک نه وو چې ددې مظلومو خلکو غږ واوري. د خلکو غږ تر هیڅ ځایه نه رسیده او ډېر افغاني مشران د ګورګین له خوا ووژل سول. د خلکو د امید سترګي یوازي او یوازي میرویس خان ته چې د هوتکو مشر و، وې. همغه وو چې د هغه څخه يې غوښتنه وکړه.

میرویس خان هم د خلکو او هیواد خدمت تر هرڅه ښه وباله، سوداګري يې پرېښوده او د هیواد خدمت ته يې ملا وتړله. لومړی يې د خلکو تر منځ ملي یووالی رامنځته کړ او بیا يې ګورګین ته ځان نژدې کړ، خو ګرګین ورباندې بې اعتباره شو، نوموړی يې په ۱۷۰۷ز کال اصفهان ته ولیږه[6] او شاه حسین ته يې په پټه حال ورکړ، تر څو يې هلته نظربند کړي.

شاه حسین صفوي میرویس خان هلته نظربند کړ، خو میرویس نیکه په خپل خدای ورکړي استعداد، د اصفهان په دربار کې نفوذ وکړ. د میرویس خان پوهې او قوي منطق نه یوازې ډېر ژر دی له بنده خلاص کړ، بلکي په ډېر درناوې يې حج ته د تللو اجازه هم ورکړه. تر حج وروسته بېرته د اصفهان دربار ته راغی او د هغه ځای څخه يې ګورګین ته د مشوره ورکوونکي او کلانتر په توګه د مقرری رسمي فرمان واخیست او کندهار ته راغی.[7]

ګورګین په دې کار وارخطا سو او د میرویس خان څخه يې وغوښتل چې خپله لور د ګورګین زوی ته په نکاح کړي. میرویس خان دا خبره د قوم مشرانو ته وړاندې کړه. مشرانو پرېکړه و کړه چې یوه بله ښځه به د میرویس

---

د افغاني پاچاهانو لنډ ژوندلیک

خان د لور په نامه ورکړي، میرویس خان دا مشوره ومنله خو خبره دې ته ونه رسیده،۸ ځیني مؤرخین وایي چې دا کار وشو.۱

د اولسي پاڅون لپاره یې یوه جرګه جوړه کړه او پرېکړه یې وکړه چې لومړی دي د بلوڅو، ترینو او کاکړو خانان دې ته وهڅول شي، چې صفوي حکومت ته د مالیې ور کولو څخه ډډه و کړي، هغوی همداسي وکړل.

ګورګین خپل شپږزره کسیز لښکر ژوب او بلوچستان ته ولیږه، پخپله هم ورپسې رهي شو او د میرویس خان څخه یې هم وغوښتل چې هلته ورشي. میرویس خان هم د اوو زرو پښتنو عسکرو سره هلته ځان ور ورساوه. د شپې یې پر ګورګین حمله وکړه، هغه او د هغه ټول کنډک یې له منځه یوړ. پخپله یې د ګورګین کالي واغوستل او د هغه د وژل شویو پوځیانو کالي یې په خپلو پوځیانو واغوستل .

د کندهار ښار ساتوونکو چې کله خپل عسکر په راتلو ولیدل، د کندهار ښار دروازې یې ورته خلاصي کړې، میرویس خان په کندهار ښار ننوت او د ایراني پوځ په وژلو یې لاس پوري کړ،[9] ښار یې ونیو او ملي جرګه یې راوبلله، ملي جرګې دی په ۱۱۱۹ هـ ق (۱۷۰۹ز) [10] کې د پاچا په توګه وټاکه.

میرویس نیکه له پاچا کیدلو وروسته د کندهار ښار دېوالونه ترمیم کړل، په ښار کې یې غله او وسله راجمع کړه، دکندهار ښار خلک یې سره راټول کړل او ورته یې وویل :

"که چیري په تاسو کې داسي خلک وي چې دازادي په دې لوی نعمت چې موږ په ډېره اساني سره ترلاسه کړی، خوښ نه وي. هغوی دي ځان څرګند کړي او له همدې جرګې څخه دي ووزي، هیڅوک به په هغوی غرض

---

[1] - ظفر کاکاخیل لیکي :ګورګین میرویس خان ته پیغام ولیږه او د ځان لپاره یې ورڅخه لور وغوښته .میرویس خان خپلې یوې وینزې ته ښکلي جامې وروا غوستې او سینګاریې وروکړ او ګورګین ته یې د خپلې لور په نامه ورکړه. (پښتانه د تاریخ په رڼا کې ۶۴۷–۶۴۸ مخونه)

نه کوي، داسي خلک بې شکه ددې ازادي خاوري د پولې نه بهر د یوه نوي ظالم پادشاه تکل کولای شي".[۱۱]

د ایران صفوي دربار چي کله د میرویس نیکه له پاڅون او د ګرګین له وژلو خبر شو، په ۱۷۱۰ ز کال یې محمدخان د هرات حاکم ته امر وکړ ترڅو په کندهار حمله وکړي، خو هغه ماته وخوړه. بیا یې د ګرګین د وراره خسروخان په مشرۍ دېرش زره کسیز ځواک د کندهار په لوري ولیږه.

خسرو خان له دېرش زره کسیز لښکر سره تر هرات راتیر شو او فراه ته راغی، میرویس خان له کندهار څخه وړاندي ورغی، خپله د ابدالیانو خوا ته ورغی او د داود شاه په مشري یې یو لښکر د خسرو خان مخ ته ولیږه، خسرو خان په داود شاه حمله وکړه، داودشاه د هلمند تر سیند واوښت او ځان یې په کندهار کې محاصره کړ، خسرو خان هم پسي راغی او کندهار یې تر محاصرې لاندي ونیو.

میرویس خان چي کله د هرات له محاصرې خبر شو، د کلات، مستونګ، چمن او بوري خواته ولاړ، د هغه ځای له خلکو او بلوچانو یې مرسته وغوښته، بلوچانو د مرستې وعده ورسره وکړه او د خسرو خان په لښکرو یې سور اور بل کړ.[۱۲]

میرویس خان چي کله خسرو د ماتې په حال کې ولید، له شپاړس زره کسیز لښکر سره د کندهار له ښاره راووت، په خسرو یې حمله وکړه، خسرو پر ۲٦ اکتوبر ۱۷۱۱ ز (د۱۱۲۳هـ ق کال دروژې ۲۸ مه)[۱۳] کال ماتې وخوړه، دی ووژل سو او لښکر یې د هرات په لوري وتښتید.

میرویس خان خسرو ته له ماتې ورکولو وروسته بېرته کندهار ته راوګرځېد، د کندهار چارې یې برابرې کړې، له ابدالیانوسره یې د روغې جوړې تګلاره تعقیب کړه، بلوچان یې وستایل، د هند له ګورګانې دربار سره د نژدې اړیکو لپاره یې د هغه هیواد سره د تجارت راکړه ، ورکړه پیل کړه.

صفوي دربار د خسرو له ماتې دوه کاله وروسته يو بل لښکر د رستم خان په مشرۍ د کندهار په لوري ولیږه، خو میرویس خان نیکه دې لښکر ته په ۱۱۲٦ هـ ق کال کې ماتې ورکړه.[14]

افغان غازي د هیواد له ازادولو او د کندهار د چارو له سمون وروسته په ۲۸ د ذوالحجه حرام ۱۱۲۷ هـ (۱۷۱۵ز) کال له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې، د تلپاتې دنیا په لوري یې روح والوت او کندهار ښار ته نژدې د کوکران په سیمه کې خښ کړای شو. اناالله وانا الیه راجعون.

مشهوره وینا یې ده: تاسو که سره یو نه شئ، د پردیو جغ له خپلو اوږو لري کولای نشئ.[15]

## سرچیني :

[1] - دافغانستان لنډتاريخ،۲٦۰ مخ ۱ ټوک،دعبدالحی حبیبي لیکنه او عبدالرؤف بېنوا ژباړه ،۱۳۵٦ هـ ل کال دکابل چاپ .

[2] - پټه خزانه ، ۱۷۸ صفحه ،محمد هوتک بن داود،دوهم چاپ ۱۳۲۹هـ ش، دپوهني وزارت ،ددارالتاليف رياست.

[3] - همامغه ماخذ.

[4] - دافغان ملي تاريخ ۷۵۲ مخ ،لومړی ټوک ،قدرت الله حداد فرهاد، دسايي دپښتو څېړنو او پراختیا مرکز ، ۱۳۸۲ هـ ل لیندی چاپ.

[5] - دافغانستان لنډتاريخ ص ۲٦۰.

[6] - پښتانه دتاريخ په رڼا کې ٦٤۲ مخ ،سیدبهادر شاه ظفرکاکاخیل، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور پښتونخوا ، ۲۰۰۹ زکال چاپ .

[7] - پورتنی ماخذ ، ٦٤۷ مخ .

[8] - افغان ملي تاريخ ۷۵٦مخ ۱ ټوک ،قدرت الله حداد فرهاد.

[9] - کندهار مجله، ۱۲۷۷هـ ل کال لومړی ګڼه،په اتلسمه پېړۍ کې ستر اروپجن غورځنګ ،لیکوال :م، ۱، ع.

[10] - افغانستان درمسیرتاريخ ۳۲۰ مخ ۱ ټوک،میرغلام محمد غبار، مرکز نشر انقلاب با همکاری جمهوری ، ۱۳٦٦ هـ چاپ.

[11] - پښتانه دتاريخ په رڼا کې ٦۵۰ مخ ، سیدظفرکاکاخېل.

[۱۲] - دافغانستان لنډتاریخ ، ۲٦۸ مخ .

[۱۳] - پورتنی حواله .

[۱٤] - دافغانستان لنډ تاریخ ، ۲٦۹ مخ .

[۱۵] - افغان ملي تاریخ ، دتتمة البیان فی تاریخ الافغان ،سیدجمال الدین افغاني په حواله.

# میرعبدالعزیز

له میرویس نیکه وروسته یې ورور میرعبدالعزیز او د ځینو مورخینو په وینا عبدالله د څه مودې لپاره باچا شو.

میرعبدالعزیز دشالم خان زوی، د میرویس نیکه کشر ورور و.

کله چې میرویس نیکه وفات شو، نو د هغه دوه زامن پاته شول. شاه محمود اتلس کلن او شاه حسین څوارلس کلن و.[۱] دا چې د میرویس خان نیکه زامن کشران وو، نو جرګې پرېکړه وکړه تر څو د هغه ورور میرعبدالعزیز خان د باچا په توګه وټاکي.(۱۱۲۷هـ ق)

میرعبدالعزیز یو ارامي غوښتونکی باچا وو، هغه نه غوښتل له صفوي لښکرو سره وجنګیږي، نو ځکه یې ملي جرګه راوبلله او هغې ته یې په وینا کې وویل:

"زما عزیزانو! تر ډېرو مشکلاتو او جنګونو وروسته چې ډېر زلمي مو پکې له لاسه ورکړل، دې ځای ته راورسیدو، فکر کوم چې تاسو به هم نور جنګ ته نه هوسېږئ، نو فلهذا په کار دی چې د پارس له باچا سره روغه وکړو، اوس چې مشر ورور مې مرحوم سو او افغانانو ته یې لویه سوبه ګټلې ده، نو که موږ د روغې او سولې غوښتنه وکړو، د پارس باچا به یې په ډېره خوښۍ راسره ومني".

د جرګې په خلکو دده دا وړاندیز ښه ونه لګېد، ځکه هغوی د ډېرو زلمیانو په وینو، د ډېرو میندو په کونډیدلو او د ډېرو ماشومانو په یتیم کېدلو دا آزادي ترلاسه کړې وه، خو عبدالعزیز خان دا هرڅه له لاسه ورکول.

جرګې داخبره رد کړه، عبدالعزیز خان په پټه دپارس پاچا ته په دې شرایطو یو سوله لیک واستاوو :

---

[۱] د افغاني پاچاهانو لنډ ژوندلیک

۱- افغانان دي د هغه باج څخه چي د ګرګين په وخت کي اخيستل کېده، معاف وي.

۲- کندهار ته دي پارسي عسکر نه راځي.

۳- د افغانانو بادشاهي دي د همېشه لپاره ، د عبدالعزیز خان په کورنی او د هغه په زامنو او لمسيانو کې پاته وي.[۲]

افغانان چي کله د عبدالعزيز خان په دې کړنه خبر شول، ډېر په قهر شول او د محمود په مشري يې عبدالعزيز خان په ۱۱۲۹ سپوږميز (۱۷۱۶ز) کال وواژه.[۳]

له هغه وروسته شاه محمود پاچا شو.

---

[۱] - پښتانه دتاریخ په رڼاکي ۶۵۳ مخ ، سیدبهادر شاه ظفرکاکاخیل، یونیورسټي بک ایجنسي، پېښور پښتونخوا ، ۲۰۰۹ ز کال چاپ .

[۲] - دافغانستان لنډ تاريخ ۳۷۲ مخ ۱ ټوک،عبدالحي حبيبي،زيارن:عبدالروف بېنوا، ۱۳۵۶ هـ ل کال دکابل چاپ .

[۳] - په پټه خزانه (۱۱۰مخ) کې لیکلي دي چې ،هغه دنارنج له قصر څخه راولوېد.

# شاه محمود هوتک

شاه محمود هوتک د میرویس خان نیکه مشر زوی په ۱۱۱۰ هـ کال کې په کندهار کې وزیږېد، د میرویس خان نیکه دمړيني په وخت کې يې عمر ۱۸ کاله و، له همدې امله ولسي جرگې پرېکړه وکړه چې دده پر ځای دده تره د میرویس خان نیکه ورور (میرعبدالعزیز) او د ځينو په اند عبدالله په پلاز کښينوي.

کله چې افغانانو ولیدل،میر عبدالعزیز ددوی په وینو لوبې کوي،غواړي له صفوي دربار سره اړیکي ونیسي، دشاه محمود خان په مرسته يې عبدالعزیز وواژه او پر ځای يې شاه محمود هوتک کښېناوو.

شاه محمود هوتک په ۱۱۲۹ هـ ل کال په تخت کښېناست.

د شاه محمود د واکمنیدلو پر مهال اسدالله ابدالي دهرات واکمن په فراه حمله وکړه، شاه محمود يې په وړاندې په ۱۷۱۹ ز کال لښکر ویوست، په دلارام کې جگړه وشوه. په جگړه کې ابدالیان مات او اسدالله ابدالی ووژل شو.

په همدې جگړه اېز سفر کې د سیستان خلکو هم ورته د اطاعت ځرگندونه وکړه.[1]

شاه محمود هوتک په تخت له کښېناستو سره سم هڅې پیل کړې، تر څو د خپل پلار ارزو ترسره او د اصفهان تخت د خپلو آسونو تر پښو لاندې کړي، د همدې لپاره يې هڅې کولې، تر ۱۱۳٤ هـ ل کال پورې يې په کندهار کې واکمني کوله، په ۱۷۲۰ ز کال يې په کرمان حمله وکړه، ایراني پوځ د لطف علی خان په مرسته مقابلې ته ودرید. محاصره اوږده شوه او په دې شپو کې له کندهاره د سلطان بیجن لکزي فراهي دبغاوت خبر راغی،

[1] د افغاني پاچاهانو لنډ ژوندلیک

شاه محمود مجبور شو، کندهار ته راوګرځید خو دده تر راتلو مخکې خلکو بغاوت غلی کړی و.[۲]

له هغه وروسته په همدې کال (۱۷۲۱ ز -۱۱۳٤هـ ل) بیا له اته ویشت زره عسکرو سره وخوځید، د کرمان او بم له نیولو وروسته د بندر عباس په لوري لاړ، هغه ځای یې محاصره کړ او امر یې وکړ چې په هغو خلکو دې کار نه درلودل کېږي چې تسلیم شي، له وسلو پرته مال او شتمني مه ترې اخلئ!"[۳]

همدا ښار یې ونیو او د اصفهان په لوري وخوځېد، ۲۲ اکتوبر ۱۷۲۲ ز کال اصفهان ته ورسید او په ګلناباد کې یې له ایراني پوځ سره جګړه وکړه، ایراني پوځ یې تار ، مار او د فرخ آباد په لوري روان شو.

په فرخ آباد کې د ایران صفوي پاشاه (شاه حسین ) د شاه محمود حضور ته راغي. شاه محمود افغان د تسلیم شوي پاشاه مخې ته ودرید، څو ګامه مخته ورغی، په غیږ کې یې ونیو او ورته د اقاخطاب یې وکړ.

ښاغلي غبار دا پېښه داسي بیانوي :

"...بالاخره درسال ۱۷۲۲م بعد از هشت ماه محاصره، شاه حسین صفوي برای تسلیم حاضر شد و شخصاً با بزرگان دربار در قرارگاه شاه محمود رسید. شاه محمود در ورود این پادشاه به استقبال و احترام برخاست و با او دریک مسند نشست، شاه خوردسال افغاني (۲۵ساله) به پادشاه سالخوردي که ۳۰ سال سلطنت کرده بود، در حین مکالمه "پدر" خطاب کرد وبا ادب گفت: شان و شوکت و جاه وجلال دنیا این چنین بیوفا است، خداوند بهرکسي که خواهد دهد و از کسي که خواهد ستاند،من شما راتسلي میدهم که بدون مصلحت شما کاری نخواهم کرد".[٤]

د اکتوبر پر ۲۵مه، اعلیحضرت شاه محمود په داسي حال کي د اصفهان ښار ته ننوت، چې د صفوي پاشاه تاج ئې پر سر ایښی و.

---

د افغاني پاچاهانو لنډ ژوندلیک

شاه محمود له سر څخه تاج ایسته کړ او هیڅ وخت په شاهي تخت کښېنناست، نوموړي غوښتل د یوه فقیر په څېر ژوند وکړي، ساده جامې یې اغوستې او هغه څه یې خوړل چې لښکر به یې خوړل.

لکهارت لیکي:"څو د شاه محمود خپله نکاحي ښځه له کندهاره نه راغله، شاه محمود ۲۲ کلن پادشاه هیڅ یوې ښځې ته ونه کتل".[٥]

شاه محمود له اصفهان څخه لښکري ولېږلي، تهران، شېراز او د ایران ډېري برخې ونیولې شوي.

شهزاده طهماسب د شاه حسین صفوي زوی، په قزوین کې لښکر را ټول کړ او غوښتل یې د شاه محمود پر ضد جنګ وکړي، خو د امان الله خان له لوري ورته ماتې ورکړل شوه او د آذربائجان خواته وتښتید.

شاه محمود د ایران له تخت څخه غورزول شوي پاچا، شاه حسین صفوي ډېر درناوی کاوه، هغه که څه هم یو زنداني وو، خو محمود به تل ورسره د غرمې ډوډی خوړله.

شاه محمود خان په لومړیو کې له خپلو سپاهیانو سره غیرې نیولې. شاه محمود خان دنګ او قوي سړی و، د توري ګذار یې دومره قوي و، چې په آس به ولګېد، دوه نیم به شو.[٦]

خو په وروستیو کې یې غېږې نیول، له عسکرو سره ټوکې ټکالي او خنداوي پرېښودې، یواځې د خدای جل جلاله په عبادت بوخت شو، ټوله شپه به یې د خدای تعالی عبادت کاوو او تر سهاره به یې ژړل.

افغاني مشرانو چې کله نوموړی، په دې مهم وخت کې په داسي حال ولید، فکر یې وکړ تر څو یوه لاره پیدا کړي او محمود بېرته په خپل حال شي، د سلطنت چاري په لاس کې واخلي او د ایران د بشپړه فتحي لپاره کار وکړي. خو چې هره وسیله یې وکاروله، شاه محمود هوتک پخواني حال ته راونه ګرځېد او ورځ تر ورځې په عبادت کې ډوب شو.

افغانانو دا، دده ذهني مختل کېدل وګڼل، په ۱۷۲۵ز/۱۲ برات ۱۱۳۷هـ کال، د اووه وېشتو کالو په عمر دغه افغاني ستوری ولوېد[۷] او پر ځای يې شاه اشرف وټاکل شو.

دده په مړينه په خلکو کې اوازه خپره شوه ، چي سپه سالار اشرف د خپل پلار په غچ کې شاه محمود وواژه.[۸]

د شاه محمود په مړينه د هغه خور بي بي زينبي د ميروئس نيکه لور، په دې توګه يوه مرثيه ويلې ده :

ږغ سو چي ورور تير له دنيا سو نا
کندهار واړه په ژړا سو نا
زړه مي په وير کې مبتلا سو نا
چي شاه محمود له ما جلاسو نا
دا روڼ جهان راته تورتم دی نا
زړه د بيلتون په تيغ کړم دی نا
هوتک غمجن دي په دې ماتم دی نا
د پاچهی تاج مو برهم دی نا
چي شاه محمود تېر له دنيا سونا
کندهار واړه په ژړا سونا
ځوان و، ميړه د توري جنګ و نا
ولاړ د قام په نام او ننګ و نا
دښمن له ده په وينو رنګ و نا
پر ميدان شير و پلنګ و نا
افسوس چي مرګ دې په خوا سو نا
کندهار واړه په ژړا سو نا
اصفهان پاته تاج نسکور عالمه

چي شاه محمود سو نن په گور عالمه
د پښتون لمر سو تياره تور عالمه
راتــه دښمن به کـړي پـيغور عالمه
پاته سو تخت و تاج د ټول اصفهان
زړه يي راسوړ سو کا خوښي دښمنان
اسمانه بيا دي څه ستم کا څرگند
وشلاوه تا چې د پښتون وو پيوند
دښمن دې بيا زمـوږ په وير کا خورسند
چي شاه محمود دې کا په قبر کې بند
په کور مو وير شور و غوغا سو نا
کندهار واړه په ژړا سو نا
له اصفهانه تر فراه څه سو نا
پاچا چه و حشمت پناه څه سو نا
د پښتون پرتم فنا سو نا
کندهـار واړه په ژړا سـونا
محموده خوان وې ولي ولاړې له ما
له تخت و تاج هر څه سوې جلا؟
وروره مقر دې ستا مولا کا جنت
در دي کا تاته پس له مرگه راحت
روح دې شه ښاد په لــويه ورځ د قيامت
مخ دي و روڼ د خداي په مهر و محبت۹

---

## سرچينې:

[۱] - افغانستان درمسير تاريخ ، ۳۲٤ مخ ۱ ټوک ،ميرغلام محمدغبار، مرکز نشر انقلاب با همکاری جمهوری ، ۱۳٦٦ هـ چاپ.

[۲] - پورتنی حواله .

[۳] - دافغان ملي تاريخ ٦۲ مخ ۱ ټوک ،قدرت الله حداد فرهاد، دسايي دپښتو څېړنو او پراختيا مرکز ، ۱۳۸۳ هـ ل لينډۍ چاپ.

[٤] - افغانستان درمسير تاريخ،۳۲۵ مخ ۱ ټوک ،

[۵] - افغان ملي تاريخ، ٦٤ مخ ۱ ټوک ،قدرت الله حداد "فرهاد"

[٦] - افغان شاه محمود – داصفهان بربمن ،محمد اعظم سيستاني، ژباړه :رحمت آريا، دبېنوا ويب پاڼې څخه.

[۷] - دافغانستان لنډ تاريخ،۳۷۳ مخ ۱ ټوک.عبدالحی حبيبي ،ژباړه: عبدالرؤف بېنوا. ۱۳۵٦ هـ ل کال دکابل چاپ .

[۸] - افغانستان درمسير تاريخ ،۳۲۹ مخ ۱ ټوک.

[۹] - پټه خزانه ۱۸۸ مخ،محمد بن داود هوتک، دوهم چاپ ۱۳۳۹هـ ش، دپوهنې وزارت ،ددارالتاليف رياست.

# شاه اشرف

تر شاه محمود وروسته په ایران کي دهغه دکاکا زوی شاه اشرف پر تخت کښېناست.

شاه اشرف د میرعبدالعزیز خان زوی د میرویس نیکه وراره و. کله چي میرعبدالعزیز خان پاچا شو، هغه وخت دی تنکی ځوان و.

شاه اشرف په ۲٦ اپریل، ۱۷۲۵ ز کال کې د شاه محمود له وژل کېدلو وروسته پر تخت کښېناست.[۱]

شاه اشرف په سیاسي چارو پوه او تکړه ځوان و، په تخت دکښېناستلو په وخت کې یي عمر ۲٦- ۲۷ کاله و. شاه اشرف په ډېر کم لښکر له دوو لویو امپراتوریو سره وجنګېد،چي په پایله کې بریالی ترې راووت، خو د افغانانو دخپل منځي نفاق له امله یې له ایران څخه د پاچهی تغر تول شو.

شاه طهماسب چي کله دشاه محمود له وژل کېدلو او د نوي واکمن په تاکل کېدلو خبر شو، له یو لښکر سره د اصفهان په لوري وخوځید، خو د شاه اشرف له لوري یې د تهران په خوا کي ماتې وخوړه.[۲]

په ۱۷۲٦ ز کال دجون په میاشت کې دعثماني ترک له لوري شاه اشرف ته خبر راغی چي یا خو شاه حسین خوشی او د پاچا په توګه یي ومنه او یا هم جګړې ته چمتو شه.

شاه اشرف یي په ځواب کې دري سرونه ور واستول او پیغام یې ورولېږه: "زه چي هر ډول لازم وبولم له خپل رعیت سره هماغسي کوم، د پردیو مداخلې ته اړتیا نه لرم".[۳]

احمدپاچا یو د وه سوه زریز لښکر دایران په لوري واستاوو، له دې ځایه شاه اشرف له څلوېښت زره لښکر سره ور وخوځېد، په اتم نومبر ۱۷۲٦ ز

کال جګړه وشوه، په پایله کې یې ترکانو سخته ماتې وخوړه، ٤٦ توپه ، درې بیرغه او ډېره وسله افغانانو ترې ونیوله.[٤]

خو افغانانو له دې سره، سره غوښتل له ترکانو سره ښې اړیکې ولري، ځکه ترکان مسلمانان او سني مذهبه وو، د هغوی په خلافت کې عربستان او ډېر اسلامي ممالک راتلل، له همدې امله شاه اشرف درې لیکونه ترکیې ته، یو عثماني خلیفه احمدپاچا ته، دوهم اعتمادوله ته او دریم د ترکیې لوی مفتي عبدالله ته ولېږل. چې په پایله کې خبره دافغانانو او ترکانو په دوستي تمامه شوه.

شاه اشرف له یوې امپراتورۍ ځخه بې غمه شو، خو دوهم امپراتور اوس هم ورته غوړېده.

دا امپراتور دوهم پیټر، دروسي مشر وو. په ١٤ فروري ۱۷۲۹ ز کال کې درودسر په سیمه کې افغان او روسي لښکري سره مخامخ شوې، خو روسانو تر جګړې سولې ته غوره والی ورکړ او له افغانانو سره یې سوله وکړه.[٥]

دتړون مادې په دې توګه وې :

۱- ټولې مځکې او ښارونه له ټولو متعلقاتو سره چې په ایران کې په طرفین معظمینو پورې ضمیمه شوي دي، څه هغه ځایونه چې پخوا سرحد تعین شوی و، څه هغه ځایونه چې اوس سرحد تعین شوی دی، د دریمې مادې سره سم تر ابده، به دطرفین معظمینو پوري اړه لري.

۲-اعلیحضرت د ټولې روسیې امپراتور د خپل دولت له خوا اراده کړې ده چې، د استراباد د ګیلان او مازندران ولایتونه چې ساحلي ولایتونه دي، دهغه قدیمي دوستي له کبله چې امپراتور یې له ایران سره لري، ایران ته ور پرېږدي، په دې شرط حتمي او استوار چې دا ولایات به په هیڅ وجه بل دولت ته نه ور پرېښودل کېږي او که له دې شرط سره بې اعتنائي وشوه، نو

---

د افغاني پاچاهانو لنډ ژوندلیک

ذکر شوي ولایتونه سره له ټولو متعلقاتو به د دوهم ځل لپاره تصرف او تر ابده پوري به د روسیې نه بېلیدونکې برخې وګرځي او دا تړون به لغوه بلل کېږي.

۳- د دواړو خواوو سرحدونه به په دې ډول وي: دا د سرحدونو تعین د روس او ایران ترمنځ په تفصیل سره ذکر شوی دی.

٤- له معمول سره سم سفیران او مختار وزیران او هغه کسان چې طرفینو له خوا لیږل کېږي، تر وار پخوا به څارندوی قوماندانانو ته خبر ورکول کېږي، چې دوی یې له معمولي تشریفاتو سره سم احترام او ساتنه وکړي، تر څو چې د ورسپارل شویو دندو تر اجراء وروسته بیرته راګرزي، ددوی ساتنه به کوي.

۵- هغه دوستانه مکتبونه چې طرفین معظمین یو بل ته لېږي، دغه موجود القاب او عناوین معتبر دی،که دامالکین معظمین له دواړو خواوو څخه اراده وکړي چې په خپلو القابو کې څه زیاتوالی راولي، دا خبره باید استوار اساس ولري. هیڅ لوری حق نه لري د هغو مځکو چې وېش یې شوی وي، په خپلو القابو کې راولي او یا نوي سکه ووهي.

هغه دعوې او شخړې چې په سرحدي علاقو او د سرحدي اوسېدونکو ترمنځ پېښېږي، باید سرحدي قومندان یې په ښه توګه حل او فصل کړي، څو دا مقدس اتحاد له هر ډول ناندریو څخه خوندې پاته شي، په دې کار کې طرفین کامل اختیار لري.

۷- که دطرفینو له منطقو څخه څوک له یوې خوا څخه بلې خوا ته وتښتي، تښتېدلی سړی باید له خپلي دارایي سره بیرته خپلي خواته وسپارل شي، هیڅوک حق نلري چې تښتیدلي خلک تر خپلي حمایې لاندي ونیسي.

۸- د دواړو خواوو د سوداګرو د فایدې په غرض، هر ډول مالونه په ازاده توګه دیوبل په علاقو کې څه په وچه څه په دریاب کې له پخواني معمول

سره سم تگ راتگ کولای شي او محصول به ځنې اخیستل کېږي، روسي اتباع حق لري په ایران کې له هر چا څخه خپل حق واخلي او یو د بل په وطن کې د خپلو مالونو د خوندي کولو لپاره کاروبار سرایونه جوړ کړي. یو د بل په ملک کې چي وغواړي آزاد سفر وکړي او هم یو د بل له ملکه په آزاده توگه دریېیم هېواد ته مالونه تېر کړي او هم یو د بل رعایا یو دبل په ملک کې استوگنه غوره کړي.

۹- که چېرې د بل ملک یوسوداگر مړ شي، مال او دارایي پاته شي باید مال او دارایي یې خوندي او وساتله شي، تر څو چې قانوني وارث یې یا دربار ورمعرفي کړي، یا یو دبل مملکت قانوني سند ورکړي. بیا دې قانونې وارث ته بې عیبه وسپاري.

۱۰- داغوره عهدنامه چي خدای تعالی جل جلاله په خوښ دی او مقدس اتحاد یې راوستی دی، ددې لپاره چې تر ابده پوري خوندي پاته شي،د دواړو خواوو په مهرونو به ښکلې کړای شي او دوې نسخې به په یو ډول کښلې کېږي، ددې ټاکليو مختار نمایندگانو چي تام اختیارات لري له خوا مهر او امضاء کېږي، یو بل ته سپارل کېږي ، گیلان درشت ښار ۱۳ فروري ۱۷۲۸ ز کال.[٦] (دا اصلاً ۱۷۲۹ کال ده)

شاه اشرف خان له دوو ښامارانو څخه خلاص کړ، خو په خپل لستوني کې یې بل مار وزېږېد.

نادر افشار چي په خټه ترکمن او د افشارو له قبیلې سره یې تړاو درلود، په ایران کې سر را پورته کړ، له شاه طهماسب سره یوځای شو، روسانو او ترکانو هم په پټه مرسته ورسره کوله، نادرافشار له شاه اشرف سره په ۱۱٤۱ هـ کال د "مهماندوست –دامغان" په سیمه کې جگړه وکړه.[۷] د شاه اشرف پوځونه له ډېرو فتوحاتو او له روسي او ترکې امپراطوریو سره په جنگونو کې

ستړي شوي وو، ددې نابېره حملې دفاع يې ونه کړای شوای او ماتې يې وخوړه.

شاه اشرف له کندهار او هرات څخه مرسته وغوښته، خو له دواړو خواوو ورته دنفې ځواب راغی، شاه اشرف تر پينځو کالو او اوه مياشتو پاچهی وروسته له ايران څخه راپه شا شو.[۸]

د هلمند غاړي ګرمسېر د ملخان کلا ته راغی، له هغه ځايه زرد کوه ته ولاړ، هلته دعبدالله خان بلوڅ زوی ابراهيم له لوري په ۱۱٤۲ هـ کال ووژل شو.

---

[۱] - دافغان ملي تاريخ ،۷٦۹ مخ ۱ ټوک ،قدرت الله حداد فرهاد. دسابي دپښتو څېړنو او پراختيا مرکز ، ۱۳۸۳ هـ ل لېندي چاپ.

[۲] - افغانستان درمسير تاريخ،۲۳۹ مخ ۱ټوک ،ميرغلام محمدغبار، مرکز نشر، انقلاب با همکاری جمهوری ، ۱۳٦٦ هـ چاپ.

[۳] - دافغان ملي تاريخ،۷٤ مخ ۱ ټوک ،قدرت الله حداد فرهاد.

[۴] - پورتنی ماخذ ۷۵ مخ.

[۵] - پورتنی ماخذ ،۷۷۳ مخ ۱ټوک .

[٦] - دخپلواکۍ لمرخرک ،۲۱۳مخ ،امان الله هوتک.دانش کتاب پلورنځی،قصه خواني ،پېښور.

[۷] - افغانستان به يک نظر ۱٤۷ مخ،ميرغلام محمدغبار،موسسه نشراتي اريانا کميته مرکزي ح،د،خ،۱.کابل ۱۳٦۷هـ .

[۸] - دافغانستان لنډ تاريخ،۳۷٤ مخ ،عبدالحی حبيبي ،زباړن :عبدالرؤف بېنوا. ۱۳۵٦ هـ ل کال دکابل چاپ .

# شاه حسین

شاه حسین شالم خیل هوتک او د حاجی میرویس خان نیکه زوی دی. د ۱۱۱٤ هـ کال د ربیع الاول په ۲۳ مه نیټه، د کلات په سیوري کې پیدا سو، هغه وخت چې میرویس نیکه دبیت الله او اصفهان په سفر و، شاه حسین کوچنی و او له ملایار محمد هوتک څخه ئې درس لوست، تر دولس کلنی یې فقه، تفسیر، منطق او د بلاغت کتابونه ولوستل او په قندهار کې یې له پلاره سیاسي چاري زده کړې.[۱]

حاجی میرویس خان په ۲۸د ذوالحجة الحرام (۱۱۲۷) سنه هجري په کندهارکې وفات شو، حسین هغه مهال څوارلس کلن و او د خپل مشر ورور شاه محمود سره و، میرعبدالعزیز د میرویس نیکه ورور په کندهارکې مشر شو. خو له اولس سره یې لار نه وړه، تر څو په (۱۱۲۹هـ کال) د شپې د نارنج قصر له بامه خطا سو، راولوید او یا هم ووژل شو.[۱]

د خپل کاکا تر مرگ وروسته محمودهوتک په قندهار کې پاچا سو، هغه د سیستان او کرمان په خوا لښکر ویوست، په سنه(۱۱۳۵هـ) چې د اصفهان د نیولو لپاره ولاړ، په قندهار کې یې خپل ورور شاه حسین پاچا کړ او د قندهار او فراه پاچهي ئې تر غزنی، شاه حسین ته ورکړه. د ټولو غلجو ملکانو، خانانو او مشرانو شاه حسین پخپله باچاهي ومانه او خطبه او سکه ئې په نامه جاري شوه.

دپټې خزانې له قوله :

---

[۱]- تفصیل یې د میرعبدالعزیز په بحث کې وگورئ.

"شاه حسین یودلاور باچا ؤ، یولوی عالم چې دده په عصرکې یې ژوند کاوو، د قندهار جامع امام ملا محمد یونس توخی و ،چې دملا محمد اکبر زوی و او د علومو تدریس یې کاوه. د"جامع فرایض" کتاب یې په پښتو لیکلی دی.

بل عالم ملازعفران ترکی دی او د محمد چې د باچا زوی ده، استاد هم و. ملازعفران په حکمت او ریاضي او طب کې استاد و او د "گلدستهٔ زعفراني" کتاب ئې په حکمت او طب کې لیکلی دی .

پاچا شاه حسین په جنگ کې لمړنی و او د ممالکو په نیولو کي گړندی؛ د غلجو طوایف تر غزنی پوری دده باچاهي منلي او په ابدالیو کې یې تر سیستانه او هراته حکم کاوو، په سنه (۱۱۳۸) هجري شاه حسین لښکر تیار کړ او د بهادر خان په سالاري ئې شالکوټ ا و ږوب ولایت فتح کړ.

په کال(۱۱۳۹هـ) سنه په خپله باچا دیره جات فتح کړل او تر گومله ئې ضبط کړل، اوس په دغو ټولو ځکو دده سکه جاري ده اوحکم یې روان دی.

باچا په ارگ دقندهار کې، هغه قصر چې نارنج باله شي په هفته کې یوه ورځ دربار کاوو، په کتب خانه او مجلس کې پنځه (۵) علماء جمع کیدل، شعراء او فضلاء به یې را ټولول او مجلس به یې ورسره کاوو.

کله چې د شال دفتح کېدلو زېري قاصد راوړ، نو ملا زعفران ور ووت، څه وخت وروسته بېرته مجلس ته راغی او زېری د فتحې د شال او ږوب یې وکړ . دابیتونه یې وویل :

دحـــــسین پاچا دبخت ننداره گـــوریٔ  
چې ئـې فتح په لښکرو ږوب وشــــال کا  
چې دازېــــری ئی راوړی دی حـــضورته  
نو زعفران انعام پر سر زعفرانی شال کا

باچا ژر زعفراني شال ورکړ او په دغه مجلس ئې حاضرینو ته شالونه وښندل، د باچا په انعام سرلوړي شول.

شاه حسین په پښتو ژبه شعرونه هم ویل، چي د نمونې په توگه به یې لاندې غزل وگورو :

بــــیــلتانه دی دغمو په چــپاو چور کړم
په تیـارو کې دهجران ئې له تا دور کړم
بـــیلتانه دی هسي اوښکې را خپری کړي
ستادفـکر په گرداب کې تل عبور کړم
دفـــــراق پړی مي کـــیښبود ومری تــــه
پــه جهان کې ئې رسوا لکه منصور کړم
پـــــه وصال دې هم ناښاد یــمه دلبرې !
دبیـــــلتو ن فکر په زړه کې نا صبور کړم
دیـــانو غـــــشی مــــې وخوړ په څگر کې
غـــــــمازانو په غمزو غمزو مجهور کړم
خــلق یاد زما، د عشق په لیونو کـــا
زه (حسـین ) محبت هسي مشهور کړم "[۲]

شاه حسین ادیبان او شاعران وروزل، هغه محمد هوتک بن داود ته امر وکړ تر څو دده د زمانې د حالاتو په هکله یو آثر ولیکي، محمد هوتک بن داود هم یو آثر د "پټه خزانه" په نوم وکېښ.دا کتاب بیا عبدالحي حبیبي وموند او له پارسي ژباړي او حواشیو سره یې خپور کړ.

شاه حسین تر ۱۱٤۹ هـ کال پوري پاچهي وکړه، خو په همدې کال نادرافشار له ایران څخه راورسید او دذوالقعدي په میاشت کې یې کندهار ښار محاصره کړ. شاه حسین تر څو میاشتو پوري مقاومت وکړ، خو د خپل

---

د افغاني پاچاهانو لنډ ژوندلیک

سپه سالار سیدال خان ناصر په له لاسه ورکولو یې د مقاومت توان ختم شو او په ذوالحجه ۱۱۵۰ هـ کې یې کندهار نادر افشار ته تسلیم کړ.

ظفر کاکاخیل لیکي: نادر شاه دشاه حسین له زړورتیا اغیزمن شو، نو ځکه یې په دې شرط ورسره سوله وکړه چې شاه حسین به د کندهار والي وي، د پوځ یوه برخه به یې د نادر په پوځ کې شامليږي او شاه حسین به د نادر په نوي جوړ کړای شوي ښار کې هستوګنه غوره کوي. دا تړون وشو خو نادر په تړون ونه دريد، په شاه حسین بدګومانه او مازندران ته یې ولېږه.[3]

نادر افشار شاه حسین مازندران ته تبعید کړ او هلته یې په ۱۱۵۱ هـ - ۱۷۳۸ ز کال دزهرو په واسطه وواژه.[4]

---

[1] - پټه خزانه ۱۱۰ مخ ،محمد بن داود هوتک،دوهم چاپ ۱۳۳۹هـ ش، دپوهني وزارت ،ددارالتالیف ریاست.

[2] - پورتنی ماخذ ، ۱۱۲،۱۱۰ او ۱۱٤ مخونه .

[3] - پښتانه دتاریخ په رڼا کې ،٦٧٠ مخ،سیدبهادر شاه ظفر کاکاخیل ، یونیورسټي بک ایجنسي، پیښور پښتونخوا ، ۲۰۰۹ ز کال چاپ .

[4] - دافغانستان لنډ تاریخ، ۳۷٦ مخ ۱ ټوک ، پوهاند عبدالحی حبیبي ، دبېنوا زیاره، ۱۳٥٦ هـ ل کال دکابل چاپ .

# احمدشاه بابا

د احمدشاه بابا د زوکړي د نېټي او ځای په هکله مورخین یوه خوله نه دي، د ځیني مؤرخینو په اند هغه په ملتان کې زیږېدلی دی او د نسب لړی يې له عبدالله خان سره چي په ملتان کي کډوال و ، تړل شوې ده.

خو اکثر مؤرخین په دې نظر دي چي، احمدشاه باباپه ۱۱۳۵ سپوږمیزکال چي له ۱۷۲۳زیږدیزکال سره سمون خوري، د هرات په ښار کي وزیږید.

احمد شاه بابا د زمان خان زوی او د دولت خان لمسی ؤ. مشر ورور یې ذوالفقار خان نومیده چي د هرات واکمن ؤ، وروسته د شاه حسین له لوري ونیول شو او بیا هم د نادر په واسطه له خلاصیدو وروسته په مازندران کي مسموم کړای شو.[1]

مور یې (زرغونه انا) الکوزی وه،د پیدائښت نېټه یې څرګنده نه ده خو دوفات نېټه یې ۱۱۷٤ هـ ق اټکل شوې ده.

هغه مهال چي ذوالفقار خان په ۱۷۳۲ زیږدیز (۱۱٤٤ سپوږمیز) کال په فراه کې ماتې وخوړه، احمد یې له ځان سره بوت او کندهار ته یې پناه یوړه، شاه حسین له دې ویري چي ابدالیان به د ذوالفقارخان په مشری دده دواکمنی لپاره ګواښ جوړ شي، احمدشاه بابا او ذوالفقار زندان ته واچول.

نوموړي شپږ کاله دشاه حسین په زندان کي ؤ.

نادرافشار چي کله د کندهار ښار ونیو، دی او ذوالفقار خان یې په ۱۷۳۸ ز کال مازندران ته ولېږل .[2]

---

د افغاني پاچاهانو لنډ ژوندلیک

څلورکاله وروسته کله چې نادر افشار له سوبو وروسته بیرته کندهار ته راوګرځید، دی دابدالي مشرانو په ټولې کې ورته د بري دمبارکي لپاره ورغی (۱۱۵٤هـ).[۳]

هغه د مازندران د علاقې نظم وروسپاره.[٤] بیا یې د پوځ دافسر په توګه وټاکه خو دده د استعداد په لیدلو یې ورته د ابدالي او ازبکي پوځ مشري وسپارله.[٥] وروسته یې د خپلو ساتونکو د مشر په حیث وټاکه.[٦]

په ۱۱ ذوالحجي ۱۱٦۰ سپوږمیز کال چې د ۱۷٤۷ زیږدیز کال دجون له ۲۰ نېټې سره سمون خوري، نادرخان د خپلو ملګرو له خوا ووژل سو. احمدشاه بابا د هغه کورنۍ روغ رمټه ایران ته ورسوله او په بدل کې ورته دنادر میرمنې د کوه نور الماس او نور جواهرات ورکړل.[۷]

نوموړی بېرته کندهار ته راوګرځید او د شېرسرخ بابا په زیارت کې په جوړه شوې جرګه کې چې د یوه مشر د ټاکلو لپاره جوړه شوې وه؛ ګډون وکړ. تر ډېرو خبرو اترو وروسته هم څوک معلوم نشول، په پایله کې صابرشاه کابلی داحمدشاه سدوزي په هکله وړاندیز وکړ او د هغه ښېګڼې یې بیان کړې، قومي مشرانو هم هغه ومانه او د غنم د وږي په ورکولو سره یې هغه د پاچا په توګه ومانه.(۱۱٦۰هـ ق درجب میاشت)

احمدشاه د افغانستان خپلواکي اعلان کړه،افغانان یې یو کړل او د افغاني پولو(سرحدونو) د پراختیا لپاره یې ډېر جګړه ایز یونونه وکړل، د مثال په توګه دا یونونه یادولای شو:

لومړی یون:د۱۱٦۰ هـ ،(۱۷٤۷ ز) کال په پای کې یې غزنی،کابل او پېښور ونیو. په کابل او پیښورکې یې (تیموری او نادري پخوانی حاکم) ناصرخان مات کړ.

ناصر خان هند ته لاړ، احمدشاه بابا هم د افغاني قبیلو له یوځای کولو وروسته د ستلیج (اټک) له سینده واوښت، د لاهور والي چې مخکې یې ورته

د سولي وعده ورکړې وه، جګړې ته د چناب په سیمه کې را وړاندي شو، دا چې په هغو شپو کې سیند مست و، احمدشاه بابا له سینده د چناب تر ساحل څه لوړ پوریووت او په لاهور یې حمله وکړه، د لاهور والي شهنواز خان چې کله دا خبر واورید، د ډهلي په لوري وتښتید.[۸]

مغلي باچا هم داحمدشاه دوړاندي تګ په خبریدلو ، د خپل زوی شهزاده احمدشاه په مشري سل زره کسیز لښکر د هغه مقابلي ته راولېږه، دواړې لښکرې د ۱۱٦۱ هـ کال په اوله خور کې،په مالوپور (مان پور، مانک پور)[۹] کې سره ونښتې، د جګړې په پیل کې قمرالدین هندي صدراعظم په ګولی ولګید، د هغه په مړینه یې زوی په لښکر کې دهغه ځای ونیو. له بده مرغه دجګړې په ترخ کې په احمدشاهي باروت خانه اور ولګېد او د شپې د تیارې په برېدلو احمدشاهي لښکر شاته شو.[۱۰] خو د غبار صاحب په وینا دواړو غاړو سوله وکړه، لامل یې داوو چې په کندهار کې لقمان خان بغاوت وکړ او په هندکې محمدشاه ګورګاني ناروغ شو، نو ځکه دواړو لورو سولي ته غاړه کېښوده.[۱۱]

دویم یون: پر۱۱٦۲هـ دکابل او پېښور له لاري لاهور ته لاړ. د لاهور له حکمران میرمنو معین الملک سره یې روغه وکړه. د سیالکوټ، ګجرات، پنجاب، اورنګ آباد او امرتسر مالیات چې څوارلس لکه کېدل، دمیرمنو پر غاړه کیښوده چې، هرکال به یې احمدشاهي اعلی دیوان ته رسوي.[۱۲]

دریېم یون: پر۱۱٦۳هجري۱۷٤۹ز کال دپینځوویشت زره لښکر سره هرات ته لاړ. هغه ځای یې له څلورو میاشتو کلابندي وروسته له امیرعالم ونیو، شاه ولي خان پلوپلزی یې شمالي ولایتونو ته ولېږه، خپله د مشهد په لوري روان شو، هغه ځای یې شاه رخ میرزا د نادر لمسي ته ورکړ، د نیشاپور په لوري یې پرمختګ وکړ، عباس قلي بیات د نیشاپور واکمن مقاومت وکړ، د ژمي په راتلو احمدشاه باباکلابندي پرېښوده او بېرته کندهار ته راوګرځید.[۱۳]

څلورم یون: په ۱۱٦۳هـ کال بلوچستان ته د نصیرخان د بغاوت د ماتولولپاره ولاړ، بغاوت یې وځاپه او نصیر خان یې دهغه ځای واکمن وټاکه.

پنځم یون: په ۱۱٦٤ هـ کال بیا احمد شاه له خپل لښکر سره د هرات له لاري پر نیشاپورحمله وکړه. نیشاپور یې ونیو، شاهرخ میرزا چې بغاوت یې کړی و، له هغه سره یې سوله وکړه او شرط یې پر کېښود چې سکه او خطبه به داحمدشاه باباپه نامه وي او همدارنگه تربت جام، تربت حیدري، بافرز، خواف او ترشیز ولایتونه به په افغانستان پوري تړل کېږي.[١٤]

ښاغلي غبار دا سنه ۱۱٦۷ هـ ښوولې ده.[١٥]

اووم یون:په ۱۱٦٥ هـ ۱۷٥۱ ز کال دپنجاب د نیولو لپاره لاهور ته لاړ. لامل یې د مالیاتو نه تسلیمي وه. په دې یون کې احمدشاه گورگاني ومنله چې سند، پنجاب او کشمیر دي د احمدشاه بابا دواکمنی په قلمرو کې داخل شي.[١٦]

اتم یون:د ۱۱٦۷ هـ کال په سرکي احمدشاه سند ته یو سفر وکړ.[١٧]

نهم یون:میرمنو په ۱۱٦۷هـ (۱۷٥۳ز) کال مړ شو، احمدشاه یې پرځای زوی وټاکه او مور (دمیرمنو میرمن) یې سرپرسته وټاکله، خو د پنجاب نورو امیرانو ناخوښي څرگنده کړه، دا مهال غازي الدین حمله وکړه او ادینه بیگ یې خپل والي کړ.[١٨]

په کشمیرکې سکجیوان بغاوت وکړ او خواجه کوچه یې وواژه.

احمدشاه بابا ددې خبرونو په اورېدلو له کندهاره لاهور ته لاړ او د هغو سیمو تر نیولو وروسته یې نورالدین خان بامیزی کشمیرته واستاوه، هغه سکجیون ونیو او کشمیر یې بیرته په افغاني هیواد پوري وتاړه.

احمد شاه له لاهوره ډیلي ته مخه کړه او کرنال کي یې د اصالت خان یوسفزي زوي نواب نجیب الدوله مخي ته راغی، د (۱۱۷۰هـ) کال ددریمي خور جمادي الاول په ۷ مه دجمعي په ورځ ډیلي ته ننوت. دویم عالمگیر یې

د ډیلي پرتخت کښیناؤ، د وزارت چاري یې له غازي څخه واخیستي او د قمرالدین خان زوی نظام الدوله ته یې وسپارلې، نواب نجیب الدوله یې د هندسپه سالار وټاکه. په دې سفرکې احمدشاه گورگاني خپله لور شاهزي تیمور ته په نکاح ورکړه.[۱۹]

لسم-دپاني پت غزا: احمد شاه بابا کندهار ته نه و رسیدلی چې په پنجاب کې غازالدین بیا بلوا جوړه کړه. سیکان،راجپوتان اومرهټیان هم راپورته شول، احمدشاه بابا د شوي ترون له مخي له نصیرخان څخه مرسته وغوښته، هغه دمرستي له ورکولو ډډه وکړه، له څو میاشتو جگړو وروسته نصیرخان تسلیم شو، احمدشاه بابا د بولان درې له لاري د پېښور خوا ته لاړ، هلته ورته تیمورشاه او جهان خان له مخکي چمتو ناست و، له هغوی سره یوځای له اټک څخه واوښت. نجیب الدوله، سعدالله خان روهیله او شجاع الدوله هم ورسره یوځای شول.

احمدشاهي لښکرو له هندوانو او سیکانو سره تر ډېرو جگړوووروسته چي دښمنانو ته یې ډېري ماتې ورکړې، وروستنی برخلیک ټاکونکې جگړه د پاني پت پر ډگر وکړه. دې جگړه کي شپېتو زرو احمدشاهي لښکرو او درو لکو مرهټانو او هندوانو برخه اخستې وه.[۲۰]

د جگړې په پایله کې، د مرهټیانو اته ویشت زره مړي یواځي په خندقونو کې پراته وو، په دې جگړه کي یې د دښمن په زرو، زرو جگړن (دوه لکه) کسان تر تېغ تیر کړل، د ۱۱۷٤ هـ۱۷٦۰ کال د څلورمي جمادي الاخری په شپږمه نېټه یې دا لویه سوبه (فتحه) په برخه شوه،[۲۱]چي ددې ستري غزا جنگي ولجه او غنایم ۵۰ زره آسونه، دوه لکه غوایي، پنځه سوه پیلان،څو زره اوښان او۲۲زره بندیان لاس ته ورغلل، له یوه ابراهیم نومي پرته یې نور ټول وبښل شول.[۲۲]

یوولسم ځل یون: کله چې احمدشاه بابا د کندهار په چارو بوخت و، سیکانو د جیساسنګ په مشري بغاوت وکړ، لاهور یې ونیو او زین خان مؤمند یې محاصره کړ. احمدشاه د۱۱۷۵هـ۱۷٦۳ ز کال په لومړی نیمایي کې لاهور ته لاړ، په ٤۸ ساعته جګړه کې یې د امرتسر خوا ته ۱۳۵ میله واټن وواهه او په روهي کې د سیکانو له دوه سوه زریز لښکر سره مخامخ شو، د ۱۱۷۵ هـ کال د رجب د ۱۱ مي نیټې په جګړه کې دشلو زرو سکانو په شا وخوا کې ووژل او مات یې کړل.[۲۳]

دپټیالي او سرهند حکومت یې امیرسنګهـ ته ورکړ او د ۱۱۷۵هـ کال د برات تر۷مې پورې لاهور ته بریالی راوګرځید. نورالدین بامیزی یې کشمیر ته واستاوو. احمدشاه بابا په ۱۱۷۷ هـ کال کندهار ته راوګرځید او د سختې ګرمی له امله په لاري ناروغ شو.[۲٤]

دوولسم ځل بخارا ته تګ : پر۱۱۸۱هـ کال وزیرشاه ولي خان له شپږو زرو سپرو سره له کندهاره بلخ اوبدخشان ته استول شوي و.

دبخاراحکمران شاه مراد بیګ دافغانستان په شمالي سیمو کې باغیان پارول، نو ځکه پر همدغه کال په خپله احمدشاه دهرات له لارې میمنه، اندخوی، بلخ او شبرغان تصفیه کړل. د بخارا پاچا د امو په شمال قرشي کې لښکر را غونډکړي ؤ، خو احمدشاه دبخارا له مسلمان لښکر سره جګړه له خپل شان سره وړ ونه بلله، د بخارا له پاچاسره یې روغه وکړه او امو سیند یې د دواړو هیوادونو برید وټاکه.

په دغه سفرکې وزیرشاه ولي خان دجوزجان له فیض اباد څخه خرقه شریفه کندهارته راوړه، چې تراوسه په دغه ښارکې ده.[۲۵]

دیارلسم- خراسان ته تګ: احمدشاه بابا په کندهار کې و، چې خبر ورته راغی، نادر او نصرالله دړانده شاهرخ زامن دقدرت پر سر په لانجه دي.

---

د افغاني پاچاهانو لنډ ژوندلیک

احمدشاه بابا **۱۱۸۳**هـ کال په پاي کې له کندهاره هرات او مشهد ته لاړ. هلته يې نادر مقابله وکړه خو تسليم شو، مشهد يې ونيو. په دې يون کې شاهرخ خپله لور ګوهرشاد تيمور ته په نکاح ورکړه.[۲۶]

احمدشاه بابا خپل هيواد او افغانانو ته ډېر ستر خدمتونه وکړل، د هغه په وخت کې خرقه شريفه کندهار ته راوړل شوه، دشبرغان او کندهار ښارونه دده په امر ودان شول.

دې سترفاتح د۱۱۸٦ هـ کال درجب دمياشتې په شلمه نېټه دجمعې په مبارکه شپه، دعمر په يو پېنځوس کلنی ساه ورکړه[۲۷] اناالله واناالیه راجعون.

احمدشاه بابا سره له دې چې ستر تورزن و، يو ښه شاعر هم و، د نمونې په توګه به يې دا شعر ولولو:

ستا د عشق له وېنو ډک شول ځيګرونه
ستا په لاره کې بايلي ځلمې سرونه
که هر څو مي د دنيا ملکونه ډير شي
زما څخه هېر نشي دا ستا ښکلې باغونه
د رقيب دړوند متاع به تار په تار کړم
چه په تورو پښتانه کا ګذارونه
تاته راسمه زړګی زما فارغ شي
بې له تا مي اندېښني د زړه مارونه
د دهلې تخت هيرومه چه راياد کړم
زما د ښکلې پښتونخوا دغرو سرونه
که تمامه دنيا يو خوا ته بل خوا يي
زما خو خوښ دي ستا تش ډګرونه
"احمدشاه" به دا ستا قدر هېر نکا
که ونيسي د تمام جهان ملکونه

[1] - دست های مخفی وسیاست های علنی ٥٦ مخ ،عبدالهادي قریشي،انجمن نشراتی دانش،۱۳۸۳ هـ ش چاپ .
[2] - افغانستان درمسیر تاریخ، ٣٤٦مخ ١ ټوک . غلام محمد غبار، مرکز نشر انقلاب با همکاری جمهوری ، ١٣٦٦ هـ چاپ.
[3] - احمدشاه بابا افغان ٤٢ مخ ،میرغلام محمد غبار ،ژباړن :امین الله دریځ، دانش کتاب خانه ،١٣٧٧ هـ کال قوس چاپ .
[4] - پښتانه دتاریخ په رڼا کې٦٧٦ مخ ، سیدبهادر شاه ظفرکاکاخیل، یونیورسټي بک ایجنسي. پېښور پښتونخوا، ۲۰۰۹ ز کال چاپ .
[5] - دیوولسم ټولگی تاریخ ،نوی نصاب ،۱۳۸۱ هـ چاپ، وزارت معارف چاپ.
[6] - غازی احمدشاه ابدالی،۲۱مخ ،قیصرعلی آغا ،ژباړن :محمدغفور پیروز. کراچی چاپ،۱۳۸۷هـ ل.
[7] - غازی احمدشاه بابا ۱۲ مخ ، بشیراحمد ریان ،صدیقي خپرندویه ټولنه ۱۳۸۷ هـ چاپ.
[8] - افغانستان درمسیر تاریخ،٣٦١ مخ ١ ټوک،میرغلام محمد غبار.
[9] - قیصر علی آغا داځای مان پور او ښاغلي ظفر کاکاخیل مانک پور ښوولی دی.
[10] - پښتانه دتاریخ په رڼا کې ٦٨٢ مخ ،بهادرشاه ظفرکاکاخیل
[11] - افغانستان درمسیر تاریخ .
[12] - احمدشاه بابا افغان ،١٠٦ مخ ،میرغلام محمد غبار ،ژباړن :امین الله دریځ
[13] - دافغانستان لنډتاریخ،٣٨٦ مخ ،١ټوک،عبدالحی حبیبي،ژباړن : عبدالرؤف بېنوا، ١٣٥٦ هـ ل کال دکابل چاپ .
[14] - دافغانستان لنډتاریخ ،٣٨٧ مخ ،١ټوک.
[15] - احمدشاه بابا افغان ١١٤ مخ.
[16] - دیوولسم ټولگی تاریخ،١٣٨١ هـ چاپ . دافغان ملي تاریخ، ٨١٢ مخ،١ ټوک ، قدرت الله حداد فرهاد.
[17] - دافغانستان لنډ تاریخ،٣٩٤مخ ،١ټوک.
[18] - پښتانه دتاریخ په رڼا کې،٦٨٥ مخ ،سیدبهادرشاه ظفرکاکاخیل.
[19] - پورتنی حواله .
[20] - دافغانستان پر معاصر تاریخ لنډه کتنه ،٢٨ مخ. ،کاندیداکادمیسن محمد ابراهیم عطائي.میوند خپرندویه ټولنه،١٣٨٣هـ ل.
[21] - دافغانستان لنډتاریخ ،٣٩٠ مخ ١ ټوک.
[22] - افغانستان درمسیر تاریخ،٣٦٩ مخ ١ټوک .
[23] - دافغانستان لنډتاریخ،٣٩١ مخ ١ ټوک.
[24] - احمدشاه بابا افغان ،١٤٦ مخ ،غبار ،ژباړن:امین الله دریځ.
[25] - غازی احمدشاه بابا ٩٣ مخ . بشیراحمدریان .
[26] - افغانستان درمسیر تاریخ ٣٧٢ مخ ،١ټوک،غلام محمدغبار.
[27] - دافغانستان لنډتاریخ،٤٠٠ مخ ،١ټوک.

# تیمورشاه

له احمدشاه بابا وروسته د هغه زوی تیمورشاه واکمن شو.

تیمور شاه داحمدشاه بابا دوهم زوی و، په ۱۷٤٦ زیږدیز کال په مشهد کې د احمدشاه بابا تر پاچا کېدلو یو کال وړاندې وزیږېد.[۱] له احمدشاه بابا سره به تل په جنګې یونونو کې مل و، په تنکۍ ځوانۍ کې دپنجاب دوالي په حیث وټاکل شو.[۲] له هغه وروسته هغه وخت چې احمدشاه بابا د شاهرخ میرزا او د هغه د زوی نصرالله بغاوت وځاپو، نو دی یې په هرات کې دوالي په حیث وټاکه. (۱۱۷٤سپوږمیز)

احمدشاه بابا دخپلې مړینې په وخت کې تیمورشاه دخپل ځای ناستي په توګه وټاکه، ځینو امیرانو او د احمدشاه بابا مشر زوی شاهزې سلیمان[۳] دانبه ونه ګڼله، خو احمدشاه بابا خپلو امیرانو ته ډاډګېرنه ورکړه، هغه امیرانو ته وویل: زما مطلب او هدف له دې کار نه یوازې او یوازې د ولس او خلکو خیر دی. دا ځکه، چې تیمور زما په ژوندانه کې ډېره پوهه، لیاقت او کفایت له ځانه څرګند کړی او د ښې ارادې خاوند دی، شهزاده سلیمان یو سست طبیعته او بې رحمه کراړ زړه لرې، چې د بلوا او فتنو د کړارولو په چل او تدبیر باندې نه پوهېږي. دده د ظلم او ستم نمونه د سردار ذال بیګ خان افغان مرګ دی، چې دا زما لپاره ښه په زړه پوری مثال دی، نو ځکه دی د ولیعهدی وړ نه دی".[٤]

امیرانو هم ورسره ومنله.

کله چې احمدشاه بابا وفات شو ، خواجه سرا یاقوت خان مخکې تر دې چې د احمدشاه بابا د وفات خبر چاته ورکړي، په ېېړه استازی د تیمورشاه

په لور چي په هرات کې والي و، واستاوو؛ ترڅو راشي او دواک پر گدی کښېني.

کله چي په کندهار کې سلیمان او امیران دنومیالي اتل (احمدشاه بابا) له وفات څخه خبر شول، له تدفین او جنازې وروسته یې سلیمان چي د شاه ولیخان پوپلزي زوم و، په تخت کښېناوو، خو ځینو امیرانو مخالفت وکړ او تیمورشاه ته یې چي داحمدشاه رښتېنی ځاي ناستی و، د راتلو احوال ورکړ. تیمور شاه هم په بېړه د کندهار په لور روان شو، په لاره کي یې د نورو سردارانو په لمسون شاه ولي خان پوپلزی وواژه.

تیمورشاه په ۱۱۸٦ هـ (۱۷۷۳ز) کال واک په لاس کي واخست.[٥]

دشاه ولیخان پوپلزي په وژلو یې په کندهار کې رسوخ له لاسه ورکړ، درانو وربانديي باور کم کړ، ده هم دکابل په لور پلاز ولېږداوو، هلته یې قزلباشان او اسحق زي د خپلو ساتوونکو په توگه وټاکل،[٦] ویې غوښتل تر څو د دراني امیراتو نفوذ را کم کړي، د همدې لپاره یې هغوی کابل ته را وغوښتل او له قومونو څخه یې لېري ورته دندې مقرري کړې.

تیمورشاه که له یوې خوا دپښتنو باور له لاسه ورکړ او ځیني امیران یې ووژل، خو له بل لوري یي په ډېره میړانه سره دخپل پلار (ستر احمدشاه بابا) څخه ورپاتې هیواد په ښه توگه وساتو، له آمو تر سنده، له کشمیر څخه تر مشهد پوري یې د هغه سرحدونه خوندي کړل، هغه بغاوتونه چي په ضد یې شوي وو، وځپل .

دمثال په توگه دعبدالخالق سدوزي پاڅون (۱۷۷٤ز)، په مشهداو نیشاپورکي بغاوت، په ملتان کي دسکانو (۱۷۸۱ز)، په سندکي دفتح علیخان (۱۷۸٦ز) او په کشمیر کي دازاد خان بغاوت (۱۷۸٦ز) ، په مروه کي دمراد معصوم تیری (۱۷۸۹ز)، همدارنگه نورپاڅونونه او تیري یې مات کړل.

په دې برسيره په پېښور کې یې په وړاندې جوړه شوې دسیسه هم په ښه توګه شنډه کړه.(۱۷۷۹ز)

د تیمورشاه د شخصیت په هکله مؤرخین بېلا،بېل اندونه لري، ځیني هغه یو مدبر او هېواد ساتوونکی پاچا ګڼې، خو ځیني ورته عیاش، پست او دېردې کلتور تر اغېزې لاندې وایي.

الفنستن وائي:" تیمور په داسي چاپیریال کې لوی شوی و،چي د خپلو خلکو (پښتنو) له دود او دستور څخه خبر نه و او معلومېږي چي هغه په خپله مورنی ژبه (پښتو) خبري هم نشوای کولای".

دا چي تیمورشاه په پښتو خبري نه شوای کولای، دمنلو وړ نه ده، ځکه هغه نه یوازي دا چي پښتو ویله بلکې په پښتو یې ځښي شعرونه هم ویلي، چي په پای کي به راوړل شي.

فریرز وایې: تیمورشاه په عدل او انصاف نامتو و. هغه زړه سواندی او دپاسته طبیعت خاوند و.[۷]

خو په دې خبره تول متفق دي چي په ښه توګه یې افغاني سرحدونه وساتل او هیواد یې له انارشیزم څخه وساتو.

دتیمورشاه ۱۰ مېرمني وې،[۸] چي یوه یې د هندي مغولي دربار شهزادګی ګوهر افروزبانو د عالمګیرثاني لور وه، هغه وخت چي احمدشاه بابا دهند مرهټه ځواک تارمار کړ، نو له هندي امپراتور دویم عالمګیر سره یې د ښو اړیکو دټینګولو لپاره افروز بانو خپل زوی شاهزي تیمور ته وکړه.

تیمور ۲٤ زامن درلودل،[۹] په هغوی کې یې په تاریخ کې شاه زمان، همایون، شاه محمود، شاه شجاع او فیروزالدین ډېر مشهور دي.

د تیمور مشر زوی همایون او کشر یې شجاع الدوله و.

تیمور په خپل ژوند کې خپل زامن د مهمو ولایتونو په واکمنی وټاکل چي وروسته دمنځني ښلتون او فساد لامل وګرځېدل.

---

دتیمور شاه سپه سالار دلاور خان و، دا دلاور خان هغه تن دی چي عبدالخالق داحمدشاه بابا وراره یې دده (احمدشاه) په وړاندي پارولی و، خو کله چي بغاوت ناکام شو، نو ده د ځان له وېري تیمور ته پناه وروړه او هغه هم په پناه کې واخیست. احمدشاه هم له دې امله چي پناه ته یي ارزښت ورکاوو، ورباندي کار ونه درلود.

فیض الله دولتشاهي یې مشاور مقرر کړ. التفات خان یي خزانچي او عبدالطیف خان جامي هروي یي وزیر او د محصولاتو مسؤل و.[۱۰]

تیمورشاه به اته میاشتي په کابل کې او د ژمي څلور میاشتي په پېښور کې اوسیده.

تیمورشاه په ۱۲۰۷هـ کال دشوال په اوومه چي د ۱۷۹۳ز کال د مي له ۲۰ مي نېټي سره سمون خوري، تر۲۲ کاله پاچهي وروسته مړ او په کابل کې خښ شو.

د مړيني لامل يې مؤرخين دحرم دښځو له خوا مسموم کیدل ګڼي.[۱۱]

تیمورشاه هم دخپل پلار په شان شاعر و، د هغه د پښتو شعر نمونه داده:

نن مي بيا له توروسترګو سره جنګ دی
پر لــبــانو ئي دزړه دوینو رنــګ دی
که پري کړی سر په لاس ورله ورشــم
لا په دائي باور نه سي زړه ئي سنګ دی
ستا دحسن لښکر راغی ځان مي بائېلو
د عــاشق دزړه میدان هر ګوره تنګ دی
عــشق او مشک پټول نه سي تیمورشاه
چي په خپله ځان رسوا کا هغه رنګ دی[۱۲]

**سرچينې :**

[۱] - پښتانه دتاریخ په رڼا کې ٦۹۹ مخ ، سیدبهادر شاه ظفرکاکاخیل، یونیورسټي بک ایجنسي. پېښور پښتونخوا ، ۲۰۰۹ ز کال چاپ .

[۲] - افغانستان تر وروستي افغانه،۱۲۵ مخ،۱ ټوک،غلام محمد زرملوال ،دانش خپرندویه ټولنه،۱۳۸۳ ل.

[۳] - افغانستان درمسیر تاریخ،۳۷۲ مخ ،۱ ټوک،غلام محمد غبار، مرکز نشر انقلاب با همکاری جمهوری ، ۱۳٦٦ هـ چاپ.

[٤] - دراني تیمورشاه،سرمحقق علي محمد منګل،دټول افغان ویب پاڼې له کتابتون څخه.

[٥] - پورتنی ماخذ.

[٦] - پښتانه دتاریخ په رڼا کې ۷۰۱ مخ .

[۷] - دافغان ملي تاریخ ۱۳٦ مخ ۱ ټوک،قدرت الله حداد فرهاد.دسايي دپښتو څېړنو او پراختیا مرکز،لیندی، ۱۳۸۳ هـ ل.

[۸] - افغانستان درمسیر تاریخ ۳۷۲ مخ ۱ټوک.

[۹] - پورتني ماخذ.خو ددراني تیمورشاه کتاب لیکوال یې ۳۳ زامن او ۱۳ لوڼې ښوولې دي.

[۱۰] - دافغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه،٤۰ مخ.کاندیداکاډمیسن محمد ابراهیم عطائي.میوند خپرندویه ټولنه،۱۳۸۳هـ ل.

[۱۱] - پورتني ماخذ ،٤۳ مخ.

[۱۲] - دافغان ملي تاریخ ۱۱۱ مخ۱ ټوک.

# شاه زمان

له تیمور شاه څخه وروسته دهغه زوی زمان شاه واکمن شو.(اتم شوال ۱۲۰۷هـ)[۱]

زمان شاه دتیمورشاه دوهم زوی و،[۲] مور یې یوسفزی وه.[۳]

تیمور شاه دمړینې په وخت کې څوک د ځای ناستي په توگه انتخاب نکړ، کله چي هغه وفات شو، زامن یې په کابل کې سره راټول شول، هر یوه د پاچا کېدلو کوښښ کاوو او د همدې لپاره یې بېلا،بیل سرداران ملگري کړي و.

زمانشاه یو ډېر پیاوړی سردار پائنده خان دځان ملگری کړ، پائنده خان اعلان وکړ تر څو د تیمورشاه د ټبر ټول وگړي او امیران راټول شي، هغوی چي کله سره راټول شول او په یوه قصرکې کېناستل، نو زمان شاه او پائنده خان ترې راووتل، د مانۍ دروازې یې بندي کړې، پوځ یې تر مانۍ راتاو کړ او امیران یې مجبور کړل تر څو له زمان شاه سره بیعت وکړي.[٤]

امیرانو هم له زمان شاه سره بیعت اعلان کړ، خو د زمانشاه ورونو او د تیمورشاه زامنو بیعت ونه مانه.

زمان شاه په پلاز دناستي په مهال ۲٤ کلن ځوان و.[٥]

په همدې وخت کې چې زمانشاه دپاچا په توگه اعلانیدو ، همایون په کندهار کې و. هغه د زمانشاه واکمني ونه منله، ځان یې د مشر په توگه د پاچهی حقدار گانه، له یوه پوځ سره له کندهاره راوخوځېد.

په کلات کې دزمانشاه او همایون پوځونه سره مخامخ شول، همایون ماتې وخوړه او د بلوچستان په لور وتښتید.[٦]

زمانشاه چې کله پاچا شو، د رحمت الله خان په نوم کس يې چې د سدوزي قبيلې څخه و، د خپل وزير په توگه وټاکه او د وفادارخان لقب يې ورته ورکړ.[۷]

زمانشاه غوښتل ترڅو دخپل نيکه برم راژوندی کړي، د همدې موخې لپاره يې دېرې هڅې وکړي. پوځونه يې يو ځای کړل، د پنجاب په لوري وخوځيد، کله چې تر اباسين واوښت، د همايون د پرمختگ خبر يې واوريد، بيرته ناهېلی راوگرځيد او له همايون سره يې جنگ وکړ، هغه يې زنداني او ړوند کړ.

بيا يې پوځونه را غونډ کړل او د سند په لور وخوځيد، تر څو د تالپور د سردارانو غوړ وروپېچي خو په سيند کې و، چې ورته له هرات څخه د شاه د محمود دوړاندې تگ خبر ورغی، نو له همدې امله يې د ميرفتح علي خان تالپور سره سوله وکړه او درېمه خراج يې ورته وباښه، خپله په بېړه راوگرځيد، محمود ته يې په گريشک کې شرموونکې ماتې ورکړه، هرات يې ونيو، خو له محمود سره د سولې له امله يې بيرته پرېښود.

په ۱۷۹۵ زېږدېز کال بيا د پنجاب د تسخير لپاره راووت، په حسن ابدال کې و؛ چې د محمدشاه قاجار دحملې خبر يې واوريد. بيرته دکابل په لور راغی خو محمدشاه قاجار سولې ته غاړه کېښوده.[۸]

په ۱۷۹٦ ز يې بيا پر پنجاب حمله وکړه، لاهور يې ونيو، غوښتل يې پر هند حمله وکړي خو د محمود د سرغړونې يې واوريدل، راغی؛ محمود يې مات کړ او هرات يې خپل زوی قيصر مرزا ته ورکړ.[۹]

په ۱۷۹۸ ز کال لاهور ته راغی، له سيکانو سره يې سوله وکړه، خو د محمدشاه قاجار دحملې خبر يې واورېد، په هغه لوري ولاړ، خو محمدشاه قاجار له دگر څخه په شا شو.

---

په دې جګړه کې د محمدشاه قاجار موخه دا وه تر څو زمان شاه مخ له هند څخه واړوي، محمدشاه د انګريزانو په لمسون په افغاني خراسان حمله وکړه، انګريزان د لاهور په نيولو ووېرېدل او په دې ترهه کي شول چي زمان شاه به ترې هند ونيسي، نو ځکه يې محمدشاه قاجار ته ووېل ترڅو په هرات حمله وکړي او د زمان شاه مخ له هند څخه واړوي.

زمان شاه بيا هند ته له پوځ سره دتلو جوګه نشو.[10]

کله چې زمان شاه له محمدشاه قاجار سره لانجه غوڅه کړه،نو بيرته کابل ته راوخوځيد، په کابل کې د سردار پائنده خان او نورو سردارانو له سازش څخه خبرشو، د پائنده خان او نورو سرداراتو د وژلو امر يې وکړ او د پائنده خان په زوی فتح خان پسي يي هم خلک واستول، خو هغه تري وتښتيد او له محمود سره يوځای شو.(۱۲۱٤هـ)[11]

محمود او فتح خان په هرات حمله وکړه، هرات يې ونيو او د بارکزيانو په مرسته يې په کندهار حمله وکړه، کندهار يې لاندي کړ او د کابل په لوري وخوځيدل، زمان شاه چي کله د محمود له وړاندي تګ څخه خبر شو، مقابلې ته يې ورودانګل خو ماتې يي وخوړه ، دپېښور په لوري په شا سو.

محمود کابل ونيو او په زمان شاه پسې يي لښکري ولېږلې، زمان شاه هم د پېښور خواته په تېښته شو، په لاره يې دجلال آباد په سيمه کې د ملاعاشق شينواري کلا ته پناه يوړه.[12]

ملاعاشق شينواري په ډېره بي ننګی سره په داسي حال کې چي د ميلمه پالني قدر يي هم ونه کړ، محمود ته دزمان شاه خبر ورکړ، محمود يوه ټولی د زمان شاه دنيولو لپاره ولېږله، زمان شاه يي ونيو (۱۸۰۰ز)، ړوند يي کړ او د کابل په بالاحصار کې بندي کړ.[13]هم هغه وخت چي زمان شاه د عاشق په کلا کې بندي و، دکوه نور مشهور الماس او نور جواهرات يې هلته خوندي کړل.[14]

کله چې شاه شجاع په ۱۸۰۳ ز کال کې محمود مات کړ، نو زمان شاه يې خلاص کړ، هغه هم دکوه نور الماس او نور جواهرت هغه ته وروښودل.[۱۵] محمود له ځان سمولو وروسته بيا پر کابل حمله وکړه، شاه شجاع يې مات کړ او کابل يې ونيو، شاه شجاع دپېښور په لور وتښتېد او زمان شاه يې هم له ځان سره ملګری کړ، هلته دانګريزانو په پناه کې اوسيده.[۱۶]

---

## سرچينې :

[۱] - رجال و رويدادهاي تاريخي افغانستان، ۹ مخ.احمدعلي کهزاد.دانش کتابخانه ۱۳۷٦ سرطان هـ ش.، پېښور.پاکستان.

[۲] - افغانستان درمسير تاريخ ،۳۷۹ مخ ۱ټوک.ميرغلام محمدغبار. مرکز نشر انقلاب با همکاری جمهوري ، ۱۳٦٦ هـ چاپ.

[۳] - پښتانه دتاريخ په رڼا کې۷۰۸ مخ. سيدظفر کاکاخيل.يونيورستي بک ايجنسي. پېښور پښتونخوا ، ۲۰۰۹ ز کال چاپ .

[٤] - پورتنی ماخذ.

[٥] - افغانستان از امير کبير تارهبر کبير (حقيقت التواريخ)٦٤ مخ.علامه عبدالحق مجددي و داکتر فضل الله مجددي.بنګاه انتشارات ميوند، ۱۳۸۷هـ ش.

[٦] - دافغانستان لنډتاريخ ،٤٠٤ مخ ۱ ټوک. عبدالحی حبيبي.ژباړن : عبدالرؤف بېنوا، ۱۳٥٦ هـ ل کال دکابل چاپ .

[۷] - دافغانستان پرمعاصر تاريخ يوه لنډه کتنه ،٤۷ مخ. کانديداکاډميسن محمد ابراهيم عطائي.ميوند خپرندويه ټولنه،۱۳۸۳هـ ل.

[۸] - پښتانه دتاريخ په رڼاکې،۷۱۲ مخ.

[۹] - هماغه ماخذ.

[۱۰] - دافغانستان لنډ تاريخ ،٤۰٦ مخ.

[۱۱] - افغانستان درقرن ۱۹، ۹ مخ ۱ټوک .سيدقاسم رشتيا .بنګاه انتشارات ميوند، پنځم چاپ، ۱۳۸٤هـ ش.

[۱۲] - افغانستان درمسير تاريخ ،۳۹۱ مخ ۱ټوک.

[۱۳] - افغانستان تر وروستي افغانه ،۲۳٦ مخ ۱ټوک.غلام محمد زرملوال.دانش خپرندويه ټولنه ،۱۳۸۳ ل.

[۱٤] - رجال ورويدادهاي تاريخي افغانستان ۲۰ مخ .

[۱٥] - غازي احمدشاه بابا.۱۳٤ مخ .

[۱٦] - پښتانه دتاريخ په رڼاکې ،۷۱۷ مخ.

# شاه محمود

دزمان شاه تر ماتې وروسته يې ورور شاه محمود په تخت کښېناست.

شاه محمود دتيمورشاه له ۲٤ زامنو څخه يو و.د زمان شاه د پلازناستې پر مهال، دنورو وروڼو په څېر محمود هم د بغاوت بيرغ پورته کړ،خو د زمانشاه عسکرو په تېښته مجبور او ايران ته يې پناه يوړه .

محمود په ايران کې و، چې زمانشاه د يوې تاريخي اشتباه په ترڅ کې پائنده خان وواژه او د بارکزي سردارانو ملاتړ يې له لاسه ورکړ.

د پائنده خان مشر زوی فتح خان خپل ورونه سره راټول کړل او د زمان شاه په وړاندي ودرېدل، فتح خان له محمود سره اړيکې ونيولې او هغه يې تشويق کړ تر څو افغانستان ته راشي او د پلاز د ترلاسه کولو لپاره هڅې وکړي.

محمود له ايران څخه راغی، له فتح خان او وروڼو سره يوځای شو، د هغوی په نفوذ يې ملگري پيدا کړل او دکندهار په لور يې پرمختگ پيل کړ، کندهار يې ونيو او مهرعليخان يې تېښتې ته مجبور کړ.[1]

شاه زمان د محمود د مخنيوي لپاره وړاندي راغی، خو د کلات په سيمه کې يې ماتې وخوړه او د کابل په لوري ولاړ، غوښتل يې هلته ځان تکيه کړي، خو بخت ورسره ياري ونکړه او ملگري ترېنه لاړل، له مجبوريته يې د جلال آباد په لوري دتگ نغاره وغږوله.

محمود زمانشاه ته له ماتې ورکولو وروسته په غزني تېر او کابل يې ونيو، شاه زمان په جلال آباد کې د ملا عاشق کلا ته پناه يوړه، هغه يې لومړی ښه استقبال وکړ خو کله چې خبر شو، له محمود څخه يې ماتې خوړلې ده، نو په پټه يې محمود ته احوال واستاوو، هغه د فتح خان ورور دشاه زمان دنيولو

---

[1] د افغاني پاچاهانو لنډ ژوندليک

لپاره ورواستاوو، عین په همدې حال کې شاه شجاع له پېښور څخه دشاه زمان د مرستې لپاره جلال آباد ته یوه ټولی راولېږله، خو الهی قلم د شاه زمان نیول لیکلي و، د فتح خان ورور، شاه زمان ونیو او کابل ته یې بوت. هلته دمحمود په امر ړوند او دکابل په بالاحصار کې بندي شو.[۲]

محمود د شاه زمان له ړندیدلو وروسته پاچا شو. (۱۸۰۱ز،۱۲۱٦هـ)[۳]

وزیرفتح خان ته یې دشاه دوست لقب ورکړ او چارې یې وروسپارلې.

شاه محمود داخلي چارو ته پاملرنه وکړه او دفتح خان په مرسته یې د کابل چارې څه ناڅه سنبال کړې.

شاه شجاع دشاه زمان له ړندېدلو وروسته له شاه محمود څخه د انتقام اخیستلو او دپلاز دنیولو هوډ وکړ.خپلې لښکرې یې دجلال آباد په لوري واستولې، هلته ورسره دشاه محمود لښکرو مقابله وکړه، شاه شجاع ماته وخوړه او بېرته پېښور ته راغی.دوهم ځل یې بیا د لس زرو مسعودو په مرسته جګړې ته ودانګل خو دا ځل هم ټېنګ نه شو، له ماتې سره مخ او دوزیرستان غرونو ته یې پناه یوړه.[٤]

دا مهال غلجیانو دعبدالرحیم هوتک په مشري پاڅون وکړ، غزنی یې ونیو او د لوګر په لوري وړاندې راغلل. شاه محمود یې مقابلې ته شیرمحمد مختارالدوله ورولېږه، په جګړه کې شپږ زره کسان ووژل شول او پاڅون کوونکو ماته وخوړه.[٥]

په ۱۸۰۲ زکال غلجیانو بیا سر را پورته کړ، پنځوس زره منظم پوځ یې جوړ کړ، وروستی جګړه یې په ۱۸۰۳ زکال دمي میاشت کې، د برملاشاهي سیمي ته څېرمه وکړه، خو دا ځل یې هم ماته وخوړه.[٦]

شاه شجاع ددوهم ځل ماتې وروسته د لښکرو په ټولولو بوخت او د شکارپور له لاري په شال کوټ (کوټې) تېر او کوژک ته ورسېد، په کوژک کې یې د کامران له طرفدار صالح محمدخان غلجي سره جنګ وکړ، هغه یې

مات کړ او د کندهار په لور وړاندي ولاړ، د کاکړو په علاقه کې ورسره قیصر د زمانشاه زوی یو ځای سو.

شاه شجاع خپلې لښکرې په دوو ډلو وویشلې، یوه ډله یې د قیصر په مشري د کامران دمقابلې لپاره دکندهار لور ته واستوله او دوهمه ډله یې تر خپلي مشري لاندي او دزرمت له لاري دکابل په خوا پرمختګ پیل وکړ، له زرمت څخه تېر او دکابل څنډو ته ورسېد،کابلیان دشاه شجاع په رارسېدلو خبر شول او شاه محمود یي مجبور کړ، تر څو خان دکابل په بالاحصار کې پټ کړي، شاه شجاع کابل ونیو (۱۲۱۹هـ) او شاه محمود یي په بالاحصار کې بندي کړ.[۷]

دا هم د یادوني وړ ده چي شیرمحمدخان (دشاه ولي خان پوپلزي زوی) له شاه محمود څخه تر خفه کېدلو وورسته شاه شجاع ته دکابل دخلکو د نمائنده په توګه ورغی او له هغه یې وغوښتل تر څو کابل ته راشي. په کابل کي د شیعه او سني جګړه هم پیل شوه چي دشاه محمود د نه تدبیر له امله سنیان دده په وړاندي ودرېدل.[۸]

شاه شجاع لومړی ځل پاچهي په (۱۸۰٤/۱۲۱۹ ز) کال ونیوله.

هغه مهال چي شاه شجاع په شکارپور کي بوخت و، شاه محمود دمحمدعلي چنداولي خیاط په مرسته وتښتید.[۹]

شاه محمود له خلاصیدلو سره سم هرات ته لاړ، هلته فتح خان ورسره یوځای شو، فتح خان دی وهڅاوو، تر څو په کندهارحمله وکړي، شاه محمود هم په کندهار حمله وکړه ، کندهار یي ونیو د کابل په لوري یي پرمختګ پیل کړ، کابل یي هم ونیو، په دې مهال کې شجاع ته هم دشاه محمود دخوځښت خبر ورسېد، هغه له نیمائي پوخ سره دکابل خواته را روان شو، خو په لاره دمحمود له لوري دکابل په نیول کېدلو خبر شو، کابل ته لا ،لاره

پاتې وه، چې د کابل له لوري دشاه محمود پوځ راغی، د دواړو خواوو ترمنځ جنګ وشو. په پایله کې شجاع ماتې وخوړه او د افریدو سیمې ته ورغی.[۱۰]

شاه محمود د دوهم ځل لپاره ځان دواکمن په توګه اعلان کړ.(۱۸۰۹ز/۱۲۲٤هـ)[۱۱]

شاه محمود چې کله واکمن شو، د سند په لوري یې لښکر ویوست، رنجیت سنګ ورسره سوله وکړه. ده فتح خان کشمیر ته ولېږه، هغه د رنجیت سنګ په مرسته کشمیر له عطامحمد خان بامیزي ونیو، هلته یې خپل ورور محمدعظیم حاکم کړ.

فتح خان چې کله دکشمیر له سوبې فارغ شو، ده ورته امر وکړ، تر څو هرات ته لاړشي، له حاجي فیروزالدین سره دایرانیانو په وړاندې مرسته وکړي او وروسته هغه مرکز ته راولېږي.

فتح خان لاړ، هرات یې ونیو او حاجي فیروزالدین یې محمود ته واستاوو.

کله چې فتح خان حاجي فیروزالدین له هرات څخه محمود ته لیږه، نو خپل ورور ته یې حکم وکړ تر څو د هغه دکور سامان ضبط کړي، خو ورور یې دوست محمد خان سره له دې چې دهغه مال یې ضبط کړ، د حاجي فیروزالدین دنږور دمحمود دلور او د کامران د خور او نورو ښځو بې عزتي یې هم وکړه، ددې بې عزتي له امله محمود ډېر په قهر شو او کامران ته یې امر وکړ، چې په هرات کې فتح خان ړوند کړه،[۱۲] کامران هرات ته ولاړ او هلته یې په ۱۸۱۸ ز (۱۲۳٤هـ) کال فتح خان ړوند کړ.[۱۳]

د فتح خان په ړندېدلو پردل خان، کهندل خان او شېردل خان له هرات څخه وتښتیدل، په نادعلي کې یې د بارکزي قبېلو په راپارولو لاس پورې کړ، محمد عظیم خان چې په کشمیر کې و، هم دبغاوت اعلان وکړ او دوست محمد خان یې دکابل په لوري واستاوو.

محمود چې کله دفتح خان له ړندیدلو خبر شو، له کابل څخه ووت او هلته یې خپل لمسی جهانګیر ځای ناستی وټاکی، خپله د غزنې په لوري لاړ، دوست محمد خان په کابل حمله وکړه، جهانګیربې ونیو، خپله یې له کابل څخه پوځ واخیست، دغزني په لوري ولاړ، په سعیدآباد کې له کامران او محمود سره مقابله وکړه، محمود له وزیر فتح خان څخه وغوښتل تر څو دوست محمد منع کړي، هغه انکار وکړ نو څکه یې توټې ، توټې کړ او مړ یې کړ. محمود ماتې وخوړه او دهرات په لوري وتښتید.[۱٤]

په ټول افغانستان کې محمود ته یواځې هرات ورپاته شو، خو په هرات کې یې هم ارامه ساه وانه خیستله، څکه ده ځان پاچا ګڼه، خو ورور فیروزالدین او زوی کامران یې خپل سري کوله، تر دې چې په ۱۸۲۹ ز / ۱۲٤٤هـ کال دکامران له خوا ووژل شو[۱۵] او د هرات په روضه کې خښ کړای شو.

---

**سرچینې:**

[۱]- افغانستان درمسیرتاریخ ۳۹۰ مخ ۱ټوک. میرغلام محمدغبار. مرکز نشر_انقلاب با همکاری جمهوری ، ۱۳٦٦ هـ چاپ.

[۲]- ماخذ یې دشاه زمان په بحث کې تېر شویده.

[۳]- در زوایایي تاریخ معاصر افغانستان ۵ مخ.احمدعلي کهزاد.دانش کتابخانه. ۱۳۷٦ هـ ش سرطان ،پېښور ،پاکستان.

[٤]- پښتانه دتاریخ په رڼا کې،۷۲۱ مخ . سیدظفر کاکاخیل،یونیورستي بک ایجنسي_ پېښور پښتونخوا ، ۲۰۰۹ ز کال چاپ .

[۵]- افغانستان درمسیرتاریخ ،۳۹۲ مخ ۱ټوک.

[٦]- پښتانه دتاریخ په رڼا کې،۷۲۱ مخ.

[۷]- رجال ورویدادهاي تاریخي افغانستان .۳۵-۳٦ مخونه. احمدعلي کهزاد.دانش کتابخانه ۱۳۷٦ سرطان هـ ش.، پېښور،پاکستان.

[۸]- افغانستان درقرن ۱۹، ۱۵ مخ. سیدقاسم رشتیا .بنګاه انتشارات میوند، پنځم چاپ، ۱۳۸٤هـ ش.

[۹]- افغانستان درمسیر تاریخ ۳۹۵ مخ.

[۱۰] - پښتانه دتاريخ په رڼاکي، ۷۳۲ مخ .

[۱۱] - افغانستان درقرن ۱۹، ۲۵ مخ.

[۱۲] - پښتانه دتاريخ په رڼا کي،۷٤۱-۷٤۲مخونه.

[۱۳] - افغانستان درقرن ۱۹، ۳٦ مخ، دسراج التواريخ ۱ ج ۹۷ مخ په حواله .

[۱٤] - درزواياي تاريخ معاصر افغانستان،۱٤ مخ .

[۱۵] - دافغانستان لنډ تاريخ ،٤۱۱ مخ۱ ټوک.

# شاه شجاع

تر شاه محمود وروسته شاه شجاع چارې په لاس کې واخيستې.

شاه شجاع د تيمورشاه کشر زوی، د احمدشاه بابا لمسی او د زمانشاه سکه ورور و. د زمانشاه د پاچهي په مهال په غزني کي والي و.

هغه مهال چي شاه زمان دمحمود له لوري ړوند کړای شو، دی په پېښور کې و.

شاه شجاع په پېښور کې تياری ونيو او د جلال آباد په لوري يې وړاندي تګ پيل کړ، له کابل څخه شاه محمود د کامران او فتح خان په مشري لښکرې ورواستولې، په جلال آباد کې د دواړو خواوو جګړه ونيښته، شجاع ماتې وخوړه او دخيبر په لور وتښتېد.

شجاع بيا دلښکر په چمتو والي پيل وکړ، لښکر يې راټول کړ او په شال کوټ (کوټه) تېر د کوژک په غرو کې يې له صالح محمدخان سره چې د کامران له لوري دلښکر قومندان و، جګړه وکړه. صالح محمد ماتې وخوړه. شجاع د کندهار په لور په مخ ولاړ خو په لاره کې دکامران له لوی لښکر سره مخامخ شو، څکه خو يې لاره بدله کړه او د کاکړو په علاقه ورغی، هلته قيصر ورسره يوځای شو، شجاع خپلې لښکرې په دوو ډلو ووېشلې، يوه ډله يې د قيصر په مشرۍ د کندهار په لور واستوله او بله ډله يې له ځان سره واخېسته، د زرمت له لارې يې په کابل حمله وکړه، دکابل خلکو دشاه شجاع په راتلو، محمود مجبور کړ تر څو په بالاحصار کې ځان محاصره کړي، شجاع کابل ونيو او بالاحصار يې محاصره کړ. بالاخره يې بالاحصار ونيو او شاه محمود يې په همدې بالاحصار کې بندي کړ.[1]

---

[1] د افغاني پاچاهانو لنډ ژوندليک

شجاع د پاچا کېدلو سره سم لر او بر لښکرې واستولې، د خپل وزیر شیرمحمدخان مختارالدوله په مرسته یې کندهار له کامران څخه ونیو او کامران هرات ته په تېښته ولاړ.

همدارنگه دشیرمحمدخان په سپارښت یې دوست محمد خان ته یو لک روپۍ ورکړې او فتح خان ته یې ورولېږه، ترڅو یې له کندهاره راولي. دوست محمدخان فتح خان له کندهاره راوست او دواړه له شاه شجاع سره یوځای شول. شاه شجاع فتح خان ته د سردار سرداران لقب ورکړ.[۲]

په کندهار کې یې شهزاده قیصر والي وټاکه خپله کابل او له هغه ځایه پېښور ته راغی،[۳] تر څو دسند او کشمیر صوبې ونیسي.

کله چي شجاع پېښور ته لاړ، فتح خان له شاه شجاع سره کړې سولي ته شا کړه او قیصر ته راغی، هغه یې بغاوت ته وهڅاوو. قیصر بغاوت وکړ او دکابل په لوري ولاړ ، شجاع د قیصر په بغاوت خبر شو راغی. قیصر یې مات کړ، قیصر ښښنه وغوښته، شجاع وبانښه او بیرته یې په کندهار کې په دې شرط والي وټاکه چي د ړانده پلار (شاه زمان) په مشورو به کار کوي.

شجاع د کندهار دستونزي له حل کولو وروسته تالپور ته ولاړ ، د هغه ځای سرداران یې خراج ورکولو ته مجبور کړل.[٤]

فتح خان له کامران سره یوځای او هغه یې په کندهار حملې ته تشویق کړ، کامران په کندهارحمله وکړه، کندهار یې ونیو، شهزاده قیصر شجاع ته پناه یوړه.

شجاع په کندهار حمله وکړه کامران یې تر هرات پوري وځغلاوو.

قیصر یې په کابل کې وټاکه، خپله بیا د شکارپور خوا ته ولاړ.[٥] قیصر په کابل کې د شیرمحمدمختارالدوله بامیزي په پارونې بغاوت وکړ او خواجه محمد خان یې د پېښور نیولو ته ولېږه، هغه له څو بامیزائي سردارانو سره پېښور ونیو، شاه شجاع چي په سند کې خبر شو بېرته راوگرځېد، په تاکال

---
د افغاني پاچاهانو لنډ ژوندلیک

کې د ۱۸۰۸ ز کال دمارچ په درېیمه نېټه جګړه وشوه، قیصر ماته وخوړه او شیرمحمد ووژل شو.[٦]

هغه مهال چې شجاع له شیرمحمد سره په جګړه بوخت وو، محمود دفتح خان په مرسته کندهار ونیو، شجاع له خپل پوځ سره دکندهار خواته راغی، په کلات کې د محمود له پوځ سره چې د دوست محمدخان په مشري یې جګړه کوله، وجنګید، هغه یې مات کړ[۷] او کندهار یې ونیو .

له کندهار څخه پېښور ته ولاړ، په پېښور کې د انګرېزانو له استازو چې د مونت ستیوارت الفنستن په مشري راغلي و، ولیدل، هغوی له شاه شجاع سره یو درې ماده ایز تړون لاسیلک کړ، تړون په دې توګه و:

۱- که چېرته فرانسوي او روسي عسکر د هند په لور راتلل، د شاه شجاع پوځ به یې مخه نیسي.

۲- که چېرته ایراني او فرانسوي لښکرو په افغانستان حمله وکړه، انګرېزي پوځ به له افغانستان سره له هیڅ رنګه مرستې دریغ نکوي.

۳- داتړون به تل برقرار وي او پادشاه به هیڅ فرانسوي کس ته په افغانستان کې داوسیدلو اجازه نه ورکوي.

۱۷ جون ۱۸۰۹ /۲ جمادي الاول ۱۲۲۲ هـ[۸]

له هغه ځایه یې یو پوځ، د مختار الدوله شیرمحمد خان د زوی، عطامحمدخان بامیزي خوا ته چې د کشمیر والي و او بغاوت یې کړی و، واستاوو.[۹]

په دې وخت کې شاه محمود په کندهار حمله وکړه، کندهار یې ونیو او د کابل په لوري وړاندې راغی، شجاع د کابل ددفاع لپاره له پېښوره وخوځېد، خو مخکې تر دې چې کابل ته ورسېږي په لاره دشاه محمودله لښکرو سره مخامخ شو، ماتې یې وخوړه او د پېښور په لوري وتښتېد.(۱۸۰۹ز)

په پېښور کې هم کامران دساه اپستلو ته پرېنښود، دغزني مقر ته لاړ، په (۱۸۱۰ز) کال يې په کندهار حمله وکړه، خو شاه محمود بېرته ډېر ژر ورڅخه ونيو او دی راولپنډی ته وتښتيد.[۱۰]

عطا محمدخان باميزي دی له راولپنډي څخه کشمير ته راوست او بندي يې کړ، کله چې فتح خان په کشمير حمله وکړه، شاه شجاع يې ونيو او محکم چند ته يې وسپاره تر څو يې رنجيت ته ورولي، رنجيت سنګ نوموړی بندي کړ. د ډول ،ډول عذابونو او شکنجو په ورکولو سره يې د کوه نور الماس ورڅخه يووړل، شاه شجاع په زندان کې له څه مودې تېرولو وروسته په دوکه ځان خلاص کړ او په لوديانه کې يې انګرېزانو ته پناه يوړه.[۱۱]

انګرېزانو ورسره مرسته وکړه،او ده د ۲۲ زره هندي او انګرېزي لښکرو په مرسته په کندهار حمله وکړه، کندهار ښار يې څه موده محاصره کړ، خو ماته يې وخوړه او بېرته هند ته راغی.[۱۲]

دا ځل يې د انګريزانو په منځګړيتوب له رنجيت سنګ سره يو تړون وکړ، د تړون مادې په دې توګه وي:

۱- کشمير، اټک، پېښور، ډېره اسماعيل خان، ډېره غازي خان، ملتان او د هغوی سره تړلې سيمې به درنجيت سنګ په ملکيت کې وي، شاه شجاع او نسل يې ددعوې حق نه پرې لري.

۲- شاه شجاع به هيچا ته هم اجازه نه ورکوي، چې د خيبر دې لور ته فساد وکړي.

۳- د ستليج له سند څخه تيريدل به دخالصه جي (رنجيت سنګ) تر اجازې پوري منحصر وي.

٤- د شکارپور او سندي ښار تړاو به يواځې له انګريزانو او رنجيت سنګ سره وي.

٥- شاه شجاع به دکابل او کندهار دانتظام په مقابل کې رنجیت سنگ ته پنځه پنځوس ځوان آسونه، یوولس قبضي ایراني اصیلي توري، پنځویشت قاطرې، وچې او تازه مېوې، ایراني غالي، کمخواب او رنگه اطلس هرکال ورکوي.

٦- دترون ددرې گونو اړخونو ترمنځ به دالقابو او لیکونه لېږل رالېږل پاته وي.

۷- دآسانو تجاران که وغواړي چي درنجیت سنگ په واک پوري محدود ولایتونو ته آسونو راولي، شاه شجاع به یې ممانعت نه کوي او رنجیت سنگ به هم مقابل اړخ ته له دې چلند نه کار اخلي.

۸- رنجیت سنگ به کال په کال پشمینه ٥٥ پارچې، ململ ۲٥ تانه ، کمخواب ٥ تانه، بنارسي شالونه ۲۱ تانه ، سپیني لنگی ٥٥ تانه، ورځي ٥٥ آباره شاه شجاع ته دتحفې په توگه لیږي.

۹- که درنجیت سنگ او یا شاه شجاع ملگري دسرحدونو دواړو خواوو ته دځه اخیستلو لپاره ځي، د رنجیت سنگ او شاه شجاع له لوري به یې عزت کېږي.

۱۰ – که چېري دشاه او رنجیت سنگ پوځونه سره یوځای شي، د ښلتون هڅې به یې نه کېږي.

۱۱- که چېري درنجیت او شاه پوځونه یوځای دبارکزیانو په وړاندي وجنگېږي، نو دغنیمت نیمائي به رنجیت سنگ ته ورکول کېږي او که یواځي د شاه لښکرې وجنگېږي، نو غوره جواهر، آسونه او توري به رنجیت سنگ ته دتحفې په شکل استول کېږي.

۱۲- دشاه او رنجیت سنگ سفیران به تل یو د بل په دربارونو کې دسفیرانو په حیث له تحایفو سره اوسي.

۱۳- که چېرې رنجیت سنگ دشاه شجاع پوځ دمرستې لپاره وغواړي، شاه شجاع به پوځ له څو لويو سردارانو سره ورلېږي او که چېرې شاه د رنجیت پوځ وغواړي، نو رنجیت به يې وراستوي او که چیري رنجیت پېښور ته ورغی، نو هلته به يي ديوه شهزاده له لوري استقبال کېږي.

۱٤- د شاه، رنجیت او انگريزانو دوست او دښمن به يو وي.

۱۵- دوه لکه کالداري به هر کال دشاه له لوري رنجیت ته استولي کېږي، چي په بدل کې به يې پنځه زره مسلمان عسکر همیشه د شاه ملاتړي ولاړ وي. که چېرې دلوېديز له لوري کومه مسئله راپورته شوه، شاه به يې درنجيت او انگرېزانو په مرسته او مشوره حلوي.

۱٦- شاه او دهغه زامن به په سندیه بنار هیڅ تسلط نه لري، چي په بدل کي به انگريزان شاه ته دېرش لکه روپۍ ورکوي، چي شاه به پنځلس لکه رنجيت ته ورکوي او نوري به ځان ته گرزوي.

۱۷- که شاه شجاع په کابل او کندهار کې واک تر لاسه کړ نو په هیڅ توگه به په هرات حمله نه کوي.

۱۸- شجاع الملک او د سدوزي کورنۍ نور غړې به درنجيت سنگ او انگرېزانوله مشورې پرته له چا سره اړيکي نه ټېنگوي، که چا په رنجيت او انگرېز د حملې هڅه وکړه، سدوزي کورنۍ به تر خپلي وسي مقاومت کوي.

پورتنۍ مادې درنجيت سنگ، انگريزانو او شجاع الملک له لوري په خوښې سره تائيد کړای شوې، پورتنۍ تړون به د ټولو شرايطو په پوره کېدلو سره تل پاته وي او د درې واړو لورو له امضاء وروسته به عملي کېږي.

لیکنه د۱۸۹۵ ز کال دهارسنبت دمیاشتې پنځلسمه ، لاهور".[۱۳]

ددې تړون په امضاء کولو انگرېزانو شاه شجاع له ځان سره واخېست او د بلوچستان له لاري یي په کندهار حمله وکړه، کندهار يې په ۲۵ اپریل ۱۸۳۹ ز کال ونیو،[۱٤] له هغه ځایه د غزني په لوري وخوځېدل، په غزنې کې

یې د دوست محمد خان له زوی شهزاده حیدر سره جګړه وکړه، غزني یې په ۲۳ جولای ۱۹۳۹ کې ونیو او د کابل په لوري وړاندي لاړ،[۱۵] کابل یې په ۷ اګست ۱۹۳۹ ء ونیو او شاه شجاع ددوهم ځل لپاره پاچا شو.[۱۶]

وخت نه وو تیر شوی چي، افغانانو دانګرېزانو په وړاندي پاڅونونه وکړل، په ۲ نومبر ۱۹٤۱ کې غازیانو دبرنس کور محاصره او هغه یې وواژه.[۱۷] دوست محمد خان هم له بخارا څخه راغی، خو له څه وخت جنګ وروسته انګرېزانو ته تسلیم شو، د هغه له تسلمیدلو وروسته یې زوی اکبرخان له بخارا راورسید، دي مېړني زلمي انګرېزانو ته دافغانستان خاوره سره تبۍ وګرځوله، اکبرخان مکناټن وواژه او انګرېزان یي دشیرپور په تخلیه مجبور کړل.

انګریزان له کابل څخه ووتل او دجلال آباد په لوري روان شول. د جلال آباد په لاره دتړون دشرطونو دنه عملي کولو له امله ورباندي افغان غازیانو برید وکړ او له شپاړس زره کسیز لښکر څخه یې یوازي داکټر برایدن ژوندی تر جلال اباده ورسید. شاه شجاع چي کله دغازیانو قوت په زیاتېدلو ولید، له امین الله لوګري سره یې دیوه تفاهم په نتیجه کي ومنله چي نواب زمان خان به وزیر وي او دی به دوزیراکبرخان مرستې ته ورخوځېږي. اکبرخان ته چي کله داخبر ورسید لیک یې راولېږه او ویې لیکل چي که چېری شجاع د انګرېزانو په وړاندي په رښتیا درېږي، نو علني جهاد دي اعلان کړي، که چېري ده جهاد اعلان کړ نو بیا زه هم دده تر قومانده لاندي جنګېږم.[۱۸] خو شاه شجاع ناغیږي کوله او نه یې غوښتل چي جهاد اعلان کړي. د کابل غازیانو مجبور کړ تر څو د هغوی په مرسته دجلال آباد په لور وخوځي او هلته انګریزي پوځ چې په چوڼۍ کې محاصره وو، تر تیغ تېر کړي.

شجاع مجبوراً دڅه پوځ په مرسته روان شو، خو حرکت یې ډېر سوکه وو، تر دې چي دشاه شهید او سیاه سنګ په مېنځ کې ۱۲۵۸ کال دصفري د

میاشتي په ۲۳ نېټه (۱۵ اپریل ۱۸٤۲ز) دشجاع الدوله بن زمانشاه بارکزي له لوري ووژل شو.[۱۹]

دکابل په چارباغ کي د پلار څنګ ته دفن کړای شو[۲۰] او له هغه وروسته یې زوی فتح جنګ دځه مودې لپاره واکمن شو.

---

[۱] - ماخذونه یې تېر شوي دي.

[۲] - رجال و رویدادهاي تاریخي افغانستان ٤۵ مخ. احمدعلي کهزاد،دانش کتابخانه ۱۳۷٦ سرطان هـ ش،، پېښور،پاکستان.

[۳] - افغانستان درمسیر تاریخ ۳۹۳ مخ ،۱ ټوک. میرغلام محمدغبار. مرکز نشر۔ انقلاب با همکاری جمهوری . ۱۳٦٦ هـ چاپ.

[٤] - پښتانه دتاریخ په رڼا کي ۷۲۷ مخ . سیدظفر کاکاخیل،یونیورسټي بک ایجنسي پېښور پښتونخوا . ۲۰۰۹ ز کال چاپ .

[۵] - افغانستان درمسیرتاریخ ۳۹۵ -۳۹٦ مخونه،۱ټوک.

[٦] - رجال ورویدادهاي تاریخي افغانستان ،له ٤۵ او ٤٦ مخونو لنډیز.

[۷] - افغانستان درقرن ۱۹، ۲۳ مخ،سیدقاسم رښتیا. بنګاه انتشارات میوند، پنځم چاپ، ۱۳۸٤هـ ش.

[۸] - افغانستان درمسیر تاریخ، ۳۹۰ مخ ۱ټوک.

[۹] - پښتانه دتاریخ په رڼا کي، ۷۳۰ مخ .

[۱۰] - افغانستان از امیر کبیر تارهبیر کبیر ٦۹ مخ. علامه عبدالحق مجددي و داکتر فضل الله مجددي،بنګاه انتشارات میوند، ۱۳۸۷هـ ش.

[۱۱] - افغانستان درمسیرتاریخ، ٤۰۰ مخ ۱ ټوک.

[۱۲] - درقرن ۱۹، ۷٤ مخ (متن او حاشیه) .

[۱۳] - رجال ورویدادهاي تاریخي افغانستان، ۱۲۵-۱۲۸ مخونه.

[۱٤] - افغانستان درمسیر تاریخ ۵۲۹ مخ. په افغانستان درزوایاي تاریخ کي ۱۵ اپریل ښودل شویدی.

[۱۵] - رجال ورویدادهاي تاریخي افغانستان، ۱۳۲ مخ .

[۱٦] - درمسیر تاریخ ۵۳۳ مخ،۱ ټوک.

[۱۷] - په افغانستان کې دیوه بندي خاطرات، ۳۱مخ،بریدمن وینسینټ ایر،ژباړن :نسیم سلیمي،علامه رشادخپرندویه ټولنه،۱۳۸٦هـ ش.

[۱۸] - درقرن ۱۹ ، ۱۵۲ -۱۵۳ مخونو لنډیز.

[۱۹] - رجال ورویدادهاي تاریخي افغانستان، ۱۵۷ مخ.

[۲۰] - درقرن ۱۹ ، ۱۵۵ مخ .

# سلطان علي شاه

سلطان علي شاه د زمان شاه زوی،د تیمورشاه لمسی او د احمدشاه بابا کړوسی و.

کله چې په افغانستان کې خپلمنځي جګړې شروع شوې، شاه شجاع د محمود له لاسه سکانو ته وتښتید، محمود له فتح خان سره په ناخوانی کې یواځي ترهراته محدود شو. په کابل کې بارکزي ورونه واک ته ورسیدل، هغوی هم په خپل منځ کې ارام نه کښېناستل، هر سردار خپل باچا پیدا کړ، محمد عظیم خان ایوب شاه دتش په نوم پاچا په توګه ومانه او دوست محمدخان سلطان علي شاه پاچا او ځان یې د هغه وزیر کړ.[۱]

دا دواړه واکمنان په یوه قصر کې اوسیدل، د دوست محمد خان او سردار عظیم خان تر منځ تر ډېره په دې مجادله وه، چې کوم یو به باچا کوي..په پای کې دوست محمدخان دغزني په لور لاړ.[۲]

سلطان علي شاه او ایوب شاه هم په قصر کي غلي نه کښېناستل، یو د بل په ضد یې دسیسې شروع کړې او د یو بل د را پرځولو لپاره یې سرداران دځان تابع کول.

دا دواړه سدوزي شهزادګان د ژوند تر وروستۍ مودې خپلواکی ته ونه رسیدل او د بارکزي سردارانو په لاسونو کي لوبیدل.

په پایله کې د ایوب شاه زوی شهزاده اسمعیل را ولاړ شو او سلطان علي شاه یې د خوب په خونه کې خفه کړ[۳].په دې توګه له دوو لاسپوځو شهزادګانو څخه یواځې ایوب شاه پاتې شو.

---

**سرچينې :**

[۱]- افغانستان از امیر کبیر تا رهبر کبیر(حقیقت التواریخ) ۷۵ مخ ، علامه عبدالحق مجددي و داکتر فضل الله مجددي.بنگاه انتشارات میوند. ۱۳۸۷هـ ش.

[۲]- پورتنی ماخذ.

[۳]- رجال ورویدادهاي تاریخي افغانستان ٦۰ مخ. احمدعلي کهزاد.دانش کتابخانه ۱۳۷٦ سرطان هـ ش.، پېښور،پاکستان.

# ایوب شاه

ایوب شاه د تیمورشاه زوی، د احمدشاه بابا لمسی و، کله چي په افغانستان کې ملوک الطوائفي جوړه شوه، نو محمد عظیم خان د تش په نوم واکمن په لټه کې شو، له شاه شجاع څخه یې هیله وکړه، هغه نټه وکړه او د بې شرطه مرستې او هیڅ رنګه پابندي نه منلو په صورت کې چمتو و.[1]

په دې وخت کې یې ایوب شاه وموند او محمد عظیم خان هغه ته د پاچهي وړاندیز وکړ، هغه هم ومانه اوخان یې د پاچا په توګه اعلان کړ (۱۸۱۹ز)، خو دوست محمدخان د محمد عظیم خان ورور،سلطان علي شاه په تخت کېنولی وو، له همدې امله د دواړو واکمنانو ترمنځ مجادله پیل شوه.د ایوب شاه زوی اسمعیل سلطان علي شاه ووژه او ایوب د واحد لاسپوځي واکمن په توګه ومنل شو .

محمدعظیم خان په ۳۸ کلنی کې وفات شو او پر ځای یې زوي حبیب الله خان د ایوب شاه دوزیرپه توګه کېنوست، حبیب الله خان هم ایوب شاه بې لاس اوپښو کړی و، په اسمعیل دا خبره ښه نه لګېده اوغوښتل یې د حبیب الله خان چاره وکړي، خو له کندهاره پردل خان راغی، شهزاده اسمعیل یې ووژه او ایوب شاه یې له پلازڅخه لري کړ، په دې توګه د لاسپوځو سدوزئي شهزادګانو واکمني ختمه شوه.[2]

---

[1] – پښتانه دتاریخ په رڼا کې ۷٤۸مخ . سیدبهادرشاه ظفرکاکاخیل . یونیورسټي بک ایجنسي پېښور پښتونخوا. ۲۰۰۹ ز کال چاپ .

[2] - رجال وروېدادهاي تاریخي افغانستان۶۰ مخ ،احمدعلي کهزاد، احمدعلي کهزاد، دانش کتابخانه ۱۳۷۶ سرطان هـ ش.، پېښور پاکستان.

# امیردوست محمد خان

امیر دوست محمد خان د سردار پائنده خان زوی د جمال خان بارکزي لمسی او دسردار فتح خان ورور دی.

امیر دوست محمد خان په ۸ جمادي الاول ۱۲۰۷هـ ق[1] چي له ۱۷۹۲ ز کال سره سمون خوري، د سردار پائنده خان په کور کې دې نړۍ ته سترګې وغړولې.

امیر دوست محمد خان د ماشومتوب او ځواني دوره د یوه سیاستمدار سردارپه کور کې تېره کړه. هغه له ماشومتوبه له سیاست او سیاسي چارو سره بلد و.

په کابل کې د واک له ترلاسه کولو وروسته یې له امیرمحمد اخندزاده څخه مروج علوم ولوستل، په دې برسېره دی په فارسي، پښتو، ترکي، اردو، پنجابي او کشمیري ژبو ګړېدای شوای.[2]

امیر ۱٤ نکاحي ښځې درلودې او ۱۰ وېنزي. له هغوی څخه یې ۵۲ اولاده ،۲۹ نارینه او نوري انجونې وي.[3]

کله چي د شاه زمان له لوري پائنده خان ووژل شو، نو د پائنده خان زامن دخپل مشر ورور فتح خان په مشرۍ د زمان شاه په وړاندې ودرېدل، چي په همدې ورونو کې امیر دوست محمد خان هم رغنده رول لوباوو.

محمود چي کابل ونیو(۱۲۱٦س)، فتح خان یې د "شاه دوست" په لقب د ځان وزیر کړ. فتح خان خپل یووېشت وروڼه د بېلا،بېلو ولایتونو د والیانو په حیث وټاکل.

شاه شجاع د خپل ورور دانتقام لپاره چمتوالی ونیو، فتح خان د خپل ورور دوست محمدخان په مرسته د هغه په وړاندي ودرېد، لومړی یې هغه ته

شکست ورکړ، خو وروسته د خیانت له امله ناکام او د کندهار په لوري وتښتېدل.

شاه شجاع غوښتل له همدې کورنۍ (دپائنده خان له زامنو) سره یوځای شي، د همدې لپاره یې د فتح خان ورور اسدخان مامور کړ تر څو فتح خان او نورو وروڼه پلازمېني ته را وغواړي.

داسد خان په بلنه تر ټولو له مخه دوست محمدخان راغی او له شاه شجاع سره یوځای شو، شاه شجاع دهغه خور ځان ته په نکاح کړه.[٤]

دوست محمد خان فتح خان هم راووست او دواړه له شاه شجاع سره یوځاي سول.خو وخت نه وو وتلی چي شجاع او فتح خان یو په بل بې اعتباره شول، کله چي شاه شجاع په یوه یون کې د پېښور خوا ته تر تبزین ورسید، فتح خان په پلازمېنه کابل کي بغاوت وکړ، شاه شجاع بیرته راوګرځید او فتح خان او وروڼه یې مغلوب کړل. فتح خان دکندهار په لوري وتښتید او شهزاده قیصر یې وهڅوو تر څو ځان د پاچا په توګه اعلان کړي، شهزاده قیصر دکابل په لوري حرکت وکړ،خو په لاره کې فیض الله خان پوپلزائي له پنځو زروتنو سره ورځخه بیل شو، دوی مجبوراً بېرته دکندهار په لور وګرځیدل، مخکي تر دې چي دوی کندهار ته ورسیږي، کامران د محمود زوی ددوی د نه شتون څخه په ګټه اخستلو کندهار نیولی و.

.فتح خان کامران ته ورغی او له هغه یې د کندهار د پرېښودلو غوښتنه وکړه، هغه ونه منله. مجبوراً بیرته قیصرته راغی، هغه هم شاه شجاع ته احوال واستاوو، تر څو یې مرستي ته راشي، شاه شجاع له څه ځنډ وروسته د کندهارپه لور راوخوځید، بارکزي وروڼه ووېریدل او د هرات په لوري وتښتیدل.

شهزاده قیصر هم په ځان ووېرید او هلته ولاړ، شاه شجاع کندهار ونیو او له دوست محمدخان او فتح خان سره دسولي په هڅه کې شو، هغوی ته یې

---

عفوه وکړه او ورسره يوځای شو. دوست محمدخان ته يې يولک روپۍ او آس هم ورکړ.[۵]

په همدې وخت کې رنجيت سنگ داسقلال اعلان وکړ، شاه شجاع له دوست محمد خان او فتح خان سره يوځای هغه لوري ته ولاړ، خو ددیره غازي خان له حکومت څخه دميرعلم خان په عزلېدلو د فتح او شجاع تر منځ بيا اختلاف پيدا شو، فتح او دوست محمدخان په پټه هرات ته د حاجي فيروزالدين خواته ورغلل.[٦]

حاجي فيروزالدين يي وهڅاوو، تر څو خپل سلطنت پراخ کړي،خو هغه يي غوښتنې ته پاملرنه ونه کړه، فتح خان او دوست محمد خان کندهار ته راغلل او له شهزاده قيصر سره يوځای شول،شهزاده قيصر فتح خان ونيو ، دوست محمد خان اومحمد عظيم خان له ښاره ووتل او له فراه څخه يې د پوځ په ترلاسه کولو کندهار محاصره کړ، تر څو کندهار ونيسي ، خو شهزاده قيصر له فتح خان سره سوله وکړه او په بدل کې يي محمد عظيم خان د يرغمل په توگه ونيو.

دوست محمدخان د وخت په انتظار و.

هغه مهال چې محمود د بالاحصار له زندانه وتښتېد، فتح خان او دوست محمدخان ورسره يوځای او گرېشک ته ولاړل.[۷]

محمود دوهم ځل پاچهي ونيوه او فتح خان يې بيا دخپل وزير په توگه اعلان کړ، دوست محمد ته يې هم په درنه سترگه کتل. د محمود د وخت بغاوتونه فتح خان د دوست محمدخان په مرسته وځپل ، چې له امله يې، محمود او ملت ته دوی نور هم محبوب شول.

د ايرانيانو د يرغل پر مهال چې کله فيروزالدين له شاه محمود څخه مرسته وغوښته، فتح خان ايرانيان مات او فيروزالدين يې کابل ته راووست. فتح خان دوست محمدخان د فيروزالدين د مال په ضبطولو وگماره، دوست

محمد سره له دې چې مال يې ضبط کړ،د ملک قاسم د میرمنې چې د شاه محمود لور کیده، بې عزتي يې هم کړې وه. له همدې امله شاه محمود او فتح خان ډېر قهرجن شول، دوست محمد جواهر له ځان سره واخستل او کشمیر ته وتښتید، هلته يې محمدعظیم خان (بل ورور ته) پناه یوړه، فتح خان عظیم ته لیک ولېږه تر څودوست محمدپه کوه ماران کلا کې بندي کړي او جواهرات ترې واخلي.

خو د محمود زړه فتح خان ته هم سپین نه شو، کامران ته يې امر وکړ، ترڅو فتح خان ړوند کړي.(۱۸۱۸ز)

دوست محمدخان او عظیم خان د فتح خان په ړندیدلو د محمود په وړاندې ودرېدل، شاه شجاع ته يې احوال واستاوو، تر څو راشي،پخواني اختلافات هیر کړي او ددوی په مرسته پلاز تر لاسه کړي، خو شاه شجاع ونه منله.

په دې وخت کې عظیم خان سلطان ایوب شاه او دوست محمدخان سلطان علي شاه دواکمن په توګه وټاکه، هغوی دواړه په کابل کې د واکمنانو په څېر اوسیدل.[۸]

کله چې بارکزي وروڼو دمحمود د حکومت پله واړوله،نو په خپلو منځونو کې هم متحد پاته نشول، عظیم خان او دوست محمد خان د خپلو واکمنانوپه سر، سره مخالف شول. په پای کې دوست محمد غزني ته ولاړ او د هغه ځای واک يې په لاس کې ونیو.[۹]

د بارکزي وروڼو د واکمنۍ په وخت کې دېره غازیخان او دیره اسمعیل خان سکانو چې د رنجیت سنګ په مشرۍ جنګېدل، ونیول. محمد عظیم خان خان د مخنیوي لپاره ورغی، خو د غلط راپور په اساس بېرته راوتښتید، له پېښوره، جلال کوټ ته راغی، دوست محمدخان يې د پاشلو قواوو په

یوځای کولو مامور کړ او همدلته دلته بند په کوتل کې د ناروغۍلامله په۳۸کلنۍ کې وفات شو.(۱۸۲۳ز۱۲۳۸هـ ش)[۱۰]

تر محمد عظیم خان وروسته یې زوی حبیب الله خان په کابل کې خان د ایوب شاه دوزیر په توګه اعلان کړ،.خو پردل له کندهارڅخه راغی، ایوب شاه یې له تخت څخه لرې کړ.

پردل خان د کابل حکومت حبیب الله ته وسپاره او خپله کندهار ته ولاړ،[۱۱] حبیب الله خان دمحمدعظیم خان په خزانو عیاشي شروع کړه، ملت اوسرداران یې ترې په عذاب شول، دا مهال دوست محمد خان له پېښور څخه کابل ته راغی، لومړی یې حبیب الله خان ښه هرکلی وکړ خو وروسته یې نیت بدل شو او غوښتل یې چې دوست محمد خان ړوند کړي، دوست محمد خان خبرشو،کوهستان او بیا غزني ته وتښتید. له تیاري نیولو وروسته یې په کابل حمله وکړه،خو دکابل مشرانو د دوست محمد خان او حبیب الله تر منځ روغه وکړه،[۱۲] چې په پایله کې یې حبیب الله خان اړ و، دوست محمدخان ته د وردک او غزني مالیات ورکړي او حبیب الله خان به د کابل والي وي.

دوست محمد خان له سولې وروسته غزني ته راوګرځید، په زړه کې په سوله خوښ نه و، له همدې امله یې په تیاریو پیل وکړ.

حبیب الله خان چې د دوست محمد خان چمتووالی ولید، له کندهاري ورونو (شیردل، پردل، کهندل، رحمدل، مهردل) څخه یې مرسته وغوښته، هغوی یې هم مرستې ته راودانګل. مخکې تر دې چې کندهاري وروڼه د حبیب الله خان مرستې ته راورسیږي، دوست محمد خان په کابل حمله وکړه، خو دا ځل بیا ملي مشرانو د دوست محمد خان مخه ونیوه او هغه یې سولې ته راضي کړ.

---

د افغاني پاچاهانو لنډ ژوندلیک

دوست محمد خان په همدې پرېکړه خوښ نه و، له بل لوري حبيب الله خان هم توطئه جوړه کړې وه، غوښتل يې دوست محمد خان ونيسي، دوست محمد خان بيا خبر شو او د غزني په لور په تېښته ولاړ ،هلته يې لښکري چمتو کړې.[۱۳]

په همدې کې سردارشيردل خان کابل ته راورسېد، هغه ددې لپاره چي وضع کنترول کړي،حبيب الله خان او دوست محمدخان يې دواړه زنداني کړل، خو وروسته يې خوشې او دوست محمد خان ته يې د محمدعظيم خان له خزانې څخه يو لک روپۍ ورکړې.[۱٤]

بارکزي وروڼو پرېکړه وکړه تر څو يو مرکزي حکومت جوړ کړي، په همدې مجلس کې وويل شول چي دوست محمدخان بايد زنداني او يا ړوند کړای شي، دا خبر تر دوست محمد خان ورسيدله، هغه سمدستي په بالاحصار حمله وکړه او شيردل خان يې محاصر کړ، تر منځ يي ډېر جنګونه وشول خو په پايله کې دواړه لوري سولي ته چمتو شول، شيردل خان د مشرپه حيث او دوست محمد خان د کوهستان د والي په توګه وټاکل شو.

دوست محمد خان دا ځل بيا په دې پريکړه خوښ نه و، له څه مودې وروسته يي په کابل حمله وکړه، سلطان محمدخان يي په ۱۸۲۷ز کال دپېښور لور ته په تېښته مجبور کړ[۱۵]، دوست محمدخان له هغه وروسته دجلال آباد لور ته په مخ ولاړ او هغه ځای يې هم ونيو.

کله چي شاه شجاع د بارکزي وروڼو په منځ کې نفاق وليد، د بلوچستان له لاري يې په کندهار حمله وکړه،کندهاري وروڼو له دوست محمد خان څخه مرسته وغوښته، دوست محمدخان هم د هغوی مرستې ته ورغی، شاه شجاع مات او د سند په لوري وتښتيد.[۱٦]

ددې جګړي له امله کندهاري وروڼه په څرګنده له دوست محمدخان سره يوځای شول، همدارنګه کله چي شجاع او دوست محمدخان په جګړو

بوخت وو، رنجیت سنگ په استفاده سره په پېښور حمله وکړه، سلطان محمد خان طلايي او د هغه وروڼه يي تېښتي ته مجبور کړل او هغوی ټول کابل ته راغلل، له دوست محمد خان سره يوځای شول .

افغانانو چې کله واورېدل، رنجیت سنگ په پېښور حمله کړې ده، د هغه په ضد يې د جهاد کولو هوډ وکړ، دا چې جهاد پرته له يوه اميره نشي کېدلای، نو ځکه دوست محمد خان چې همدې موقعې ته منتظر و، د علماوو، اميرانو او ورونو په خوښه ځان په کابل کې د ډېرو ساده مراسمو په ترځ کي د پاچا په توگه اعلان کړ.(۱۸۳۵ز/۱۲۵۲هـ)

حاجي مير، دميرواعظ زوی د سياه سنگ په عيدگاه کي د دوست محمد خان په لنگۍ کې د اوربشو اوړی وتومبو، په دې توگه يې افغاني پيداوار د تاج زينت وگرځېد. همدارنگه د اميرالمؤمنين لقب يې ورته ورکړ.[۱۷]

دوست محمد خان يو لس زره کسيز لښکر د سلطان محمد په مشري د پېښورپه لوري واستاوو، سيکان چي کله د هغوی له راتللو خبر شول، نو د مېراني پرځای يې له فريب څخه کار واخيست، څپل څو مشران يې د سلطان محمد کمپ ته ورولېږل، هغه يې په طمعو او وعدو سره د دوست محمدخان په وړاندي ولمساوو، سلطان محمدخان هم په شپه کي له افغاني کمپ څخه د سکانو کمپ ته وتښتېد، په دې توگه افغاني پوځ تار ، مار شو.(مي ۱۸۳۵ز)[۱۸]

خو دوست محمد خان ناهيلي نشو او په ۱۸۳۷ ز کال د مي په مياشت کې يې خپل زوی محمداکبرخان له يوه لښکر سره پېښور ته واستاوو، تومورې د جمرود په مقام کې له سيکانو سره جگړه وکړه، هغوی ورسره مقابله وکړه، د اهري سنگ په زخمي کيدلو يې مورال له لاسه ورکړ او شاتگ ته اړ شول. افغانانو غوښتل د لواړگي په کلا حمله وکړي، خو دوست محمد بيرته کابل ته راوغوښتل.[۱۹]

دوست محمد خان له انګرېزانو څخه هیله وکړه چې سکان له پېښور څخه وباسي، انګرېزانو یې همدا هیله ونه منله. دوست محمدخان مجبوراً له روسېې سره لار یوړه، روسي سفیر "ویکویچ" یې په کابل کې ومانه،[۲۰] انګریزانو دا د خان لپاره عار وبلله او په کابل یې د حملې هوډ وکړ.

انګرېزانو د همدې موخې لپاره د سکانو په ملاتړ له شجاع سره یو تړون وکړ، په تړون کې شجاع له څېنو سیمو څخه لاس په سر شوی و، انګرېزانو په دې نوم چې سدوزي کورنۍ واک ته رسوي، په افغانستان حمله وکړه.(۱۸۳۹ز)

انګرېزان او شجاع د بلوچستان له لارې په کندهار را کښته شول، په ٥ اپریل ۱۹۳۹ زکال یې کندهار ونیو، له هغه ځایه د غزني په لور روان شول، په غزني کې یي شهزاده حیدر ته ماتې ورکړه او غزنی یې ونیو، له هغه ځایه د کابل په لوري وخوځیدل ،په ٦ اګست ۱۹۳۹ ز کال یي کابل ونیو.[۲۱]

دوست محمد خان له کابل څخه د بامیان په لوري په شاشو، خو انګرېزانو د کپتان اوترم په مشري یوه ټولي دده د نیولو لپاره د بامیان په لوري ولېږله، دوست محمد خان له بامیانو څخه بخارا ته وتښتید.[۲۲]

افغانانودځپل عادت سره سم ددې یرغل په وړاندې پاڅونونه پیل کړل.

له بلې خوا امیر دوست محمد خان چې بخارا ته تښتېدلی و، د موقعې په لیدلو له بخارا څخه راغی، اوزبکان ورسره یوځای سول، په سمنګان کې یې له انګرېزانو سره جګړه وکړه، انګرېزان مات شول.[۲۳]دوست محمد خان کوهستان ته ولاړ، هلته د کوهستان خلک ورسره یوځای سول، د کابل څخه هم کومکونه راغلل، دوست محمد خان د پروان په سیمه کې په ۲ نومبر ۱۸٤۱ ز نېټه له انګریزانو سره لویه جګړه وکړه، انګرېزان مات شول، خو دوست محمدخان دا ټول بریالیتوبونه پرېښودل او کابل ته راغی، ځان یي د انګرېزانو سفیر میکناټن ته وسپاره. د همدې کار لامل یې جوت نشو.

میکناټن د دوست محمد خان هرکلي وکړ، خو له څه مودې وروسته یې له کورنۍ سره یوځای د هند کلکتې ته تبعید کړ.[٢٤]

دوست محمد خان تر هغه د هند په بېلا،بېلو سېمو کې د نظر بندپه توګه شپې ورځې تېرولې، چې زوی یې غازي اکبرخان د بخارا څخه دبدخشان له لارې تر کابل راورسید، په کابل کې یې جنګونه وکړل، میکناټن یې وواژه او انګریزان ماتې ته مجبور شول، شېرپور یې تخلیه او جلال آباد ته ورسیدل، خو دوست محمدخان له انګرېزانو سره د نظربندی په حالت کې تړون وکړ چې، په پایله کې یې دوست محمد خان، اکبرخان ته احوال واستاوو، تر څو له جنګه لاس واخلي. د نبنې په توګه یې خپلې عینکې او د نسوارو قطعی ورسره مل کړ.[٢٥]

امیردوست محمد خان په ۲۵ اکتوبر ۱۸٤۲ ز (۱۲۵۹هـ ق) کال کابل ته راغی او د دوهم ځل لپاره پاچا شو.

امیردوست محمد خان هغه مهال چې سیکان او انګرېزان په خپل منځ کې سره وموښتل، په پېښور حمله وکړه، هغه یې ونیو، خو وروسته بیرته د انګرېزانو له لورې ترې ونیول شو.[٢٦]

دوست محمد خان په دوهم ځل پاچهي کې د افغانستان لپاره ځیني کارونه وکړل، هغه خپل زامن او لمسیان د بېلا، بیلو ولایتونو په حکومتونو وټاکل، محمدافضل خان د بلخ حاکم، محمداعظم خان د خوست ، محمدشریف د فراه حاکم، محمد امین د کندهار او محمدعلیخان د کابل والي و.

دافغانستان د یووالي لپاره یې په ډېر پراخ زړه انتظار وکړ، کندهار یې ددوهم ځل پاچهي په پنځلسم کال او هرات یې په شلم کال ونیو.

دوست محمدخان په دوهم ځل پاچهي کي له هرات څخه پرته ټول افغانستان تر خپلي ولکي لاندي راووست، د همدې لپاره یې ډېر جنګونه او لښکرکشی وکړې.

دوست محمد خان ددې لپاره چي نوریه افغانستان کې دتل لپاره انارشیزم او ملوک الطوائفي ختمه شي، د هرات په لوري وخوځید.

هغه وخت په هرات کي سلطان احمدخان والي و، دوست محمدخان په ۱۰ صفر ۱۲۷۸ هجري قمري کال (اګست ۱۸٦۱ز) کي هرات ښار محاصره کړ.[۲۷] د ذوالحجې په ۸ ، ۱۲۷۹ هجري قمري (مي ۱۸٦۲) یې د هرات ښار ونیو، خو ښار ته په داسي حال کي ننوت، چي سلطان احمدخان او دده لور (دسلطان احمد خان میرمن) وفات شوي وو.

دوست محمدخان د ژوند په وروستیو کي شېرعلي خان د ځای ناستي په توګه وټاکه او په۲۱ ذوالحجه ۱۲۷۹ سپوږمیز کال (۱۸٦۲ز جون۹) دهرات له فتحې ۱۳ ورځې وروسته وفات شو.[۲۸] انالله وانا الیه راجعون.

**سرچینې**:

[۱] - افغانستان درقرن ۱۹، ۲۰٦ مخ، ۱ټوک، سیدقاسم رشتیا .بنګاه انتشارات میوند، پنځم چاپ، ۱۳۸٤هـ ش.

[۲] - پورتنی ماخذ، ۱۰۸مخ .

[۳] - همدا ماخذ، ۲۱۵مخ.

[٤] - هماغه ماخذ ،۱٦ مخ.

[۵] - رجال وررویدادهاي تاریخي افغانستان،۱۵مخ. احمدعلي کهزاد،دانش کتابخانه ۱۳۷٦ سرطان هـ ش،، پیښور،پاکستان.

[٦] - افغانستان درقرن ۱۹، ۱٤ مخ.

[۷] - پښتانه دتاریخ په رڼا کې۷۲۸مخ. سیدظفر کاکاخیل،یونیورسټي بک ایجنسي، پیښور پښتونخوا ، ۲۰۰۹ ز کال چاپ .

[۸] - تفصیل او ماخذ یې په اړوندو بحثونو کې تېر شویده.

[۹] - از امیر کبیر تا رهبر کبیر۷۵مخ . علامه عبدالحق مجددي و داکتر فضل الله مجددي،بنګاه انتشارات میوند، ۱۳۸۷هـ ش.

[۱۰] - افغانستان درقرن ۱۹، ۵۳مخ .

[۱۱] - افغانستان درمسیرتاریخ، ۵۱۲مخ ۱ټوک. میرغلام محمدغبار. مرکز نشر انقلاب با همکاری جمهوری . ۱۳٦٦ هـ چاپ.

[۱۲] - رجال وروېدادهاي تاریخي افغانستان، ٦٦مخ.

[۱۳] - افغانستان درقرن ۱۹، ۵۸ مخ.

[۱٤] - رجال وروېدادهاي تاریخي افغانستان، ٦۷مخ.

[۱۵] - افغانستان درمسیرتاریخ، ۵۱٤ مخ.

[۱٦] - از امیر کبیر تارهبیر کبیر،۷۷ مخ.

[۱۷] - در زوایاي تاریخ معاصر افغانستان،۱۲۸ مخ. احمدعلي کهزاد،دانش کتابخانه. ۱۳۷٦ هـ ش سرطان ،پېښور ،پاکستان.

[۱۸] - پښتانه دتاریخ په رڼا کې،۷۷۹ مخ.

[۱۹] - افغانستان ترورستي افغانه،۱۵۰ مخ. ۱ټوک،غلام محمد زرملوال،دانش خپرندویه ټولنه ،۱۳۸۳ ل.

[۲۰] - افغانستان درمسیرتاریخ ،۵۲۱ مخ.

[۲۱] - تفصیل یې مخکې تېر شویده.

[۲۲] - پښتانه دتاریخ په رڼا کې،۷۹۱ مخ.

[۲۳] - افغانستان درقرن ۱۹، ۱۲۱ مخ.

[۲٤] - دافغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه،٦۲مخ. کاندیداکاډمیسن محمد ابراهیم عطائي،میوند خپرندویه ټولنه،۱۳۸۳هـ ل.

[۲۵] - افغانستان درمسیرتاریخ،۵٦٦ مخ.

[۲٦] - پښتانه دتاریخ په رڼا کې، ۸۰۸ مخ.

[۲۷] - رجال وروېدادهاي تاریخي افغانستان، ۱۸۵ مخ.

[۲۸] - درقرن ۱۹، ۲۰۰ مخ.

# فتح جنګ

شهزاده فتح جنګ د شاه شجاع زوی او د تیمورشاه لمسی و.

انګرېزانو په لومړي يرغل کې شاه شجاع په تخت کښېناوو، خو په وړاندې يې پاڅونونه وشول، شاه شجاع چې کله د غازيانو پله درنه وليده، نو له جهادي مشرانو په ځانګړي توګه له نائب امين الله خان سره يې اړيکې ونيولې او په جهاد کې د ګډون هيله يې څرګنده کړه. ملي مشرانو يې هم د يوه باچا په توګه هرکلی وکړ، مشرانو ترې وغوښتل څو دجلال آباد په لوري د تګ تابيا ونيسي. خو شجاع ناغيړي کوله، تر دې چې د شجاع الدوله د زمانشاه بارکزي دزوی له لوري د شاه شهيد اوسياه سنګ په مينځ کې د۱۲۵۸ کال دصفري په ۲۳ نېټه ووژل شو.[۱]

په بالاحصار کې غونډه جوړه شوه او د شاه شجاع زوی فتح جنګ د واکمن په توګه وټاکل شو، ټولو خلکو ورسره بيعت وکړ، خو يواځې نواب زمان شاه بارکزي او د هغه پلويانو له فتح جنګ سره د بيعت کولو څخه ډډه وکړه، فتح جنګ خپل ورور شهزاده شاهپور د نواب زمانشاه بارکزي دتابع کولو لپاره واستاوو، زمانشاه ورسره په جګړه پيل وکړ او دکابل تر بالاحصار يې ورساوو. په دې وخت کې وزير اکبرخان له جلال آباده راروسيد، له نائب امين الله خان سره يې په يوه مفاهمه کې روغه وکړه او فيصله وشوه چې فتح جنګ به پاچا او وزير اکبرخان به دهغه وزير وي.[۲]

فتح جنګ په پټه له جنرال پالک سره اړيکې ټېنګې کړې، وزير اکبرخان په خبرېدلو دی ( فتح جنګ ) بندي کړ، خو دی له زندان څخه پټ وتښتېد، جلال آباد ته يې ځان ورساوو او له جنرال پالک سره يوځای شو .[۳]

جنرال پالک د کابل په لوري لښکري راوستې، اکبرخان د باميانو لور ته په شا شو او فتح جنګ دانګرېزانو له لوري په ۱۸ شعبان ۱۲۵۸ هـ کې بيا دپاچا په توګه وټاکل شو.[٤]

خو پاچاهي يې تر ډېره دوام ونه کړ او له څه مودې پاچهي وروسته چې يې کله وليدل، انګرېزان بېرته هند ته روان دي، له واکمنې لاس په سر او له هغوی سره يوځای دافغانستان له خاوري ووت.[٥]

[١] - در زواياي تاريخ معاصر افغانستان، ١١٤مخ، احمدعلي کهزاد،دانش کتابخانه، ١٣٧٦ هـ ش سرطان ،پېښور ،پاکستان.

[٢] - رجال ورويدادهاي تاريخي افغانستان، ١٥١ مخ، احمدعلي کهزاد،دانش کتابخانه ١٣٧٦ سرطان هـ ش،، پېښور،پاکستان.

[٣] - افغانستان درقرن ١٩، ١٥٧ مخ، سيدقاسم رشتيا ،بنګاه انتشارات ميوند، پنځم چاپ، ١٣٨٤هـ ش.

[٤] - رجال ورويدادهاي تاريخي افغانستان، ١٥١ مخ.

[٥] - افغانستان درمسيرتاريخ،٥٧٠ مخ ١ټوک ، ميرغلام محمدغبار، مرکز نشر، انقلاب با همکاری جمهوری ، ١٣٦٦ هـ چاپ.

# شېرعلي خان

شېرعلي خان د اميردوست محمدخان له کشرانو زامنو څخه و، د مور (خديجې) له لوري يې نسب وزير رحمت الله خان د شاه زمان وزير ته رسيده.[۱] د امير شېرعلي خان نوم په تاريخ کې د لومړی ځل لپاره هغه وخت ياد شوی کله چې اميردوست محمد خان په کلکته او فېروزپور کې نظربند و، هملته دی هم ورسره او د ځواني په نوي پوړ کې و.[۲]

شېرعلي خان له کلکتې څخه د امير دوست محمد خان تر راستنېدلو وروسته تل له هغه سره و، اميردوست محمد خان هم ډېر اعتماد پرې کاوو او ډېر مهم مسؤليتونه يې ورسپارل. کله چې اميردوست محمدخان د هرات د نيولو لپاره هوډ وکړ، اميرشېرعليخان ته يې چې په کندهار کې و، احوال ورکړ تر څو د هرات په لوري وړاندې لاړشي. امير شېرعلي خان له کندهار څخه راووت، فراه يې له ميرافضل خان څخه ونيوله او له دوست محمدخان سره يوځای شو.[۳]دوست محمد او شېرعلي هرات ته ولاړل اود هرات ښاريې محاصره کړ، دهرات والي سلطان احمدخان کلک مقاومت وکړ،.هغه مهال چې دوی هرات په محاصره کې نيولی وو، د سلطان احمدخان مېرمن د شېرعلي خان سکه خور او د دوست محمدخان لور په هرات کې وفات شوه.[٤]

په همدې مهال چې هرات لانه وو،تسليم شوی؛ دوست محمدخان خپل زامن،سرداران اواميران سره راټول کړل، هغوی ته يې په خطاب کې وويل :

"لکه څرنګه چې ما په کابل کې محمدعليخان دهغه د پلار په ځای وليعهدکړ اوتوره مي يې تر ملاوتړله او ستاسو ښاغلو حضور ته مي په خطاب کې وويل چې شېرعليخان زما ځای ناستی دی،.نن چې زه يوې سختې

ناروغۍ نیولی یم، غواړم سردارشېرعلي خان خپل ځای ناستی وټاکم، تاسو څه پکې وایاست؟

امیرانو شېرعلي خان ومانه او مبارکي يې ورکړه. له هغه وروسته يې په خپل لاس امیرشېرعلي خان ته پګړۍ ورپه سر کړه، توره یي تر ملا وروتړله او د مشرانو او کشرانو زامنو تر مخ یي ورته دلښکر دامیرۍ منصب ورکړ". [۵]

امیردوست محمدخان په ۲۱ دذوالحجي ۱۲۷۸ سپوږمیز کال وفات شو، د وصیت سره سم شېرعلي خان په ٤٠ کلنۍ کي د واک پر ګدۍ کښېناست. [٦]

په ۱۸٦۳ ز کال يې انګرېزانو ته د خپلي پاچهي اعلان وکړ، خو هغوی تر شپږو میاشتو له ځواب ورکولو ډډه وکړه، وروسته يې د ځینو مجبوریتونو له مخي ومانه. [۷]

کله چي شېرعلي خان پاچا شو، په کندهارکې امین الله خان، په شمالي ولایتونو کې محمد افضل خان، په فراه کې شریف خان، په کرمه او خوست کي محمداعظم خان او په کندهار کي امین الله خان والي و.

محمداعظم خان د افضل خان کشر ورور غوښتل ، واک له امیرشېرعلي خان څخه واخیستل شي او محمدافضل خان ته ورکړل شي، د همدې لپاره یي له لومړی سره له بیعت څخه نټه کوله، خو سیدجمال الدین افغاني چي دده (محمداعظم) استادو، دی مجبورکړ، تر څو ورسره بیعت وکړي. محمد اعظم خان په ښکاره بیعت وکړ، خو په پټه د موقعې په انتظار وو. [۸]

اعظم خان افضل خان ته لیک ولیږه او غوښتل يې هغه بغاوت ته وهڅوي، خو افضل خان ورته پاملرنه ونه کړه.

په همدې حال کې شېرعلي خان خپلو ورونو ته احکام او د بیعت کولو پیغام واستاوو، محمدشریف او محمد افضل خان بیعت وکړ، خو محمدامین خان ورته څه ځواب ورنه کړ.

محمداعظم خان د افضل خان د پارولو لپاره هغه ته بل ليک وليږه، دا ليک شېرعلي خان گير کړ، محمد افضل خان ته يې احوال واستاوو، ترڅو له بغاوته لاس په سرشي،.خپله له لښکر سره د زرمت په لور ولاړ، محمداعظم خان د لښکرپه ليدلو په راولپنډۍ کې له انگرېزانو سره پناه واخسته.[۹]

افضل خان يې ليک ته اهميت ورنکړ، شېرعلي خان يې په مقابل کې لښکرکښي وکړه، محمدعليخان يې مخکې واستاوو، هغه د هندوکش د باجگاه په سيمه کې محمد افضل خان ته ماتې ورکړه او له شېرعلي خان څخه يې هدايت وغوښت.[۱۰]

شېرعلي خان، محمد افضل خان نظربند او د غزني په لوري يې واستاوو. عبدالرحمن د افضل خان زوی چې د خپل پلار د تسليميدلو واورېدل، د بخارا په لوري وتښتيد.

شېرعلي خان کابل ته راوگرځېد، په کابل کې له پټې توطئې څخه چې غړي يې محمداسلم، محمدسرور او جلال الدين خان وو، خبرشو. محمد سرور يې وباښه او جلال الدين محمد افضل ته ورغی.

محمدسرور له کابل څخه وتښتيد او له محمدامين سره چې په کندهارکې وو، يوځای شو. شېرعلي خان دامين الله خان د ارامولو لپاره د کندهار په لوري لښکر ولېږه، د لښکرمشر محمدعليخان د شېرعليخان زوی و، لښکري په کلات کې سره مخامخ شوې، سخته جگړه ونښته او په ترڅ کې يې اته زره کسان ووژل شول.

په وژل شويو کې محمدعليخان او امين الله خان دواړه سرلښکران هم وو.[۱۱]

شېرعلي خان د ورور او زوی په وژل کېدلو ډېر خواشينی شو او په کندهار کې يې يواځيتوب غوره کړ.

---

امیرعبدالرحمن خان چي په بخارا کې د موقعې په لټه کې و، د امیرشېرعلي په ګوښه نشیني خبر او له بخارا څخه د افغانستان شمال ته راغی، هلته محمداعظم خان ورسره یوځای د کابل په لوري وخوځېدل، کابل یې ونیو.

شېرعلي خان د کابل په نیولو خبر شو، په بېړه یې لښکر چمتو کړ او د کابل په لوري وخوځېدل، د وردګو په سیمه کي د عبدالرحمن لښکرې ورسره مخامخ شوې، شېرعلي خان ماتې وخوړه او د کندهار په لوري یې په شاتګ وکړ.

عبدالرحمن خپل پلار محمدافضل خان د غزني له زندانه خلاص او کابل ته یې راووست، هلته یې د پاچا په توګه اعلان کړ.[۱۲] (۱۲۸۳هـ ق)

په دې توګه د شېرعلي خان څلورنیم کلن لومړی سلطنت پای ته ورسید.

شېرعلي خان له غزني څخه کندهار ته راوګرځید،د لښکر په چمتو کولو بیا د کابل په لور وراندي لاړ، د قلات په سیمه کي په ۹ رمضان ۱۲۸۳ هـ کال د عبدالرحمن او محمد اعظم خان له لښکرو سره مخامخ شو، په جنګ کې یې ماتې وخوړه او هرات ته ولاړ.

عبدالرحمن خان د کندهار له نیولو وروسته بیرته کابل ته راغی، شېرعلي خان د خپل زوی په مرسته د پوځ له تیارولو وروسته د میمنې له لاري مزارشریف ته ولاړ، له هغه ځایه یې غوښتل په کابل حمله وکړي، خو عبدالرحمن خان یې مخې ته ورغی او د بازارک په سیمه کې چي د پنجشېر له توابعو څخه ده، جنګ وکړ. د شېرعلي خان سرلښکر ووژل سو او لښکر یې ماتې وخوړه .[۱۳]

په ۱۲۸٤هـ کال محمد افضل خان وفات او پر ځای یې ورور محمداعظم خان کښېناست.

---

د افغاني پاچاهانو لنډ ژوندلیک

محمداعظم خان عبدالرحمن خان شمالي سيمو ته واستاوو او امر يې ورته وکړ تر څو ميمنه محاصره کړي، عبدالرحمن خان په شمالي کې وو، چې يعقوب خان د شېرعلي خان زوی د کندهارپه لوري پرمختګ پيل کړ. د آب هلمند په سيمه کې يې محمدسرورخان د اعظم خان زوی ته ماتې ورکړه، سرور د کندهار په لوري په شا شو، خو يعقوب خان تعقيب کړ، سرور غزني ته وتښتيد او يعقوب خان کندهار ونيو .

شېرعلي خان، محمدهاشم په کندهار کې پرېښود او خپله د کابل په لوري پرمخ ولاړ، په غزني کې د اعظم خان له قواوو سره مخامخ شو ، د اعظم خان قواوو ته يې ماتې ورکړه، اعظم خان د باميانو لور ته ولاړ هلته له عبدالرحمن خان سره يوځای شو، عبدالرحمن خان او محمداعظم خان بيا لښکر تيار او د شېرعلي خان د مخې نيولو لپاره راوخوځيدل.

شېرعلي خان، محمداعظم خان ته له ماتې ورکولو وروسته د کابل په لوري وړاندې ولاړ،کابل ته نژدې د عبدالرحمن له قواوو سره مخامخ شو، جنګ وشو، عبدالرحمن او محمد اعظم خان ماتې وخوړه، د ايران په لوري وتښتېدل او شېرعلي خان د کابل په نيولو د دوهم ځل لپاره په پلاز کښېناست. (د۱۲۸۵هـ دروژې مياشت،۷ سپتمبر ۱۸٦۸ز)[١٤]

د شېرعلي خان ډېر رقيبان له منځه تللي وو، محمداعظم ايران ته وتښتېد او هلته مړشو، عبدالرحمن خان د ډېري بېوسۍ په حالت کې بخارا ته پناه يوړه.

شېرعلي خان د ميدان په صافېدلو مدني پرمختګ ته پاملرنه وکړه، پوځ يې تنظيم کړ، د داخلي چارو په سمبالولو لګيا شوو، چې لوی مرستندوی يې د ختيځ ستوری سيد جمال الدين افغاني و، جمال الدين افغاني تل د افغانانو د يووالي او پرمختګ لپاره هڅې کولې، شېرعلي خان ته يې پلانونه ورکړل او ورځخه وېې غوښتل ترڅو عملي بڼه ورکړي، سيدجمال الدين

---

د افغاني پاچاهانو لنډ ژوندليک

افغاني چي د ستر يرغلګر ځواک (انګرېزانو) لوی مخالف و، شېرعلي خان تشويق کړ، تر څو افغانان دعلم په ګېڼه سمبال او انګرېزانو سره وجنګېږي.

پاچا ددوهم ځل لپاره د پلاز له ترلاسه کولو وروسته شهزاده عبدالله جان وليعهد کړ، چې له امله يې مشران زامن خصوصاً يعقوب خان ترې خفه شو، له کندهار يې په هرات حمله وکړه، خو بيرته پېښمانه شو او شېرعلي خان ته راوګرځيد، شېرعلي خان په بالاحصار کي بندي کړ.

همدارنګه يې له انګرېزانو سره اړيکي ونيولې، د هغوی په بلنه هند ته ولاړ. په امباله کې يې له هندي وايسرای سره په ۲۷ مارچ ۱۹٦۹زکال وکتل، خو خبرو يې کومه ځانګړې لاسته راوړنه نه درلوده، بل ځل يې سيدنورمحمدشاه ولېږه، هغه په پېښور کې له انګرېزي هيئت سره وکتل، خو داځل هم ترې څه بود نشول.

له بل لوري په ۱۸۷۸ ز کال دجولای په ۲۲ نېټه روسي هيئت د بريدجنرال ستوليتوف په مشري کابل ته راوسيد، له امير سره يې وليدل او ستري وعدې يې ورکړي، يو تړون يې لاسليک کړ، په تړون کې يې دا هم وويل چي که چېرته انګرېزانو په افغانستان حمله وکړه، دوی به مرسته کوي.[۱۵]

انګرېزانو چي کله واورېدل، امير له روسي استازو سره کتلي او تړون يې لاسليک کړی، په وېره کې شول. شېرعلي خان ته يې خپل نمائنده ګان راولېږل. خو نمائنده ګان په داسي حال کي راورسيدل چي امير د خپل ګران زوی عبدالله جان په فاتحه ناست و، ځکه يې نو هيئت ونه مانه او له فاتحې وروسته يې دليدني ورته وويل. انګرېزانو دادخان سپکاوی وباله او دکيوناري په مشري يې پوځونه د افغانستانو په سرحدونو را واوښتل.

شېرعلي خان دانګرېزانو د يرغل له امله مزارشريف ته شاته شو، هلته په دې هيله چي روسيه به يې کومک وکړي، خپل وزيرخارجه

---

ملاشادمحمدخان کتب خیل لوګری روسیې ته واستاوو، خو روسانو له انګرېزانو سره دجنګ پلان نه درلود، له همدې امله یې د شېرعلي خان له مرستې څخه ډډه وکړه. شېرعلي خان په ډېر مایوسانه حال کې د نقرس دناروغۍ له امله د ۱۲۹٦ د صفري په ۲۹ نېټه چي د ۱۸۷۹ ز د فروري له میاشت سره سمون خوري، په ۵۸ کلنۍ له همدې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې.[۱٦]

شېرعلي خان د افغانستان له سترو باچاهانو څخه دی، که څه هم ځېنې اشتباهاتو یې افغانستان ته د لسېزو تاوان ورساوو، خو بیا هم ده د افغانستان د چارو د لا ښه سمون لپاره ډېر کار وکړ، وزارتونه یې جوړکړل، هغوی ته یې په پښتو نومونه ورکړل. د سیدجمال الدین افغاني په مرسته یې د خلکو د را بیدارولو او د علم د خپرولو لپاره هڅې پیل کړې، هغه نومونه چي د بعضو وزارتونو او پوځي منصبونو لپاره په پښتو ورکړل شوي وو، ځېنې په دې توګه دي :

لوي ملک(دمالیې وزیر)، لوي مین دباندي (دبهرنیو چارو وزیر)، لوی مین دغرو (دکورنیو چاروزیر)، لوي تول مختار (لومړی وزیر) او داسې نور ....

شېرعلي خان هیواد په پنځو لویو ولایتونو وېشلی و:
۱- کابل ولایت ۲- کندهار ولایت ۳-هرات ولایت
٤- افغاني ترکستان ۵- فراه ولایت [۱۷]

دشېرعلي خان د حکومت مشهور چارواکي:
۱- سیدنورمحمدشاه ۲- حبیب الله خان وردک
۳- ارسلاخان جبارخیل ٤- عصمت الله خان غلجی
۵- میرزامحمد حسن خان ٦- حسین علي پنجشیري
۷- احمدعلي خان چغتایي [۱۸]

---

د افغاني پاچاهانو لنډ ژوندلیک

د لیتوګرافي مطبعهٔ یې د میرزا عبدالعلي په مشري تاسیس کړه.د"شمس النهار" په نوم جریده یې په ۱۶ مخونو کې په میاشت کې دوه یا درې ځلې خپروله.[۱۹] همداشان د انګرېزي هند او انګلستان ټول جراید او اخبارونه شېرعلي خان ته راتلل.

د کابل شمال ته یې په ۱۸۷۰ ز کال د شېرپور په نوم د یوه ښار بنسټ هم کېښود،چې دانګرېزانو دحملې له امله یې کار نیمګړی پاته شو.[۲۰]

په لنډه توګه ویلای شو، شېرعلیخان که څه هم ځیني غټې اشتباوي وکړې، خو یو پوه واکمن ، بریالي سرلښکر او عالم شخصیت و.

دده له خولې دا لنډۍ راپاته دي :

ما ویل په تا به زړګی ښاد کړم
اوس له تاوړم دارمانجن زړګي داغونه
دیاری لاس مي درته درکړ
پر تابایلم ســر او مال هم اولادونه[۲۱]

سرچینې:

[۱] - افغانستان درقرن ۱۹، ۲۱۵ مخ ۱ټوک .سیدقاسم رشتیا .بنګاه انتشارات میوند، پنځم چاپ، ۱۳۸۴هـ ش.

[۲] - دافغانستان برمعاصرتاریخ یوه لنډه کتنه، ۹۰مخ. کاندیداکاډمیسن محمد ابراهیم عطائي،میوند خپرندویه ټولنه،۱۳۸۳هـ ل.

[۳] - رجال وررویدادهاي تاریخي افغانستان، ۱۸۵ مخ. احمدعلي کهزاد،دانش کتابخانه ۱۳۷۶ سرطان هـ ش.، پېښور،پاکستان.

[۴] - هماغه ماخذ، ۱۸۶ مخ.

[۵] - ګذارشات پادشاه متاخر افغانستان،۴۸مخ .یعقوب علي خان خافي،بنګاه انتشارات میوند.

[۶] - افغانستان رعصر سلسله ي محمدزايي، اکبرفیاضي،سایت پژوهس سرای تاریخ افغانستان،انټرنېټ.

[۷] - افغانستان درمسیرتاریخ،۵۹۰ مخ۱ ټوک. میرغلام محمدغبار. مرکز نشر. انقلاب با همکاری جمهوری ، ۱۳۶۶ هـ چاپ.

[۸] - افغانستان درقرن ۱۹، ۲۱۷ مخ.

[۹]- از امیر کبیر تارهبر کبیر ۱۲۲ مخ. علامه عبدالحق مجددي و داکتر فضل الله مجددي.بنگاه انتشارات میوند، ۱۳۸۷هـ ش.

[۱۰]- گذارشات پادشاهان متاخر افغانستان، ۷۷مخ.

[۱۱]- افغانستان تر وروستي افغانه، ۱۸۷ مخ ۱ ټوک . غلام محمد زرملوال.دانش خپرندویه ټولنه ،۱۳۸۳ ل.

[۱۲]- تاج التواریخ ،٦۱ مخ ۱ټوک.امیرعبدالرحمان خان، ژباړن :عبدالقیوم زاهد مشواني.دانش خپرندویه ټولنه.۱۳۷۹کب .

[۱۳]- درقرن ۱۹، ۲۳۵ مخ.

[۱٤]- پورتنی ماخذ، ۲٤۱ مخ.

[۱۵]- دافغانستان پرمعاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۹۵، ۱۰۸ او ۱۱۲ مخونه.

[۱٦]- درقرن ۱۹، ۳۲٤ مخ.

[۱۷]- سرحدات وتقسیمات اداري افغانستان درطول تاریخ،۳۲ مخ.پوهاندغلام جیلاني عارض، ختیځ بیا رغوني اداره (کور) ،سرطان ۱۳۸۲هـ ل.

[۱۸]- دافغانستان پرمعاصرتاریخ یوه لنډه کتنه، ۱۰۰مخ.

[۱۹]- از امیر کبیر تارهبر کبیر، ۱۳۸ مخ .

[۲۰]- افغانستان درمسیرتاریخ، ۵۹٤ مخ.

[۲۱]- نړۍ مجله، لومړی کال دربیمه ګڼه، زمری ۱۳۸۵ هـ ش، جلال کوټ.

# محمدافضل خان

محمدافضل خان د امیردوست محمد خان مشر زوی ، د پائنده خان لمسی او د شېر علي خان ورور و. د محمد افضل خان مور د بنگښ قبیلې او د ملا صادق علي لور وه.[۱]

کله چې امیر دوست محمدخان وفات شو، نو په ځای یې زوی شېرعلي خان کښېناست، محمدافضل خان چې د دوست محمدخان مشر زوی او د شمالي والي و، دهغه سلطنت ومانه.

محمداعظم خان د افضل خان کشر ورور د بغاوت اور ته لمن وهله، د همدې لپاره یې یو مکتوب محمد افضل خان ته هم ولیږه.هغه مکتوب امیرشېرعلي خان ترلاسه کړ او د افضل خان په وړاندې یې لښکرکشي وکړه، افضل خان هغه وخت د شمالي ولایتونو والي و، د باجگاه په دره کې د امیر شېر علي خان د زوی شهزاده محمدعلي خان او افضل خان لښکري سره مخامخ شوې، افضل خان مات شو او ځان یې تسلیم کړ، امیر شېرعلیخان دی نظربند او غزني ته یي واستاوو.

امیرعبدالرحمن دافضل خان زوی چې کله ولیدل، پلار یي تسلیم شو،نو په تېښته بخاراته ولاړ، هلته څه موده واوسیده، په ۱۸٦٥ ز کال چې سردارمحمدامین خان دشېرعلي خان ورور په قندهارکې بغاوت وکړ، شېرعلي خان خپل زوی محمدعلیخان د هغه مقابلې ته واستاوو، خو په جنگ کي دواړه کاکا او وراره یو د بل په لاس ووژل شول، شېرعلي خان د زوی او ورور په وژل کېدلو لیونحاله شو او په کندهارکې یي یواځیتوب غوره کړ.[۲]

---

[۱] د افغاني پاچاهانو لنډ ژوندلیک

امیرعبدالرحمن په بخارا کې د شېرعلي خان په بې حالۍ خبر شو، سمدستي يې د بخارا له امیر څخه مرسته وغوښته او دافغانستان شمال ته راغی،هلته ورسره محمداعظم خان هم دچترال اوبدخشان له لارې يوځای شو، کابل يې ونيو.[۳]

شېرعلي خان چې دامیرعبدالرحمن خان په راتللو خبر شو ، له یوه لښکر سره دکابل په لوري وخوځيد، خو په کلات کې يې ماتې وخوړه[٤] او دکندهار په لوري يې په شاتګ وکړ.

عبدالرحمن خان غزنی ونیو، خپل پلار افضل خان يې له زندانه راويست او په کابل کې يې پاچا اعلان کړ.(۱۲۸۳س /۱۸٦٦ز)

انګرېزانودپاچهي له اعلان سره سم په رسمیت وپېژاند. [٥]

محمداعظم خان په کندهار حمله وکړه او کندهار يې له امیر شېرعليخان څخه ونیو ، شېرعلي خان هرات ته ولاړ.

محمدافضل خان له یوه کاله او پنځو میاشتو سلطنت وروسته د عمر په ٥٤کلنۍ، د ۱۲۸٤ سپوږمیز کال د جمادي الثاني په میاشت کې (۷ اکتوبر۱۸٦۷ز) له همدې نړۍ څخه سترګې پټې کړې او په قلعه حشمت خان ،کابل کې دفن شو.[٦]

---

[۱] -افغانستان درقرن ۱۹، ۲۱۵مخ، ۱ټوک ،سیدقاسم رشتیا ،بنګاه انتشارات میوند، پنځم چاپ، ۱۳۸٤هـ ش.

[۲] - تفصیل او ماخذونه دشېرعلیخان په بحث کې تېر شویدي.

[۳] - تاج التواریخ ،٥٦ مخ ۱ټوک. امیرعبدالرحمان خان. ژباړن :عبدالقیوم زاهد مشواني،دانش خپرندویه ټولنه،۱۳۷۹کب .

[٤] - افغانستان درمسیرتاریخ ٥۹۱ مخ ۱ټوک. میرغلام محمدغبار. مرکز نشر. انقلاب با همکاری جمهوری . ۱۳٦٦ هـ چاپ.

[٥] - افغانستان تر وروستي افغانه، ۱۸۷مخ ۱ټوک. غلام محمد زرملوال،دانش خپرندویه ټولنه ،۱۳۸۳ ل.

[٦] - درقرن ۱۹، ۲۳٥ مخ .

# محمداعظم خان

محمداعظم خان ددوست محمدخان زوی او د افضل خان کشر ورور و.

د افضل خان له وفات وروسته په ۱۲۸٤ هـ (۱۸٦۷ز) کال پاچا شو.

امیراعظم خان له پاچا کېدلو سره سم امیرعبدالرحمن د هیواد شمال لور ته واستاوو، تر څو امیرشېرعلي خان له هغه ځایه وشړي، امیرعبدالرحمن خان د شمال لوري ته ولاړ، د بدخشان ځیني کلاوي یې ونیولې او په بلخ یې حمله وکړه. امیرشېرعلیخان د دفاع توان په ځان کې ونه لید او هرات ته ولاړ، هلته له خپل زوی یعقوب خان سره یوځای شو.

امیرعبدالرحمن خان بلخ په بشپړه توګه ونیو او محمداعظم خان ته یې احوال واستاوو، چې بلخ نور له مخالفینو څخه پاک دی.

امیراعظم خان نه غوښتل، عبدالرحمن پلازمېني ته راشي او دده لپاره سرخوږي جوړه کړي، نو ځکه یې ورته امر وکړ چې په میمنه حمله وکړه. امیرعبدالرحمن ورته وویل چې لومړی باید د امیرشېرعلي خان خطر دفع کړو او بیا پر میمنه حمله وکړو، خو اعظم خان ونه منله او امیر عبدالرحمن خان یې مجبور کړ، تر څو په میمنه حمله وکړي، امیرعبدالرحمن میمنه محاصره کړه.[1]

شېرعلي خان چې کله هرات ته ورسید، هلته یې لښکر را غونډ کړ او په کندهار یې حمله وکړه، کندهار ښار یې ونیو، هغه یې خپل ورور ته ورکړ او خپله د کابل په لوري پر مخ ولاړ. اعظم خان چې کله د کندهار له نیول کیدلو خبر شو، عبدالرحمن ته یې احوال واستاوو، تر څو نیمایي لښکري ده ته راولیږي او په نیم لښکر د میمنې محاصرې ته دوام ورکړي. عبدالرحمن خان ځواب ورکړ چې محاصره ډېره سخته ده، لښکر نشم دراستولای.[2]

محمداعظم خان په کابل کې د نور پوځ په تیارولو بوخت شو، امیرشېرعلي خان تر غزني ورسید، له دې خوا څخه محمداعظم خان د مقابلې لپاره میدان ته را ودانګل.

د میمنې والي له څه وخت مقاومت وروسته د کال په ۴۰ زره طلایي سکو روغه وکړه، امیرعبدالرحمن خپل پوځ دوه برخې کړ، یوه برخه یې د اسماعیل په مشرۍ د اعظم خان مرستې ته واستاوو او بل پوځ یې په خپله مشرۍ کې وساته او د پل تخت لورې ته ولاړ. اسماعیل خان بن محمدامین خان چې له مخکې څخه د موقعې په انتظار و، ددې پر ځای چې د اعظم خان مرسته وکړي، له هغه څخه یې کابل ونیو اوپه کابل کې د شېرعلي خان په نوم پاچهي اعلان کړه او خطبه یې وویله.[3] اعظم خان د کابل په نیولو بیرته نیم پوځ د کابل لورې ته واستاوو او په نیم پوځ سره د شېرعلي خان مقابلې ته ودرېد، ماتې یې وخوړه او د بامیانو په لورې وتښتید. هلته ورسره عبدالرحمن یوځای شو او دکابل په لورې یې حرکت پیل کړ، د شېرعلي خان پوځونه په غزني کې و، چې دوی ور ورسیدل. د شش ګاو په سیمه کې یې پړاو وکړ. عبدالرحمن خان د زنه خان کلا د نیولو په موخه لاړ او اعظم خان په پړاو کې پاته شو. شېرعلي د خپلو دوستانو په وسیله هڅه وکړه ترڅو د دوی په پړاو کې وېره او پرېشاني واچوي، بریالی شو او خپلو لښکرو یې پړاو او شاهي خیمه چورکړه. عبدالرحمن ددې په اورېدو کلابندي پرېښوده، له اعظم خان سره یوځای د وزیرستان په لور وتښتید.[4]

د هند حاکم ورته د پناه د ورکړې پیغام واستوو، خو اعظم او عبدالرحمن یې پناه رد کړه او مشهد ته ولاړل. هلته د ایران حکومت دوی ته په ایران کې د پاته کېدلو وویل. عبدالرحمن ونه منله او بخارا ته یې مخ کړ،خو اعظم خان ورسره ومنله او د تهران په لورې روان شو. د تقدیر پرېکړه بدله وه او په لاره د بسطام په سیمه کې وفات شو.(۱۲۸۶س /۱۸٦۸ز)[5]

---

[1]- تاج التواريخ، ۷۷ مخ ۱ټوک.اميرعبدالرحمان خان، ژباړن :عبدالقيوم زاهد مشواني،دانش خپرندويه ټولنه.۱۳۷۹کب .

[2]- هماغه ماخذ.

[3]- گذارشات پادشاهان متاخر افغانستان، ۳٦٥ مخ. يعقوب علي خان خافي.بنگاه انتشارات ميوند.

[4]- از اميركبير تارهبر كبير، ۱۳٤ مخ. علامه عبدالحق مجددي و داكتر فضل الله مجددي.بنگاه انتشارات ميوند، ۱۳۸۷هـ ش.

[5]- افغانستان درقرن ۱۹، ۲٤۰ مخ. سيدقاسم رشتيا .بنگاه انتشارات ميوند، پنځم چاپ، ۱۳۸٤هـ ش.

# امیریعقوب خان

امیریعقوب خان د شېرعلي خان زوی او د امیردوست محمد خان لمسی دی.

خلکو به دغښتلتوب له امله ورته شېربچه ویل.

د شېرعلي خان د لومړنۍ واکمني په پېر کې د هرات د والي په توګه وټاکل شو.

کله چي شېرعلي خان د عبدالرحمن خان او محمد اعظم خان په لاس ماتې وخوړه، ده ته یې چي په هرات کې و، پناه یوړه. ده خپلي لښکرې ورسره یوځای کړې او کندهاریې له محمد سرور بن محمداعظم خان څخه ورته ونیو. شېرعلي خان دده په مرسته کابل ونیو او دوهم ځل پاچا شو.

شېرعلي چي کله پاچا شو، د خپلي مېرمني عائشې چي ده ته ډېره ګرانه وه، په هڅو یې د هغې له نس څخه پیدا شوي زوی (عبدالله جان) د خپل ځای ناستي په توګه وټاکه. یعقوب (۲۵کلن) په دې خفه شو او له کابل څخه وتښتېد، هرات ته ولاړ، وروسته بېرته پښېمانه شو، شېرعلي خان دی په فریب راووست او په کابل کې یې زنداني کړ.[۱]

کله چي له ډېرو خبرو،اتروورسته شېرعلي خان او انګرېزانو یو له بل سره وخواړو او شېرعلي خان د مزارشریف په لور په شا کېده، نو یعقوب خان یې له زندانه خلاص او په کابل کې پرېښود. یعقوب خان له اووه کلن بند وروسته د افغانستان د حالاتو او پېښوڅخه بې خبره او په رواني ناروغۍ اخته د انګرېزانو په رحم او کرم کې پاته شو.له بلې خوا دیعقوب خان خسر سردار یحیی خان چي د شېرعلي خان له وېري هند ته تښتېدلی و او هلته انګرېزانو د خپل ځارګر په څېر استعمالاوو، له یعقوب سره اړیکې ونیولې.

---

د افغاني پاچاهانو لند ژوندلیک

دی یې تشویق کړ، تر څو د انګرېزانو واکمني ومني او ښې اړیکې ورسره ټینګې کړي.[۲]

په ۲۱ فروري ۱۸۷۹ ز شېرعلي خان وفات شو، خلکو له یعقوب خان سره بیعت وکړ، یعقوب خان د انګرېزانو پلوی یحیی خان د کابل والي او شېرعلي کندهاری د کندهار والي وټاکه. یعقوب خان دشېرعلي خان د وفات او د خپلې واکمنې پیغام ددې کال په فروري کې د هند وایسرای ته واستاوو.(مارچ ۱۸۷۹ز)[۳]

انګرېزانو په داسې حال کې چې لښکرو یې سرحدات پایمال کړي و، له دې پیغام څخه د سولې مطلب واخیست، هغه شرایط چې شېرعلي خان ته یې ویلي وو، په یعقوب خان وتپل او خپل لښکر یې په سرحداتو کې ایسار کړ، سرکیوناري یعقوب خان ته پیغام واستاوو تر څو راشي او په ګندمک کې (دوی په همغه ځای کې چې تقریباً څلوېښت کاله وړاندې یې ۱٦ زره پوځ له منځه تللی او سرېې تیټ شوی و، دیوې شرموونکې معاهدې په کولو سره خپل وقار اعاده کول غوښتل) د دواړو خواوو ترمنځ یو تړون وشي.

دګندمک تړون :

امیریعقوب خان د۱۸۷۹زکال په مې کې ګندمک ته ورسېد، هلته سرکیوناري، جنرال براون اونورانګرېزي مشران پخوا لا راغلي وو ، د تړون مادې په ۲٦ مې (۱۲۵۷ل) کې په دې توګه لاسلیک شوې :

۱- ددې قرارداد د لاسلیک د ورځې څخه د دواړو هیوادونو ترمنځ دایمي سوله او دوستي ټینګېږي.

۲-ددې قرارداد له امضاء څخه وروسته به دافغانستان امیر دخپلو اتباعو هغه ډله چې دجنګ په وخت کې دانګرېز له دولت سره مکالمه،مراوده او مکاتبه درلوده ،درسمي فرمان په اثر بښي.

---

د افغاني پاچاهانو لنډ ژوندلیک

۳- د افغانستان امير مجبور دی چي وروسته له دې له نورو هيوادونو سره خپل معاملات د انگلستان سره د مذاکرې په اساس او د هغوی په خواهش اجراء کړي، د افغانستان امير حق نه لري له نورو هيوادونو سره مستقيم روابط ټينگ کړي او د انگرېز دولت له مشورې پرته له کوم بل هيواد سره د جگړې اعلان وکړي. ددې شرط په مقابل کې د برتانيې دولت حاضر دی، نوموړی امير د پرديو د تېريو په مقابل کې د پيسو، وسلو اوعسکرو په وسيله په هر ډول چي دبرتانيې دولت وغواړي حمايه کړي او هر وخت چي مناسب وبولي مرسته يې وکړي، که دبرتانيې عسکر د کوم ضرورت په وخت کې د امنيت دبرقرارۍ او د خارجي تيري د دفاع په موخه دافغانستان خاوري ته داخلېږي، د سولې او امنيت له برقرارۍ وروسته به فوراً هيواد ته بيرته وگرځي.

٤- ددې لپاره چي د دواړو هيوادونو مناسبات لا ټينگ شي او د افغانستان سرحدونه د پرديو له تېريو څخه وساتل شي، د انگرېز دولت لازم بولي،چي خپل دايمي نماينده افغانستان ته واستوي، دغه نمائنده به د خپلي رتبې مطابق يوه ټولگی عسکر هم له ځانه سره ولري او هم د بريتانيې هيواد حق لري چي، دضرورت په وخت کې خپل خصوصي نمائندگان له معينو هياتانو سره افغاني سرحداتو ته واستوي.په مقابل کې دافغانستان امير حق لري خپل نمائنده دهند دويسرای دربار يا نورو هندي مقاماتو ته واستوي.

۵- دافغانستان امير د انگرېز د نمائندگانو د محافظې او ساتنې لپاره او له دې کبله چي د هغو سره شرافتمندانه رويه وشي، ځان مسؤل بولي او د برتانيې دولت په مقابل کې وعده ورکوي چي هيڅ وخت به دافغانستان په داخلي معاملاتو کې مداخله ونه کړي او د هغو د نمائندگانو احترام به ساتې.

٦- دافغانستان امیر له خپلي خوا او نورو سردارانو له خوا تعهد کوي چي له انګرېزي نمائندګانو او نورو وګړو سره چي د تجارت لپاره افغانستان ته راځي،شرافتمندانه معامله وکړي او د هغو په شخصي معاملاتو کې مداخله ونه کړي.

۷- امیرله انګلستان سره تجارتي روابط ټینګوي او د هیواد تر منځ سړکونه پرانېزي، تر څو چي دواړه هیوادونه سره آزادانه تجارت وکړي او هم دواړه هیوادونه اتفاق وکړي، دغه لارې له خطرڅخه محفوظلي وساتي. دغه تجارتي معاهده به د دواړو هیوادونو تر منځ دیوه کال لپاره مرعي الاجرا او دهیوادونو ترمنځ به ازادې وي.

۸-له کورمې څخه تر کابله د تلګراف د سیم د غزولو لګښتونه به د انګریز دولت په غاړه وي او د هغه ساتنه په امیر اړه لري.

۹-له دې کبله چي د دواړو هیوادونو تر منځ دوستې برقراره شي او د برتانیې عسکر له ډاډمني سره دافغانستان د خاوري څخه وځې، د سیالکوټ ولایت او دفوشنګ علاقه دکوړک تر غره پوري، د کرم علاقه د جاجي تر سرحد پوري، مشرقي تر څنډې پوري (هفت چاه) اولنډی کوتل دي انګریزانو ته ورکړل شي. که څه هم د دریو علاقو(کرم،پشین،سوی) واګذري به په دایمې او قطعي توګه نه وي. دا سیمې به د هغو اراضیو په نامه (چي امانت سپارل شوي دي) یادې کړو او بیا به مستردې شي. د دغو سیمو مالیه د اداري ضروري لګښتونو له ورکړي څخه وروسته افغانستان ته ورکول کېږي او یوازي د هغې اداره او حمایه به په برتانیا پوري تعلق لري. برسیره پر دې د برتانیې دولت به د خیبر او پیچ دتیریدځېو اداره او نظم ونسق چي د پېښور او جلال آباد تر منځ واقع دی، د دغو سیمو آزادو قبایلو سره دوستانه مناسباتو سره په لاس ولري.

۱۰- له دې کبله چې د افغانستان امیر وکولای شي چې خپل اقتدار برقرار کړي او هم پورتني شرایط صادقانه اجراء کړي، د برتانیې دولت وعده ورکوي چې هغه او د هغه ځای ناستو ته به دمملکت داصلاح په غرض د کاله شپږلکه کلدارې ورکوي.[٤]

امیریعقوب – سرلوئیس کیوناري

له تړون څخه وروسته :

له تړون څخه وروسته سرلوئیس کیوناري له امیر یعقوب سره کابل ته راغی، یعقوب خان یواځي تش په نوم واکمن او چارې ټولي د سرلوئیس کیوناري په لاس کې وې.

یعقوب خان چې کابل ته ورسید، ایوب خان یې دهرات والي وټاکه او له هغه څخه یي غوښتنه وکړه چې یو پلټن عسکر ورته راولېږي، ایوب خان عسکر ورولېږل، عسکرو ته په هرات کې ویل شوي وو چې معاش به په کابل کې درته درکړل شي، عسکر چې کله کابل ته ورسیدل، له سرلښکر داود شاه خان څخه یې غوښتنه وکړه، تر څو معاش ورکړي. داودشاه خان ورته وویل:" ستاسوغوښتنې حق دي،خو اوس ټول اختیار له کیوناري سره دی،هغه ته ورشئ او معاش ترې وغواړئ".

عسکر چې کله د کیوناري کورته چې په بالاحصار کې و، ورسېدل،.نو کیوناري گومان وکړ چې ملت پاڅون کړی او عسکر غواړي پر ده حمله وکړي، خپلو ساتندویانو ته یې امر وکړ تر څو په عسکرو ډزې وکړي،[٥] عسکرو هم متقابلي ډزې پیل کړي. یعقوب خان ډېره هڅه وکړه چې ډزې بندي شي، خو عسکرویې خبرو ته غوږ ونه نیو، په پایله کې دسرکیوناري په گډون دسفارت ۱۲۳ غړي[٦] او شپږ سوه عسکر [٧] ووژل سول.

دا خبره سمدستي د هند وایسرای لاردلیتن او جنرال رابرتس ته ورسیده، انگریزانو د جنرال رابرتس په مشري یو پوځ دلوگر له لاري افغانستان ته

راولیږه، یعقوب خان چي کله د انګرېز پوځ دحملې څخه خبر شو، ځان یې رابرټس ته ورساوو، خو هغه ورسره په ترېو تندي خبري وکړي او بندي یې کړ.

رابرټس دده په هکله وکښل:"امیرمحمدیعقوب خان تقریباً ۳۲ کلن ځوان ده. اخلاقي ځواک یې له لاسه ورکړی، رپانده سترګې یې چاته دنېغ کتلو توان نه لري، په لومړي ځل لیدنه کي مي وانګېرله چي دوه مخی دی، سره له دې مي دهغه درناوی وساته".[۸]

یعقوب خان د ۱۸۷۹ ددسمبر په اوله نېټه له کابل څخه هند ته ولېږدول شو او هملته په ۱۹۲۳ ز کال وفات شو.[۹]

## سرچیني:

[۱] - از امیر کبیر تارهبر کبیر، ۱٤۱ مخ، علامه عبدالحق مجددي و داکتر فضل الله مجددي.بنګاه انتشارات میوند، ۱۳۸۷هـ ش،

[۲] - دافغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۱۲۱ -۱۲۲ مخونه، کاندیداکادمیسن محمد ابراهیم عطائي.میوند خپرندویه ټولنه.۱۳۸۳هـ ل.

[۳] - افغانستان درقرن ۱۹، ۳۲۷ مخ ۱ټوک .سیدقاسم رشتیا .بنګاه انتشارات میوند، پنځم چاپ، ۱۳۸٤هـ ش،

[٤] - دافغانستان پرمعاصر تاریخ یوه لنډه کتنه.۱۲۵ مخ.

[۵] - افغانستان درقرن ۱۹، ۳۳۲ مخ .

[٦] - دافغانستان پرمعاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۱۲٦ مخ.

[۷] - افغانستان تر وروستي افغانه.۲۱۳ مخ۱ ټوک . غلام محمد زرملوال،دانش خپرندویه ټولنه .۱۳۸۳ ل.

[۸] - افغانستان درمسیرتاریخ، ٦۱۳ مخ ۱ ټوک. میرغلام محمدغبار. مرکز نشر. انقلاب با همکاری جمهوری . ۱۳٦٦ هـ چاپ.

[۹] - افغانستان تر وروستي افغانه.۲۱٦ مخ.

# عبدالرحمن خان

امیرعبدالرحمن خان د افضل خان زوی او د دوست محمد خان لمسی و. په ۱۸۳۰ ز کال، د سردار محمد افضل خان په کور کې وزېږېد.

امیر عبدالرحمن خان په نهه کلنی کې د پلار له لوري بلخ ته وغوښتل شو، هلته يې پلار(محمدافضل خان) غوښتل تر څو تعليم پرې وکړي،خو عبدالرحمن خان دتعليم سره علاقه نه درلوده.

په۱۳کلنی کي د اميردوست محمدخان له لوري د تاشقرغان حاکم وټاکل شو، خو له څه مودې وروسته يې استعفی ورکړه. وروسته دخپل پلار افضل خان له لوري د شرابو او چرسوپه تور زنداني شو، د شيرمحمد خان سپه سالار له مړيني وروسته افضل خان دی له زندانه خلاص او خپل سپه سالار يې وټاکه.[1]

کله چي دوست محمدخان د هرات له فتحې وروسته وفات او پر ځای يې شېرعلي خان کښېناست ، نو د سوء تفاهم له امله شېرعلي خان په افضل خان بدګومانه او هغه يې ونيو، عبدالرحمن خان دخپل پلار په نيول کېدلو دبخارا په لوري وتښتېد. هلته وو،تردې چي کله اميرشيرعلي خان په کندهار کې مصروف شو، دی دموقعې په ليدلو افغانستان ته راغی. په بدخشان کې له محمداعظم خان سره يوځای او د کابل په لوري وخوځيد،کابل يي ونيو. پلار يې چي په غزني کې زنداني و ، ازاد کړ او دپاچا په توګه يې وټاکه.

خپله د کندهارپه لوري پر مخ ولاړ اوکندهار يي له امير شېرعليخان څخه ونيو .

خو په ۱۸٦۷ ز /۱۲۸٤ س کې افضل خان مړ او پر ځای يې ورور محمداعظم خان د عبدالرحمن خان تره کښېناست، هغه دی (عبدالرحمن)

---

د افغاني پاچاهانو لنډ ژوندليک

د مېمنې په لوري واستاوو،کله چې عبدالرحمن خان د میمنې په محاصره بوخت و، شېرعلي خان په کندهار حمله وکړه، کندهار یې ونیو. په غزني کې یې محمداعظم خان ته ماتې ورکړه او د کابل په لوري وخوځید.

عبدالرحمن د شېرعلي خان په وړاندې تګ په خبرېدلو سمدستې دکابل په لور روان شو، په بامیانو کې ورسره داعظم خان ماتې خوړلی لښکر مخامخ شو. هغه یې له ځان سره یو ځای او د کابل شش ګاوو سیمي ته راورسېد. دلته یې له شېرعلي خان سره جګړه وکړه، خو ماتې وخوړه.[۲]

له اعظم خان سره یوځای په سخت ژمي کې د ایران په لوري وتښتېد، د ایران واکمن دواړو ته بلنه ورکړه، ترڅو هلته پاته شي. اعظم خان ومنله، خو عبدالرحمن خان یې بلنه ونه منله او د بخارا په لوري ولاړ .

کله چې انګرېزانو په افغانستان حمله وکړه او په وړاندې یې مسلمان ولس پاڅون وکړ، عبدالرحمن خان له بخارا څخه راوتښتید. تر آمو دې خوا ته راغی، په بدخشان او بلخ کې یې خلک په ځان راټول کړل او د کابل په لور را روان شو. په چاریکارو کې ورته انګرېز استازی راغی او پیغام یې راوړ: موږ ستا واکمني منو، ته کابل ته خپل استازی راولیږه.[۳]

انګرېزان چې د ډېرو تلفاتو په لیدلو او په برتانیا کې دلیبرل حکومت په راتلو د ژر تر ژره وتلو په هڅه کې و، د داسې چا په لټه کې و،ترڅو ددوی تر وتلو وروسته یې نمائنده ګي وکړای شي، همغه و چې عبدالرحمن یې پیدا کړ.

عبدالرحمن خان، خپل کاکا محمدیوسف خان انګرېزانو ته ولیږو. د هغوی ترمنځ خبري اتري وشوې او پرېکړه وشوه چې شېرپورته نژدې به عبدالرحمن خپله له برتانوي جنرالانو سره ویني.

امیرعبدالرحمن د۱۸۸۰ ز کال دجولای په ۳۰ نیټه شېرپور ته ورغی، له ګرېفن سره یې لیدنه وکړه او د هغوی شرایط یې چې د ګندمک دشرایطو

لندېز و، ومنل. په دې تړون کې ویل شوي و: د افغانستان واکمن به د انګرېزانو څخه پرته له هيڅ حکومت سره سیاسي اړیکي نه لري.او په دې توګه افغانستان سياسي استقلال له لاسه ورکړ.

امیر ته ۳۰ ارابې توپونه،یوملیون او۹۰۰ زره د خزانې روپۍ د جنرال ستوراټ او جنرال رابرټ له لوري ورکړل شوې.[٤]

امیر عبدالرحمن په ۲۱ جولای ۱۸۸۰ ز کال په چاریکارو کې د پاچا په توګه اعلان شو او ددې کال داګست دمیاشتې په ۷ مه نیټه کابل ته ننوت او په ۳٦ کلنۍ کې په رسمي توګه په تخت کیناست.[٥]

ده وکولای سوای د څو میاشتو په موده کې د کابل امنیت تامین او د افغانستان نورو ښارونو ته پاملرنه وکړي.

امیرعبدالرحمن په ډېر لږ وخت کې خپل مخالفین له منځه یوړل. هغوی یې بندیان او یا تېښتې ته مجبور کړل. انګرېزانو هم دده سره مرستې کولې. په ۱۸۸۰ م کال کې یې پنځه لکه روپۍ،څو سوه توپونه او څو زره توپکان ورته ورکړل او هر کال به یې ۱۸۰۰۰ پونډه مرسته ور سره کوله.[٦]

ده ډېر ژر ټول شورشیان لکه د غزني غلجیان او د منځني افغانستان هزاره ګان د ځان تابع کړل. د سپه سالار جنرال غلام حیدرخان چرخي په واسطه یې د هیواد ټولې هغه برخې چې د افغاني دولت له لاسه وتلې وې، بیرته لاس ته کړې. همدارنګه یې ډېر بغاوتونه وځپل.[۷]په کافرستان کې یې د اسلام دین خپور کړ او هغه ځای یې د نورستان په نامه و باله (۹۵-۱۸۹٦ز).

دده د مهال مهم جنګونه عبارت دي له :

له ایوب خان سره جګړه (۱۸۸۷ز)، د تره کو بغاوت (۱۸۸۲)، د شېنوارو پاڅون(۱۸۹۲ز)، د محمداسحق شورښت (۱۸۸۸ز)، د هزاره جاتو نیول (۹۱-۱۸۹۳ز) او داسې نور.[۸]

---

امیر په هیواد کې د جاسوسۍ دایره جوړه او قوي کړه، تکړه قاضیان یې مقرر کړل، د پوستې دفترونه یې خلاص کړل، شرعي محکمې یې بیرته خلاصي کړې، د کابل په شاهي مدرسه کې یې دیني عالمان مقرر کړل. د مالیې دفترونه یې خلاص کړل، د لارو غله یې له منځه یوړل.[۹]

پولي واحدیې غوره کړ او په کابل کې به چاپېده.[۱۰]

له بهرنیو هیوادونو څخه یې ځیني ماشینونه راوړل،لکه :

۱- دمسکوکاتو دضرب ماشین. ۲- دتوپک جوړونې ماشین ،هنري مارتن. ۳- دکارتوس جوړوني ماشین. ٤-دبوټ او خیمې جوړوني ماشینونه. ٥- د عرق کشي وسایل ٦- د بخار دستګاه، د پښ سامان او توپ جوړوني ماشین ۷- د صابون جوړونې او شمع ریزي ماشینونه ۸-د باروتو ماشین ۹- د وریښمو اوبدلو ماشین ۱۰- مطبعة.[۱۱]

د عبدالرحمن د پاچهي په مهال ځیني بهرنیان هم په مختلفو نومونو هیواد ته راغلل، د مثال په توګه :

۱- داکترجان ګیري ۲-مزیرس "انګلیسي ډاکتر" ۳- پین استوارت او مدلتن "انګریزي انجینران".

٤-آرتوکالینز چې دمسو ،سربو او نورو فلزاتو په استخراج کې یې مهارت درلود. ٥- کاپیتان سي.ال.ګریس باخ "ځمکه پېژندونکی". ٦- ام ژرومي "فرانسوي انجنیر"

۷-انګریزه مېرمن لیلیاس هملتون "دامیر ځانګړې ډاکټره" ۸- مېرمن کیت جدیلي" انګریزه، دحرم سرای مشاوره داکټره".۱۲.

امیر د "ضیاء الملة والدین" په لقب پاچهي کوله.

د خارجي سیاست په برخه کې یې په نرمي ګام اخیست.

---

په ۳۰ مارچ ۱۸۸۵م۱۳ کال، تزاري روسيې په شمالي پنجده حمله وکړه او هغه يې و نيوله. که څه هم انګرېزانو بايد پدې هکله دده سره مرسته کړې واى، خو د خپل منافقانه سياست له امله يې ونه کړه .

د اميرعبدالرحمن خان په وخت کې له انګرېزانو سره د ډيورنډ تړون لاسليک شو.(۱۸۹۳زنومبر۲/۱۲جمادي الاول۱۳۱۱هـ)۱٤

په دې معاهده کي د افغانستان په شرقي او جنوبي سيمو کي ډېري ځمکي، لکه پېښور، وزيرستان، چمن، کوژک تر کوټي پوري له لاسه ورکړل شوې.

امير عبدالرحمن په کابل کي په ۱۹۰۱ کال د اکتوبر په لومړى نيټه له ۲۱ کاله سلطنت وروسته د ۷۱ کلنو په عمر مړ سو۱۵ او په ځاى يې د ده زوى سردار حبيب الله خان پاچا سو.

---

**سرچينې:**

[۱] - تاج التواريخ، ٦ مخ۱ټوک.اميرعبدالرحمان خان. ژباړن :عبدالقيوم زاهد مشواني،دانش خپرندويه ټولنه.۱۳۷۹کب .

[۲] - تفصيل او ماخذونه يې تېر شويدي.

[۳] - افغانستان درمسيرتاريخ، ٦٤٠ مخ ۱ ټوک. ميرغلام محمدغبار. مرکز نشر انقلاب با همکاری جمهوری ، ۱۳٦٦ هـ چاپ.

[٤] - افغانستان از امير کبير تارهبر کبير ۱۷۸مخ . علامه عبدالحق مجددي و داکتر فضل الله مجددي.بنګاه انتشارات ميوند، ۱۳۸۷هـ ش.

[۵] - افغانستان درقرن ۱۹، ۳۵۹- ۳٦۱ مخونو څخه اخستنه. سيدقاسم رشتيا .بنګاه انتشارات ميوند، پنځم چاپ، ۱۳۸٤هـ ش.

[٦] - نګاهي به زندګاني اميرعبدالرحمن .عبدالقادر کمالي.سايت

[۷] - زموږ غازيان، ۱۰٤-۱۰۵ مخ .محمدولي زلمى. دافغانستان دعلوموااکادمي ۱۳٦۸ کال داسد ۲۸.

[۸] - افغانستان تاريخ وجغرافيا، ۷۲ مخ .لوئيس دوپري.مترجم:جعفررسولي .بنګاه انتشارات ميوند، ۱۳۸۵ هـ .

[۹] - دتاج التواريخ دليکني په اساس.

[۱۰] - افغانستان درعصر سلسله محمدزايي،علي اکبر فياضي،سايت پژوهش سراى تاريخ افغانستان.

[۱۱] - افغانستان درقرن ۲۰، ۱٤ مخ.امين الله دريځ، انجمن نشراتي دانش.جدي ۱۳۷۹هـ.

[۱۲] - افغانستان تاريخ وجغرافيا،۸٦ مخ .

[۱۳]- دافغان ملي تاريخ، ۵۷۹ مخ ۱ ټوک ،قدرت الله حداد فرهاد. دسايي دپښتو څېړنو او پراختيا مرکز ، ۱۳۸۳ هـ ل لېندی، چاپ.

[۱٤]- قراردادهاي افغانستان، عتيق الله نائب خيل ،بنگاه انتشارات ميوند.

[۱۵]- دافغانستان پرمعاصرتاريخ يوه لنډه کتنه، ۱٤۱ مخ. کانديداکاډميسن محمد ابراهيم عطائي.ميوند خپرندويه ټولنه،۱۳۸۳هـ ل.

# حبیب الله خان

امیرحبیب الله خان د امیرعبدالرحمن خان مشر زوی او د محمدافضل خان لمسی دی.

هغه وخت چي امیرعبدالرحمن خان د بخارا لور ته په تېښته و، په ۱۸۷۲ ز کال د سمرقند په سیمه کې پیدا شو.

د حبیب الله خان مور د بدخشان د سیمیز امیر لور وه.[1]

امیرعبدالرحمن د حبیب الله له غټېدلو سره سم ورته ښوونکی مقرر کړ، هغه به حبیب الله خان او د هغه کشر ورور نصرالله خان ته چي تر ده دوه کاله کشر و، لوست وایو.

په ۱۸ کلنی کي، د پلار له خوا د سردار کلان په حیث وټاکل شو.[2]

(۱۸۹۰ز)

د وخت په تېرېدلو عبدالرحمن خان دخپل سلطنت ټولي چارې سواء له باندنیو چارو، ده ته وسپارلې .

امیرعبدالرحمن خان په ۱ اکتوبر ۱۹۰۱ ز کال وفات شو او پر ځای یې حبیب الله خان دواک پر گدی کښیناست.

حبیب الله خان له پاچا کېدلو سره سم هندي وایسرای ته پیغام ولیږه، له هغې خوا ځخه ورته مبارکي راغله او هیله یې ورځخه وکړه تر څو هند ته ورشي، خو حبیب الله خان لومړی ونه منله، وروسته یې د عنایت الله خان په مشري یو پلاوی هند او انگلستان ته ولیږه.

امیر حبیب الله خان په ۱۹۰۲ز کال کې د سراج الملة والدین لقب ځانته خوښ کړ.۳

په ۱۹۰۵ کال دمارچ په ۲۱ (۱٤محرم الحرام ۱۳۲۳هـ) نېټه يې له انګرېزانو سره د پلار له خوا شوی تړون دوباره امضاء کړ.٤

په ۱۹۰٦ ز کال د دسمبر په میاشت کې د انګرېزانو په دوهم ځل بلنه هند ته روان شو او له دوه میاشتې او پنځه ورځې سفر وروسته بیرته راوګرځید.

ده ته د پلار ارام هیواد ور پاته شو. د هیواد خلک د امیر عبدالرحمن څخه ډېر په ویره کې و،تردې چې دمړینې وروسته يې هم خلکو په مرګ باور نه کاوو.

امیرحبیب الله خان حبیبیه لېسه (۱۹۰۳ز)، شاهي مدرسه او حربي ښوونځی (۱۹۰۹ز) جوړه کړه.

یو اخبارېي د سراج الاخبار (۱۹۰۵ز) په نامه را ویوست، چې لومړی يې مسوول عبدالروف او وروسته محمود طرزي شو.[٥]همدارنګه د مېرمن اسماء له لوري د ارشادالنسوان اخبار او سراج الاطفال جرېده هم دیادوني وړ ده.

د امیر د پاچهۍ په دوره کې لومړی نړیوال جنګ (۱۹۱٤ز) پیل شو. انګریزانو ددې لپاره چې افغانستان بې طرفه پاته شي، حبیب الله خان ته یو استازی راولیږه او د تېرو ژمنو په وریادولو سره يې د بې طرفی غوښتنه ورڅخه وکړه. حبیب الله خان يې غوښتنه ومنله او په ۱۳۳۲ هـ کال درمضان په میاشت کې د عام دربار په وړاندې افغانستان ناپېیلی اعلان کړ.[٦]

د جرمني اوترکیې د حکومتونو له خواهم د امیر نه وغوښتل سول، تر څو پدې جګړه کې د انګرېزانو پر ضد د دوی سره ملګری شي، خو امیر د دوی نمایندګان لومړی ښه ونازول او بیا يې هغوی ته خپله بې طرفي وښودله.

نصرالله خان د امیر ورور او عنایت الله خان د امیر مشر زوی د ترکیې د حکومت او استازو ډېره پلوي کوله، هغوی غوښتل حبیب الله خان له دې موقعې څخه ګټه واخلي او افغانستان ازاد اعلان کړي، خو حبیب الله خان

په دې تمه چې له جنګ وروسته به د ناپیيلو اوخپلواکې ښوونکي مجلس غړی شي، له ژمنې ماتولو څخه نټه وکړه.

له مهمو کارونو څخه يې:

۱- په ۱۲۸۸ هـ ل کال د کابل دیتیم خاني جوړول .

۲- په ۱۲۸۷ هـ ل کال د رولرکېمني څخه په ممبي کې موټر اخستل.

۳- په ۱۲۸۵ هـ ل کال د جبل السراج فابريکه ودانول او

٤- په ۱۲۸۹ هـ ل کال د کابل ملکي شفاءخانې جوړول و.[۷]

همدارنګه يې دځيني ودانيو دبنسټ ډبرې هم ايښي دي، د مثال په توګه په لغمان کې قلعه سراج، په جلال آباد کې سراج العمارات، په جبل السراج کې سراج الامکار او په کندهار کې نهر سراج.[۸]

د حبيب الله خان په وخت کې هندي مهاجرينو په افغانستان کې يو مؤقت حکومت جوړ کړ.(دسمبر ۱۹۱٦ز)

دحکومت صدر راجامهندرا پرتاب، لومړی وزير مولوي برکت الله او داخله وزير مولوي عبيدالله سندهي وټاکل شو.[۹]

د اميرحبيب الله خان په وختونو کې روڼ اندو نهضت "مشروطي نهضت" جوړ شو. ددې نهضت مشر مولوي محمد سرور واصف و.

دې نهضت غوښتل، تر څو انګرېزان له افغانستان څخه ووځي او هيواد پرمختګ وکړي.

اميرحبيب الله خان ددې غورځنګ غړي بنديان کړل، ځيني مشران لکه مولوي واصف، عبدالقيوم او د واصف ورور سعدالله يې په توپ کې والوزول. نور ډېر غړي يې د زندان د تمبو شاته واچول.

خو نهضت غلی نشو او نوره يې هم وده ومونده، تر دې چې دده زلمی زوی امان الله خان هم ددې نهضت غړی شو.

حبیب الله خان هم د امیر عبدالرحمن په شان د انګرېزانو د ګټو ساتونکی وو او د انګرېزانو له خوا حمایه کېده. دا مهال د خلکو له لوري د خپلواکۍ اخستلو شعارونه پورته شول او دامیر له پالیسي سره یې د مخالفت څرګندونه کوله. همغه و چې په ۱۹۱۹ کال کې د خلکو له خوا د کله ګوش په تفریحي کېمپ کې د خوب په مهال په توپنګچه وویشتل شو او ځای پر ځای مړ شو.(۲۰ /فروري /۱۹۱۹ز)[۱۰]

[۱]- تاج التواریخ. ۱۲۰ مخ ۱ټوک. امیرعبدالرحمان خان. ژباړن :عبدالقیوم زاهد مشواني،دانش خپرندویه ټولنه.۱۳۷۹کب .

[۲]- دافغانستان پر معاصرتاریخ یوه لنډه کتنه ۱٤٤، مخ . کاندیداکاډمیسن محمد ابراهیم عطائي.میوند خپرندویه ټولنه.۱۳۸۳هـ ل.

[۳]- افغانستان درقرن ۲۰، ۲۵ مخ . امین الله دریځ، انجمن نشراتي دانش.جدي ۱۳۷۹هـ.

[٤]- افغانستان درمسیرتاریخ، ۷۲۸ مخ ۱، ټوک. میرغلام محمدغبار. مرکز نشر- انقلاب با همکاری جمهوری ، ۱۳٦٦ هـ چاپ.

[٥]- درمسیر تاریخ ،۷۲۳ مخ ۱ټوک.

[٦]- پورتنی ماخذ ۷۳۸ مخ .

[۷]- افغانستان از امیر کبیر تارهبر کبیر ، ۳۲۰ مخ . علامه عبدالحق مجددي و داکتر فضل الله مجددي.بنګاه انتشارات میوند، ۱۳۸۷هـ ش.

[۸]- دیموکراسي ټولګی، تاریخ ،نوی نصاب ۱۳۸۳ هـ ل چاپ.

[۹]- افغانستان درقرن ۲۰، ۵۲ مخ.

[۱۰]- افغانستان درعصر سلسله ي محمدزایي ،اکبرفیاضي.سایت پژوهش سرای تاریخ افغانستان.

# امان الله خان

امان الله خان په ۱۳۰۹هـ ق کال (۲/جون/۱۸۹۲ ز)[1] د کابل په پغمان کې وزېږید.

نوموړی د امیرحبیب الله خان زوی، د عبدالرحمن خان لمسی، د امیر محمد افضل خان کړوسی او د امیر دوست محمد خان کوسی دی.

دامان الله خان مورسرورسلطان (علیا بیگم) نومیده.

لومړنی زده کړې یې په شاهي دربار او نورې زده کړې په حربیه مدرسه (حربیه ښوونځی) کې تر سره کړې. په پوځي زده کړه کې یې ځانګړی استاد هم درلود،چې محمود سامي پاشاه نومیده.[2]

په ۱۲ کلنی کې عین الدوله ونومول شو او په ۱۹۱۳ ز کال یې له ثریا د محمود طرزي له لور سره واده وکړ.

امان الله خان په ډېره صریحه او ځرګنده لهجه خبري کولې او کله به یې چې یې وینا کوله مقابل لوری به یې تر اغېز لاندې راووست.کله چې د امیرحبیب الله خان د پاچاهی په دوران کې روڼ اندو د مشروطیت غورځنګ جوړ کړ، نو امان الله خان د همدې غورځنګ په فعالیتونو کې هم بشپړه ونډه واخیسته. دی د "افغان ځوانان" (ښایي دا په مشروطي غورځنګ کې دننه یوه ډله وي) مشر وټاکل شو.[3]

د ځینو فعالیتونو له امله امیر حبیب الله د همدې غورځنګ غړي بندیان کړي وو، چې امان الله بیا د خپلې پاچاهی په لومړیو ورځو کې له زندان څخه را خلاص کړل.

په۲۰فبروري،۱۹۱۹ ز کال کې دده پلار(امیرحبیب الله خان) د لغمان په کله ګوش کې ووژل شو. هغه وخت امان الله خان دحبیب الله خان له

لوري په کابل کې والي (نائب) و او د کابل د پوځ او خزانې ټول واک دده په لاس کې و. امان الله خان ځان په کابل کې د پاچا په توګه اعلان کړ، خو په جلال آباد کې نصرالله خان ځان پاچا کړ. نصرالله خان چې کله ولیدل، امان الله خان پرې څواکمن دی، له واکمنی نه لاس په سر شو. امان الله هغه کابل ته راوغوښت ، زنداني يې کړ او په همدې زندان کې وفات شو.په دې توګه امان الله خان دفرورې په ۲۷ نیټه،دعمر په ۲۷ کلنی، د افغانستان پاچا غوره شو.[٤]

امان الله خان د خپل پلاردمرګ پر اوومه ورځ ملت ته وینا وکړه او په وینا کې يې وویل:

"ای د افغانستان معظم ملته! ما د پلار د شهادت پر وخت د سلطنت وکالت په کابل کې پرغاړه درلود او اوس په هغه اصالت د امانت درونډ بار متوکلاً او متعصماً پر غاړه اخلم. کله چې ستر ملت زما پر سر د پاچاهی جوغه کېښودله، ما عهد وکړچې دافغانستان دولت به لکه دنړی د نورو مستقلو قدرتونو د هیواد په داخل او خارج کې ازاد او مستقل وي، د افغانستان خلك به دقانون تابع وي، بېګار او نور جبري کارونه به بند وي.دلته به ډېر اصلاحات راځي، چې هیواد په نړی کې خپل مناسب ځای ومومي.

زه به د "شاورهم فی الامر" پراساس د هیواد چارې اجرا کوم. تاسې به د خپل دین او هیواد په چارو کې ډېر هوښیار اوسئ او په بیداری به وطن ساتئ. زه تاسو، ټول اهل اسلام او ټول بني نوع انسان ته خیر او سعادت غواړم".[٥]

امان الله خان انګرېزانو ته د افغانستان خپلواکي اعلان کړه،خو انګرېزانو سرنه په وګرځاوو، نو ځکه اړ شو چې د انګرېزانو په وړاندې د غزا او جهاد اعلان وکړي.

افغان ملت په ډېر لېږ وخت کې انګرېزانو ته ماته ورکړه. انګرېزانو چالاکي وکړه، د خپلې شرمېدونکې ماتې د پټولو لپاره يې د سولې خبرې پيل کړې او د افغان غازيانو د لا پرمختيا مخنيوی يې وکړ.(۱۹۱۹ز/۱۲۹۸هـ)

د انګرېزانو او افغانانو تر منځ د خپلواکی وروستی پرېکړه او معاهده په ۲۲ نومبر ۱۹۲۱ز کال وشوه.٦

امان الله خان د خپلواکی په اعلان ډېر ژر د افغانستان د خلکو او قبايلو ملاتړ ترلاسه کړ او په همدې توګه لس کاله د افغانستان پاچا پاتې شو.

دده په پير کې د المانيانو له لوري دنجات ليسه (۱۹۲٤ز) ، دانګليس له لوري دغازي ليسه (۱۹۲۸ز) او امانيه په ۱۹۲۳ز کال جوړي شوې.[۷]

د هيواد د فرهنګ د غوړېدا په لړ کې د امان الله خان لومړی ګام د امان افغان خپرول وو، چې لومړی ګڼه يې د ۱۹۱۹ زېږيز کال داپرېل په۱۲مه د عبدالـهادي داوي په مديريت خپره شوه. دې خپروني دخلکو د ذهنونو په روښانولو کې ونډه اخيسته.[۸]

د مطبوعاتو په برخه کې بيا وروسته نورې جريدې او مجلې خپرې شوې، د مثال په توګه د انيس اونيزه، د غلام محی الدين انيس په مديريت، نسيم سحر اونيزه د احمدراتب په مديريت او نوروز دميرزا محمدنوروزخان په مديت خپرېدلې.[۹]

د قانون جوړلو په برخه کې امان الله خان د ۱۹۲۲ زېږيز کال د فبروري پر ۲۹مه په جلال اباد کې د ملت د۸۷۲ استازيو په ګډون لويه جرګه جوړه کړه او په ۱۹۲۳ ز کال دجولای په ۲۹ د ولايتونو استازي د۹۳۹ په شمېر په پغمان کې راټول او د افغانستان لومړنی اساسي قانون يې تصويب کړ.۱۰

په اقتصادي برخه کې يې دصنايعو انکشاف ته پوره پام وکړ اوپه بانديني تجارت کې افغاني پيداوارو دنړی مارکېټونو ته لاره ومونده.

په عمراني برخه کې نوي ښارونه جوړ شول او د کابل ښار له پخوا څخه څو چنده پراخ شو. د ولایتونو ترمنځ لارې او سړکونه له سره جوړ شول او په لارو کې د مساپرو د هوسایي لپاره هوټلونه په کار ولوېدل.

امان الله خان افغان زده کوونکي د لوړوزده کړو لپاره بهرنیو هیوادونو ته ولیږل، په دې لړ کې یو شمېر انجونې د لوړ تحصیل لپاره ترکیې،آلمان او فرانسې ته ولیږلي شوې.۱۱

امان الله خان د هېواد د پرمختیا په هیله د ۱۹۲۷ زېږیز کال په وروستیوکې د اروپا په سفر ووت او چې بېرته له سفره راستون شو  په یو لړ اقداماتو یې لاس پورې کړ. د اصلاح په موخه شروع شویو دې کړنو کې ځیني کړنې له اسلام سره په ټکر کې وې، چې په وړاندې یې خندونه پیدا شول. دده په وړاندې په ۱۹۲٤ ز کال کې د ملاعبدالله (چې په گوډ ملا مشهور و) پاڅون، په ۱۹۲۸ ز کال د شینوارو شورښت او وروسته د سقاو زوی اړی گړی جوړ کړ.

امان الله له څه مقاومت وروسته اړ شو ترڅو د ۱۹۲۹ زېږیز کال د جنوري په ۱٤ نېټه استعفاء ورکړي[۱۲] او پر ځای یې خپل ورور عنایت الله په پلاز کېناوو.

همدامهال  امان الله خان د غزني له لارې کندهار ته لاړ.

هلته یې ډېره هڅه وکړه ترڅو پښې خښې کړي، لښکري یې جمع کړې تر غزني راغی،خوپه ٦ثور ۱۳۰۸ هـ ش[۱۳] یې ماتې وخوړه اوکندهار ته لاړ، د ۱۹۲۹ ز کال په مي کې یې افغانستان دتل لپاره پرېښود[۱٤] اوایټالیا ته لاړ. هلته یې د ۱۹٦۰ کال د اپریل پر۲۵ مه د دوشنبې په ورځ د زوریخ په ښار کې  له دې نړۍ سترگې پټې کړې.[۱۵]

د وصیت له مخې یې جنازه افغانستان ته راوړل شوه او په جلال اباد کې د خپل پلار د قبر تر څنگ خاورو ته وسپارل شو.

[1]- اور په افغانستان کي، ۳۵ مخ.ربه تالي ستيوارت.ژباړن :عبدالحسيب حکيمي، ميوند خپرندويه ټولنه.

[2]- غازی امان الله خان ،پښتو ويکيپيډيا.

[3]- شاه امان الله غازي ، محمداعظم سېستاني،بينوا وېب پاڼه .

[4]- امان الله خان،سايت کوکچه پرېس.

[5]- افغانستان درمسيرتاريخ، ۷۵۲ مخ ۱ ټوک.ميرغلام محمدغبار، مرکز نشر، انقلاب با همکاری جمهوری ، ۱۳٦٦ هـ چاپ.

[6]- دافغانستان پرمعاصرتاريخ يوه لنډه کتنه، ۱۷۹ مخ. کانديداکاډميسن محمد ابراهيم عطائي،ميوند خپرندويه ټولنه،۱۳۸۳هـ ل.

[7]- افغانستان تاريخ وجغرافيا،۱۱۲ مخ . لوئيس دوپري،مترجم:جعفررسولي ،بنگاه انتشارات ميوند، ۱۳۸۵ هـ .

[8]- دافغانستان پرمعاصرتاريخ يوه لنډه کتنه، ۱۸۰ مخ.

[9]- افغانستان از اميرکبيرتارهبر کبير،۳۸۳مخ . علامه عبدالحق مجددي و داکتر فضل الله مجددي.بنگاه انتشارات ميوند، ۱۳۸۷هـ ش.

[10]- افغانستان ترروستي افغانه، ۹٤ مخ ۱ ټوک . غلام محمد زرملوال،دانش خپرندويه ټولنه ،۱۳۸۳ ل.

[11]- افغانستان درقرن ۲۰، ۱۲۰مخ۱ ټوک. امين الله دريځ، انجمن نشراتي دانش،جدي ۱۳۷۹هـ.

[12]- افغانستان درمسيرتاريخ، ۸۲۹مخ .

[13]- افغانستان درعصرسلسله ي محمدزايي، اکبرفياضي،سايت پژوهس سرای تاريخ افغانستان.

[14]- رازهاي سربه مهر تاريخ ديپلماسي افغانستان،داکتر ولاديميربويکو،ترجمهٔ دري: عزيزآريانفر،سايت پژوهش سرای تاريخ افغانستان.

[15]- زموږ غازيان ،۱٦٦ مخ . محمدولي زلمی، دافغانستان دعلوموآکادمي ۱۳٦۸ کال داسد ۲۸.

# عنایت الله خان

عنایت الله خان د حبیب الله خان مشر زوی، د عبدالرحمن خان لمسی او د امان الله خان ورور و.

د عنایت الله خان مور د محمدشاه خان غلجي لور وه، عنایت الله خان په ماشومتوب کې له هغو ښوونکو څخه چې دنیکه له خوا ورته مقرر شوي وو، لوست کاوو.[1]

کله چې حبیب الله خان پاچا شو ۱۹۰۱ز، نو هغه مهال دی ځوان و. د هند وایسرای حبیب الله خان ته بلنه ورکړه تر څو هندوستان ته ورشي.خو حبیب الله خان ددې پر ځای چې خپله ورشي، خپل زوی عنایت الله خان یې د یوه پلاوي په مشري هندوستان او بیا انګلستان ته ولېږه. حبیب الله خان عنایت الله خان ته سپارښتنه کړې وه، چې دهرڅه په وړاندي چوپ اوسه. (موخه داچې تړون مه ورسره کوه)

عنایت الله خان انګلستان ته ولاړ، هلته یې ملکې وېکتوریا او د هغې افسرانو په ښه توګه هرکلي وکړ. خو په دې سفر کې چې ددواړو لورو کومه موخه وه، هغه پوره نشوه.

د ۱۹۱۹ زکال،دفروري په میاشت کې حبیب الله خان دلغمان په کله ګوش کې ووژل شو. عنایت الله خان که څه هم مشر او ولیعهد و، خو ځان یې دپاچا په توګه اعلان نه کړ. په کابل کې یې د کشر ورور امان الله خان سلطنت ومانه.

کله چې له امان الله خان څخه کرکه زیاته او له هرې خوا څخه دبغاوتونه لړی پیل شوه، حبیب الله کلکاني، کابل محاصره کړ، امان الله خان په ١٤

---

د افغاني پاچاهانو لنډ ژوندلیک

جنوري ۱۹۲۹ ز کال له سلطنت څخه استفعی ورکړه او عنایت الله خان ته یې دا بوج ور په اوږو کړ.[۲]

له عنایت الله خان سره په همدې ورځ په دربار کې بیعت وشو او د پاچا په توګه وټاکل شو، عنایت الله خان له واکمنېدلو سره سم د محمدصادق مجددي او محمدعثمان خان په مشرۍ یو پلاوی حبیب الله (بچه سقاو) ته دسولې لپاره ور واستاوو. محمدصادق مجددي او محمدعثمان خان ددې پر ځای چې لومړی کلکاني ته ورشي، پوځیانو ته ورغلل او هغوی ته یې د امان الله خان دمستعفي کېدلو اوعنایت الله خان د پاچا کېدلو وویل. پوځیان چې تراوسه پوري د امان الله خان لپاره جنګېدل، تیت او پرک شول.[۳]

محمدصادق مجددي او عثمان خان حبیب الله کلکاني ته ورغلل، هغه ته یې وویل:"امان الله خان له واکمنی څخه لاس په سر شوی دی او خلکو عنایت الله خان ټاکلی، نو تاسو له هغه سره بیعت وکړئ!"

په دې مجلس کې محمدحسین دکلکاني د دفاع وزیر هم ناست و، هغه چیغي کړي:"دا چي دبیعت خبره ده، نو ولي یې له خپل امیر حبیب الله خان سره ونه کړو".[٤]

په دې توګه د حبیب الله خان لپاره بیعت وشو او محمد صادق مجددي ناکام راستون شو.

عنایت الله خان چي کله د ملګرو له خوا له حبیب الله کلکاني سره له بیعت څخه خبر شو، نو حبیب الله بچه سقاو ته یې احوال واستاوو، چي که چېري ته ماته له دې ځایه د انګلیس په الوتکه کې تر پېښوره د تلو اجازه راکوي او د ارګ د خلکو د مصؤنیت ژمنه راکړي، نو زه له سلطنت څخه درته لاس په سر کېږم.حبیب الله خان هم هو ورسره وکړه او په۱۸ جنوري ۱۹۲۹ ز کال عنایت الله خان د انګلیس په الوتکه کې پېښور ته لاړ، له هغه ځایه د ریل ګاډي په واسطه چمن او بیا په کندهار کې له امان الله خان سره یوځای

شو. په تهران کې يې هستوګنه غوره کړه او په ۱۲اګست ۱۹٤۹ ز کال هملته وفات شو.[٥]

[۱]- تاج التواریخ، له ۲٤۸ او ۳۱۰ مخونو څخه اخستنه.

[۲]- افغانستان درمسیرتاریخ، ۸۲۹مخ ۱ ټوک،میرغلام محمدغبار، مرکز نشر- انقلاب با همکاری جمهوری ، ۱۳٦٦ هـ چاپ.

[۳]- افغانستان درقرن ۲۰، ۱۷٤مخ۱ ټوک، امین الله دریځ، انجمن نشراتي دانش،جدي ۱۳۷۹هـ.

[٤]- دافغانستان پرمعاصرتاریخ یوه لنډه کتنه ،۱۹۱ مخ، کاندیداکاډمیسن محمد ابراهیم عطائي،میوند خپرندویه ټولنه،۱۳۸۳هـ ل.

[٥]- افغانستان از امیر کبیر تارهبر کبیر، ٤۳۷ مخ ، علامه عبدالحق مجددي و داکتر فضل الله مجددي،بنګاه انتشارات میوند، ۱۳۸۷هـ ش.

# حبیب الله کلکاني

حبیب الله کلکاني د کابل ولایت د کلکان اوسیدونکی و، په ۱۸۹۰ ز کال په کلکان کي زېږېدلی او د پلار نوم یې امام الدین دهقان دی.[۱] ځیني مورخینو یې د پلار نوم امین الله او یا امیرالله یاد کړی دی، امین الله (یاامام الدین دهقان) په زابل کې د عسکري په غنډ کې داوبو راوړلو (سقاوي) دنده درلوده.[۲]

حبیب الله خان په ماشومتوب کې د خپل کلي له ملا څخه درس وایو، خو له هغه سره تر شخړې وروسته یې د هغه کور لوټ کړ. بیا یې د محمدحسین خان (مستوفي الممالک) په باغ کې د باغبان په حیث دنده تر سره کوله.

حبیب الله خان په ځوانی کې غلاوي شروع کړې، وروسته کابل ته راغی او هلته یې په ۱۹۲٦ز کال په پوځ کې دنده غوره کړه.[۳] یوه ورځ له خپلي عسکري ټولی څخه د رخصتیدلو وروسته په لاره کې له غلو سره مخامخ شو، غله یې ووژل او وسله یې له ځان سره واخسته. په دې شپو کې دامان الله خان دحکومت له لوري د غلو په وژلو او یا نیولو د انعام د ورکړې اعلان شوی و، حبیب الله خان دانعام په تمه دښار ځارنوالی ته ورغی، خو ځارنوال د انعام په حرص کي دی زنداني کړ او د غلو وژل یې په ځان پوري وتړل.[٤]

حبیب الله خان له زندانه وتښتید او پېښبورته راغی، هلته له محمد صدیق بوټ خرڅوونکي سره مزدور و، بیا یې هتې را ویسته او وروسته یې سماوار پرانیست. هلته یې د یوه دکاندار له لور سره واده وکړ.

د شینوارو تر بغاوت وروسته یې سماوار خرڅ کړ او خوست ته راغی، هلته یې د علماوو فتواوي چي امان الله خان یې کافر ګانه،واورېدې. ده د خپلې

باچهي لپاره مناسبه موقعه وموندده، کوهستان ته راغی، خپل پخواني ملګري او کلیوال یې سره راټول کړل. هغوی لومړی په ده پسې وخندل، خو چې کله یې د خپلو ځانګړو ملګرو سره په یواځې سرپه ډاکه وهلو پیل وکړ، نو هغوی هم ورسره ملګري شول. بالاخره دده د ملګرو شمېر دومره شو چې د شمال د لارې په بندولو یې وس ورسید.(۱۹۲۸ ز) [۵]

امان الله خان هغه ته د کابل ښاروال احمدعلي خان ورواستاوو، هغه چې رئیس تنظیمه هم مقرر شوي ؤ، د غلو له دې ډلې سره یو سند لاسلیک کړ، چې دولت به هر غله ته درې زره افغانۍ معاش او ټولو ته۸۲جاغوري ټوپک او د هر ټوپک سره ۱٦٤۰ ګدې کارتوس ورکوي. دوی هغه وسله واخسته، خو ددې لپاره چې د حکومت په نظر کې په خپل اهمیت پوه شي، حبیب الله خان خپله د احمدعلي خان له تلیفون څخه امان الله خان ته زنګ وواهه، هغه ته یې وویل:

"بچه سقاو زموږ په ولکه کې دی، دهغه په هکله څه حکم کوئ؟"

امان الله خان ځواب ورکړ:"دا... ووژنه او سر یې کابل ته راولیږه".

حبیب الله خان ددې په اورېدو ځان پاچا ته څرګند کړ او سپکې سپورې یې ورته وویلې،[٦]سوله په دې توګه ماته شوه.

په دې ورځوکې د تګاو اخندزاده صاحب د کلکاني دپلویانو سره د کلکان د ملاویس الدین په کلا کې حبیب الله د امیر په توګه وټاکه.[۷]

حبیب الله خان د حکومت له خوا په ورکړل شوې وسله او پیسو ځان تقویه کړ. په ۲۱ قوس یې په محلي حکومت خواجه سرای حمله وکړه، هغه یې ونیو، له هغه ځای څخه د کابل په لوري وخوځید.[۸] په کابل کې یې له امان الله خان سره یوه هفته جګړې وکړې، خو په پای کې زخمي او خیرخانې کوتل ته ورسول شو.

حبيب الله خان د دوهم ځل لپاره تر ځان چمتو کولو وروسته په ۲۳ جدي د کابل په لوري پرمختګ پيل کړ، خپل لښکر يې په دريو برخو وويشه، يوه برخه يې د خير خانې دکوتل په ښي برخه کې وليږله، بله برخه په چپه حصه او يوه برخه يې له ځان سره وساتله. په کابل يې حمله وکړه، امان الله خان چي کله له حملې خبر شو، له پاچهي يې استعفی ورکړه او د کندهار لور ته وتښتېد. (۱۹۲۹ز کال دجنوري مياشت)

عنايت الله پاچا وټاکل شو، عنايت الله خان د محمدعثمان خان او محمد صديق مجددي په مشري يو پلاوی حبيب الله خان ته دسولي لپاره واستاوو، تر څو هغه خبر کړي ، چي امان الله خان له قدرت څخه لاس اخيستی دی.

حبيب الله خان او عنايت الله خان په قرآن کريم باندي يو تړون وکړ، په تړون کي ليکل شوي وو، چي عنايت الله خان به د انګليسي چورلکو په وسيله له افغانستان څخه روغ رمټ وزي او په بدل کې به حبيب الله خان ته ارګ سپاري. خو حبيب الله خان به دا ژمنه هم کوي چي د ارګ وګړو ته زيان ونه رسيږي. حبيب الله خان شرايط ومنل او عنايت الله خان په دې توګه له هيواد څخه ووت، پاچهي حبيب الله خان ته ورسيده.[۹]

حبيب الله خان په ۱۹۲۹ ز کال، د جنوري په ١٦ مه نېټه، په پلاز کښېناست،[۱۰] ترهرڅه لومړی يي لمربز کال په سپوږميز (قمري) کال واړاوو.

اميرحبيب الله خان ګردی، سخوټ، توربخن سرې و او لنډی ږيره يې درلوده، کليوال کالي يي اغوستي و، په واسکټ يې د مرميو لوی کتارونه راپېچلي و.[۱۱]

اميرحبيب الله خان له څه مودې پاچهې وروسته څه عصري شو، توره دريشي به يي اغوسته او د محمدزو له کورنۍ څخه يي د بې نظيري په نوم يوه مېرمن په نکاح کړه.

حبیب الله خان ځان ته د خادم الدین رسول الله لقب غوره کړ. د حبیب الاسلام په نوم جریده هم اول د سیدمحمدحسین او وروسته د برهان الدین کشککي په مدیریت خپره شوه.[۱۲]

کابینه یې په دې توګه وه:

سیدحسین نایب السلطنه وزیر جنګ .

حمیدالله معین السلطنه.

عبدالغفور تګابی د کورنیو چارو وزیر.

صاحبزاده عطاءالحق د بهرنیو چارووزیر.

صاحبزاده شېرجان د دربار وزیر.

غلام مجتبی خان د مالیې وزیر.[۱۳]

حبیب الله خان له پاچا کېدلو سره سم هرې خواته لښکري واستولې، په وردګو کې ورسره کریم خان جګړه وکړه، خو کریم خان یې وواژه. د کندهارپه لور په مخ لاړ.کندهار ښار یې په ۱۹۲۹ مي کې ونیو.

علي احمد خان د کندهار والي و، د حبیب الله خان ملګرو هغه ونیو، کابل ته یې ولېږه او هلته یې په توپ کې والوزاوو.[۱٤]

د حبیب الله خان قدرت هم تر ډېره دوام ونه کړ، نادرخان له فرانسې څخه راغی، د خپلو ورونو په مرسته یې یو لښکر را غونډ کړ،.په لوګر کې له کلکاني سره وجنګید، ده ته یې ماتې ورکړه او د کابل په لوري وخوځید. په ۱۵ اکتوبر ۱۹۲۹ ز کال نادر خان کابل ته داخل شو، حبیب الله خان جبل السراج ته وتښتید. نادرخان هلته یو پلاوی ورواستاوو او په قرآن کریم یې د سرساتنې ژمنه ورسره وکړه، حبیب الله خان هم کابل ته له خپلوملګرو سره راغی، خو نادرخان په وعده ونه درېد اوپه ۲٤ عقرب ۱۳۰۸ هـ ل کال یې اعدام کړ.[۱۵]

## سرچینې:

[۱]- اریائي ویب پاڼه او دري ویکیپیډیا.
[۲]- دافغانستان پرمعاصرتاریخ یوه لنډه کتنه، ۲۰۱ مخ . کاندیداکاډمیسن محمد ابراهیم عطائي.میوند خپرندویه ټولنه.۱۳۸۳هـ ل.
[۳]- دست هاي مخفي وسیاست هاي علني، ۹۹ مخ .عبدالهادي قریشي،انجمن نشراتي دانش، ۱۳۸۳ هـ ل.
[٤]- از امیر کبیر تارهبر کبیر،٤۳۰ مخ . علامه عبدالحق مجددي و داکتر فضل الله مجددي.بنگاه انتشارات میوند، ۱۳۸۷هـ ش.
[۵]- دافغانستان پرمعاصرتاریخ یوه لنډه کتنه، ۲۰۱ مخ .
[٦]- پښتانه دتاریخ په رڼا کي،۸۵۸ مخ، سیدبهادرشاه ظفرکاکاخیل . یونیورسټي بک ایجنسي، پېښور پښتونخوا ، ۲۰۰۹ ز کال چاپ .
[۷]- پورتنی ماخذ.
[۸]- افغانستان درقرن ۲۰، ۱٦٦ مخ۱ ټوک. امین الله دریځ، انجمن نشراتي دانش.جدي ۱۳۷۹هـ.
[۹]- از امیر کبیر تارهبر کبیر،٤۳۷ مخ .
[۱۰]-افغانستان ترووستي افغانه، ۱۱۵ مخ۱ ټوک.غلام محمدزرملوال،دانش خپرندویه ټولنه ،۱۳۸۳ ل.
[۱۱]- دافغانستان پرمعاصرتاریخ یوه لنډه کتنه، ۲۰۲ مخ.
[۱۲]- افغانستان درمسیرتاریخ، ۸۲۸ مخ ۱ ټوک.
[۱۳]- پورتنی ماخذ،۸۳٦ مخ .
[۱٤]- زمازوندله غلاترپاچهي،۱۹٤مخ.دامیرحبیب الله کلکاني ژوندلیک، ژباړن:خان کاکا،په جرمني کي روښانفکره افغان خوانان،۱۳۸۳ هـ ش.
[۱۵]- افغانستان درقرن۲۰، ۲۰٦ مخ .

# محمد نادرخان

محمد نادر خان د یوسف خان زوی،د یحیی خان لمسی، د سلطان محمد کړوسی او د پائنده خان کودی و.

د ۱۲٦۲ هـ ل کال د حمل پر ۲۱ /د ۱۸۸۳ز د اپریل پر ۹ مه نېټه دهند په دېرون کې زېږیدلی دی.[۱]

تحصیلات یې هملته په هند کې د اردو او انګلیسي ژبو له زده کړي سره،وکړل.

د نادرخان نیکه یحیی خان د یعقوب خان څخه وروسته د هند دېرون ته د انګرېزانو له لوري ولیږل شو. هلته د انګریزانو په پناه کې اوسېده. په۱۹۰۱ز کې هغه وخت چې د امیر عبدالرحمن خان له لوري تبټیدلي راوغوښتل شول، د نادر خان کورنی هم کابل ته راغله. تر عبدالرحمن خان وروسته حبیب الله خان ورته ډېره پاملرنه وکړه تر دې چې په ۱۹۱۲ ز کال یې د نادرخان خور خان ته په نکاح کړه.[۲]

نادر د هغې پوهې په سبب چې په عسکري چاروکي یې درلوده، په ۱۹۰۸ز کال د جنرالۍ رتبې ته ورسید. په پکتیا کې د منګلو د پاڅون له غلي کولو وروسته په ۱۹۱۱ ز کې د نایب سالار وظیفه ورکړه شوه، په ۱۹۱۳ز کال د وخت د پاچا حبیب الله خان له لوري د دفاع د وزیر (سپه سالار) په توګه وټاکل شو.[۳]

د امیرحبیب الله خان تر مرګ وروسته چې کله د پاچا امان الله خان له لوري د استقلال اعلان وشو، یو مهم کس یې نادر خان هم و چې په جنوبي جبهه کې یې جګړه وکړه. په دې جګړه کې یې په ډېره مېړانه د ټل کلا

---

ونیوله او د فاتح په توګه د استقلال له ترلاسه کولو او سولې وروسته کابل ته راوګرځید.

په ۱۳۰۳ هـ ل کال، په فرانسه کې د افغانستان د سفير په توګه وټاکل شو. په ۱۳۰۵ هـ ل کال کې يې د سفارت څخه استعفی ورکړه او همله د نيس په ښارکي پاته شو.[٤]

کله چې امان الله خان ته د نا ارامۍ اور بل سو او حبيب الله کلکاني ته د هيواد چارې و رسيدلې، نادرخان له فرانسې څخه هيواد ته راغی او لښکر يې برابر کړ.

د۱۹۲۹ ز د اپريل په مياشت کې يې د حبيب الله کلکاني له ملګرو سره په لوګر کې د خپلو ورونو (شاه ولي خان، شاه محمود، محمدهاشم) په مرسته جګړه وکړه، له نادرخان سره قبايل هم ملګري وو، چې د نادرخان په کاميابي کې يې غوره رول ولوباوو.

نادرخان له پکتيا څخه په ۱۳۰۸ هـ ل (۱۹۲۹ز) کال راغی، کابل يې محاصره کړ، د ميزان پر ۲۳ مه نېټه يې د سقاو د حبيب الله کلکاني پاچهي له منځه يووړه او دی(نادرخان) د يوې سملاسي جرګې له لوري په ۱۹ اکتوبر ۱۹۲۹ ز کال د محمدنادرشاه په نوم د هيواد پاچا و منل سو.[٥]

محمدنادرشاه، حبيب الله کلکاني ته چې جبل السراج ته تښتيدلی و، په قرآن باندي ژمنه ليک ورکړ او هيله يې ورڅخه وکړه چې کابل ته راشه، وبه ښښل شي.

کله چې حبيب الله خان له خپلو ملګرو سره کابل ته راغی، محمدنادر خان په خپله ژمنه وفا ونکړه او حبيب الله خان يې له څو تنو ملګرو سره په۲٤عقرب ۱۳۰۸هـ ش په دار را وځړاوو.[٦]

نادرخان د حبيب الله خان تر وژلو وروسته د کورنيو چارو سمون ته ځير شو. عبدالرحمن لودين يې د کابل ښاروال وټاکه اوهغه ته يې د کابل ښار د

عمراني چارو دنده ورپه غاړه کړه. د نادرخان کابينه له لاندنيو اشخاصو تشکيل شوې وه:

سردار محمدهاشم خان صدارعظم.

سردارشاه محمود خان حربيه وزير.

سردار فيض محمدخان د بهرنيو چارو وزير.

محمدگل خان مهمند د کورنيو چارو وزير.

فضل احمد مجددي د عدليې وزير.

محمد ايوب خان قزلباش د ماليې وزير.

محمداکبرخان د تجارت وزير.

علي محمد خان بدخشي د پوهنې وزير.

الله نوازخان هندي د فوايد عامې وزير.

سردار احمدشاه خان د دربار وزير.

صدارعظم (لومړی وزير) به له هر وزير څخه په جدي توگه د کار راپور غوښت او هره شپه به يې د ټولو ولاياتو احوال په تليفون اخيست.[۷]

د محمدنادرخان په وخت کې ځيني پاڅونونه هم وشول چې ده بيا ژر غلي کړل. لکه د شمالي قومونو بغاوت، د خوست پاڅون او همدارنگه نور ...

په ۱۳۱۱هـ ش کال يې د کابل پوهنتون او د طب پوهنځی اساس کيښود، په ۱۳۱۲هـ ل کال يې ملي بانک جوړ کړ.[۸]

د نادرخان په وخت کې ځيني فرهنگي کارونه هم وشول، دمثال په توگه د کابل د ادبي انجمن جوړيدل (۵ جون ۱۹۳۱ز).

په ۱۹۳۰ ز کال د سپتامبرپه مياشت کې يې لويه جرگه راوبلله چې ۳۰۱ غيردولتي استازو او ۲۰۹ دولتي کسانو پکې گډون کړی و.[۹]

نادرخان په بهرنۍ سیاست کې ډېر جدیت درلود، له انګرېزانو سره یې دوستانه اړیکې درلودې. همداشان یې له روسانو سره هم ګذاره کوله، له ترکیې او ایران سره یې مشترک پلانونه درلودل.

دده په وخت کې صنعتي مؤسسات لکه د صابون جوړوني فابریکه، د موټرو ترمیم، ټنی جوړوني، د جبل السراج ټوکر اوبدلو، د کندهار وړی اوبدلو او دارالامان د ترکاڼي فابریکه جوړه شوه.[10]

د نادرخان دوره اوشخصیت ډېر له عبدالرحمان خان سره ورته دی.

نادرخان په ۱۹۳۳ ز[11] کال کې د څرخي کورنی د وژلو له امله د افغان ملت د ډېرو خلکو باور له لاسه ورکړ او د همدې وژنې له امله دی هم قرباني شو.

محمدنادرشاه پداسي حال کې چې د نجات د لیسې فارغینو ته یې په کابل کې شهادتنامې ور کولې، د یوه زده کوونکي له خوا چې عبدالخالق نومېده په توپنګچه وویشتل شو، ۱۳۱۲ هـ ل د عقرب ۱٦ نېټه.[12]

عبدالخالق د وخت د صدراعظم محمدهاشم خان له لوري اعدام کړای شو، نه یوازي عبدالخالق بلکې دده د کورنی ډېر غړي لکه تره، اکا، ماما، د کاکا زوی او یو اندیوال هم ورسره ووژل شول.[13]

تر ده وروسته یې زوی، محمد ظاهر پاچا سو.

سرچینې:

[1] - محمدنادرشاه.دري ویکیپدیا.

[2] - افغانستان درمسیرتاریخ، ۲۳ مخ ۲ ټوک.میرغلام محمدغبار.انتشارات جمهوري، جون ۱۹۹۹م.

[3] - دافغانستان برمعاصرتاریخ یوه لنډه کتنه، ۲۱۸مخ. کاندیداکادمیسن محمد ابراهیم عطائي.میوند خپرندویه ټولنه.۱۳۸۳هـ ل.

[4] - افغانستان درقرن ۲۰، ۲۰٤ مخ ۱ټوک. امین الله دریځ، انجمن نشراتي دانش.جدي ۱۳۷۹هـ.

[5] - دافغان ملي تاریخ، ٥۱٦ مخ . قدرت الله حداد فرهاد. دسایي دیښېنو خپرنو او پراختیا مرکز . ۱۳۸۳ هـ ل لیندی چاپ.

[٦]- افغانستان درقرن ۲۰، ۲۰٦مخ.

[۷]- دافغانستان پرمعاصرتاریخ یوه لنډه کتنه، ۲۲۱ مخ.

[۸]- افغانستان درعصرسلسله ي محمدزایي، اکبرفیاضي.سایت پژوهس سرای تاریخ افغانستان.

[۹]- مبارزه سیاسي.

[۱۰]- افغانستان درعصر سلسله ي محمدزایي،علي اکبر فیاضي.

[۱۱]- قتل هاي سیاسي درتاریخ معاصر افغانستان، صفحه ٦۰،قسمت ۱، محمد نصیر مهرین،بنگاه انتشارات میوند، ۱۳۸٤ هـ خورشیدي.

[۱۲]- افغانستان از امیرکبیرتارهبر کبیر، ۵۲۲ مخ، علامه عبدالحق مجددي و داکتر فضل الله مجددي،بنگاه انتشارات میوند، ۱۳۸۷هـ ش.

[۱۳]- قتل سیاسي درتایخ معاصر افغانستان، ۷٦ مخ.

# محمدظاهر شاه

محمدظاهر شاه د۱۲۹۳ هـ ل کال دتلې په ۲۲ نیټه[۱] ( ۱۹۱٤ ز) په کابل کې زېږېدلی دی.

په ۱۹۳۱ ز کال يې د سردار احمدشاه خان لور حميرا ځان ته وکړه.

زده کړې:

د کابل د حبيبيې او استقلال په لېسو کې يې زده کړې وکړې. په ۱۳۰۲ هـ د پلار سره فرانسې ته ولاړ او هلته يې په زده کړو پيل وکړ.

په ۱۳۰۹هـ ل کال، بېرته د فرانسې څخه هيواد ته راغی او په عسکري ښانګه کې يې خپلو تعليماتو ته دوام ورکړ.[۲]

دندې:

په لومړيو کې د دفاع د وزارت د وکيل او بيا يې د پوهنې د وزارت د وکيل په توګه دنده ترسره کوله.

د پلار تر مړينې وروسته په ۱۳۱۲ هـ ل د لړم په ۱٦ مه په ۱۸ کلنۍ کې پاچا سو.[۳]

ده ځان ته د"المتوکل علی الله" لقب غوره کړ.

څرنګه چې ظاهر خان د پاچهۍ تجربه نه درلوده نو زياتره چارې دده د تره محمد هاشم خان له خوا چې دده د حکومت صدر اعظم و، سرته رسيدلې. سردار محمد هاشم خان د ۱۹۳۳ م کال څخه تر ۱۹٤٦ م پورې صدراعظم وو.

دهاشم خان د صدراعظمي په وخت کې (۱۹۳٦ز) د امريکا د تيلو يوې کمپنۍ ته د ۷۵ کلونو لپاره دتيلو دپلټنې حق ورکړل شو.٤

د نوموړي د صدراعظمي په وخت کي، دوهمه نړيواله جګړه پيل شوه او د ظاهرشاه په امر يې افغانستان يو بې لورى هيواد اعلان کړ.

(۱۹۳۹ دسپتمبر٦)٥

تر سردارمحمدهاشم خان وروسته يې ورور شاه محمود خان په۱۹٤٦زکال لومړى وزير تاکل سو.۱۹٤٦ م ـــ ۱۹۵۳ م.٦

دده د صدراعظمي په لومړي کال (۱۹٤٦ز/۱۳۲۵هـ قوس) افغانستان د ملګرو ملتونو غړى شو.۷

صدراعظم شاه محمود خان چي په افغانستان کې د ديموکراسي پلار ورته ويل کېږي، لومړى يو شمير هغه سياسي زندانيان خوشي کړل چي د نادرخان او يا هم محمدهاشم خان له لوري زنداني شوي وو، هغوى يې په لوړو پوستونو مقرر کړل.

دوهم : د سياسي ګوندونو د جوړولو ازادي يې ورکړه.

دريم : د مطبوعاتو ازادي يې ورکړه ، چي په دې موده کې مطبوعاتو ډېر پرمختګ وکړ.۸

خو دې ديموکراسۍ تر ډېره دوام ونه کړ، په شاهي کورنۍ کې هم درز پيدا شو، شاه محمود دسياسي فشارونو له امله اړ شو،ديموکراسي لغوه کړي خو په پايله کې دى هم په ۲۱ سرطان ۱۳۳۲ هـ ل کال مستعفي اعلان شو.[۹]

په ۱۹۵۳ز کال د سپتمبر په ۷ مه نېټه ، سردار محمد داود صدراعظم سو. دده په وخت کي د اقتصادي پر مختيا قرارداد له جرمني، جاپان او ايټاليې سره امضا سو.دا درې هيوادونه د نړۍ د دوهمې جګړې ملګري وو.

کله چي داود خان صدراعظم سو، د پاکستان څخه يې د افغانستان هغه سيمې چي د ډيورنډ د کرښې په پايله کې بيلې شوې وې، وغوښتې. دا

---

زياتره هغه برخي وې چي پښتانه پکښي اوسېدل. دې خبري د افغانستان او پاکستان تر منځ کړکېچ او مشکلات را منځ ته کړل.

پاکستان په افغانستان ترانزيتي لاره بنده کړه، داودخان امريکا ته په سفر ولاړ او امريکايي مقاماتو ته يې دا مشکل ورياد کړ، خو امريکايي مقاماتو ورته وويل:" موږ هغه وخت ستاسو ملاتړ کولای شو چي تاسو يا په "سنتو" يا "سيټو" بلاک کې شامل شئ!"۱۰

داودخان له روسيې سره يو تړون لاسليک کړ، دا کار په لوېديځ او ګاونډي ممالکو ډېر بد ولګيد.

داودخان د ۱۹٦۳ ز کال په مارچ کي (۱۱حوت۱۳٤۱هـ ل) له صدارت څخه استفعى ورکړه.۱۱

ظاهرشاه ډاکټر يوسف د صدارعظم په توګه وټاکه او هغه په ۱۳ مارچ ، ۱۹٦۳ ز کال خپله کابينه اعلان کړه.۱۲

ډاکټر يوسف ۱۹٦٥ کال د اکتوبر په ۲٤ نېټه د دوهم ځل لپاره ولسي جرګې ته د کابيني او کړنلارې د لوستلو لپاره وغوښتل شو، خو هلته بې بندوباري او د نندارچيانو د ډېر بيروبارله امله يې کابينه سباته وځنډوله.سبا يي تر ځانګړي حفاظت لاندي کابينه اعلان کړه، ولس په دې ډېر خفه شو او مظاهره يې وکړه. خو د سرداروليي خان په امر په مظاهرچيانو فيرونه وشول، چې له امله يې څو تنه ژوبل سول. ملت په دې نور هم په قهر شو، ظاهرشاه ددې لپاره چي د ملت قهر غلی کړي، ډاکټر يوسف په ۲۹ اکتوبر ۱۹٦٥ ز کال مستعفي کړ.۱۳

له يوسف وروسته، محمدهاشم ميوندوال په پورتنی نېټه د صدراعظم په توګه اعلان کړای شو، خو په ۱۹٦۷ ز کال کې يې استعفي ورکړه.

د ۱۹٦۷ ز کال په نومبر کي، نوراحمد اعتمادي صدراعظم وټاکل شو ، په ۱۹۷۱ ز کال يې استعفى ورکړه.

له هغه وروسته ډاکټر عبدالظاهر په ۱۹۷۱ مي ۱٦ صدراعظم شو، په ۱۹۷۲ دسمبر کې یي استعفی ورکړه.

د صدراعظم عبدالظاهر په استعفی ظاهرشاه، موسی شفیق ته چي د بهرنیو چارو وزیر او د مصر په الازهر، د امریکا په کولمبیا او هارورډ پوهنتونونو کې یې زده کړي کړې وي، په ۷ دسمبر صدارت ورکړ تر څو د داود په کودتاسره پای ته ورسید.١٤

د ظاهرشاه په وخت کې ځیني اسلامي او کمونیستي ګوندونه هم جوړ شول، د مثال په توګه خدام الفرقان، جمعیت علمای محمدي، مسلمان ځوانان، خلق ډیموکراتیک ګوند، جمعیت عوام، افغان ملت، ستم ملي، اتحاد ملي، شعله ء جاوید، مساوات او ...

تر دوهمي نړیوالې جګړې وروسته، افغانستان د لویو پروژو په منځ ته راوړو پیل وکړ. د هلمند او ارغنداب د اوبو بندونه د امریکا د متحده ایالاتو په تخنیکي او اقتصادي مرستو جوړ شول.١٥(١٩٥٠ - ١٩٥٧ز)

ظاهرخان په ١٣٤٣ هـ ل کال د مېزان په ۹ مه نېټه، د افغانستان نوی اساسي قانون جوړ او توشیح کړ.١٦ ددغه اساسي قانون له مخي سیاسي فعالیتونه په هیواد کي ازاد شوه، چي په نتیجه کي یې یو زیات شمېر سیاسي ګوندونه منځ ته راغلل. خلکو تر یوې اندازې پوري د خبرو او لیکنو ازادي پیدا کړه. تر دغه وروسته په هیواد کي د فارسي ژبي نوم په دري واوښت.١٧

د ١٣٥٢ هـ ل کال د چنګاښ په ٢٦ نېټه، سردار محمد داود د یوې کودتا په نتیجه کي د افغانستان لومړی جمهوریت اعلان کړ. ظاهر خان چي د داود خان د کودتا په وخت کي په ایټالیا کي و، د ١٣٥٢ کال د اسد پر ٢١ نېټه داود خان ته یو لیک را ولیږه او نوي رژیم ته یې بیعت ورکړ.١٨

ظاهرشاه د جهاد په دوران کې ډېره هڅه وکړه، تر څو په مجاهدینو کې رول ولوبوي، خو د مجاهدینو له لوري ورته اختیار ورنه کړای شو. د طالبانو په لومړیو کې هم خلکو فکر کاوو چې همدا تنظیم د ظاهرشاه د بیا راتلو لپاره کار کوي، خو طالبان چې واک ته ورسیدل، په علني توګه یې ظاهرشاه له افغان ملت سره په خیانت تورن کړ.

په ۱۳۸۰هـ ل کال، د امریکایي پوځیانو په ملاتړ جوړې شوې ادارې ظاهرشاه ته بلنه ورکړه تر څو افغانستان ته راشي، هغه هم راغی او دلته ورته د "ملت بابا"لقب ورکړل شو.

ظاهر شاه د ۱۳۸٦هـ ل کال د اسد په لومړۍ نیټه (۲۳/جولای/۲۰۰۷) په کابل کې مړ او د مرجان د غونډۍ په هدیره کې خښ کړای شو.۱۹

سرچینې:

---

[۱] - محمدظاهرشاه.شهرت ننګیال.

[۲] - افغانستان درقرن ۲۰. ۲۳۵ مخ۱ ټوک. امین الله دریځ. انجمن نشراتي دانش.جدي ۱۳۷۹هـ.

[۳] - افغانستان درعصرسلسله ي محمدزایي. اکبرفیاضي.سایت پژوهس سرای تاریخ افغانستان.

[٤] - پښتانه دتاریخ په رڼا کې، ۸۹۳ مخ . سیدظفر کاکاخیل.یونیورستي بک ایجنسي پېښور پښتونخوا، ۲۰۰۹ ز کال چاپ .

[٥] - دافغانستان برمعاصرتاریخ یوه لنډه کتنه، ۲۳۸مخ. کاندیداکاډمیسن محمد ابراهیم عطائي.میوند خپرندویه ټولنه.۱۳۸۳هـ ل.

[٦] - ژوندۍ خاطرې، ۳۸۲ مخ.داکتر عبدالعلي ارغنداوي.بي بي سي پښتو خانګه، ۱۹۹۷ ز کال .

[۷] - افغانستان درقرن ۲۰، ۳۰۲ مخ.

[۸] - افغانستان از امیر کبیرتارهبر کبیر، ٥۲٦ مخ-٥۲۷ مخ . علامه عبدالحق مجددي و داکتر فضل الله مجددي.بنګاه انتشارات میوند، ۱۳۸۷هـ ش.

[۹] - پورتنی ماخذ.

[۱۰] - دافغانستان برمعاصرتاریخ یوه لنډه کتنه، ۲٥٦مخ.

[۱۱] - افغانستان ترورستي افغانه،۳۱٤ مخ۱ ټوک . غلام محمد زرملوال،دانش خپرندویه ټولنه ،۱۳۸۳ ل.

[۱۲] - افغانستان تاریخ وجغرافیا، ۱٦۲ مخ. لوئیس دوپري.مترجم:جعفررسولي. بنګاه انتشارات میوند، ۱۳۸٥ هـ .

[۱۳] - افغانستان درقرن ۲۰، ٤۰۸ مخ.

[۱٤] _ دافغانستان پرمعاصرتاریخ لنډه کتنه، ۲۷٤ مخ.

[۱۵] - ژوندی، خاطرې، ۲۱٦ مخ.

[۱٦] - دافغانستان پرمعاصرتاریخ یوه لنډه کتنه، ۲٦۹مخ.

[۱۷] - دري ویکیپیډیا.

[۱۸] - افغانستان درقرن۲۰، ۵٤۸مخ.

[۱۹] - محمدظاهرشاه، دري ویکیپیډیا.

# سردار محمدداود

سردار محمد داود خان د سردار محمد عزیز خان زوی، په ۱۲۷۸ هجري لمریز کال چې د ۱۹۰۸ز کال د جولای له ۸ مي نېټې سره سمون خوري په کابل ښار کې وزېږېد.۱

داودخان خپل منځني تحصیلات په استقلال (اماني) لیسه کې سر ته رسولي دي. په فرانسه کې یې د کور جوړونې (مهندسی) په څانګه کې درس ویلی او د کابل په حربي پوهنتون کې یې نظامي زده کړې کړې دي.(۱۹۳٤ز)

نوموړي په ۱۳۱۲ هـ ل کال د اکا د لور سره چي د ظاهر شاه خور او زینب نومېده، واده وکړ.

داود اووه اولادونه درلودل، درې یې زامن (عمر، خالد او ویس) او څلور یې لوڼي (تورپیکی، شینکی، درخانی او زرلښته) وې.۲

دده پلارمحمد عزیز کله چي په جرمني کي سفیر و، د یوه افغان محصل لخوا ووېشتل شو.

داودخان په ۱۹۳٤ ز کال د مشرقي ولایت نایب الحکومه شو. په ۱۹۳۵ کال، د کندهار د ولایت د نایب الحکومه په توګه مقرر شو. د ۱۹۳۹ز کال څخه تر ۱۹٤۷ زکال پورې د مرکزي قواوو قوماندان و.۳

په ۱۹٤۸ کال کې د یوه کال له پاره د کورنیو چارو وزیرشو. د څه مودې لپاره په پاریس کې افغان سفیر و.

د ۱۹٤۹ کال څخه تر۱۹۵۳ز کال پوري د شاه محمود خان په کابینه کې د دفاع وزیر و.

---

د افغاني پاچاهانو لنډ ژوندلیک

محمد داود د۱۹۵۳ زکال د سپتمبر پر شپږمه د کابینې په جوړولو موظف کړای شو.

قدرت ته له رسیدلو سره یې سم دپښتونستان مسئله راپورته کړه، خان عبدالغفارخان یې حمایه کړ او د ملي عوامي گوند دېر غړي یې په کابل کې وساتل.

په ۱۹۵۹ ز کال یې خپله مېرمن (دشاه خور) بې پردې عام محضر ته راویستله او د حجاب په وړاندې یې اقدام وکړ.٤

په ۱۹٦۳ ز کال یې استعفی ورکړه.٥

محمد داودخان د (۱۳۵۲هـ ل) د چنگاښ د (۲٦)مې نیټې د سه شنبې په سهار د راډیویي وینا په اورولو سره په هیواد کې جمهوري نظام اعلان کړ. په خپله راډیوئي وینا کې یې وویل:

"گرانو خویندو او ورونو سلام!

خپل وطن ته په خدمت کې د بېلا بېلو مسئولیتونو د یوې مودې په اوږدو کې همېشه د یوه هدف په لټه کې وم، تر څو د افغانستان د خلکو په تېره بیا د محرومو طبقو او زموږ د مملکت د زلمي نسل لپاره یو مثبت او واقعي محیط برابر کړم او مادي او معنوي وده مینځ ته راسي او په هغه کې زموږ د وطن ټول خلک بې له توپیره او امتیاز څخه د خپل وطن د آبادۍ او سرلوړۍ په لاره کې برخه واخلي او مسئولیت احساس کړي".٦

هغه ته د قانونیت ورکولو او استقرار لپاره یې د ۱۳۵۲ هـ ل د زمري په (٤)مه نېټهٔ د رژیم د پالیسی پر بناء د سیاسي، قضایي، اداري او اقتصادي مسئلو په هکله تقنیني فرمانونه صادر کړل، دغه فرمانونه چې انفاذ یې په (۱۳٦) مادو کې شوی و او د اساسي قانون لپاره د هیواد له حقوقپوهانو څخه د جوړې کمیټې په واسطه تسوید او د (۱۳۵۵) د سلواغې د میاشتې د اساسي قانون تر تصویب او توشیح پورې یې اعتبار درلود، لومړی گڼه

فرمان يې په (۹) مادو، دوه يمه ګڼه په (٤) مادو او دريیمه ګڼه يې په (۱۸) مادو کې تنظيم شوی وو.

وروسته يې په نورو قانوني نوښتونو هم لاس پورې کړ، قوانين يې په تقنيني فرمان نافذ او وريسې يې د ۱۳٤۳ کال د اساسي قانون له مخې د هغه د (۱۲٤) مادې پر موجب د ملي جرګې جوړېدل د (۱۳۵۸) کال د لېندی په مياشت کې اټکل کړي و. ددې دورې تقنيني فعاليت د ژوند په مختلفو مواردو کې له (۲٦) قوانينو،(۱۲) تقنيني فرمانونو،(۳۰) اساسنامو، (۱۲) مقرروڅخه عبارت و چې په ټولو کې يې کولای شو د مترقي ماليې له قانون، د جزاء قانون په (۵۲۳) مادو کې او مدني کود په (۲٤۱٦) مادو کې، د ارضي اصلاحاتو قانون، د بانکونو قانون، د ځمکو (اراضی)، د سروې، تصفيي او ثبت قانون، د بيمې قانون، د کورنی او بهرنی پانګې اچونې قانون، دکوپراتيفونو قانون، د سوداګرۍ او صنايعو د اطاقونو قانون، د استهلاکي موادو د ماليې قانون، د سياحت قانون،د ترانسپورت او د جادې د ترانزېت قانون او د بېسيم د دستګاه له قانون څخه يادونه وکړو.۷

محمدداود خان د واکمنی په لومړيو کې د کمونيستي افسرانو او لوړ رتبه چارواکو په مرسته حکومت کاوو، خو وروسته متوجې شو چې ملت کمونيست او کمونيست پلوه حکومت نه غواړي، له همدې امله يې په حکومت کې تصفيه پيل کړه، هغه اشخاص چې دروسيې سره يې نژدې اړيکي درلودې، له حکومتي دستګاه څخه وايستل.

روسانو يې هم په وړاندي، په توطئو پيل وکړ او د ۱۳۵۷ هـ ل کال د حمل په ۲۸ مه نېټه ميراکبرخيبر په رڼا ورځ د يوې توطيې په ترڅ کي ووژل شو، د خلق او پرچم ډلو يې جنازه په سترو مراسمو خاورو ته وسپارله او د دولت په ضد يې ويناوي وکړې، داودخان دخلق او پرچم د مشرانو د نيولو امر وکړ.۸

د کمونستي مشرانو په لیکه کې یو هم حفیظ الله امین و، هغه تر نیول کیدلو مخکې ٤ او ١٥ زرهداري قوې ته اطلاع ورکړې وه تر څو په ارګ حمله وکړي.

د ٤ او ١٥ زرهداري قوي له لوري په ارګ او دفاع وزارت حمله وشوه، داود په مقاومت لاس پوري کړ او میګ جټ الوتکوپه ارګ بمبار پیل کړ، په پایله کې داود د خپلې کورنې د ١٧ کسانو سره په شهادت ورسید.۹

(۲۷/اپریل/ ۱۹۷۸ز )

د داودخان قبر تر ١٣٨٧ هـ ل کال پوري نادرکه و، خو د ١٣٨٧ هـ ل کال په قوس کې، د حامد کرزي اداري هغه پیدا کړ، د همدې کال دحوت په ۲۷ مه نیټه دپرتمینو مراسمو په ترڅ کې خاورو ته وسپارل شو.۱۰

د داودخان مړی په داسي حال کې وموندل شو چې قرآن شریف یې لا په جیب کې و.

[۱] - داودخان (شهید اتل که دجهاد اتل؟). محمد اعظم سیستاني،بینوا ویب پانه.

[۲] - سردارشهید محمدداودخان ،سینا همایوني،انټرنیټ .

[۳] - زوندی خاطرې، ۳۹۳ مخ،ډاکټر عبدالعلي ارغنداوي،بي بي سي پښتو خانګه، ۱۹۹۷ ز کال .

[٤] - افغانستان درقرن۲۰، ۳١٤مخ ، ۱ ټوک، امین الله دریځ، انجمن نشراتي دانش،جدي ۱۳۷۹هـ.

[٥] - دافغان ملي تاریخ، ٥۳٦ مخ،۱ ټوک ،قدرت الله حداد فرهاد، دسایي دپښتو څیړنو او پراختیا مرکز ، ۱۳۸۳ هـ ل لیندی چاپ.

[٦] - زوندی خاطرې، ٤۳۲ مخ.

[۷] - سرداداودخان،پښتو ویکیپیډیا.

[۸] - افغانستان از امیر کبیرتارهبر کبیر، ۲۸٦ مخ، علامه عبدالحق مجددي و داکتر فضل الله مجددي،بنګاه انتشارات میوند، ۱۳۸۷هـ ش.

[۹] - دافغانستان پرمعاصرتاریخ یوه لنډه کتنه، ۲۹۹ مخ. کاندیداکاډمیسن محمد ابراهیم عطائي،میوند خپرندویه ټولنه،۱۳۸۳هـ ل.

[۱۰] - سردارشهید محمدداودخان ،سیناهمایوني .

# نورمحمد تره کی

نورمحمد تره کی د نظرمحمد زوی، دغزني ولایت د ناوې ولسوالي په سره کلي کي په ۱۹۱۷ ز کال وزېږيد.[۱]

د نورمحمد تره کي پلار يو شپون و، هغه رمې درلودې او دوړيو د خرڅلاو کاروبار يې کاوو.[۲]

د نورمحمد تره کي پلار د کندهار د وړيو له تجارانو سره شناخته او له توخيو سره يې انډيوالي درلوده.

نورمحمد په ۱۲ کلنی کې ښوونځی ته شامل شو،[۳] تر دوهم ټولگی يې ښوونځی ولوسته، وروسته له پلار سره کندهار ته ولاړ، هلته د غلجيانو يوه مخور موسی خان وليد او پلار ته يې وويل چې دی ماته وسپاره .[٤]

موسی خان دی د هند بمبي ته وليږه، چې هلته د افغان شرکت يوه څانگه وه، ده په هند کي، د شپې ليسه تر لسم ټولگی پوري ولوستله، له دې سره- سره يې څه ناڅه انگليسي او اردو هم زده کړه.

۱۲مه ټولگی يې په کندهار کي ولوستله.[٥]

افغانستان ته په راگرځيدلو (۱۹۳۷ز کال) د عبدالمجيد زابلي له لوري د تجارت په وزارت کې د قلم مخصوص مدير وټاکل شو.[٦]

تره کي تر هغه وروسته د باختر مستقل مطبوعاتي اژانس سره کار شروع کړ، بيا په کابل راډيو کې مامور شو.

تره کي په دې وخت کې يو ناول د "بنگ مسافري " په نوم وکښل، چې په روسي ژبه وژباړل شو او د روسي سفارت له لوري ورته جائزه ورکړل شوه. دا د تره کي او روسي سفارت تر منځ لومړنی اړيکي وې.[۷]

---

تره کی د شاه محمود د صدارت په دوران کې د ویښ زلمیانو غړی شو.[۸] له هغه وروسته د شاه محمود خان د صدارت په وروستیو کې(۱۹۵۳ز) په امریکا کې مطبوعاتي آتشه مقرر کړای شو.

تره کي په واشنګټن پوست کي د افغان حکومت پر ضد ځیني لیکني خپرې کړې او د حکومت ضد مؤقف یي ونیو چي له امله یې داودخان دی کابل ته راوغوښت.[۹]

تره کي کابل ته په رارسیدلو د یوې دارالترجمې بنسټ کښېښود او د "نور دارالترجمه" په نوم یې ونوماوو.

تره کي د ببرک کارمل او نورو ملګرو په مرسته د ۱۹٦٥ ز کال د جنوري دمیاشتې په لومړی نېټه (۱۱ جدي ۱۳٤۳هـ ل) په خپل کور کې په پټه توګه د خلق ډیموکراتیک ګوند بنسټ کېښېښود.[۱۰]

تره کی د حزب عمومي منشي او ببرک کارمل یې دوهم منشي وټاکل شو.

د"خلق ډیموکراتیک ګوند" په ۱۹٦۷ز کال، په دوو برخو ووېشل شو، "خلق" دتره کي په مشري او "پرچم" د ببرک کارمل په مشري جوړ شو.[۱۱]

د خلق ډیموکراتیک ګوند جریده د "خلق" په نوم لومړی ګڼه په اپریل ۱۹٦٦ ز (حمل ۱۳٤٥هـ ل) کال په دوه زره ټوکه کې خپره شوه.

د۱۹۷۷ زکال په جون کي، خلق او پرچم بیرته سره یوځای شول.[۱۲]

په ۱۳٤٥هـ ل کال، نوموړي د غزني د مقر له ولسوالي ځان پارلماني انتخاباتو ته کاندید کړ، خو ماته یې وخوړه.[۱۳]

په ۱۹۷۸ ز کال داپریل په ۱۷ مه میر اکبر خیبر، د نامعلومو افرادو له خوا ووژل شو، چي همدا کار په افغانستان کې د سترو پېښو لامل وګرځید، جنازه یي په سترو لاریونونو بدرګه او خښ کړای شو،کمونیستانو دا قتل د داود له لوري باله. نو ځکه یې دهغه په ضد په مظاهرو لاس پوري کړ، داود

ددې پر ځای چې له نرمي کار واخلي، توند غبرګون وښود.کمونيستي مشران (نورمحمد تره کی، ببرک کارمل، ډاکټر شاه ولي، دستګير پنجشيری، عبدالکريم شرعي جوزجاني، ضمير ساپی او حفيظ الله امين) ونيول شول.[١٤](۲۵ اپريل ۱۹۸۷)

خو امين تر بندي کيدلو مخکې ٤ او ۱۵ زرهداري قوې ته اطلاع ورکړې وه چې په ارګ حمله وکړي.

د ٤ او ۱۵ زرهداري قوي له لوري په ارګ او دفاع وزارت حملې وشوې، داود په مقاومت لاس پوري کړ او ميګ جټ الوتکو په ارګ بمبار پيل کړ،په پايله کې داود د خپلي کورنۍ سره په شهادت ورسيد.(۲۷/اپريل/ ۱۹۷۸ز )

په دې توګه د ثور کودتا وشوه او د داود رژيم را وپرځيد، دثور په اوومه ماښام داسلم وطنجار او قادر له لوري په کابل راډيو کې په دې توګه يوه وينا وشوه :

"د نادرخان د مستبدي کورنۍ آخرين فرد سردار محمد داؤد دا د تاريخ بې نظيره فريب کار او د افغانستان د خلکو ارادې ته خاين، د همیشه لپاره له منځه ولاړ، ملي حاکميت پس له دې په تاسې د افغانستان په نجيبو خلکو تعلق لري، د انقلاب د لاس ته راوړنو د دفاع او ددې مستبد او ستمګر سردار غوښتونکو له منځه وړل د افغانستان د شرافتمندو خلکو د فرد، فرد وظيفه ده".[١٥]

تر کودتا وروسته، انقلابي شورا اعلان او نورمحمده ترکي جمهور رئيس، د انقلابي شورا رئيس او صدراعظم وټاکل شو.

په جون ۱۹۷۸ز کې، د کودتا په تور پرچميان تار ، مار او له سفارتونو او وزارتونو څخه لري کړای شول.[١٦]

تره کي، امين خپل لومړی وزير مقررکړ، وروسته يې د دفاع او بهرنيو چارو وزارتونه هم ورکړل. امين په اردو او دولتي پوستونو کې خپل خلک ځای

پرخای کړل، په ۱۹۷۹ ز کال داگست په میاشت کې تره کی هاوانا ته ولاړ، په لاره په ماسکو کې معطله او د بریژنیف له لوري ورته وویل شول، تر څو امین لري او پر ځای یې ببرک کارمل صدراعظم وټاکي. تره کی له همدې پلان سره کابل ته راستون شو ، خو په دې لېدنه کې ډاکټر شاولي او سیدداود تړون هم حاضر وو، هغوی په پټه امین ته ټول حال واستاوو.[۱۷]

کله چي تره کی کابل ته ورسید، په میدان هوائي کې یې له امین سره وکتل، له هغه وروسته امین نه حاضریده تر څو له تره کي سره لیدنه وکړي، خو د شوروي د سفیر پوزانوف په ټینگار دخلکو کور(ارگ) ته ورغی.[۱۸]

امین چي کله راغی، په زینو کې پرې فیرونه وشول، تړون ووژل شو او امین وتښتید، له هغې خوا څخه له قواوو سره راغی او ارگ یې محاصره کړ، تره کی یې له قدرته ایسته او ځان یې دانقلابي شورا د رئیس په توگه اعلان کړ.(۱٦ سپتمبر ۱۹۷۹)[۱۹]

داچې تره کی بیا څرنگه ووژل شو، په دې هکله ویل کېږي چي چي هغه په همدې ورځ په اوږه او نس کې زخمي، ماسکو ته په لاره مړ شو.[۲۰]

خو د هغو اعترافونو له مخي چي جنرال عبدالودود، په ۱۳۵۸ هـ کال د جدي په ۲٤ مه په محکمه کي کړي او بیا انس ورځپانه کي خپاره شوي، ویل کېږي چي تره کی، د عبدالودود، روزي محمد او محمداقبال نومي کسانو له لوري د امین په امر د یوه بالښت په وسیله چي په خوله یې ورته کېښود، ووژل شو او بیا یې د کابل ښار په قول ابچکان سیمه کي خښ کړ.[۲۱]

سرچینې:

[۱] - زوندی خاطرې،۳۷۵مخ،ډاکټر عبدالعلي ارغنداوي،بي بي سي پښتو خانگه، ۱۹۹۷ ز کال .

[۲] - دافغانستان پرمعاصرتاریخ لنده کتنه، ۳۱۲ مخ. کاندیداکادمیسن محمد ابراهیم عطائي،میوند خپرندویه ټولنه،۱۳۸۳هـ ل.

[3] - افغانستان ترووروستي افغانه، ۲۳ مخ، ۱ ټوک . غلام محمد زرملوال،دانش خپرندويه ټولنه ،۱۳۸۳ ل.
[4] - لنډه کتنه، ۳۱۲ مخ.
[5] - افغانستان تر وروستي افغانه، ۲۳ مخ.
[6] - ژوندی، خاطري، ۳۷۵ مخ.
[7] - لنډه کتنه ، ۳۱۳ مخ.
[8] - نورمحمد تره کی رنجنامه ي ملت، علی اکبر فیاضي،سایت پژوهس سراي تاریخ افغانستان.
[9] - افغانستان تر وروستي افغانه، ۲۰٤ مخ.
[10] - افغانستان درقرن۲۰، ٤٧٤ مخ۱ ټوک، امین الله دریځ، انجمن نشراتي دانش،جدي ۱۳۷۹هـ
[11] - ببرک کارمل ،دري ویکیپیدیا.
[12] - درسهاي تلخ وعبرت انگیز افغانستان ، ٥٤ مخ ،میرصاحب کاروال، بنگاه انتشارات میوند، ۱۳۸٤ هـ ش.
[13] - زندگینامهٔ نورمحمد تره کی، سایت بانک اطلاعات مستند .
[14] - دافغانستان پرمعاصرتاریخ یوه لنډه کتنه،۲۹٦ مخ.
[15] - پورتنی ماخذ،۳۰۱ مخ.
[16] - عبرت هاي تلخ ،۷۹ مخ .
[17] - دکابل شپې،۱۰۷ مخ ،جنرال عمرزی،ژباړن:سیدعبدالله پاچا،میوند خپرندویه ټولنه، ۱۳۸٤ هـ ل.
[18] - تره کی رنجنامه ي ملت ،علی اکبر فیاضي.
[19] - حفیظ الله امین ،دري ویکیپیدیا.
[20] - نورمحمد تره کی،پښتو ویکیپیډیا.
[21] - http://ranga-rang.blogspot.com/۲۰۱۳/۱۱/blog-post_۱۷.html

# حفیظ الله امین

تره کی دخپل وفادار شاګرد، حفیظ الله امین له لوري ووژل شو او پر ځای یې خپله حفیظ الله امین کښېناست.

حفیظ الله امین د ۱۹۲۹ ز کال د اګست د میاشتې په لومړی نېټه، د پغمان ولسوالي د قاضي خېلو په کلي کې وزېږید.[۱] نوموړی تر نورمحمدتره کي وروسته، د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند مشر و.

په ۱۳۳٦ هـ ل کال امریکا ته لاړ او په اداره،تربیه او تشکیلاتو کي یې له هغه ځایه ماسټري راوړه.[۲]

په ۱۹٦۲ز کال، بیا امریکا ته ولاړ، په کولمبیا پوهنتون کې یې د فزیک په څانګه کې دوکتورا واخیسته، په پوهنتون کي د افغاني محصلینو ټولني ته داخل او د ټولني د مشر په حیث یې دنده ترسره کوله. هلته د مارکسیسزم له فلسفې سره اشنا شو. په ۱۹٦۵ کال کې حفیظ الله امین هیواد ته راستون شو او په یوه لېسه کې یې د ښوونکي په توګه دنده ترسره کوله.په کابل کي د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند غړی شو او د همدغه ګوند لوړ پوړی مارکسیست خلقي شو.[۳]

کله چي د میراکبر خیبر په وژلو لاریونونه وشول او حکومت یي په قهرکړ، نو حکومت د دولت ضد مشرانو په نیولو لاس پوري کړ. د کمونیستي مشرانو په لیکه کې دی هم و.

دده (امین) د نیولو لپاره یې کورته ورغلل، هغه وخت چې دی یې نیو، له ده سره دپولي تخنیک دوه خلقي محصلین هم وو، امین پولیسو ته هغه د ماما دزامنو په حیث وروپېژندل، خو په پټه یې هغوی له یوې طرحي سره چي د کودتا لپاره پخوا جوړه شوې وه، وطنجار او جنرال قادر ته واستول.

پولیسو دی زندان ته بوت، خو مخکې تر دې چې دوی محکمه شي، جنرال قادر د طرحې سره سم کودتا وکړه. د دفاع وزارت یې ونیو او ارګ یې کلابند کړ، سردار داود یې شهید او د هغه رژیم یې وپرځاوو.[٤]

د سردار محمدداودخان تر شهادت وروسته نورمحمدتره کی ولسمشر او لومړی وزیر وټاکل شو، حفیظ الله امین او ببرک کارمل مرستیالان شول، همدارنګه حفیظ الله امین ته خارجه وزارت هم وسپارل شو.[٥]

د ۱۹۷۹ کال د مارچ د میاشتې تر پای پورې حفیظ الله امین ښکاره کنټرول ترلاسه کړی و، هغه پرچمیان له حکومته ایستلي و او د تره کي له خوا د لومړي وزیر دنده ورکړل شوې وه، وروسته ورته د دفاع وزارت هم وسپارل شو.[٦]

په هیواد کې رژیم ضد جهادي فعالیتونه روان وو او همدغه نوی رژیم د روسیې مرستو ته اړ و. تره کی د ناپېیلو هیوادونو په غونډه کې د ګډون لپاره هوانا ته ولاړ. له هغې خوا د راتللو په وخت کې ماسکوته ورغی، هلته ورته د لېونید بریژنیف له لوري امر وشو، تر څو امین له واکه ګوښه کړي.

تره کی چې هیواد ته راستون شو، له امین څخه یې وغوښتل تر څو ورسره ووینې، کله چې حفیظ الله امین د خلکو کور (ارګ) ته دلېدنې لپاره ورغی، نو ډزې پرې وشوې. داود تړون ووژل شو او امین جوړ روغ د دې ځای نه په تېښته بریالی شو. بیا لېږه شیبه وروسته حفیظ الله امین د خپلو پلویانو سره د ارګ مانۍ ته راستون او د مانۍ یو ساتندوی ته یې امر وکړ چې تره کی بندي کړي.

په ۱٦ سپټمبر ۱۹۷۹ کال، امین د حکومت واک په خپل لاس کې ونیو. په ۱۳ اکتوبر ۱۹۷۹ ز کال د حفیظ الله امین حکومت اعلان وکړ چې تره کی د یوې "ناجوتي ناروغی" له امله مړ شو.[٧]

امین پوهیده چي د روسانو په دوستۍ کې یې خیر نشته، له همدې امله یې غوښتل تر څو له عربي ممالکو او امریکا سره نژدې شي. دهمدې لپاره یې سعودي عربستان ته یو سفر هم وکړ، وروسته یې بیا د پاکستان له رئیس جمهور ضیاء الحق سره ولیدل.

روسان هم په دې پوه شول چي امین یې دوستې نه غواړي، د همدې لپاره یې د هغه د وژلو لپاره موقعه کتله.

روسانو ببرک کارمل ماسکو ته وغوښت او په کابل یې د حملې پروګرام جوړ کړ.

د جدي په ٦مه نېټه، د غرمې له خوا امین په یوه میلمستیا کي، په زهرو مسموم شو. ماښام روسي قواوو په حرکت پیل وکړ. دولتي ځایونه یې وویشتل، د کورنیو چارو له وزارت سره نژدې په یوه پوسته خانه کي چاودنه وشوه، راډیو افغانستان ونیول شو اوپه دارالامان او د تاج بیګ په ماڼۍ چي د امین د اوسیدلو ځای وو، برید روان وو.

امین او ملګرو یې تر هغه مقاومت وکړ، څو ووژل شول.

له امین سره دهغه دوه زامن او ورسره ناست میلمانه هم ووژل شول. مېرمن او لور یې ووتل.[8]

[1] - حفیظ الله امین ،دري ویکیپیدیا (ویب پاڼه).

[2] - ژوندی، خاطرې ،۲۷٤ مخ، ډاکټر عبدالعلي ارغنداوي،بي بي سي پښتو خانګه. ۱۹۹۷ ز کال .

[3] - حفیظ الله امین،پښتو ویکیپیدیا.

[4] - دکابل شپې، ٥١ مخ . جنرال عمرزی،ژباړن:سیدعبدالله پاچا،میوند خپرندویه ټولنه، ۱۳۸٤ هـ ل.

[5] - زندگینامهٔ حفیظ الله امین، بصیراحمدحسین زاده.

[6] - دافغانستان برمعاصرتاریخ لنده کتنه، ۳۰۷ مخ. کاندیداکادمیسن محمد ابراهیم عطائي،میوند خپرندویه ټولنه،۱۳۸۳هـ ل.

[7] - حفیظ الله امین،پښتو ویکیپیدیا.

[8] - ژوندی، خاطرې، ۳۰۹ -۳۱۰ مخ.

# ببرک کارمل

ببرک کارمل په ۱۳۰۸ هـ ش /۱۹۲۹ م کال دجون په ٦ مه نېټه، د کابل په جنوب ختيزکي پروت "کمريو" په کلي کې دې نړۍ ته سترګې وغړولې. دده کورنى له هغو کشميريانو څخه ګڼل کېږي، چي له کشمير څخه پنجشېر ته راغلي وو. خو ځيني مؤرخين په دې اند دي چي هغه په قوم کاکړدی،کاکړ د پښتنو يوه څانګه ده.[1]

پلار يې جنرال محمدحسين خان، د ظاهر شاه په پوځ کې د جنرال په حيث دنده ترسره کوله، له همدې امله به خلقيانو ده ته د ظاهرشاه د دربار تالي څټي او ملګرو ته به يې اشرافزادګان ويل.

ببرک خپلي زده کړي په نجات ليسه کي سرته رسولې او له سياست سره د ميني له امله يې په ۱۳۱۹ لمريز کي چي له ۱۹٤۰ ز کال سره سمون خوري، د پلارپه آشنايي د محمد داود په ( ملي کلوپ) کي غړيتوب ترلاسه کړ.

کارمل په ۱۹٤۸ ز کال له نجات ليسې څخه فارغ او په ۱۹٥۱ ز(۱۳۲۸ ل) کال، د کابل پوهنتون په حقوقو پوهنځی کي شامل شو.[2] کمونيستي مفکوره يې خپله کړه او چپي فعاليتونه يي کول. په دولتي ضد مظاهرو کي يې اساسي رول لوباوه. هغه د آزادو مطبوعاتو په دويمه دوره ( د شاه محمود خان دوره ) کي له ( انګار) او ( وطن) جريدو سره همکاري درلوده.

ببرک له ۱۳۳۱ - ۱۳۳٦ ش / ۱۹٥۲ - ۱۹٥٦ م پوري د چپي فعاليتونو له امله ددولت تر پښتي ځارني لاندي و، خو زنداني نه شو، ځکه محمدحسين خان (دببرک کارمل پلار) د داود له نژدې دوستانو څخه و او خپله ببرک کارمل هم له داودخان سره اړيکي درلودي.[3]

---

د افغاني پاچاهانو لنډ ژوندليک

کارمل په ۱۳۳۶ ش / ۱۹۵۷ م کي له پوهنتونه تر خلاصيدو وروسته په ۱۳۳۷ کال د مکلفيت (عسکري دوره)تيره کړه او په پلان وزارت کي يې ماموريت پيل کړ.[٤]

خېرخانه دکارمل دفعاليت مرکز و، د ببرک ميرمنه محبوبه کارمل هم د وطن روزنتون رئيسه او له ده سره په حزبي فعاليتونو کې همکاره وه.

کارمل په ۱۳۴۴ هـ ل (۱جون ۱۹٦۵ ) کي له تره کي او ۲۹ نورو ملګرو سره يوځاي په کابل کي د افغانستان د خلق دموکراتيک ګوندپه نامه کمونستي سازمان جوړ کړ.[٥] د خلق جريدې تر مصادرې وروسته ددوی تر منځ بېلتون رامنځ ته شو چي، هر يوه مختلفي سياسي کمونستي ډلي جوړي کړي.کارمل د پرچم ډله جوړه او مشر يې شو.[٦]

په ۱۹٦۵ ز کال، کارمل د اولسي جرګې د دولسمي او ديارلسمي دورې لپاره د کابل له ښبر شاه ميني نه کانديد او انتخاب شو. د داود په جمهوريت کي کارمل د داود په لومړنيو اجراآتو کي اساسي رول درلود او ببرک ته فکري نژدې کسان لکه جيلاني باختري، حسن شرق، محمد خان جلالر او نعمت الله پژواک د داود د کابينې غړي وو.

د ۱۳۵۷هـ ل د ثور په کودتا کي، د صدر اعظم مرستيال وټاکل شو. وروسته د خپل منځي اختلاف له امله هغه پراګ ته د سفير په توګه واستول شو او له سياسي ډګر نه لري کړای شو. څه موده وروسته امين هغه د ځان پر خلاف د کودتا په تور له کاره ګوښه کړ او له هغه نه يي وغوښتل چي هيواد ته راستون شي.[٧]

کارمل او د پرچم ګوند نورو سفيرانو د سفارتونو شتمني لوټ او په ختيز المان کي سره يوځای شول. د خلق او پرچم او کارمل او امين اختلافاتو د

حزب دننه تضادونه دومره زيات کړي وو چي کارمل واک ته د رسيدو لپاره د روسانو هر ډول غوښتنو ته تسليم شو.

د ۱۳۵۸ هـ ل د مرغومي پرشپږمه د ۱۹۷۹ د دسمبر ۲۷ مه، کارمل له روسي قواوو سره يو ځای کابل ته راوستل شو او د روسانو تر څارني لاندي د کابل د رژيم د رئيس په توګه کښېنول شو.[۸]

کارمل، لومړی ځل په تاشکند کې د کابل راډيو په څپو ولس ته وينا وکړه او د امين درژيم دپرځېدلو خبر يې ورکړ.

کله يې چې د ۱۳٦۰ کال د ليندی په ۲۴ مه د ۱۹۸۱ د دسمبر پر ۱۵ مه مسکو ته سفر وکړ، بريژنيف ته يې د زرين لمر طلايي مډال ورکړ .

د ۱۳٦۱ کال په ليندی د ۱۹۵۲ نومبر کي ببرک د بريژنيف په جنازه کي د ګډون لپاره مسکو ته ولاړ او په افغانستان کي يې عمومي ماتم اعلان کړ. ټولو حزبي مامورينو د بريژنيف په مرګ د اروپايانو په دود سکوت غوره کړ .

ببرک له روسانو سره په دوستی کې ډېر مخ ته ولاړ،چي له امله يې په مليونو افغانان شهيدان ،زندانيان او مهاجر شول. ډير کورونه ړنګ، ماشومان يتيمان او مېندي کونډي شوي.

ګروموف، په افغانستان کي د شوروي اتحاد د قواوو عملياتي قوماندان جنرال وارينکيف د شناخت پر استناد ليکي:"ښکاره وه چي کي جي بي په ۱۹۷۹ کي د افغانستان د نوي حکومت د رهبری لپاره دببرک په ټاکنه کي تېروتي وه. د کي جي بي رهبران پر خپله دې تيروتنه په نه اعتراف سره،

---

د افغاني پاچاهانو لنډ ژوندليک

هیله من و چي د کارمل تیټ معنوي استعداد او په هغه کي د لارښووني د ورتیا نشتوالی به د حزبي او نظامي مشاورینو په فعالیت سره تلافي کړي".[۹]

ببرک په ۱۳٦۷هـ/ ۱۹۸٦ز کال د نومبر په ۲۱ مه نېټه، د روسانو له خوا له کاره گوښه کړای شو او یو کال وروسته د تداوی په نامه مسکو ته واستول شو.

کارمل دنجیب دواک په وروستیو کې له ماسکو څخه مزارشریف ته راغی او له دوستم سره یوځای شو، هغه غوښتل دژبني تعصب په اساس یو گوند جوړ اونجیب له واک څخه وغورځوي، خو مخکي تر دې چي په خپلو فعالیتونو کې کامیاب شي، مجاهدین پرې راورسېدل.[۱۰]

ببرک څه موده غلی وو، خو چي مجاهدینو خپلمنځي جگړې شروع کړې، ده بیا د دوستم څنگ ونیو او ویي غوښتل له هغې خوا څخه په مجاهدینو کې نفوذ وکړي، خو دا ځل یې هم په پلانونو خاوري واړول شوي او په ۱۳۷۵ هـ ل کال طالبانو کابل ونیو. د برهان الدین رباني په مشري حکومت یې راوپرځاوو او دوستم یې تېښتې ته اړ کړ.

ببرک کارمل په ۲دسمبر ۱۹۹٦ کال مړ او د جنرال عبدالرشید دوستم په اجازه چي د بلخ او شبرغان ولایتونه یې تر کنترول لاندي و، په حیرتان بندر کي ښخ کړاي شو، خو د طالبانو د تحریک د تسلط پر وخت یې جسد آمو سیند ته واچول شو.[۱۱]

گروموف لیکي:"کارمل نه د خپلو اندیوالانو د اعتماد وړ و، نه د اولس او نه زموږ دسلاکارانو. هغه بي ساري عوام غولوونکی او فرکسیون باز و چي د انقلابي جملو تر شا دپټېدو سخت مهارت یې درلود".[۱۲]

## سرچيني:

[۱] - ببرک کارمل څوک و؟ له انټرنيټ څخه.
[۲] - افغانستان تر وروستي افغانه، ۲۵ مخ۱ ټوک . غلام محمد زرملوال،دانش خپرندويه ټولنه ،۱۳۸۳ ل.
[۳] - ببرک کارمل څوک و؟
[۴] - دافغانستان پرمعاصرتاريخ يوه لنده کتنه، ۳۲۸ مخ. کانديداکادميسن محمد ابراهيم عطائي،ميوند خپرندويه ټولنه،۱۳۸۳هـ ل.
[۵] - ببرک کارمل ،دري ويکيپيديا.
[۶] - ژوندۍ خاطرې ،۳۸۵ مخ،ډاکټر عبدالعلي ارغنداوي،بي بي سي پښتو خانګه، ۱۹۹۷ ز کال .
[۷] - دافغانستان پرمعاصرتاريخ يوه لنده کتنه، ۳۲۹مخ.
[۸] - ببرک کارمل، اريائي (مشهور) ويب پاڼه .
[۹] - سرې لښکرې پـه افغانسـتان کـې، ۳۲۰مـخ،ب ګرومـوف، ژبـاړن: داودجنبش، پېښـور دانـش کتابخانه،۱۳۷۵ هـ ش.
[۱۰] - دمرګ پر وزرو،مل يو پيل يو پای ، شهرت ننګيال،دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۷۸تله.
[۱۱] - دمرګ پروزرو، ۸۱ مخ.
[۱۲] - سرې لښکرې په افغانستان کې، ۳۱۹ مخ.

# ډاکټر نجیب الله

ډاکټر نجیب د اخترمحمد زوی د ۱۳۲۵ هـ کال د اسد په ۱۵ د کابل په مرادخانیو کې وزېږید. په ۱۳۳۱ هـ ل کال، ابتدائي ښوونځی ته داخل او په ۱۳٤۲ هـ دکابل د حبیبي لیسې څخه فارغ شو.

په ۱۳٤٤ هـ کال د طب پوهنځي ته شامل شو.[۱]

د نجیب پلار یو معتبر دولتي مامور ؤ. دظاهر شاه او سردار داودله خوا په پیښور کی وکیل التجار ؤ او ددغه ماموریت له درکه یې مرفه ژوند درلود .

نجیب الله په پوهنځی کې له کمونیستي سیاست سره بلد او د مارکسیزم مفکوره یې هم هلته ولوستله.په ۱۹٦٥ ز کې د خلق ډموکراتیک گوند غړی شو چې دپرچم جناح ته منسوب و.

په ۱۹٦۹ ز کال د سیاسي فعالیت له امله بندي کړای شو. له لس کاله وروسته فارغ او د طب د ډاکتر نوم یې پیداکړ.(۱۹۷٥ز)[۲]

نجیب تر ډاکټري سیاست ته زیاته پاملرنه کوله.

په ۱۹۷٦ز کال، د پرچم په جناح کې د کابل د ښار د گوندي کمېټې منشي شو.

په ۱۹۷۷ز کې د گوند د مرکزی کمېټې غړی شو او په ۱۹۷۸ز کې چې تره کی پرچمي رهبران سفارتونو ته ولیږل، نجیب په تهران کې سفیر شو. له دندې څخه تر گوښه کولو وروسته چې کله کابل ته راوغوښتل شو، دی ماسکو ته ولاړ او په ۱۹۷۹ز کې چې کارمل کابل ته راغی، نجیب هم کابل ته راورسید او د ((خاد)) د ریاست رئیس شو.[۳]

د ۱۹۸٦زکال دمی په ٤مه، د گوند د مرکزي کمیټي عمومي منشي اوپه ۱۹۸۷ ز کال د انقلابي شوری رئیس[٤] او د افغانستان جمهور رئیس شو.

---

د افغاني پاچاهانو لنډ ژوندلیک

په ۱۹۸۸ ز کال کې دژنیو تړون وشو، د ژنیو تړون دافغانستان د سولې د برقرارې لپاره د افغانستان، پاکستان، امریکا اوروس ترمنځ وشو، ددې تړون غټ مطالب په دې توګه وو:

۱- له افغانستان څخه دشوروي عسکرو وتل.

۲-د افغانستان او پاکستان ترمنځ دنه مداخلې ژمنه.

۳- د عدم مداخلې په هکله بین المللي تضمینونه.

٤- د مهاجرینو هیواد ته راګرزېدل.[٥]

د ۱۹۸۹ ز کال دفروري د میاشتې په ۱٦ نېټه، وروستی شوروي عسکر د آمو تر سیند واوښت او افغانستان یې په اور او وینو کې ډاکټرنجیب ته پرېښود.[٦]

د۱۹۹۰ ز کال په مارچ کې، شهنواز تڼي پرې کودتا وکړه، خو کودتا یې ناکامه او شهنواز تڼی پېښور ته وتښتید.[٧]

په ۱۹۹۱ ز کال داپریل په لومړۍ نېټه د خوست ولایت د مجاهدینو لاس ته ولوید. په ۱۹۹۲ ز کال کې مزارشریف ونیول شو، په دې سره ډېرو ولایتونو سقوط وکړ او د مجاهدینو لاس ته ولوېدل.

په همدې کال، د جنرال نبي عظیمي په مشري یوې ډلې غوښتل چې نجیب له واک څخه وغورځوي، نجیب په دې پوه شو او ویې غوښتل میدان هوائي ته ولاړ شي او له هیواد څخه ووزي، خو کودتاچیانو نه پرېښود، دی راوګرځید او په کابل کې یې د ملګرو ملتونو د فتر ته پناه یوړه.

(۲۸ اپرېل۱۹۹۲ ز)[٨]

هغه مهال چې د۱۹۹٦زکال د دسمبر په ۲۷ مه، طالبانو کابل ونیو، په هم هغه لومړۍ ورځ سهار یې ډاکتر نجیب دده له ورور شاهپوراحمدزي سره اعدام او بیا یې مړی په اریانا څلور لارې کې وځړاوو.(٥ میزان ۱۳۷٥هـ ل)[٩]

نجیب په پکتیا کې په خپل آبایي کلي کې خښ دی.

---

## سرچینې:

[۱] - دډاکټر نجیب لنډه پېژندګلوي، له انټرنیټ څخه .

[۲] - ژوندی، خاطرې، ۳۹٦ مخ .ډاکټر عبدالعلي ارغنداوي،بي بي سي پښتو خانګه، ۱۹۹۷ ز کال .

[۳] - محمدنجیب الله، دري ویکیپیدیا.

[٤] - از سقوط سلطنت تاظهور طالبان، ٤٠مخ.عبدالحمید مبازر،۱۳۷٦ هـ ش.

[٥] - دافغانستان پرمعاصرتاریخ یوه لنډه کتنه،۳۳۸ مخ. کاندیداکاډمیسن محمد ابراهیم عطائي.میوند خپرندویه ټولنه،۱۳۸۳هـ ل.

[٦] - دافغانستان پېښلیک، حاجي ولي محمد،ناچاپ اثر.

[۷] - داکترنجیب، احمدلیث شجاع، سرویس خبررساني آریانا نت.

[۸] - داکترنجیب الله ،سایت کوکچه پرېس.

[۹] - داکتر نجیب که بود؟چه کرد وچگونه به قتل رسید؟ عبدالوهاب آزاد.ویب بلاګ وهاب ازاد،بلاګ فا.

# صبغت الله مجددي

صبغت الله مجددي د مجاهدینو د دولت لومړنی مشر. او د جبهۀ نجات ملي دتنظیم مؤسیس و.

صبغت الله، د محمد معصوم مجددي زوی او د فضل محمد مجددي چې د شمس العلماء په لقب مشهور و، لمسی دی.[۱]

په ۱۹۲۵ز کال په کابل کې زېږیدلی او یوې لویې او مشهوري روحاني کورنی ته منسوب دی.[۲]

صبغت الله مجددي ابتدایی دیني تعلیمات په خپله کورنی کي وکړل او نوري دښوونځی زده کړي یې هغه مهال چې پلار یې په کندهار او هرات کې و، د کندهار د احمدشاه بابا په لیسه او د هرات په لیسه کې وکړې او دغه لړی یې په حبیبه کې پای ته ورسوله.

څرنگه چې دده د پلار تره محمد صادق مجددي په مصر کې سفیر و، نو دی په ۱۹۴۷ز کال مصر ته ورغی او هلته یې د مصر په مشهور پوهنتون الازهر کې تعلیم وکړ او ماستري یې واخستله.[۳]

په ۱۹۵۳ز کال چې فارغ شو، کابل ته راغی او په هغه رابطه چې په مصر کې یې د اخوان المسلمین د ډلي سره پیدا کړې وه، په کابل پوهنتون کې د استادي په وخت کې یو څه فعالیت وکړ. دده په وینا خو د اسلامي نهضت له موسیسینو څخه و.[٤]

مجددي د هغه وخت اداري له پوهنتونه ویوست او په حبیبیه لیسه کې د تفسیر استاد شو .

په ۱۹۵۹ز (۱۳۳۸هـ ل) کال کابل ته د شوروي رهبرانو خروسچف او بلګانین د راتګ سره د مخالفت او هغوی د ترور په تور ونیول شو او زندان ته واچول شو، تر ۱۳٤۱ هـ ل کاله په زندان کي و.[5]

په شپیتموکلونو کې چې له زندانه را خلاص شو، نو ژر له وطنه ووت، امریکا ته لاړ او له هغه ځایه ډنمارک ته راغی. په ډنمارک کې یې د اسلامې تحقیقاتو د مرکز ریاست په غاړه درلود.

په ۱۹۷۸زکال، چې په افغانستان کي د ثور د (۷مي)کودتا وشوه او بیا د شوروی قواوي افغانستان ته رانوتلې، نو جهاد او د شوروي د لاس پوڅی رژیم پر ضد فعالیتونه پیل شول. صبغت الله مجددي هم پاکستان ته راغی او دلته یې د جبهۀ نجات ملی تنظیم جوړ کړ .

دی او تنظیمي کړنلاره یې ډېره نرمه وه، نو ځکه د کابل له دولت څخه را تښتیدلي ډېر وګړي به همدې تنظیم ته راتلل.

حضرت مجددی په اتیایمو کلونو کې،په پېښور کي د افغانستان د موقت حکومت د رئیس په توګه انتخاب شو او بیا چې کله شوروي قواوي ووتلې او په کابل کې د پېښور د موافقتنامې له مخې حکومت منځته راغی، نو حضرت صاحب ددوو میاشتو لپاره د اسلامي دولت د ممثل په توګه وټاکل شو.

په ۲۸ اپریل ۱۹۹۲ز کال، حکومت په رسمي توګه ورته انتقال کړای شو،[6]حضرت صاحب په دې ورځ په خپله وینا کې عمومي عفوه اعلان کړه.

د ریاست په دوهمه ورځ یې د ګلبدین حکمتیار او احمدشاه مسعود جګړې شروع شوې. حضرت صاحب دمي په ۲۲ مزار شریف ته یو سفر وکړ، هلته یې مشهور کمونیست جنرال، دوستم ته د خالدبن ولیدرضي الله عنه لقب ورکړ، چي له امله یې خلکو په وړاندي سخت غبرګون وښود.[7]

حضرت صاحب په ۲٦ مي پاکستان ته سفر وکړ، په ۲۹ مي بيرته کابل ته راوګرځيد، په ميدان هوائي کې يې الوتکه په راکټ وويشتل شوه.

حضرت صاحب له دوومياشتو وروسته د رباني له لوري دقدرت پرېښودلو ته اړ کړای شو او په نه زړه د پېښور په لوري لاړ.

حضرت صاحب له پېښور څخه امريکا ته ولاړ، له پېښور او امريکاڅخه به يې ځيني بيانيې او اعلاميې خپرولې، په وروستيو کې يې د طالبانو په ضد هم ځيني خبري وکړې، چې طالبان په دې ورسره سخت وران شول.

په ۱۳۸۰ هـ ل کال، چې کله امريکا په افغانستان حمله وکړه او کرزی د ولسمشر په توګه وټاکل شو، مجددي صاحب هم افغانستان ته راغی، دلته ورته د مشرانو د جرګې مشرتوب وسپارل شو.

وروسته د ملي پخلاينې د کميسيون مشري هم ور په غاړه شوه.

صبغت الله مجددي په پنځو ژبو (عربي، دري، پښتو، انګليسي او اردو ) ليکنه او وينا کوي.

د دوی د کورنۍ تر ۱۸۳ زيات کسان د روسانو له لوري په شهادت رسيدلي دي[8]

## سرچينې:

[1]- افغانســتان از اميرکبيرتــارهبر کبـير، ۵۳۲ مــخ. علامــه عبــدالحق مجــددي و داکــتر فضــل الله مجددي.بنګاه انتشارات ميوند، ۱۳۸۷هـ ش.

[2]- ژوندی خاطرې،۳۹۱مخ.ډاکټر عبدالعلي ارغنداوي،بي بي سي پښتو څانګه، ۱۹۹۷ ز کال .

[3]- سرې لښکرې پــه افغانســتان کــي، ۲۹٤ مــخ. ب ګرومــوف. ژبــاړن:داودجنبش، پېښــور دانــش کتابخانه،۱۳۷۵ هـ ش.

[4]- ژوندی خاطرې، ۱۵۹ مخ .

[5]- افغانستان از اميرکبيرتارهبر کبير،۵۵۰ مخ.

[6]- دري ويکيپيديا.

[7]- از سقوط سلطنت تاظهور طالبان،٦۲ مخ. عبدالحميد مبارز،۱۳۷٦ هـ ش.

[8]- زرينه لړی،٦۰ مخ.عبدالله ګل ريان،سوادفرهنګي ټولنه،۱۳۸٦ هـ ل چاپ.

# برهان الدين رباني

برهان الدين رباني د محمد یوسف زوی دی، چې په ۱۹۴۰ زکال، د افغانستان د سهېلي ولايت بدخشان په فيض آباد کې زېږېدلی.[۱]

وروسته له دې چې خپلې لومړنی زده کړې يې په بدخشان کې پای ته ورسولې، کابل ته لاړ او هلته يې په ابوحنيفه مدرسه کې خپلې زده کړې پرمخ بیولې. د همدغه دارلعلوم څخه تر فراغت وروسته، د کابل پوهنتون د اسلامي قوانينو او شرعياتو فاکولتې ته شامل شو.[۲]

په کابل پوهنتون کې،د ديني درسونو دممتاز شاګرد نوم ترلاسه کړ چې ډېر ژر بيا په ۱۹٦۳ زکال، په هماغه پوهنتون کې د استاد په توګه دنده ورکړل شوه.[۳]

د اسلامي زده کړو دلوړتحصيل په تکل په ۱۹٦٦ زکال نوموړی مصر ته ولاړ او هلته يې د قاهرې په الازهر اسلامي پوهنتون کې په زده کړو پيل وکړ.د هماغه پوهنتون څخه يې په اسلامي علومو او فلسفه کې د ماسټرۍ برې ليک ترلاسه کړ.[٤]

له قاهرې څخه په راګرځېدلو بيا په شرعياتو پوهنځی کې داستاد په توګه مقرر شو. دی په قاهره کې د اخوان السلمين له مفکورې څخه اغيزمن شوی و .

په کابل کې د غلام محمد نيازي په مشرې د"مسلمان ځوانان" په ګوند کې داخل شو.[٥]

دخپل سياسي فعاليت له امله حکومت غوښتل ويې نيسي، خو دی په ۱۹۷٤ ز کال د جلال آباد او کونړ له لارې پېښور ته ولاړ.

---

د غلام محمد نيازي تر شهادت او پېښور ته د دوی ترهجرت وروسته په ۱۹۷٦ ز کال مسلمان ځوانان په دوو برخو ووېشل شول، يوه برخه يې د "جمعيت اسلامي" په نوم د برهان الدين رباني تر مشري لاندې او بله ډله د "حزب اسلامي" په نوم د قاضي محمدامين او بيا د انجنير گلبدين حکمتيار تر مشري لاندې وه.[٦]

برهان الدين رباني، تر صبغت الله مجددي وروسته د مجاهدينو د مؤقت حکومت څلور مياشتنی مشر وټاکل شو. استاد رباني ټاکل شوې موده ونه منله او تر څلور مياشتې يې زيات حکومت وکړ، چې دا کار يې د جنگونو او فسادونو لامل وگرځيد او دا حکومت يې په څلور کاله باندې واوښت.(۱۹۹۲-۱۹۹٦ز)

تر دې چې طالبان راپورته او سپين بولدک يې ونيو. برهان الدين رباني خپل قومندان ملانقيب الله ته امر وکړ تر څو طالبانو ته تسليم شي، قومندان ملانقيب الله خپلې ټولې وسلې او قول اردو په ۱۱ نومبر ۱۹۹٤ز کال طالبانو ته وسپارلې.[۷]

د برهان الدين رباني او د طالبانو د مشرانو تر منځ څو ځلې ليدني وشوې او يو له بل سره يې ژمنې وکړې.

کله چې طالبانو د گلبدين حکمتيار مقاومت مات کړ، نو د کابل په لور يې مخ کړ. برهان الدي رباني له واک څخه لاس نه اخيست، له همدې امله طالبانو په کابل حمله وکړه او کابل يې ونيو.(۲۷/سپټمبر/ ۱۹۹٦ز)

برهان الدين رباني د کابل له نيول کېدلو وروسته د شمال لور ته په شا شو. د وطن ددفاع عالي شورا يې جوړه او د خنجان ترون يې وکړ. د تخار لور ته ولاړ، خو طالبان هلته پسې ورغلل، هغه ځای يې ترې ونيو او دی پنجشېر ته راغی. په پنجشېر کې يې داحمدشاه مسعود په مرستيالی پنځه کاله مقاومت وکړ.

په ۹ سپتمبر ۲۰۰۱ کال، احمدشاه مسعود ووژل شو، په ۷ اکتوبر ۲۰۰۱ ز کال امریکا په افغانستان حمله وکړه او برهان الدین رباني د امریکایي لښکرو په ملاتړ ددوو هفتو لپاره دوهم ځل په پلاز کېنوست. په ۲۲ دسمبر ۲۰۰۱ ز کال یې د رسمي مراسمو په ترځ کي واک حامد کرزي ته وسپاره .

برهان الدین رباني وروسته د سولي عالي شورا رئیس وټاکل شو.

نوموړی د ۱۳۹۰هـ کال د سنبلې په ۲۹ مه (۲۰سپټامبر۲۰۱۱) په خپل کور کي د یوه تن حملي کوونکي له لوري چي په لنګوټه کي یې ماین اېښی و، ووژل شو.

برهان الدین رباني په ځواني کې یو شمېر کتابونه هم لیکلي او ژباړلي دي، چي له هغې جملې څخه یې: د سیدقطب د تفسیر (في ظلال القرآن) دري ژباړه د "درسایه قرآن" په نوم، د سیدقطب د "معالم في الطریق" کتاب ژباړه د "رهنمائي زندگي" په نوم، اسلام وکمونیزم، دسرطان پېښه او د داودخان دور، داودخان په تېرکي شرمینده، په حال کي مجرم او په راتلونکي کي خطرناک، څرنګه هځه؟، د شهید پیغام، د اسلام سیاسي تیوري، د معتزلیانو د عقایدو څېړنه، په اسلام کې د بحث او تحقیق اصول، په اسلام کي د روزني اصول او همداسي نوریادولای شو.[۸]

---

[۱]- پروفیسر-برهان الـدین ربـاني کـي سـوانح حیـات،۵ مخ.جمعیـت اسـلامي افغانسـتان، ثقـافتي کمیتي،شعبه اردو.

[۲]- برهان الدین رباني،دري ویکیپیدیا.

[۳]- رباني کي سوانح حیات ،٦ مخ.

[۴]- زوندی، خاطري،۳۷۹ مخ.عبدالعلي ارغنداوي،بي بي سي پښتو خانګه، ۱۹۹۷زکال.

[۵]- از سقوط سلطنت تاظهور طالبان، ۱۱۰ مخ. عبدالحمید مبارز،۱۳۷٦ هـ ش.

[٦]- افغانستان تر وروستي افغانه، ۳۳۰ مخ ۱ ټوک . غلام محمد زرملوال،دانش خپرندویه ټولنه ،۱۳۸۳ ل.

[۷]- دافغانستان پرمعاصرتاریخ یوه لنده کتنه،۳۹۱ مخ. کاندیداکادمیسن محمـد ابـراهیم عطائي،میونـد خپرندویه ټولنه،۱۳۸۳هـ ل.

[۸]- رباني کي مختصرسوانح حیات ،۹ او ۱۰ مخونه .

# ملا محمدعمرمجاهد

ملامحمدعمر د ملا غلام نبې زوی د ملا محمد رسول اخند لمسی او د ملامحمد اياز اخند کړوسی دی.

محمدعمر مجاهد له نن (۱۳۹۳هـ ل) څخه ٥٣- ٥٤کاله وړاندي د کندهار ولايت په نوري نومي کلي کي زېږېدلی دی.

د ملا محمدعمر پلار، ملا غلام نبی اخند په کندهار کي د يوه مسجد امامت په غاړه درلود.

د ملاصاحب کورنۍ ډېر وخت د افغانستان د زابل ولايت په شينکۍ او د اروزګان په دهراوت ولسواليو کې اوسيدلې وه.

ملاصاحب په يوه علمي او ديندراه کورنۍ کي لوی شوی و. کورنۍ ته يې خلکو درناوی درلود او د خپلو ستونزو د هواري او ديني پوښتنو لپاره به يې تل د دوی د کور لاره نيوله.

ملاصاحب يوازي د دوو کالو و چي پلار يې د څلوېښتو کالو په عمر له دنيا څخه سترګي پټي کړې.

ملامحمد عمر د مور او پلار يوازنی زوی و.

ملامحمدعمر خپلي لومړنۍ زده کړي د خپل تره څخه وکړې چې، د هغه تره په دې وخت کې د اروزګان ولايت د دهراوت د سيمي خطيب او د مسجد امام و.

ملامحمدعمر مجاهد، د قرآن کريم، حديث، فقهې او نورو علومو زده کړه له ځيني نورو استادانو څخه هم وکړه او څه وخت يې د خپل بل تره، ملامحمدجمعه آخند څخه هم زده کړي کړې دي.

نوموړی زده کړې تر هدايي پوري رسولې وې چې په ۱۳۵۷هـ ش کال د ثور کمونيستي کودتا وشوه.

نوموړي زده کړې په نيمايي کې پرېښودې او ټوپک يې اوږې ته کړ.

ملامحمدعمر څه موده د اروزګان ولايت د دهراوت په ولسوالۍ کې جهاد وکړ او همدلته په دوو بېلا- بېلو حملو کې ټپي شو.

لومړی ځل د راکټ د يوې پارچې د لګېدلو له امله په پښه باندې ټپي شو او په دوهم ځل د ماشين ګڼ په ډزو په ټول وجود ټپي شو.

هغه تر روغيدلو وروسته په ارام نه کښېناست، د کندهار په جنوب غرب کې د پنجوايي ولسوالي دسنګحصار سيمې ته چې د چريکي جګړو مرکز ګرځېدلی و، لاړ.

پنجوايي کې د لويې لارې د تېريدلو له امله درنې جګړې کيدلې او دواړو لورو ددې ځای د نيولو هڅې کولې.

ملامحمدعمر د سنګحصار په سيمه کې د روسانو سره په يوه خونړۍ جګړه کې د دريم ځل لپاره زخمي شو او دا ځل زخم يې ډېر شديد و، همدلته يې ښۍ سترګه هم له لاسه ورکړه.[1]

د سرې مياشتې د ادعا په بنسټ، دا ځل ملامحمد عمر ددوی په روغتون کې تداوي شو، ملاصاحب د روسانو تر ماتې پوري جهاد ته دوام ورکړ. کله چې د مجاهدينو حکومت راغی، ده بيرته خپل درسونه شروع کړل.[2]

مجاهدينو د قدرت په ترلاسه کولو په خپل منځي جګړو او فسادونو لاس پوري کړ.

ويل کېږي چې يوه ورځ ملامحمد عمر په يوه واده کې ګډون کړی و، همدا ورا چې کله تر پاټک تېريدله، د عصمت يوه قوماندان زوم وواژه او ناوې يې په زور بوتله. ملاعمر ددې په ليدلو د فسادونو د مخنيوي هوډ وکړ او مدرسې ته لاړ، هلته يې له طالبانو څخه مرسته وغوښته، په خپله مدرسه کې يې ځوک

---

[1] د افغاني پاچاهانو لنډ ژوندليک

ملگري نشول او بلې مدرسې ته ولاړ. هلته ورسره څو طالبان ودرېدل، هم هغه پاټک يې له منځه يوړ او قومندان يې وواژه.له هغه وروسته يې د يوې بايپوري په ترلاسه کولو چي د سيمي د خان له خوا ورکړه شوه، د سپين بولدک په ولسوالي حمله وکړه. هغه يې ونيوه او د کندهارپه لوري پرمخ ولاړل، په کندهار کي يې جګړې وکړي. حزب اسلامي ورسره جګړه وکړه، خو د جمعيت اسلامي قوماندان، ملانقيب الله د برهان الدين رباني په امر ورته له وسلو سره تسليم شو. طالبان ددې وسلو په ترلاسه کولو ډېر پياوړي شول او د کندهار ښار يې ونيو.[۳](۱۳۷۳هـ ل)

هغه مهال چي دوی راپورته کېدل، د افغانستان په ګوټ-ګوټ کې خپل منځې جګړې، فسادونه او غلاوې شروع وې. افغان ولس له همدې ګډوډيو څخه ډېر په تنګ و، له همدې امله يې د طالبانو تود هرکلي وکړ. طالبان تر پرلپسې سوبو وروسته لوګر ته ورسيدل.

په لوګرکې يې له حزب اسلامي سره جنګونه وکړل، حزب ماتې وخوړه او چاريکارو ته په شا شو، طالبانو د رباني سره د څو ځلي ليدنو تر ناکامي وروسته جګړه پيل کړه، هغه څه موده مقاومت وکړ خو اړ شو او کابل يې طالبانو ته پرېښود.(۱۳۷۵هـ ل)

په ۱۹۹٦ ز کال داپريل په ٤ مه نېټه ، د۱۳۷۵ هـ ل کال د حمل دمياشتې په۱۲مه نېټه په کندهار ښار کې يونيم زره تنه علماء راټول شول او ملامحمدعمر يې د اميرالمؤمنين په توګه وټاکه.[٤]

د ۲۰۰۱ز کال د سپتمبر په ۱۱مه نېټه، د امريکا په برجونو حملې وشوي، امريکا حملې د اسامه کار وباله او اسامه هغه وخت دطالبانوپه پناه کې اوسېده، امريکا له افغانستان څخه وغوښتل تر څو اسامه بن لادن ورته وسپاري.

ملامحمدعمر د هغوی غوښتنه ونه منله او د علماوو سره تر مشورې وروسته يې اعلان وکړ چې موږ اسامه په دې شرط سپارلی شو چې محکمه يې يا په افغانستان او يا هم يو بل اسلامي هيواد کې وشي او جرم پرې ثبوت شي.

امريکاپه۷ اکتوبر۲۰۰۱ زکال، په افغانستان حمله وکړه اسلامي، امارت يې وپرځاوو او ملاعمر په يوه نامعلوم ځای کې پټ شو.

د يادونې وړ ده چې امريکايانو د نوموړي په سر باندې لس مليونه امريکايي ډالر انعام ايښی دی.

ملامحمدعمر په يوه اعلاميه کې د امريکايانو د تيري په وړاندې د ژوند تر وروستې سلګی د جهاد هوډ څرګند کړ.

له هغه وروسته د ملاعمر په لس ګونو اعلاميې او اخترمبارکی له نامعلوم ځای څخه خپرې شوي او اوس مهال د ملامحمد عمر په مشري مجاهدين يو ځل بيا د کابل تر دروازو رسيدلي دي. (۱۳۹۳هـ)

[1] - دملامحمد عمر لنډ ژوندليک،عبدالقادر خاخيوال.

[2] - ملامحمدعمر،پښتو ويکيپيديا.

[3] - دافغانستان پرمعاصرتاريخ يوه لنډه کتنه، ۳۸۹، ۳۹۱ مخونو څخه اخستنه.

[4] - از سقوط سلطنت تا ظهور طالبان، ۱۹۸ مخ، عبدالحميد مبارز، ۱۳۷۶، هـ ش.

# حامد کرزی[۱]

حامد کرزي د عبدالاحد کرزي زوی او د خیرمحمد خان لمسی د ۱۳۳۶هجري لمریز کال دقوس په ۹مه نیټه چې د۱۹۵۷میلادي کال د ډسمبر د ۲۴ مي نېټي سره برابره ده، د کندهار ښارته نژدې د کرز په کلي کې زېږیدلی دی.

د حامدکرزي نیکه د افغانستان د استقلال په جګړه او له هغه وروسته هڅو اومبارزو کې لویه ونډه لرله او د څه وخت لپاره یې د افغانستان د مشرانو (اعیانودمجلس) د مرستیال په توګه هم دنده ترسره کړېده.

عبدالاحدکرزی د حامد کرزي پلار د پوپل زیو د قوم او د هیواد د سیاسي مشرانو له ډلي څخه شمیرل کېږي.چې د میلادي سنې په شپیتمه لسیزه کې د افغانستان په شورا کې د مرستیال په توګه په دنده بوخت و.

کله چې عبدالاحدکرزي د پارلمان غړیتوب ترلاسه کړ، دخپلې کورنۍ سره کابل ته لاړ. هغه وخت حامد کرزي د محمودهوتکي لومړنۍ ښوونځی، سید جمال الدین افغاني، او وروسته بیا د حبیبیې عالي لیسې ته شامل شو.

هغه دحبیبیه لیسې څخه ترفارغیدلو وروسته په ۱۹۷٦ میلادي کال کي د نورو زده کړو لپاره هندوستان ته لاړ او د هغه هیواد دسملې په پوهنتون کې یې د نړیوالو اړیکو او سیاسي علومو په څانګه کي خپلي زده کړي پیل کړې.

[۱]- دښاغلي حامد کرزي په هکله لومړني معلومات دهغه له وېب پاڼي (پرېزېډنټ، ډاټ جي او وي ډاټ اي ایف) څخه را اخستل شوي دي.

حامد کرزي په دغه ځانګه کې د ماستري درجه ترلاسه کړه او په ۱۳٦۲هـ ل کال يې چې د ۱۹۸۳ ز کال سره سمون خوري، له هند څخه پاکستان ته ستون شو او د شوروي د يرغل په خلاف دم جاهدينو له ليکو سره يو ځای شو.

حامدکرزی په ۱۳٦۴ هجري لمريز کال چې د۱۹۸۵ ميلادي کال سره برابر دی، د ژورناليزم په ځانګه کې د يوې ازموينتي دورې لپاره فرانسي ته لاړ. د فرانسي د (ليل) په ښار کي ددغه دري مياشتني کورس په بشپړېدو سره پيښور ته ستون شو او د پروفيسر صبغت الله مجددي په مشري د ملي نجات د جبهي د تنطيم د اطلاعاتو د اداري امر او بيا وروسته ددغه تنظيم د سياسي دفتر دمعاون په توګه په دنده بوخت شو.

حامدکرزي په پېښور کې د مجاهدينو د لنډمهالي حکومت په رامنځته کيدو سره په ۱۹۸۹زکال کي ددغه لنډمهالي حکومت د بهرنيو اړيکو د دفتر رياست پرغاړه درلود.

حامدکرزی په افغانستان کې د مجاهدينو دحکومت د تاسيس نه وروسته په ۱۳۷۱هجري لمريز کال کې چې د۱۹۹۲ ميلادي کال سره سمون خوري، د افغانستان د بهرنيو چارو دوزارت د سياسي معين په توګه په دنده وګومارل شو.

دوه کاله وروسته هغه مهال چې دجهادي ډلو ترمنځ خپلمنځي جګړې په کابل کي توندي شوي، حامد کرزي دولتي څوکی پرېښوده.

په ۱۳۷۹هجري لمريز کال کې چې د۲۰۰۰ميلادي کال سره سمون خوري د حامد کرزي پلار چې د پاکستان دکوټي په ښارکي يې استوګنه درلوده، د يوې نامعلومي ډلي له خوا ووژل شو.

ښاغلي حامد کرزي د۲۰۰۱ميلادي کال د اکتوبرپه لومړيو کي د خپلو بهرني ملګرو سره د ارزګان ولايت ته د خلکو د پاڅولو لپاره لاړ او د طالبانو د

واکمنۍ تر نسکوریدلو پوري د افغانستان په مرکزي ولایاتو کي د امریکا لپاره په هڅو بوخت و.

حامدکرزي د۲۰۰۱میلادي کال د دسمبر په ۵ مه نیټه، د المان د بن په غونډه کې د عبدالستار د۱۱ رایو په مقابل کې دامریکا په خوښه په ۲ رایو د افغانستان دواکمن په توګه وټاکل شو.

د همدغه کال د دسمبر په ۲۲مه نیټه یې د کابینې له غړو سره یو ځای د وفاداري لوړه ترسره کړه.

حامد کرزی د۲۰۰۲میلادي کال دجون په ۱۳مه نیټه د بېړنۍ لويي جرګې د غړو او امریکا له لوري د افغانستان د انتقالي دولت درئیس په توګه وټاکل شو.

کرزی د ۲۰۰٤ زکال او ۲۰۰۹ز کال په ټولټاکنو کي بريالی شو او تر ۲۰۱٤ ز کال پوري د افغانستان ولسمشر و.

د ۲۰۱٤ ز کال د سپتمبر پر ۲۹ مه (۰۸-۰۷-۱۳۹۳) یې واک په رسمي ډول اشرف غني احمدزي ته وسپاره.

کرزی شپږ ورونه او درې اولاده (دوې لوڼي یو زوی) لري.

کرزی په پښتو، دري، انګلیسي، اردو او فرانسوي ژبو پوهیږي[۱] او اوسمهال کابل ښار کي په هغه کور کي چي دولت ورکړی،اوسي.

---

[۱]- پښتو ویکیپیدیا.

# ډاکټر اشرف غني احمدزی

اشرف غنی احمدزی د شاه جهان احمدزي زوی، د ۱۳۲۸ هـ ل کال د ثور د میاشتي په ۲۹ مه نیټه، کابل کي دنیا ته سترګي وغړولې.

اشرف غني اصل کي د لوګر ولایت د محمداغي ولسوالي د سرخ آب د کلي اوسیدونکی دی.

نوموړي خپلې ابتدایي زده کړي د کابل په استقلال عالي لیسه کي او د بکلوریا سند یې د حبیبیې عالي لیسې څخه تر لاسه کړ. اشرف غني احمدزی د ښوونځی په دوران کي د (ASP) پروګرام په ترڅ کي یو ځل امریکا ته هم د یو کال لپاره تللی و.

نوموړی د لیسې څخه تر فراغت وروسته د کابل پوهنتون ته کامیاب شو، هلته تر شپږ میاشتي تېرولو وروسته د بیروت (لبنان) امریکایي پوهنتون ته د سیاسي علومو په برخه کي د لوړو زده کړو لپاره لاړ. هلته یې په سیاسي علومو کي د لسانس تر کولو وروسته ماسټري هم په همدې برخه کي وکړه.

اشرف غني احمدزي همدلته د بیروت امریکایي پوهنتون کي د یوې لبناني الاصله عیسوی محصلې (رولا سعاده) سره واده وکړ.[۱]

دوهمه ماسټري یې په نړیوالو اړیکو او انسان پېژندنه کي د امریکا له کولمبیا پوهنتون څخه تر لاسه کړې او درېیمه ماسټري یې هم د امریکا د کولمبیا له پوهنتون څخه په نړیوالو اړیکو کي اخستې ده.

---

[۱] http://policystudygroups.blogspot.com/۲۰۱٤/۰۱/afghanistans-next--first-lady-could-be.html.
http://english.alarabiya.net/en/perspective/profiles/۲۰۱٤/۰٤/۰٥/Afghanistan-s-next-first-lady-a-Christian-Lebanese-American-.html.
http://mz-mz.net/۲۷۸٤۷۳/

نومونړي تر ماسټري وروسته د کولمبیا پوهنتون کې د انسان پېژندنې په برخه کې دوکتورا وکړله.

اشرف غني احمدزي د عصري زده کړو تر څنګ دیني زده کړو ته هم وخت ورکړی و او د یوه کال لپاره یې د کراچۍ او لاهور په مدرسو کې د سیرت زده کړه کوله.

احمدزی همدا شان دوې افتخاري دوکتوراوې هم لري، چې لومړنی افتخاري دوکتورا ورته په ۲۰۰۷ ز کال د امریکا متحده ایالاتو د سکرانتن پوهنتون له خوا او دوهمه په ۲۰۰۸ زکال د کاناډا د ګیلف پوهنتون له خوا ورکړل شوه.

احمدزي رسمي دنده د کابل پوهنتون څخه په ۱۳۵۳هـ پیل کړه او همدلته د ادبیاتو پوهنځي د ټولنیزو علومو برخه کې د انسان پېژندنې استاد شو، چې بیا یې د پوهنیاري تر رتبې استادي وکړه.

له هغه وروسته د ډنمارک په آروس پوهنتون کې د څه وخت لپاره میلمه پروفیسر و، بیا د امریکا د بکلي پوهنتون ته لاړ او هلته یې یو کال د استادي دنده پر مخ وړله.

وروسته د امریکا جانزهوپکنز او کالفورنیا پوهنتونونو کې د اته کالو (۱۳۶۲-۱۳۷۰هـ ش) لپاره استاد شو.

ډاکټر غني لس کاله د نړیوال بانک د پالیسي او ستراتیژۍ جوړولو په برخه کې هم کار کړی دی.

په ۲۰۰۱ ز (۱۳۸۰هـ ل) کال، د امریکایي یرغل وروسته اشرف غني د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي لخضر ابراهیمي د سلاکار په توګه وټاکل شو. د لنډ مهالي ادارې تر ختمیدلو وروسته د ولسمشر د سلاکار دنده ورکړل شوه. تر هغه وروسته د افغانستان لپاره د مرستو د انسجام د ادارې مشر وټاکل شو.

په منځمهاله اداره کې غني احمدزی د مالیې وزیر وټاکل شو (۲۰۰۲ز) چې د مالیې په وزارت کې یې له مهمو کارونو څخه د دولتي عوایدو مرکزي کول، د برلین کنفرانس کې د افغانستان د بیا رغوني لپاره د ۸،۲ ملیارده ډالرو مرستي جلبول، د افغاني ارزښت لوړول او د ملي پیوستون پروګرام رامنځته کول ګڼلای شو.

په ۲۰۰٤ ز کال د انتقالي دورې تر ختم وروسته، اشرف غني احمدزی د کابل پوهنتون رئیس وټاکل شو.

د کابل پوهنتون تر ریاست وروسته د څه مودې لپاره اشرف غني احمدزی په افغانستان کې رسمي دندو څخه لرې او له څو نړیوالو کمیسونونو سره یې همکاري درلوده.

په ۲۰۰۹ ز کال، اشرف غني احمدزي ځان ولسمشریزو ټاکنو ته کاندید کړ، خو ناکام شو.

په ۲۰۱۰ز کال، اشرف غني احمدزي ته د بهرنیو ځواکونو څخه افغان ځواکونو ته د امنیت د لېږد پروګرام مشري ورکړل شوه.

د ۲۰۱٤ ز (۱۳۹۳هـ د حمل شپاړسمه) کال، ولسشمریزو ټاکنو ته غني احمدزي بیا ځان کاندید کړ او په لومړي پړاو کې یې د ۳۱،٦ سلنه رایو په ترلاسه کولو د اته کاندیدانو په منځ کې د ډاکټرعبدالله عبدالله وروسته دوهم مقام خپل کړ، خو دا چې هیڅ نوماند ۵۰ سلنه رایې پوره کړې نه وې، ټولټاکني دوهم پړاو ته لاړې.

دوهم پړاو ټولټاکني، د جوزا په ۲٤ مه نیټه وشوې او له لومړی ورځي د اشرف غني د بریا اوازې خپرې شوې. ډاکټرعبدالله عبدالله په لومړیو کې د تقلب، وروسته د ټاکنو د خپلواک کمیسون په یولوري نیولو او بیا هم د واک د مساوي وېش ادعاوي را پورته او د پایلو له منلو یې انکار وکړ، جنجالونه څو میاشتي اوږده او افغانستان له درانه اقتصادي او سیاسي زیان سره مخ شو،

تر دې چې د امریکا متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر جان کېري مداخله وکړه، دوی دواړه یې د واک وېش او د ملي یووالي لاندې حکومت جوړولو ته چمتو کړل، اشرف غني ته یې د ولسمشر او ډاکټر عبدالله عبدالله ته یې د اجرايوي رئيس چوکۍ چې وروسته به د لومړي وزیر په توګه چارې پر مخ وړي، ورکړله.

د مېزان پر اتمه (۱۳۹۳-۰۷-۰۸) نېټه، واک له حامد کرزي څخه اشرف غني احمدزي ته په رسمي توګه انتقال شو.

اشرف غني احمدزي، د خپلو ټاکنیزو منډو ترړو او کمپاینونو په ترځ کې له ملت سره د مهمو بدلونونو او اصلاحاتو، د هیواد د پرمختیا، سولې راوستلو او په اقتصادي لحاظ په ځان بسیا هیواد لپاره د ګامونو اخستلو ژمنې کړې وې نو ځکه ملت هم د نوموړي ولسمشرۍ ته ډېر هیله من و، خو اشرف غني احمدزي د خپلې واکمنۍ په سبا (د مېزان پر نهمه) د امریکایانو سره د امنیتي تړون لاسلیک او د هیواد په مهمو ولایتونو کې هغوی ته اډې ورکړې.

اشرف غني احمدزي د خپلو دندو په لړ کې یو لړ جایزې او لقبونه هم ترلاسه کړي چې په دې توګه یې یادولای شو :

د امریکا د تفت پوهنتون له لوري د نړیوال وطندار جایزه، چې د نړۍ مشهورو پوهانو ته ورکول کېږي، په ۲۰۰۳ ز کال د (کال د وزیر) جایزه او د افغانستان د دولت له لوري اعلی دولتي ملکي ایوارډ، سیدجمال الدین افغاني، ورته ورکړل شو. همدا شان اشرف غني احمدزي ته په ۲۰۰۹ز کال تولټاکنو ته نژدې وخت کې د امریکا د یوې مجلې (بهرنی تګلاري) له لوري په ژوندۍ مفکرینو کې د نړۍ شلم مفکر لقب ورکړل شو.[1]

---

[1] http://www.bbc.co.uk/pashto/news/story/۲۰۰۹/۱۲/۰۹۱۲۰۱_ghani-fp--top-man.shtml

همدا شان په ۲۰۱۳ ز کال کې، تر ټولټاکنو څو میاشتې وړاندې ورته د برتانیې څخه خپرېدونکې یوې بلې مجلې (پروسپیکټ) له لورې نړۍ د دوهم مفکر لقب ورکړل شو.[1]

نوموړی دوه اولاده، یو زوی او یوه لور لري.

اشرف غني احمدزی د ژور فکر تر څنګ ښه قلم هم لري او په بېلا – بېلو ژبو چې زیاته برخه یې په انګلیسي ژبه دي، ډېرې څېړنې او لیکنې کړې چې د نړۍ په معتبرو ورځپاڼو او مجلو کې خپرې شوې. د نوموړي له مهمو اثارو څخه څو په دې توګه یادولای شو:

د ښځو حقوق او ټولنیز عدالت، په قبایلي ټولنه کې داسلام او دولت جوړول، د اسلامي شریعت په محکمه کې د ښځو هواري، د افغانستان پر معاصرو ادبیاتو څېړنه، ناکام دولتونه او د هغو د کامیابۍ تګلار، د عادلانه نظام لار او سمدستي په یوه څېړنه بوخت دی چې پکې د افغانستان د څلور سوه کلن تاریخ (۱۵۰۰-۱۹۰۰ز) بېلا- بېلې برخې څېړي.[2]

---

[1] - http://www.prospectmagazine.co.uk/magazine/world-thinkers-۲۰۱۳

[2] - www.ps.ashrafghani.com

Download from:aghalibrary.com